قدوری عربی

مع مسائل ضروریہ پشتو

تصنیف علامۂ زمان فقیہ العصر حضرت

ابو الفضل مولانا محمد عبید اللہ بالیوی

الفندھاری النقشبندی السلیمانخیلی

الناشر

ادارہ تالیفات بالیوی

مکتبۃ القراءت

کوئٹہ بلوچستان

فَقِيهٌ وَاحِدٌ اَشَدُّ عَلَى الشَّيْطٰنِ
مِنْ اَلْفِ عَابِدٍ جَاهِلٍ

قدوری عربی

مع ترجمہ

پشتو و مسائل متفرقہ

من جامع المنقول و المعقول و فاضل

العصر المحقق والمدقق و صاحب الفصاحۃ

والبلاغۃ العلامۃ ابوالفضل محمد عبداللہ

الایوبی السلیمانخیلی نسبًا قندھاری وطنًا

الحنفی مذھبًا النقشبندی مسلکًا الایوبی تخلصًا

الناشر

مکتبۃ القرائت والتجوید

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

د ناشر له خوا

کرانو لوستونکو! حضرت فقیه العصر علامة زمان قائد اهل سنت و الجماعة مجاز سلسله نقشبندیه ترجمان ملت اسلام شیخ الاسلام الحاج مولانا محمد عبید الله ایوبی نقشبندی قدهاری سلیمانخیلی خو د هیڅ تعارف او پیژند ګلوی محتاج نه دی او هم د ده خانګړی تصنیفونه او حواشی د هیڅ مسلمان څخه پوښتنه نه دی. په کار خو دا وه چه اهل زمانې د ده تصانیفو او حواشیو او د ملت اسلامیه په سر نه تاج کرامت ولاړ بانډی اعتراف کړی وای اوده ته ئې لقب د شیخ الاسلام ورکړی وای.

خلک چه په څنګ زمانه کی حضرت ایوبی واحد هستی ده. چه د اسلام و دې ستر خدمت او د دین محمدی علی صاحبها الصلوة والسلام و اشاعت او خپرولو ته ئې ملا تړلې ده. فالحمد لله علی ذالک

د حضرت شیخ الاسلام ایوبی مد ظله العالی دستو و خدماتو او تصنیفاتو څخه یوه نمونه هم دغه "عروس نوبهار" پښتو قدیمه ده چه د ټول ملت اسلامیه ته دیوې ګرانمایه علمیه په توګه وړاندې کیږی. چیله ما فضل الحق چه د اداره تالیفات ایوبی او مکتبة القرائت ناظم یم په مرسته د مولوی عبد الباری عفی له الباری د کتابت او اشاعت کار پرغاړه واخیست چه د الله په فضل و کرم یې په دواړه سرته ورسیږی.

الله تعالی دا کتاب و مسلمانانو ته د نفع اخستلو سبب و ګرځوی او حضرت شیخ الاسلام ایوبی صاحب ته او موږ ته دې ذخیره د آخرت ګرځوی. آمین ثم آمین.

ناشر محمد فضل الحق حقانی مدیر اداره تالیفات ایوبی
و ناظم مکتبة القرائت کوئټه تلمیذ حضرت ایوبی مد ظله العالی

مُقَدِّمَہ

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

پس له شروع په نامه د خدای پاک په دیر عجز او نهایت تذلل حمد و ثنا د رب جل و علا وایم: شعر

هزار بار بشویم دهن بمشک و گلاب — هنوز نام تو گفتن کمال بی ادبی است

وروسته بیا درود نامحدود او سلام نامعدود په ذات والاصفات د آخضرتؐ وایم. شعر

لایمکن الثناء کما کان حقه — بعد از خدا بزرگ توئی قصه مختصر

او بیا درود او سلام پر اهلِ بیت او اصحابو د آنحضرت صلعم وایم.

نیاز په دربار کی د بې نیازه

الٰهی یا الٰهی یا الٰهی — ندارم جز امیدت تکیه گاهی
ندارم طاعتِ مقبول درگاه — بجز اشک ندامت آه آهی
ندارم توشهٔ راهِ قیامت — بجز شرمندگی و روسیاهی
شفیع آورده ام روی محمدؐ — کرم کن بر من گم کرده راهی
ز کن موجود گردی جمله عالم — مرا از ذنب کن عذر خواهی

سبب او باعث د شرح د قدوری په پښتو ژباړه دا دی! چه طلب د علمِ دین او خان خبرول په اسلام کی پر هرِ نر او ښځه په قدر د حاجت فرض عین دی. او د دین و اسلام دوې برخې دی یوه برخه عقائد لکه خدای یو دی شریک نه لری. قیامت حق دی. رسولان حق دی. او نوره د دغه قسمه څه. اویله برخه ئې عملیات دی. لکه لمونځ روژه حج او نور اعمال. د عقائدو په حصه کی نور ظلم شریف وو. د هغه کتاب شرح په پښتو آسانه ژباړه ما وکړه. او هغه شرح چاپ او شائع سوه او په پښتنو نر و او ښځو کی لوی شهرت او مقبولیت پیدا کړی. او د هر طرفه د نر و او ښځو د اَحۡسَنُ پیغامونه راسیده. او په دې پیغامونو کی پوښتنه د مسرت او خوشحالی او تشکر د اسی سفارشی او خواهشی کړه سوی وو.

بسم الله الرحمٰن الرحیم - اَلسَّلَامُ عَلَیۡکُمۡ وَرَحۡمَةُ اللّٰهِ وَبَرَکَاتُهٗ - د طرفه څه د دیرو پوهو دینی میڼو طالبانو او نوی ملایانو! و حضور ته د عالم ربانی، مجاهد حقانی،

باذل الهمة فی احیاء مسلک اهل السنة والجماعة، الشیخ الاجل، والرئیس الاکمل
العلامة محمد عبید الله صاحب تره راندی کوو - کرانه د تول افغانستان استاذ
اول موږ د الله جل جلاله څخه ستاسو د ښه اوکامل صحت غوښتونکی یو - نو موږ د تولو د
نومونو د لیک وجه داده چه موږ بیخی دیر یو که تول نو موږ ولیکود کاغذ مخ به د ډک سی او
ترجیح بلامرجح موهم ونکړه - محترم استاذ ته تاته ښه معلومه ده چه د طالبانو استعداد
وړ په وړ پرکښته کیدو دی - او طالبان د فقهی سړه لښ فی ضله تعلق لری - حال داچه په
حقیقت دمسائلو د پخې علم شریف څان یوه کول دیر کران کار دی - شا وخوا موږ وکتل
ستاسو په شان یو عالم ربانی او د دین غمخور هو ونه لیدی - او بعضی کتابونه چه تاسو ئې
تصحیح او تحشیه کړې ده - د خوښ تعالی ځای دی چه بعضی د هغو څخه د عقائدو محترم کتاب
نور ظلم شریف دی چه په پښتو ژبه چه هر سړی په پوهیږی ترجمه او تصحیم کړیدی -
او دیر کتابونه دی په عربی کی په آسانه عبارت سره او ړه عادی - نه لکه بعضی کسان چه تصحیح
او حاشیه پرکتابونو کوی لکن د خپل علمیت د اظهار د پاره مغلق عبارتونه استعمالوی
د طالبانو استعداد ته نه کوږه ی -

محترمه تاسی دی الله پاک په جنت الفردوس کی ولری - د دین محمدی د پاره
تاسو دیر خدمتونه وکړل چه د تاریخ په پانو کی به همیشه پاتی وی - لکن نه موږ خواهش به
لاندی دول دی !

(۱) هدایه کانی شریفانی دیری دیری کرانی دی او په حاشیو کی ئې هم غلطیانی ستره خصوصاً
هدایة البیع والشفعة چه د دیر د مسائلو صوره تونه ئې دیر مشکل دی کړیدی موږ په داغه
حال پاته سو د دیر و کړاوونو سره به مخامخ سو - نو موږ دا د خدای جل جلاله دیر لوی رحمت
بولو که تاسو هدایه - ۳-او-۴ - جلد د مسائلو صورتونه او مهمات تشریح او واضح کړئ -

(۲) په فارسی عربی او اردو څرګندو کی د لغتو د بیانولو بیخی دیر کتابونه ستره - اما متأسفانه
په پښتو ژبه به نه کوم جامع لغت ستاسو نه چا د لغتو دیوه کتاب ترجمه په پښتو ژبه کړی ده -
نو موږ چه د لغتو یو کتاب د اصطلاحاتو د معلومات د پاره پخپله د هغه لغت په ترجمه
کی داسی لغات د اسی چه موږ د مشکلاتو سره مخامخ کړی - نو نه موږ هیله دا هم ده
چه یو جامع د لغتو کتاب لکه غیاث یا منتخب په پښتو ژبه ترجمه وکړی نو ستاسی په دی همت
به دیر نورې ملایان او طالبان د لغت د کړاوونو څخه خلاص سی -

اَعوذ بِاللهِ من الشیطٰنِ الرجیم ، وَ اَمَّا السَّائِلَ فَلَا تَنْهَرْ"

محترمه موږ د افغانستان په یوه لیری سیمه کی سکونت کوو ستاسو ملاقات
ته وخت نه سوای پیدا کولای - لکن ستاسو د کتابونو حاشیې او تصحیم موږ ولیدلو حکم
نو موږ هم د اغه امید چه مخکی بیخی قطع سوی وو ښه پیدا سو چه ستاسی وحضور ته
مودالیک وړاندی کړی - خدای پاک جل شانه دی نه موږ د اخط وتاسی ته وړ سوی - وَمِنَ
اللهِ التوفیق - د خدای په امان - ۱۳۶۹/۷/۲۵ ش - داود د هغه لیک متن او عبارت چه ما ته د اغلی وو

د دې مکتوب په جواب کی د درویش محمد عُبَیدُ اللهِ کند هاری د اسی وائی

بِاسْمِهٖ تعالیٰ وَبِحَمْدِهٖ جلّ سُلطانُهٗ !

کرانو عزیزانو او په ښتیا پس دینِ مُبین میئنو طالبانو هر چیری چه یاست تاسی
تولو ته دی زما طرفه د محبت او اخلاص څخه ډک سلامونه وړ سیږی - خدای دی د دین
تولو مشکلات تاسو ته آسانه کړی - ستاسو مفصل خط مې او سیدی او نه ستاسی د دې
خط د احترام اتو څه کې څه هم نه لائق نه یم - دیره دیره منه کوم - او د اخلاص په فضا کی
ستاسی د دې خط ته لَبَّیک وایم - الحمد لله چه په دې پرآشوبه زمانه کی طالبان د حق
او د اسلام په کثرت موجود دی او پتنکان د څراغ د علمِ دین او س هم په پروان دی -

کرانو وړ و نو ستاسی د خط مضمون بیخی [illegible] منونکی دی - ښتیا
هم چه پښتنو علماؤ خصوصاً د افغانستان علماؤ د دین په باب کی دخپلی ژبی او قوم خدمت
کم کړیدی - او س او س چه یک اولوست والا من او بنځی دیر دی باید و دوی ته د اسلام
د مبین دین عقائد او عملیات د دوی په مورنۍ ژبه عرض سی - چه تولو په دین خبر سی
افسوس چه انګریزی، شوروی، جاپانی وغیره کتابونه په پښتو ژبه ترجمه کیږی چه صرف
د دنیا گټه په کښې وی - او دینی اسلامی کتابونه چه د دنیا و آخرت منافع په کښې دی
تعصبی دی څوک ئې نه ترجمه کړی -

کرانو عزیزانو ! ستاسو مطالبه به لږ وخت وځنډیږی - لکن ان شآء الله کار وند
باقی وو تر سره به سی - د تاخیر سبب هم دا دی چه څه وخت چه د فقیر ترجمه کړی کتاب
نور ظلم شریف د پښتنو جامع تر عرض سو - او تخمیناً د دوو کلو په وخت کی پخه واړه
چاپ سو - او د عوامو د مزاج او بنځی چه خط ئې نه وو استفاده ډیره وړ وکړیدی -
نو د هغه وخته وماته د نړۍ او بنځو متعدد خطونه او د دیر و د وستانو شفاهی سپارښتنه
په باره کی د قدوری شریفی چه یو معتبر او معتمد کتاب د فقهی شریفی دی ړاغلی دی
او د دوی غوښتنه کړې ده چه قدوری شریف هم پر طرز د نور ظلم ترجمه کړم تاچه

د احکامو په بارہ کی تولو پښتنو ورو نوا وخوند وتہ لکہ عقائد چہ واضح سوہ۔ دغہ
رنگہ لمونځ، روژہ، حج، حیض، نفاس وغیرہ ھم رو ښانہ سی۔

نو کرانو خط لیکونکو اول کہ خدائ توفیق راکړی د دغو ورو نوا وخوندو مطالبہ
چہ سبقت لری پورہ کړم۔ او بیا کتابونو او منتخب اللغات بہ پښتو کړم۔ د دې ترجمې
تولی مسئلې بہ انشاء اللہ العزیز پہ حوالہ د ھدایې رد المحتار کنز او نورو د فقہ ې حنفی د کتابو ولیکل سی۔

وَمَا تَوْفِيقِيْ إِلَّا بِاللّٰهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ

مصنف دقدوړی والی!

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم پہ نامہ د خدائ چہ بخښنو نکی او مھربان دی

سوال! څہ سبب دی چہ تولہ اھلِ تصنیف د خپلو کتابو پہ اول کی بسم اللہ شریفہ لیکی؟

جواب! اول داچہ متابعت د قرآن کریم د طریقې کوی چہ پہ ھغہ کی ابتداء پہ بسم اللہ دہ
دوھم داچہ نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم فرمایلی دی چہ ھر ھغہ کار چہ د خیر او برکت
وی او پہ ھغہ کی شروع پہ بسم اللہ ونہ سی ھغہ کار بہ د برکت څخہ خالی وی۔ روایت
دامام نووی پہ شرح کی د مسلم شریف د اول جلد پہ سر کی۔ دریم داچہ ورو ستنی علماؤ
د خپلو پیشینہ علماؤ متابعت مستحب او نیک ګڼلی نو پہ دې اساس چہ پہ بسم اللہ
شریف شروع کول میراثِ قدیم دی نو تولہ د دینی او غیر دینی کتابو مصنفین شروع
پہ بسم اللہ کوی۔

د بسم اللہ الرحمٰن الرحیم پہ بارہ کی بعضی ضروری معلومات

د اللہ لفظ نوم دی د ذات د خدائ پاک۔ او عربی لفظ دی۔ او د امذھب د امام اعظمؒ
ابو حنیفہؒ او د محمد بن الحسنؒ او د امام شافعیؒ او د خلیل احمدؒ دی۔ او امام محمدؒ د امام
حنیفہؒ څخہ روایت کوی چہ اللہ اسم اعظم شریف دی۔ او فقیہ ابو جعفر الطحاویؒ وایی چہ
د امذھب د ډیرو علماؤ او اکثرو صوفیا نو دی۔ او تر دې لویؒ ذکر نشتہ۔ رد المحتار ص ۱۲۵۔

د وایش وائی چہ کہ څوک غواړی چہ د الفظ مبارک ھر ورځ وظیفہ وکړی نو
دوہ ګڼ د ځ سو ۲۳۶۰ سوہ شپیتہ واړہ دې وائی پہ اجازہ د شیخ عامل او د پخوالی عدد یہ
پنځہ لکہ واړہ پہ اعتکاف کی د روژې سر پہ اجازہ۔ او کہ چا تہ یو ھم سخت کار

پیښ سی چہ شرعاً روا وی نو د ما خښتن تر لمانځہ ورو سته دی دوہ رکعتہ نفل وکړی
او دا اسم مبارک دی پریوہ ځای دوہ ګڼ د ځ سو ۲۳۶۰ دہ دې سوہ شپیتہ واړہ وائی او بیادی
د رب جل شانہ پہ درباړ کی د ھغہ مھم پہ بارہ کی خواست وکړی۔ تر دې وروسته پورې
ان شاء اللہ ھغہ کار بہ د خدائ پاک آسان او خلاص کړی۔ او د پورہ بسم اللہ شریفی
ورځانہ وظیفہ او وہ سوہ شپیتہ ځلہ ایتیا واړہ دہ۔

او لفظ د رحمٰن عربی دی۔ او د خدائ پاک اسم صفت دی۔ یعنی معنی د رحمت چہ
مھربان ورسرہ لحاظ دہ۔ او معنی د رحمٰن دیر مھربانہ پہ دنیا او آخرت کی۔

پوښتنہ! رحمٰن وما سواتہ د خدائ پاک ویل روا دی کہ نہ؟

جواب! عمومی کتابونہ وایی چہ نارواوی لکن د ھدایې پہ جلد اول مخ کی
وائی چہ مخصوص پہ خدائ پورې دی۔ ھغہ لفظ د الرَّحْمٰن دی۔ یعنی د الف لام سرہ
پس یوازې رحمٰن و غیرتہ د خدای پاک ویل کیدائ سی۔

او الرَّحِيْم ھم اسم صفت د خدائ پاک دی معنی ئ مھربانہ پہ آخرت کی پہ
مؤمنانو۔ د تصوف پہ کتابونو کی راغلی دی چہ وظیفہ د الرَّحْمٰن ورځانہ (۲۹۸) واړہ سبب د
فراخې د رزق دہ او وظیفہ د الرَّحِيْم (۲۵۸) واړہ سبب د نعمتونو د آخرت دہ۔ ولہ اللہ التوفیق

پہ حدیث شریف کی راغلی دی چہ آنحضرت صلی اللہ علیہ وسلم فرمایلی دی چہ کلی
د قرآن بسم اللہ الرَّحْمٰن الرحیم دہ۔ ابن عباسؓ روایت کړی دی چہ رسول اللہ
صلی اللہ علیہ وسلم وفرمایلہ چہ څہ وخت یو بنوونکی و ھلک تہ وائی چہ و وایہ
بسم اللہ الرحمٰن الرحیم۔ ھغہ ھلک ھم بسم اللہ شریفہ ووائی خدائ پاک لیکی
کاغذ د نجات د دوزخ د ھغہ ھلک پرنامہ او د ھغہ د موړ او پلار پرنامہ او د معلم
پرنامہ۔ تفسیر یعقوب چرخی ص ۸۔

پوښتنہ! ایا د بسم اللہ الرحمٰن الرحیم پرویلو سرہ کبیرہ ګناھونہ ھم بخښل کیږی کہ نہ؟

جواب! کتابونہ د فقہی شریفی وائی چہ پرھر بنہ عمل یا قول چہ پہ حدیث شریف
کی وعدہ د بخښنی د ګناھو راغلی وی مراد لہ ھغہ څخہ صغیرہ ګناھونہ اما د کبیرہ ګناھو د
بخښنی امید ھم ستہ۔

پوښتنہ! د کبیرہ ګناھو بخښنہ پہ څہ شی کیږی؟

جواب! د اخلاص پہ توبہ۔ ولی چہ آنحضرت صلی اللہ علیہ وسلم وائی چہ
"اَلتَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ كَمَنْ لَا ذَنْبَ لَهُ" یعنی توبہ کار د ګناہ څخہ داسی کس لکہ ګناہ چی کړی ہاندی

پوښتنه ! دقرآن مبارک دهر سورت په اول کی بسم الله شریفه ستله ماسوای د سورهٔ برائته آیاد اهر سورت جزء ده که څنګه؟

جواب ! دحضرت امام شافعیؒ په مذهب کی بسم الله د هر سورت جزء ده۔ امام اعظم ابوحنیفهؒ په دې باره کی واضح خبره نه ده کړې۔ خو بیا هم د امام اعظمؒ د مذهب امامان وائی چه بسم الله شریف د قرآن پاک یو مستقل او جلا آیت دی د هر سورهٔ جزء نه ده۔ او د هر سورهٔ په ابتداء کی د پاره د تبرک او د قرآنی سورت ته د جلا کولو د پاره ویل کیږی۔ تفسیر بیضاوی ص۳۔

سوال ! که څوک د بسم الله د قرآنیت څخه منکر سی باید کافر سی او سره د دې فقهاء وائی چه کافر نه دی۔

جواب ! هغه آیته چه اتفاقاً قرآن وی نو منکر یی کافر دی بسم الله شریفه اتفاقاً قرآنی نه ده۔ ولی امام مالکؒ یی قرآن نه بولی بلکه ذکر یی بولی۔

سوال ! جنب او حائضې یا نفاسې ښځې ته ولی د بسم الله ویل روا دی او سره د دې چه دغه کسان د تلاوت د قرآن شرعاً منعه دی؟

جواب ! دغو کسانو ته ویل د بسم الله په نیت د تبرک روا دی نه په نیت د قرآن۔ خزینه ص۸۴

پوښتنه ! دغو کسانو ته ماسوای د قرآن شریف څخه نور اذکار لکه لا اله الا الله سبحان الله و بحمده۔ او نور اذکار ویل روا دی که نه؟

جواب ! په اتفاق د ټولو مذاهبو روا دی۔ دغه رنګه دغه کسان السلام علیکم وچاته ویلای سی۔ او وعلیکم السلام دچا په جواب کی ویلای سی۔ او دغه رنګه الحمد لله رب العلمین په قصد د تشکر د نعمت نه په قصد د قرآن هم ویلای سی۔ خزینه ص۸۴

په اسرار مخزن کی ص۵۵ داسی راغلی دی که څوک یو ظالم ته یا یو حاکم جابر ته وړې او پخوس ولاړه بسم الله شریفه تر پایه پورې و وائی هغه ظالم او حاکم به پس ده مهربانه سی او ده ته به ذلیل وی۔ او د ویونکی هیبت به پر هغه پریوزی۔ او د شړ څخه به امان سی۔ او دغه رنګه که څوک دیوه پیریان یا بهوبن په غوښه کی څلویښت واړه بسم الله شریفه و وائی هغه به هوبن کی راځی او پیریان بې ایله کړی۔ که څوک بسم الله شریفه په وخت د خوب کی شل واړه و وائی په دغه شپه کی به د شیطان، پیری، غله، د ناببره مرګ او هر آفت څخه به امان وی۔ او که څوک بسم الله شریفه دیرش هر واړه و وائی رزق به ئی خدای پاک فراخ کړی۔ او په آسانی به رزق ورسیږی۔ خ ص۸۶

که څوک د یکشنبې په ورځ د لمر د ختلو په وخت کی مخ پر قبله بسم الله شریفه پر حساب د سولا نو یعنی (۳۱۳) واړه و وائی۔ او تنل واړه د سورت شریف هم و وائی خدای پاک به یو نا ببره رزق ورکړی۔ او دغه رنګه که څوک بسم الله شریفه په حساب د ابجد یعنی (۷۸۶) واړه په ښه اخلاص و وائی د هر حاجت د پاره چه روا وی خدای پاک به ئی هغه حاجت پوره کړی۔ او که د ظالمانو او د ښمنانو نه څخه بې یزی خدای پاک به هغه ځنی دفع کړی۔ او که د تجارت ئی و وائی هغه تجارت به ئی ډیره ګټه ورته وکړی۔ او که د چا راجلبول مقصود وی هغه سړی به ورته راسی۔ حضرت امام ابوحامد محمد غزالیؒ په احیاء العلوم کی وائی۔ که څوک د شپې یا د ورځی بسم الله شریفه (۱۲۰۰۰) واړه په دې ترتیب و وائی چه اول او دس تا نه کړی پاکی جامې واغوندی په پاک ځائ کی۔ نو بیا نزل واړه بسم الله شریفه و وائی او بیا د وه رکعته نفل وکړی او بیا لاس پورته کړی حمد د خدای پاک و وائی او خپل حاجت ځنی وغواړی۔ ورو وسته بیا قرائت د بسم الله شروع کړی نزل واړه چه پورته سوه بیا د وه رکعته وکړی او بیا دعا وکړی په دغه ترتیب تر دوو ولس ورځو واړه پوره هغه حاجت بې خدای پاک په لنده موده کی دسرته کړی۔ که هر څو کران کار وی۔ خ ص۸۶

په یوبل حدیث شریف کی راغلی دی چه آنحضرت صلی الله علیه وسلم وائی چه نه ږدیږی هغه خوا چه اول پکښی بسم الله شریفه و ویل سی۔ کذا فی تفسیر الفاتحة۔ او که څوک همیشه توب وکړی د بسم الله پر ویلو (۷۸۶) واړه خدای پاک به وده ته انسانان مزاوبنځی تر ولسمشرانو فرمانبر داره کړی او دا تر ډیره پاجائزه۔ د تفسیر کبیر په اول کی د ابوهریرهؓ نه په روایت داسی راغلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم وده ته د ویل۔ یا اباهریرة اذا توضأت چه ته اودس تازه کړې فقل بسم الله الرحمن الرحیم وایه ته بسم الله فان حفظتک لا تستریح۔ ولې چه په تحقیق سره ستا ساتونکی ملکی استراحت نه کوی۔ ان تکتب لک الحسنات۔ چه تا ته نوشته کوی نیکی۔ حتی تفرغ۔ تر هغوچه ته د اودا سره څخه فارغ کیږی۔ واذا غشیت اهلک۔ او که ته د ځپلی ماینځ ته د جماع په قصد۔ فقل بسم الله۔ وایه ته بسم الله شریفه (یعنی تر بر نکاح خلاصید و مخکی) فان حفظتک یکتبون لک الحسنات۔ په تحقیق ملائکه ستا لیکی تا ته نیکی۔ حتی تغتسل من الجنابة۔ تر هغوچه ته غسل کوی د جنابت نه۔

محمد عبید الله قندهاری ابوسلیمانخیلی وایی چه په فضائلو کی د بسم الله الرحمن الرحیم بیشمار حدیثونه او اما ما تو دین قولونه راغلی دی۔ که چیری زه ټوله نقل کړم نو دیری ورځی به پکار سی۔ که څوک د بسم الله ټوله بیان او خواصی او فضائل غواړی نو دی د اسرار مخزن د (۸۰) صفحې څخه تر (۸۸) پورې مطالعه کړی۔

قدوسی والی!

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ

ترجمہ ثنا او صفت خدای پاک لره دی خاص چه رب اوساتونکی دتولو مخلوقاتو دی۔

دال معنی تولہ۔ د حَمْد معنی صفت دیوچاکول په ژبه کې هغه د نعمت د سببه وی لکه والی خدای پاک مالته ښه رزق یا ښه نوم راکړی دی۔ یاد نعمت د قسم نه وی لکه چه والی خدای جل جلاله عالم دی قادر دی۔ او شکر عام دی که په ژبه د چا صفت کوی او که په لاس او پښو د چا خدمت وی او یا په زړه کې د چا سره محبت او اخلاص وی لکن خاص پر نعمت باندی۔ او مَدح بیا عامه ده که پر فعل اختیاری وی لکه والی فلانی ښه لوښی نه کوی ښې سوځې نیسی۔ یا غیر اختیاری وی لکه چې والی د فلانی ښه غږ او ښه قد وقامت دی۔ او په حَمد او شکر کې داشرط دی چه هغه صفت چه ترې بیانوې هغه به اختیاری وی۔

رَبّ سره معنی تربیه کوونکی ساتونکی د خدای اسم صفت دی۔ اَلْ په العٰلمین کې په معنی د تولو۔ عَالَمِیْن جمع د عالم ده او عالَم په لغت کې علامه ته والی۔ لکه دوه چه علامه دا وړه ده او په اصطلاح کې هر هغه شی چه غیر د خدای پاک څخه وی هغه عالَم دی۔ او په دې سبب عالَم وړته والی چه دا تولہ شیان پر وجود د خدای پاک علامه او دلیل دی۔ سعدی شیرازی والی ؎

برگ درختان سبز در نظر هوشیار ہر ورقی دفتریست معرفتِ کردگار

عالَم دوه قسمه دی عالَم علوی یعنی بلنده لکه آسمانونه، ملکی، جنتونه۔ او بل عالَم سفلی دی یعنی کښته۔ لکه محکه او په انسانان، حیوانان، درختی، غرونه او نور۔ د دې تولو پیدا کوونکی ساتونکی روزنه ورکوونکی۔ یوازې اویوازې یو خدای جل جلاله وعمّ نواله دی بل څوک شراکت نه ورسره لری۔

پوښتنه! چه د عالَم تولہ شمیر او حساب او په پوره تفصیل سره د حالاتو بې خدای جل شانه بل چا نه نه دی معلوم۔ قرآن، وَلَا یَعْلَمُ جُنُوْدَ رَبِّكَ اِلَّا هُوَ، اوخبره دی په لښکر یعنی مخلوق د خدای مکر خدای پاک۔

سوال! تاسی څنګه د ترجمه کوئ چه تولہ ثنا او صفت خدای لره دی۔ او سره د دې چه د مخلوق هم صفت کیږی لکه چه والی فلانی ښه عالم دی فلانی ښه سخی دی فلانی ښه غازی دی۔ او نور۔

جواب! د غه صفتونه هم په حقیقت کې د خدای پاک دی هغه ورکوونکی د علم یا د مال یا د شجاعت خدای پاک دی۔

مسئله! د حمد د خدای جل جلاله پر هر نعمت واجب دی او حمد او شکر د نعمت الهی سبب د نور یا تر والی د هغه نعمت کړی۔ قرآن، وَلَئِنْ شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ، که تاسی شکر د نعمت ووایاست نو زه به نعمت د نور ته زیات کړم۔

فائده! تر تولو لوی نعمت او بهترین نعمت د مسلمانانو ته ایمان او اسلام دی چه په دې دنیا او هم په آخرت کې نعمت دی۔ او دنورو نعمتو سبب دی۔ ولی د دنیا تولہ عذابونه لکه د لاس پریکیدل پر خلاء په دبرو وشړل پر نړۍ او نورو د اسلام پر مخالفت بناء دی ولږس۔ او د غه رنګه د آخرت د دوزخ او په دوزخ کې عذابونه هم د اسلام پر خلاف کولو باندی بناء دی۔ لکه چه قرآن کریم او احادیث د نبی کریم صلی اللہ علیه وسلم د دې خبرې شاهدان دی۔

پوښتنه! څه سبب دی چه علماء د خپلو کتابونو په سر کې حمد د خدای پاک والی۔

جواب! په حدیث شریف کې چه روایت ئې ابن ماجته او نور محدثان کوی راغلی دی چه آنحضرت صلی اللہ علیه وسلم فرمائی "كُلُّ اَمْرٍ ذِیْ بَالٍ۔ هر هغه کار چه د ډیرو لوونکی د شرافت وی۔ لَمْ یُبْدَأْ فِیْهِ بِحَمْدِ اللّٰهِ۔ او شروع ونه کړې سی په هغه کار کې حمد د خدای۔ فَهُوَ اَبْتَرُ هغه کار به قطع او بې برکته وی۔ او په دې کې شک نشته چه د کتابونو تصنیف ښه کار دی۔

سوال! په دیرو کتابونو کې حمد د خدای نه لیدل کیږی نو هغه د دې حدیث مخالفت ولی کوی۔ لکه بخاری شریف ترمذی شریف کافیه وغیره؟

جواب! شروع په حمد د خدای عامه ده که په کتابت لیکنه سره وی او که صرف د خوله په ویلو سره بیله کتابته۔ نو نه مصنفینو حمد د خدای په خوله ویلی دی او لیکلی ئې نه دی۔ نو مخالفت د حدیث مذکور پرده ئې نه دی لازم۔ د شرح جامی د سریم مخ وکوره او د دې سوال نور جوابونه هم ستره۔ چه ما په فیض القدیر کې چه د شرح جامع صغیر د مناوی حاشیه ده پر عبد الغفور او نور محمد په تفصیل سره راوړی دی۔ او د بخاری شریف د اول مخ پر حاشیه کې هم راغلی دی۔

فائده! چونکه عمر ونه د امت محمدی لنډ او کوتاه دی نو حکمه خدای پاک دې امت ته جامع عبادات ورکړی دی۔ یعنی چه کوم څه آسانه وی او تل ابونه ئې دیره وی۔ د هغو د جملې څخه اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ده۔ ولی که موږ په تفصیل سره د خدای پاک صفت کوو یعنی خدای پاک عالم دی۔ قادر دی۔ رازق دی۔ خالق دی۔ په هر حال دا نادی او نور چه ترحساب تیر دی۔ نو نه موږ څخه دیر وخت بلکه میاشتی او کلونه غواړی۔ مګر چه یو واړه سړی و والی چه الحمد للہ ثواب ئې دوونه دی لکه چه د خدای پاک تولہ صفتونه دی په تفصیل وکړه۔ یو څوشرعی مسئلې په پاره کې د بسم اللہ او الحمد للہ ورانده کوم۔

(۱) بِسۡمِ اللّٰہ شریف واجب دے په ابتدا کی دذبح د حیوان۔

(۲) واجب دے په وخت کی د ویشتلو د بنکار په غشی یا په یو بل تیرہ شی۔

(۳) واجب دے څه وخت چه تعلیم یافته سپی په بنکار پسی ایله کوی۔

په بعضی کتابو کی دفقهی شریفی راغلی دی چه په وخت د ذبح دی فقط بسم اللّٰہ وائی یعنی اَلرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ دی نه وائی۔ ولی چه ذبح د رحمت ځائ نه دی۔ لکن په جوهره کی وائی که چیری سړی په وخت د ذبح کی پوره بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ووائی بنه کار دی او واجب دے څه تر اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہ تر شروع په هر رکعت کی۔ لکن صحیح دا ده چه په دغه ځائ کی سنت دے لکه په عامو کتابو کی دفقهی چه راغلی دی۔ اوسنت دے بسم اللّٰہ شریف پوره ویل په شروع کی دا واسه۔ اوسنت دے په ابتداء کی دخوړلو د یوشی۔ اوسنت دے په وخت کی د شروع د هر بنه کار۔ لکه د قرآن تلاوت۔ د علوم دینیه د درس په وخت کی۔ د دینی کتابو د تصنیف په وخت کی۔ اوبَسۡمِ اللّٰہ ویل مباح دے په وخت کی د ولاړی یا ناستی یا تک یا پریوتلو۔ اوبَسۡمِ اللّٰہ ویل مکروه دی په وخت کی د دې چه عورت ئ لخوی۔ او په هر دا ځائ کی۔ او په اول کی د سورة بَرَاءَة۔ او په وخت کی د چلم څکولو یا نسوار کولو او یا بوټی شی خوړلو په وخت کی لکه پیاز، وښه۔ اوبَسۡمِ اللّٰہ ویل حرام دی د حرام شی د استعمال په وخت کی۔ لکه په شراب چښلی یا د سود د کښې مال خوړلی۔ یا زنا کولی۔ بلکه په فتاوائ بزازیه کی راغلی دی چه کافر کیږی هغه سړی اپر حرام قطعی بسم اللّٰہ ووائی۔ او دغه رنګه حرام ده وجنب وحائضې ته کې قصد د ذکر نه وو۔

اوالحمد لِلّٰہ ویل واجب دی په لمانځه کی په دوو اَولو رکعتو کی۔ اوسنت دی د خطبې په شروع کی۔ اوسنت ده د دعا تر دُعا۔ اوسنت ده پس له خوړلو۔ اوپه له کوم سببه اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہ مباح ده بلکه موجب د ثواب ده۔ اوالحمد لِلّٰہ ویل مکروه دی په هر دا ډول ځایونو کی۔ او اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہ ویل حرام دی د حرام شی، تر خوړلو وروسته۔ بلکه بزازیه وائی چه په کفر کې اختلاف دی۔ دا تولی مسئلې د درختار د اول جلد په ۳۰۸ کی وګورئ۔

بنهانه فائده

د درویش محمد عبید اللّٰہ قندهاری ایوب نقشبندی وائی چه بې ځایه برنه وی که په مناسبت دَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡن د دې تولې سورة قرآنی بعضی احوال او خواص بیان کړم د پاره د هغه وروڼو او خویندو چه د عربی کتابو سره علاقه نلري۔ بلکه د پاره

د هغو طالبانو یا نوی ملایانو چه نادره یا غټ کتابونو سره نه وی۔ او هر اینولو طاقت نه لري۔ او دا تول د شفقت دلاره څخه۔

پوهه سلطه! چه د دې مبارک سورة دیرش نومونه دی!

(۱) فاتحة الکتاب۔ یعنی اول د قرآن۔ دا نوم د رسول کریم صلی اللّٰہ علیه وسلم څخه په روایت د ابوهریرة رض راغلی دی۔ وجه ئ دا ده چه د قرآن مبارک اول سورة دی۔ او یعنی وائی چه دا اول سورة دی چه په لوح محفوظ کی نوشته سوې دی۔

(۲) فاتحة القرآن د دې وجه هم دغه ده چه موږ ذکر کړه۔

(۳) اُمّ القرآن۔ یعنی موږ او اصل د قرآن۔ بیضاوی وائی چه د تولو قرآن معانی په دې سورة کی اجمالاً درج دی۔ دا نوم هم په روایت صحیح سره ثابت دی۔

(۴) اُمّ الکتاب د دې وجه هم هغه ده چه اوس بیان سوه۔

(۵) اَلۡقُرۡآنُ الۡعَظِیۡم۔ سبب ئ دا دی چه تولو معانی د قرآن شریف په دې سورة کی ستر دا نوم هم مروی دی د علیه الصلوة والسلام څخه۔

(۶) اَلسَّبۡعُ الۡمَثَانِی۔ سبع ئ په دې بولے چه اوه آیته دی۔ او مثانی ئ په دې بولے چه مثانی یا د ثنا څخه جوړ سوې دی۔ او په دې سورة کی ثنا د خدای پاک ویل سوې ده۔ او یا مثانی د تثنیه څخه جوړ سوې دی۔ چه معنی ئ تکراره دی۔ دا سورة مبارک په لمانځه کی مکرر ویل کیږی۔ دا نوم قرآنی دی چه خدای پاک فرمائی، وَلَقَدۡ اٰتَیۡنٰکَ سَبۡعًا مِّنَ الۡمَثَانِیۡ، په تحقیق مادر کړی وتا ته سورة د سبع مثانی۔

(۷) الوافیة۔ سفیان بن عیینة رح وائی چه دا سورة وفا کوی په معانی د قرآن۔

(۸) الواقیة۔ یعنی ساتونکی۔ او دا سورة مبارک کوک وائی د تولو آفاتو امراضو په امان وی۔

(۹) سورة الکنز! معنی خزانه۔ دا سورة هم خزانه د تولو معنا کانو د قرآن پاک ده۔ او یا په دې سبب ئ کنز بولی چه حضرت سیدنا علی رض وائی چه دا سورة نازل سویده د خزانې څخه چه تر عرش مبارک لاندی ده۔

(۱۰) اَلۡکَافِیَة۔ یعنی کفایت کوونکی۔ یعنی د قاری د پاره بس ده۔

(۱۱) اَلۡاَسَاس! یعنی تاه دای۔ وجه ئ دا ده چه اساس تر تولو بناء مخکی او دین محکم وی۔ د غه رنګه دا سورة د قرآن تر تولو سورتو تر دې اوه حکم دی۔

(۱۲) سورة النور! ولی چه ویونکی ته نور باطنی ورکه کوی۔

(۱۳) سورة اَلۡحَمۡد! د دې نامه وجه سبکاره ده۔

(۱۴) سورة الشکر! ولی چه حمد د خدای پاک پر نعمت شکر دی. اویل داچه کوم سړی چه د خدای پاک کوم نعمت پیدا کړی وائی اَلْحَمْدُ لِلّٰه۔

(۱۵) سورة الحمد الاولیٰ! ولی چه د خدای پاک حمد په دین وسورته تی سړا اغلی دی لکن اَلْحَمْدُ لِلّٰه شریف تر تولو اول سورة دی چه حمد په کښې دی۔

(۱۶) سورة الحمد القصوی! یعنی په نهایت او اعلی درجه حمد۔

(۱۷) سورة الرقیة! یعنی دَم او تعویذ۔ ولی چه پر حدیث شریف کی چه صحیح حدیث دی سړا اغلی دی چه دا سورة شفاء د هر مرض دی۔ او دا په تجربه اهل الله ته ثابته ده لکن بعضی شرطونه لری او مخصوص عددونه لری۔ د سورانو او یلو د پاره چه د هغه عدد او د هغو شرطونو اظهار په دې عمومی کتاب کی مناسب نه دی حکمچه دا سړا وخته دی۔

(۱۸) سورة الشفاء! وجه ئی داده چه جابر رض روایت کړی دی چه آنحضرت صلی الله علیه وسلم وویل، فَاتِحَةُ الْكِتَابِ شِفَاءٌ مِّنْ كُلِّ شَيْءٍ۔ سورة فاتحه شفاء ده د هر شی یعنی د هر مرض۔ اِلَّا السَّامَ وَالسَّامُ الْمَوْتُ۔ مکر نه سام او سام مرک دی۔

(۱۹) سورة الشافیة! د دې سببه ئی بولی چه د هغه سورة مبارک شفاء بخښونکی دی د هر مرض۔ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم۔ ویلی دی آنحضرت صلعم اِنَّ فِیْ سُوْرَةِ الْفَاتِحَةِ۔ په تحقیق په سورة فاتحه کی۔ سَبْعِیْنَ شِفَاءً۔ اویا شفاء دی،

(۲۰) سورة الصلوٰة! ولی چه پر لمانځه کی ویل د دې سورة واجب دی په مذهب د امام ابو حنیفه رح او فرض دی په نزد د امام شافعی رح۔

(۲۱) سورة الدعاء! ولی چه اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِیْمَ بیا تر پایه پورې دُعا او غوښتنه ده۔

(۲۲) سورة الطلب! ولی چه طلب د هدایت پکښې دی۔

(۲۳) سورة السوال! ولی چه سوال په پکښې کی ستر د رب جل وعلا شانه څخه۔

(۲۴) تعلیم المسئلة! یعنی بنو ونه د طریقې د سوال ولی چه پر دې سورة کی موښ ته خدای پاک لاره بنو ونه کړې ده چه هر وخت چه د خدای پاک څخه شی غواړی اول له حمد وثنا د خدای پاک و وایاست او بیا شی خپل و غواړی۔

(۲۵) سورة المناجات! یعنی د خدای پاک سره سړا ویل۔ ولی چه پر حدیث شریف کی سړا اغلی دی چه لمونځ کذاره سړې د خدای پاک سره سړا راوالی۔

(۲۶) سورة التفویض! یعنی وخدای ته د کار سپارنه۔ او موښ هم په دې سورة مبارک کی وایو، وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ، او خاص د تا څخه کومک غواړو وای خدایه۔

(۲۷) سورة المکافات! یعنی وچاته عوض ورکول۔ په حدیث مبارک کی سړا اغلی دی چه د هر بود مکې شریفې یعنی د کافرانو او وه قافلې په ښه جوش او خروش سره مکې شریف ته سړا اغلې او مسلمانان د غه وخت په مسکنت او تنګدستی کی وه نو د آنحضرت صلعم په برکه کی بن اسمان او افسوس پیدا سو۔ خدای پاک دا آیت نازل کړی، وَلَقَدْ اٰتَيْنٰكَ سَبْعًا مِّنَ الْمَثَانِیْ، په تحقیق ما تا ته درکړی دی اووه آیته سورة مثانی۔ په عوض دا وو قافلو د کفارو کی۔

(۲۸) اَفْضَل سورة القرآن! یعنی بهترین د تولو سورته تو د قرآن۔

(۲۹) اخیر سورة القرآن! یعنی وروستنی سورة تر تولو سورته تو د قرآن ولی چه اَلْحَمْدُ لِلّٰه شریفه د وه ځله نازله سوې ده یو وار په مکه شریفه کی او بیا په مدینه کی په یو وار یعنی کامل سورة۔

(۳۰) اعظم سورة فی القرآن! یعنی هغه لوی سورة په قرآن شریف کی۔ اولوی والی د دې سورة په اعتبار د هر ثواب دی نه په حساب د آیاتو۔ په یو حدیث مبارک کی چه روایت ئی امام بخاری، مسلم، ابو داؤد، ترمذی، ابن ماجة، نسائی، امام احمد، ابن جریر، بیهقی، حاکم، کړی د ابو سعید رض، قَالَ بَعَثَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ۔ وویل ابو سعید رض چه واستولو موږ آنحضرت۔ فِیْ سَرِيَّةٍ ثَلَاثِيْنَ رَاكِبًا۔ په یو کوچنی لښکر کی چه دیرش سپاره وو۔ فَنَزَلْنَا بِقَوْمٍ مِّنَ الْعَرَبِ۔ موږ واړه ولاړ پر یو قوم د عربو۔ یعنی پر کافرانو۔ فَسَاَلْنَاهُمْ اَنْ يُّضِيْفُوْنَا۔ سوال وکړی موږ د دغه قوم څخه چه موږ ته میلمستیا راکړي۔ یعنی د خوړاک شی راکړي۔ فَاَبَوْا فَلُدِغَ سَيِّدُهُمْ۔ او د دوی منځ ته راته وکړه پس په هغه شپه د دوی رئیس لړم وخوړلی۔ فَاَتَوْنَا فَقَالُوْا هَلْ فِيْكُمْ اَحَدٌ يَّرْقِیْ مِنَ الْعَقْرَبِ۔ نو د دوی موږ ته راغله او وې ویل چه ایا ستاسو په تاسو کی څوک چه د لړم دم کوی۔ فَقُلْتُ نَعَمْ اَنَا۔ ابو سعید رض وائی ما وړ ته و ویل چه هوسته نه ړه یم۔ وَلٰكِنْ لَّا اَفْعَلُ حَتّٰى تُعْطُوْنَا شَيْئًا۔ مکر نه ده دم نه پر کوم تر څو چه سړا نه کړئ تاسی موږ ته یو شی۔ یعنی په اصطلاح شکرانه۔ قَالُوْا اَنْطَيْنَاكُمْ ثَلٰثِيْنَ شَاةً۔ د دوی و ویل چه موږ د سړا کوو تاسی ته دیرش پسونه۔ قَالَ فَقَرَاْتُ عَلَيْهِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ سَبْعَ مَرَّاتٍ۔ ابو سعید رض وائی ما پس و ویل پر هغه لړم والا باندی اَلْحَمْدُ لِلّٰه یعنی توله سورة اووه واړه او هغه سړی د ستی جوړ سو۔ فَاَمَّا قَبَضْنَا الْغَنَمَ۔ څه وخت چه موږ د دوی څخه واخسته هغه دیرش پسونه۔ عَرَضَ فِیْ اَنْفُسِنَا مِنْهَا۔ سړا وکړیده نه موږ په ځان و کی د دغه پسو اخستلو سبب یوه وسوسه۔ یعنی په دې سبب چه پر قرآن شریف باندی مزدوری اخستل دی او دا به سړا نه وی۔ فَكَفَفْنَا حَتّٰى اَتَيْنَا النَّبِیَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ۔

شیانو او حالاتو د علم دعوه کوی۔ نو دې آیت څخه د قرآن کریم منکرین "قُلْ لَا يَعْلَمُ الْغَيْبَ إِلَّا اللّٰهُ" - وایی ای محمده چه علم نه لری پر غیب او ویت شی بیله خدایه بل څوک، او په بل آیت کې داسې راغلی دی "وَلَوْ كُنْتُ أَعْلَمُ الْغَيْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ وَمَا مَسَّنِيَ مِنْ سُوْءٍ" - خدای پاک د آنحضرت صلعم د خوا وائی که چیرې زه خبر وای په غیب هر آئینه ما به ډیر جمع کړی وای له خیره څخه او ما ته به نه وای رسیدلی کوم غم او تکلیف، نو دې آیت مبارکه څخه دا معلومه سوه چه آنحضرت صلعم وخان ته علم غیب نه وایه۔ ولې چه لفظ د "لَوْ" په عربی ژبه کې پر دغه دلالت کوی لکه چه په عربی خبرداره خلک په پوهیږی نو تعویذ کې کوډ کړه ته وخان ته څرنګه علم غیب وائی۔ ایا ته خپله د رتبه ترعلیه السلام پوهه ته بولې۔ او که ته وائی چه ما ته خو پیریان شیطانان د پته شیانو حالاتو را معلومو نوه وایم پس ته کاهن ښې لکه د عرب د جاهلیت د وخت کاهنان۔ چه د هغوی په باره کې آنحضرت صلعم دا سې فیصله کړې ده۔

"مَنْ أَتَى كَاهِنًا" - که څوک د هغې غیب کوونکې ته۔ فَصَدَّقَهُ بِمَا قَالَ - پس باور او یقین ئې وکړی په هغه خبره چه کاهن ورته وکړه۔ فَقَدْ كَفَرَ بِمَا أُنْزِلَ عَلَى مُحَمَّدٍ - پس کافر سو هغه سړی په هغه قرآن سره چه نازل کړه سوی دی پر محمد۔

اوبل داچه کوډ کړه جادو کړه۔ په ظاهر ملایه حقیقت کې شیطانه۔ ته څنګه نو عقیده لرې چه پیر یانان په پته خبرې خو د اهم کفر دی۔ او که ته وائی چه نه زه د علم غیب دعوه کوم او نه هم پیریانان ما ته خبر راوړی۔ بلکه زه د خوله په صفائی او په نورو قرائنو څخه خطا باسم او پیښې ځنې پرې کوم۔ نو زه وایم چه ته حرام خوره، غل او غدار ئې۔ باید توبه وکاږې خان او عیال د حرامو څخه وساتې۔ مرګ قبر او آخرت دی په مخکې دی۔

د رویش محمد عبید الله کندهاری ایوب وائی چه اکثر د دغې غدارۍ او جادو کړې سبب بنځې او نا پوه د دین ناخبره انسانان دی۔ دوی چه د دغه غدار غیب کوونکې پته معلومو نکی ته ورسی ورته وائی چه ته په کتاب کې وګوره چه په ماشه سوی دی۔ نو دغه کوډ کې ورته وائی چه یوه لښه یا جګه یا توره یا سپینه بنځه ده په تا ئې تعویذ ونه کړې دی۔ دهغې بنځې یا ښځې په قریبا نوکې نژدې یا لیرې کې د غسی رنګ بنځه وه نې وائی رشتیا دی وویل د غسی بنځه زما په قریبا نو یا همسایګا نوکې سته۔ بیا نو هغه بنځه وجادو کړې غدار ته وائی چه اوس نو چاره وا وکړه۔ غدار ملا ورته وائی چه ته خپل نوم او د هغه نوم راوښیه او د هغې بلې بنځې نوم هم۔ نو زه ما بنام خپل پیریانان پسې

نومونه هغوی پسو د ویشلو یا حلالولو او خوړلو څخه منع وکړه۔ یعنی د علیه السلام ترمشوی پورې۔ نو څوچه موږ د اغلو نبی علیه السلام ته۔ فَذَكَّرْنَاهُ ذَالِكَ۔ نو موږ ذکر کړه د وه ته یعنی مبارک علیه السلام ته هغه قصه یعنی د لرم او شکرانې۔ فَقَالَ مِنْ أَيْنَ عَلِمْتَ إِنَّهَا رُقْيَةٌ - پس آنحضرت صلعم وفرمائل ته د کوم ځایه خبر وې چه دا سوره ته دم دی۔ اَقْسِمُوْهَا وَاضْرِبُوْا لِي بِسَهْمٍ۔ سره د ویشئ هغه پسونه او ما ته هم برخه پکښې راکړی۔

فائده: د دې حدیث شریف څخه په بنکاره د ول معلومه سوه چه پر دم او تعویذ شکرانه او مزدورۍ اخستل روا دی۔ که څه د قرآن په آیا تو دم وکړې۔

په دې مسئله کې وهابیان سخت منکر دی۔ دوی وائی چه هغه قوم څو کافران وه د کافر مال خو حلال دی لکن دوی نه پوهیږی چه د کافر مال خو په غنیمت کې حلال دی۔ چه هغه د جهاد شرعی نتیجه ده۔ او په چل وفریب یا په حرام طریقه خود کافر مال نه دی حلال۔ نو که د قرآن پر ویلو من دورۍ اخستل حرام وائی نو ولې آنحضرت صلعم د دې حرام مال د ویشلو او پخپله هم د برخې اخستلو امر کاوه۔ او سره د دې چه دا مزدورۍ هم مشروطه وه۔ د هیڅ په توګه هم نه وه۔ او بل داچه وهابیان وائی چه اخستل د مزدورۍ یې کتاب الله د یعنی دیانو کار دی۔ لکه خدای پاک چه په شان کې د دوی وائی "وَيَشْتَرُوْنَ بِهٖ ثَمَنًا قَلِيْلًا" او دا ئې یهودیان یعنی د دوی ملایان په عوض کې د کتاب الله یعنی توراة شریف ثمن یعنی قیمت لږ۔

جواب: ملایانو د یهودیانو خو پس تبدیل د توراة دا یا تو لکه بدلول د آیت د رجم یا بدلول د اوصافو د آنحضرت صلی الله علیه وسلم باندې بدې او رشوت اخستې نه پردم کولو۔ دا مسئله۔ یعنی شکرانه۔ د قرآن پر تعلیم مزدورۍ اخستل یا پر اذان کولو یا پر امامت کولو مزدورۍ اخستل یا پر تعلیم د دینی علومو مزدورۍ اخستل په مشروط ډول دې دیره مختلف فیها مسئله ده۔ قدماء د حنیفیانو" دا تولې ناروا او حرام بولی۔ او متأخرینو تولو فتوی صادره کړې ده چه دا تولې روادی۔ دلائل د متأخرینو په شرح وقایه راد محتار او نورو فتاوی د فقهی حنیفی کې ذکر کړه سوی دی۔ دا ځای د تفصیل نه دی۔ ولې چه دا مسئله دلته په تبع کې د فضائلو د سورة فاتحه ما انشاء الله ورته وکړه د پاره ذکر ئې وطنوالو نړو او بنځو۔

او یوه داخبره ده چه د غیب کوونکې شکرانه غواړی لکه بعضی تعویذ کړان۔ هغه یقیناً حرامه ده په اتفاق ولې چه علم غیب خاصه د خدای پاک ده۔

نو دا تعویذ کړ غیب کوی۔ پته معلومونکی ته موږ وایو چه ته پخپله د غیبو او پته

استوم هغه به تعویذ ونه را وړی او ته صباسره د بنې شکرانې (۱۰۰ یا ۲۰۰ مثلاً) راسره
بنځه کوړ ته ولاړه سې. حقیقت خو داوی چه دهغې بنځې یا تبه وی یا ئې پرسر درد وی
یا بله ناجوړی لری دهغې ناجوړۍ سوړ نظر سی او دجادو کې غدار ملا پس قول ئې
باور سی کوړ ته ولاړه سې. هغه اندازه سروپۍ چه غدار ملا وړ ته ویلی وی برابری کړی
دهرې خواچه وی. صباسحار چه را اغلې غدار ملا دهغه لاډین تعویذونه او دائرې
په خاوړ وکې بنځې کړی وی. یوه یا دوې دائرې دهغو دائرو څخه را وکاږی او هغه نومان
چه بنځې وړ ښو ولی وه په یوه خام قلم پکښې نوشته کړی سحار چه بنځه را سی هغه پیر
ژړا وکړی نو کې پیچلی په خاوړ وکې لرلې تعویذونه وړ کړی. او وړ ته وائی چه تې پیوبل ملا
وکوړه. ستا او ستاد هوړ نومان یوله نومان پکښې نوشته دی. بنځه خوشحاله سی. پرې
دناجوړۍ څخه خلاصه سوم. غدار ملا په مینه مینه هغوړه شکرانه حنې واخلی. کوړ ته
چه بنځه را سی هغه داوی هغه ئې ناجوړ وی.

د غدار انویوه بله عجیبه نقشه او دځان بنړ کې ثابتوله داده! دوې سحار تر غږ مې
پوړی پخپل حای کې ناست وی. بنځې او نړ وړ ته را ځې صرف نومان نوشته کوی وائی سحار
را سی هغه تعویذونه چه په تاسی سوی دی دا کړم. ماپښین دی کار نه کوی. بلکه هغه
ټول ډه تعویذونه چه ډه لاپخوا په ژړا وړستو ټکرانو کې بنځه کړی وی را وکاږی او په
یوه تعویذ ډه کې دیوه چا نوم او بل تعویذ ډه کې دبلې بنځې نوم په خام قلم نوشته کړی وی.
ماپښین پسې را سم سی دهرچا کوړ ته چه نزدې هدیره یا یوبل خرابه حای یا لیرې و
نزدې کوڅه یا باغ وی. هغه تعویذونه هلته قړ مانړ دیکر پوړی بنځه کړی سحار چه د
نوړ وخلکو د هغه هغه دپښو نه بنځې او نه را سی وهر یوه ته وائی چه شکرانه را کړه ستاد
تعویذ حای به دا وښیم وړ سه پخپله ئې وکاږه. شکرانه چه وړ کړی وائی وړ سره په فلانی
هدیره کې د فلانی قبر تر څنګ یوه دبړه پرته ده هغه لیرې کړه او هغه حای غار کړه په فلانی
سرک ټکرانو کې ستا تعویذ دی را وبې کاږه. هغه چه وړ سی هم هغسې وی. بلته بیا
بل حای وړ وښیی. دپښو نه خلک چه خلاص کړی بیا نوی کسان نوشته کوی. نود خلکو
خصوصاً دبنځو داعقیده سی چه فلانی ملا عجیبه بنړ ک دی. خلک ئې لاسونه اوپښې وتړی
دځان جوړسی. دهرویش محمد عبید الله وائی. چه داکار وباړ په افغانستان کې دیر کم وو. بلکه
تخمیناً نه وو. مګر په پاکستان کې دیر څخه داکار وباړ جاړی وو. څه وخت چه په
افغانستان کې انقلاب را غی. او خلکو پاکستان ته هجرت وکړی. نو ډه وښې په نامه ملایان

یعنی چه د شروط الصلوٰة پرویناوئ قدرت نه درلودی. په دې ټکی او غداړی او جادوګړی
اخته سول. او دپیسو د جمع کولو د پاره ئې اسلام ته شا کړه. او دخلکو په خطا ایستونکې لاس پوړی
کړی. او بعضی نړ وښې د غه ملایانو داسی ترڅ وکړه چه په غداړی کې پاکستانی غداران وړ ته
حیران دی دنوهانو لخستل ئې مناسب ونه دی. اَللّٰهُمَّ اٰخِذْ نَامِنْ مِّثْلِ صَنِيْعِ هٰؤُلَاءِ الْغَادِرِيْنَ.

اوس پیړ ته د سوړه فاتحه پرلوړ!

دهرویش بانګاه محمد عبید الله نقشبندی قندهاړی سلیمانخیلی ایوبی وائی چه
خواصی او فائدې ددې سوړه مبارک بې حسابه دی او ترشیړ دیړی دی. که هغه فائدې
چه په کتابونو کې ذ ما عاجزه کم علمه ته معلومې دی نړه وی یکمر نشل هغه کتاب به تخمیناً
څلښت جوړسی. دهرویش وائی چه اولین شرط د نفعې اخستلو پردې سوړه مبارک ښه
اعتقاد او باوړ دی.

دوهم شرط ئې پاکی د بدن ده.

دریم شرط ئې پاکی د خای دویلو ده.

څلورم. اجازه د یو عامل سړي څخه اخستل.

پنځم. بسم الله په وصل د الحمد لله سوړه ویل. یعنی داسی. بسم الله الرحمٰن الرحیم الحمد لله رب العٰلمین.

شپږم. په ماښین کې د عدد پوړه کول. دچاسره خبرې نه کول.

اوومم. مخامخ وقبله ناکښینستل.

اتم. دګناه په کار کې نه ویل.

نهم. د ناپوهانو څخه اړه پتول.

لسم. همیشه توب پرکول.

فقیر وائی چه زه به بعض ضروړی فائدې وکړانو وړ وښو او خو ندونه بیان کړم.
په فتاوی صوفیه کې په نقل د اسراړ مخزونه ضلا را غلی دی چه یو وخت د ملتان په
بنار کې سخته ئې بلا او طاعون پیدا سو. نوشیخ تمیمی چه د هغه وخت یو بزړګوار
شخصیت و وخپل مریدان ئې امر کړل چه تاسی د طاعون پر مریض باندې (۳) یا
(۷) واړه الحمد لله په وصل د بسم الله وایاست او پر مریض ئې پوه کوئ. هغه وو
چه خدائ پاک به هغه مریض ته شفا وړ کړه. او علاوه پر شفاء هغه و باهم خدای
په لږ موده کې رفع کړل. ضلا

که څوک همیشه توب وکړي پر قرائة د سوړه فاتحې په ماښین کې د سحار او فوض

(۱۱) واړه که مسکین وی خدای پاک بې غنی کړی۔ اوکه پوه وړی وی خدای پاک یې
ډیر پوه اداء کړی۔ اوکه ناجوړی وی په هره ناجوړی چه اخته وی خدای پاک بې ځڼ جوړ
کړی۔ اوکه ضعیفه وی خدای پاک به بې قوی کړی اوکه بی عزته وی خدای پاک به بې لوړ
عزت اومقام ته ورسوی۔ اوکه دیو منصبه څخه لیری سوی وی خدای پاک به بې بیرته وهغه
منصب یا تر هغه بالا ته ورسوی۔ اوکه بنځه یا مړه نکاح خواهش نری خدای پاک به دهغه
د طبیعت سره موافق اوبرابر میړه یا مامینه ورپه برخه کړی۔ اوکه یوځوک عیال نلری
خدای پاک به عیال ورکړی که څه هم دکلو وچه بنځه وی۔ اوکه دد بنمن څخه بیرې وی هغه
به خدای پاک پر مهربانه کړی یا بې وړک کړی۔ او دی به ځنی خلاص سی۔ اوکه ئې تجارت
نه چلیږی اوکه کته نه کوی هغه تجارت به بې خدای وچلوی۔ اوپر هر مریض چه په فاتحه
شفا سره دم وکړی خدای پاک به بې جوړ کړی۔ کذالک اسرار الفاتحة۔

اوکتاب درة الافاق صلا لیکلی دی کرځوک همیشه توب وکړی پرویناد الحمد لله
سره د بسم الله پسله هر لمانځه اووه واړه خدای پاک به بې خلاصی کړی پر هغه باندی
د دنیا او آخرت د خیر درواړی۔ او خدای پاک به د ده د دین او دنیا مهمات ور
خلاص کړی۔ او د امن او د خوښحالۍ ژوند د بنه حلال رزق سره به خدای پاک ور
کړی۔ والله الموفق۔ ضلا

کچاته منظور وی چه ډاهن مشکل دی ژر آسانه حل سی او هری بلا څخه
دی ده په امن کی یم او هر چا په زړه کی ډاهیبت او د بدبړی نوم دی په حساب
د ډیر سورة دهن وخوله (۱۲۵) دی ورسته د سحار تر لمانځه هیشه داسورة مبارک وائی۔

او دا طریقه هم ډیره بنه او مقبوله ده او د تولو کامیابی سبب ده چه دا سورة
مبارک د سحار تر لمانځه ورسته دیڅ شی واړه او د ماښین تر لمانځه ورسته
پنځه ویشت واړه او د ماښام دیکر تر لمانځه ورسته شل واړه او د ماښام تر لمانځه
ورسته پنځلس واړه او د ماخستن تر لمانځه ورسته لسی واړه وائی چه مجموع
شل واړه کیږی۔

خبرتیا! هغه لسی شرطه چه ذکر سول مه هیروه۔ موږ هغه شرطونه حکمه
تر تولو د مخه ذکر کړل۔

سوال! یو د هغه لسو شرطو څخه د الحمد لله اجازه اخستل وه د عامل
څخه۔ موږ عامل د ډیر سورة چیرې پیدا کړو۔ او موږ ئې څه پیش نوچه دا

سړی په سرشتیا عامل دی اوکه نه۔ هر سړی به د عوذه د عملیت کوی او هوښتر به
پرځای د نفعی ضرر په برخه ببی ولی چه هغه سړی به په حقیقت کی عامل نه وی۔

جواب! داسوال پرځای دی۔ فقیر وائی چه ډاډه ډیر سورة حقیقتاً عامل یم
تخمیناً دپنځو سو کلو څخه۔ او ما د ډیر سورة اجازه وخپلو نه امنوتر وړکړې ده۔
نو بناءً علی هذا کړنه څرونده وی و مرتاپوری ډاسی۔ اوکه نه هر وم
ډاما د نه امنو څخه اجازه حاصله کړی۔ اوکه چیری نه وی اتر ډاما د نه امنوتر
ډاسیدل آسان وی اوکه دلیری و طنو خلک نو داسی تن تیب دی وکړی۔ چه یوه
هفته پرله پسی د ماښام تر لمانځه ورسته دیڅ شی واړه اوکعته نفل کوی اوثواب
ډیر فقیر ته وبخښی اوتن نفلو ورسته دی د مغفرت خواست د فقیر په حق
کی په درباری کی د رب العزت کوی۔ و هغه سړی ته ډاما پوره اجازه ده۔

سوال! عامل ډیر سورة څوهر سړی کیدای سی۔

جواب! هغه سړی عامل دی چه پرپوه چهل خانه کی۔ یعنی په څلویښت ورځی
اعتکاف سره درونړی یولک پنځه ویشت (۱۲۵) ځله واړه وائی۔ او ورسته تر هغه
بې هره ورځ یا شپه بلا ناغه تنل واړه وائی۔ دادی د الحمد لله د عامل حقیقت۔

سوال! د غسی عمل کول هم اجازه غواړی؟

جواب! هو غواړی۔ او اجازه ډیر هم هغه طریقه ده چه اوس اوس ما درته بیان کړل۔

سوال! ایا ستاسو امنو هم د عامل توب درجه پیدا کړې ده اوکه نه۔

جواب! د پلار کته داهل نه وی سره شریکه ده

سوال! تر چه عامل د الحمد لله خان بولی آیا ته د بنمنان بدخواهان نلری اوکه نه لری؟

جواب! حسد د ملایانو یو طبعی کار دی مګر په برکت د الحمد لله شریف د تولو
د ضرر او مخالف مقابلې څخه خدای پاک زه اوزما عیال ساتلی یو تر اوسه پورې۔ د
ملایانو حسد د فقیر سره یا خو پر تعصبِ قومی دی اویا پر تعصب علمی دی۔ او
تعصب داسی یو آفت دی لکه شاعر چه وائی ؎

چشم بد اندیش کبر کند باد — عیب نماید هنرش در نظر
گر همه سرمی دوصد هنر است — هنر بکار نیاید که بخت بد یار نباشد
ز اعتماد ریدۀ ای ای ای خیز حمود

قدوسی والی!

وَالعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ

او ثواب د آخرت (چه جنتونه او نعمتونه دی) خاص د پارسا د پاره هیر کړلی دی۔

څوک چه ترجمه کوی په جزاء د آخرت هغه ترجمه غلطه ده۔ ولی چه جزاء د آخرت ثواب وعذاب دواړه وتلی والی۔ نو هغه په متقین پوهیدی ولی خاصه ده۔

پوښتنه! چه متقین جمع د متقی ده۔ متقی په عربی ژبه بنه ځان ساتونکی دعذاب څخه کړم دی دنیا عذاب وی۔ او په شرعه شریفه کی متقی هغه څوک دی چه د قیامت د عذاب چه دوزخ دی ځان ساتی

واوره! چه تقوی دری قسمه ده! اول دایمی او همیشه عذاب او د دوزخ څخه ځان ساتنه۔ دغه قسم تقوی په صرف ایمان سره پیدا کیږی۔ یعنی تصدیق او باور او یقین کول په ټولو هغو شیانو چه د خواځخه د خدای ﷻ پیغمبر علیه الصلوة والسلام موږ ته رسولی دی۔ او په خوله اوښه په لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ویل۔ نو حکه قرآن کریم ودې کلمې طیبې ته کلمة التقوی ویلې ده۔

دوهم قسم تقوی هغه ده چه عام وخاص وړ ته تقوی والی۔ هغه د عذاب د آخرت یکلخته او بالکل ځان ساتنه ده۔ چه هغه تقوی په دې سره پیدا کیږی چه تولو اوامر د خدای ﷻ او رسول ﷺ د ده پر ځای کړی۔ یعنی عمل په وکړی او د تولو هغه کارونو څخه چه خدای ﷻ او رسول ﷺ منع کړی وی ځان وساتی۔ او که یو وخت گناه څنی صادره سی نو ژر د ده پر هغه گناه د صدق او اخلاص تو به وکاږی یعنی د هغې گناه وخدای ﷻ ته عذر وکړی او بخښنه وغواړی۔ او د آینده د پاره ټینګ قصد وکړی چه بیا به دا کار نه کومه مطلب دا چه تر مرګه پورې پر هغه گناه ځان نه پریږدی۔ وړوکره او خوږه! پرته تو به کی تلوار په کار دی دا هم وایه، سَوْفَ اَتُوْبُ، چه ژر دی چه نه به وړوسته تو به وکاږم ولی چه د مرګ نیټه نه ده معلومه۔ که ته حُوان یې حُوان هم مړ کیږی۔ یو شاعر وائی ؎

توبه کن امروز تو هرگز نگو فردا کنم ۔ شاید بمیری صبحدم فردا نیابی در شمیر

دریم قسم تقوی! د خواصو بندګانو ده یعنی د کاملو اولیاء اللّٰه یعنی د خدای پاک د دوستانو هغه اداه چه د تولو ماسوی اللّٰه څخه کرکه مباشیان وی پرهیز وکړی۔ په دې معنی چه په ژړا کې یو محبت الٰهی وی د بل شی محبت قلبی نه لری۔ دا معنی نه ده چه خوراک اوچیښل او نکاح اوکالی نه کوی او د چا سره خبری نه کوی۔ ولی چه په دې قسم ژوند امکان نه لری۔ مطلب دا چه د خدای ﷻ رضا او د ده حبیب ﷺ رضا مقصد وی نه نور مخلوق۔ که مقابله راسی نو د خدای او د رسول ﷺ رضی کولو ته غوره ګڼی دی وبس۔

وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ

او رحمت د خدای او سلامتۍ د آفاتو څخه دی وی پر رسول ﷺ د استولی سوی د خدای چه محمد ﷺ دی او د ده پر اهل بیت یعنی د ده مبارک د کورنۍ بندګان۔ او پر هغو چا چه د رسول الله ﷺ نعمت د صحبت او مجلس وتر حاصل سوی وی پر هغو تولو

پوښتنه! چه صلوة په لغت کی د دعا ته وائی او په فقهه شریفه کی لمانځه ته وائی۔ او د درود ویلو په ځای کی د خدای پاک د خوا رحمت او د بندګانو د خوا طلب د رحمت ته وائی۔

سوال! طلب د رحمت پر آنحضرت صلی الله علیه وسلم څه معنی لری۔ ولی چه پر آنحضرت صلعم د خدای ﷻ رحمت سوی دی۔

جواب! رحمت د رب جل وعلی هیڅ پای او نهایت نه لری۔ نو بندګان طلب د زیادة د رحمت الٰهی کوی پر آنحضرت صلعم۔

او سلام دُعا د سلامتیا په دنیا وآخرت کی د پاره د آنحضرت صلعم۔ چه یو د سلامتیا څخه داهم دی په دنیا کی چه دین د آنحضرت ﷺ بر قراره وی۔ او ساتونکی د دین محمدی ﷺ بر یالیان وی۔

سوال! څه سبب دی مصنفان پخپلو کتابونو کی ترحمد وړوسته د درود وائی؟

جواب! په صحیح حدیث کی راغلی دی چه آنحضرت صلعم فرمایلی دی که څوک د درود وائی پر ما په یو کتاب کی ملائکه به تر هغو پورې چه زما نوم په دغه کتاب کی وی هغه بنده ته دعاء مغفرت کوی

مسئله! د درود ویل په عمر کی یو واړ فرض دی په قرار د امر الٰهی، يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا، ترجمه! ای هغه کسانو چه ایمان موړ او ړی دی درود وایاست پر آنحضرت صلعم او دعاء سلامتیا وړ ته وکړئ۔ او پس له هغه هر وخت چه نوم د رسول الله صلی الله علیه وسلم ذکر سی۔ بعضی فقهاء وائی چه د درود ویل سنت دی۔ او که مکرر ذکر سی نوم د ده مبارک په تداخل سره یو واړ درود کافی دی۔ لکن مختاره او فتوی پر دې ده چه د هر واړ نامه سره د آنحضرت صلعم درود ویل واجب دی او تداخل پکښی نسته۔ او بیله ذکر د نامه د ده مبارک د درود ویل مستحب او سبب د ثواب دی۔ په حدیث مبارک کی راغلی دی که چا یو واړ پر ما درود وویلو نو الله خدای پاک پر هغه نهسل رحمت وکړی۔ او بل داچی د درود ویل سبب د قرب د آنحضرت صلعم ﷺ د قیامت کی دی چه په صحیح حدیث کی راغلی دی چه تر دې د خلکو د ماته په وړاځ د قیامت هغه سړی دی چه پر ما ﷺ په دنیا کی ډیر درود ویلی وی۔ د رسول ﷺ معنی! رسول په لغت کی د هغو پیغام وړونکی۔ یا استول کړ سوی ته وائی۔ او په شرعه شریفه کی۔ بعضی علماء وائی چه رسول او نبی یو شی دی۔ او بعضی ملایان وائی چه رسول تر نبی

عام دی۔ ولی چه ملکی ترسول ویل کیږی اونبی نه وړته ویل کیږی۔ لکن صحیح
داده چه رسول هغه انسان دی چه خدای پاک رااستولی وی خلکو ته د پیغام د تبلیغ
د احکامو چې اونوی کتاب هم ورسره وی۔ اونبی هغه انسان دی چه د تبلیغ او رسولو
د احکامو د پاره د خدای را استولی وی۔ کرنوی کتاب ورسره وی اوکه نه۔ نو پردی مذهب
نبی ترسول عام دی۔

درویش محمد عبیدالله قندهاری سلیمانخیلی نقشبندی ایوبی وایی چه دامذهب د
احادیثو سره برابر دی۔ ولی په صحیح حدیث کی راغلی دی چه چاپوښتنه وکړه د آنحضرت
صلی الله علیه وسلم څخه چه انبیاء څودی۔ مبارک ارشاد وفرمایه چه یولک څلیښت او څلور زره
هغه سړی وړته ویل چه رسولان څودی آنحضرت وړته ویل چه درې سوه اوديارلس۔

سوال! په صحیح حدیث شریف کی راغلی دی چه کتابونه د خدای یوسل او څلور دی۔ نو
څرنګه یوسل وځلور پرې درې سوه ديارلس ږسیږی۔ تاخو ویل چه په رسول کی نوی کتاب شرط دی۔

جواب! بعضی دغه کتابونه مکرر نازل سوی دی۔ لکه سورة فاتحه چه دوه واړه نازله
سوې ده۔ نو په دې ترتیب داغه (۱۰۴) کتابونه (۳۱۳) واړه نازله سوی دی۔ شرح عقائد وخیالی وګوره۔

فائده! اول د نبیانو آدم ؑ دی او اخیر محمد صلی الله علیه وسلم دی۔

مسئله! د انبیاء علیهم السلام د شمیر تعیین دی سړی نه کوی ولی چه په حدیث کی
اختلاف دی۔ بلکه داسی دی وایی چه نه ماپس تولو نبیانو ایمان دی هر څوچه دی۔ او یا
دی داسی وایی چه یولک و څلیښت زره نه زیات وکم پیغمبران منم۔

پوه سه! چه دین د محمد علیه الصلوة و السلام ناسخ د تولو دینونو دی۔ بیت ؎

مپندار سعدی کز راه صفا — توان رفت جز در پی مصطفی

محمد۔ د آنحضرت صلی الله علیه وسلم نوم هم دی۔ دلائل الخیرات وګوره
او آل د علیه السلام څوک وایی چه اهل بیت دی یعنی دکوره انسانان چه امهات المؤمنین ؓ
دی یعنی د مسلمانانو مندی چه د آنحضرت صلعم کوره والاوی دی۔ او د آنحضرت ﷺ لونی دی۔
او خادمان۔ او بعضی علماء وایی چه آل د علیه السلام نسبی قریبان د علیه السلام دی په شرط
د ایمان۔ یعنی اولاد د علی ؓ د عقیل ؓ د طالب۔ تر ورځی د قیامت پورې۔ او بعضی علماء پرې دی
مذهب دی چه هر تقوی دار مسلمان تر اوښځه د علیه السلام الې دی۔ لکه په حدیث شریف
کی چه راغلی دی، کُلُّ مُؤْمِنٍ تَقِيٍّ فَهُوَ اٰلِي، هر تقوی دار مسلمان زما ال دی۔
او اَصْحَاب جمع د صاحب ده یعنی ملګری۔ په شرع شریفه کی صحابی هر هغه مسلمان دی

چه په وخت کی د اسلام پی آنحضرت صلعم لیدلی وی یا پی مجلس ورسره کړی وی لکه عبدالله
ابن ام مکتوم ؓ چه په ستر کو ړوند وو۔ او بیا به پر هغه اسلام مړی وی۔ که څه یو ساعت ئی
د علیه السلام سره ملاقات کړی وی۔ او بعضی وائی چه کمانکم شپږ میاشتی ئی ملاقات
کړی وی۔ او بعضی محدثین وائی چه روایت د حدیث ئی هم څنی کړی وی نو صحابی ؓ دی۔
ملا علی قاری د مشکوة شریف شرح وکوره۔

د درود په باره کی سپیڅلی معلومات

دا لاندی معلومات په حواله د اسرار مخزونه صلاة څخه او د روح البیان د دې آیت په تفسیر
کی، اِنَّ اللّٰهَ وَمَلٰٓئِكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ الآیة، معلومات تولو صحیح دی موضوعی شی پکښی نسته۔

پوه سه! چه صلوة یعنی د درود په قول د روح البیان څلور زره قسمه دی۔ او په بل
روایت کی دوولس زره قسمه دی۔ عارفان او اولیاء د شرق او غرب هر چا یو د درود ابطه
د خان او د آنحضرت صلی الله علیه وسلم کړ ځولی دی۔ او د قسم قسم امراضو او آفاتو څخه یو د درود
په تجربه رسولی دی او قسم قسم فائدې ئی ځنی اخستی دی۔ چه دهغو تولو تفصیل او بیان غټ
کتاب غواړی۔ دلته زه تبعاً د پاره د ذکر لو ورته او خوندو څو د درودونه وړاندی کوم۔ شاید
محبان د آنحضرت صلی الله علیه وسلم به کټه رابطه د آنحضرت صلعم څخه حاصله کړی۔ اول
د پاره د دفع د تولو غمو او مصیبتو او د جلب د تولو ګټو او منافعو په تجربه رسیدلی د درود هغه دادی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَعَلٰى اٰلِ سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ صَلٰوةً تُنَجِّيْنَا
بِهَا مِنْ جَمِيْعِ الْاَهْوَالِ وَالْاٰفَاتِ۔ وَتَقْضِيْ لَنَا بِهَا جَمِيْعَ الْحَاجَاتِ۔ وَتُطَهِّرُنَا بِهَا جَمِيْعِ
السَّيِّئَاتِ۔ وَتَرْفَعُنَا بِهَا اَعْلَى الدَّرَجَاتِ۔ وَتُبَلِّغُنَا بِهَا اَقْصَى الْغَايَاتِ مِنْ جَمِيْعِ
الْخَيْرَاتِ فِي الْحَيَاةِ وَبَعْدَ الْمَمَاتِ، دوه ځلی کمانکم پنځه واړه دې وائی۔

شیخ اکبر محی الدین بن عربی ؒ وائی چه داد درود دیوه خزانه ده څخه نو څه د عرش او د پر
شی تاثیر لری۔ او د غه رنګه امام جزولی ؒ او شیخ بوني ؒ د دې درود مبارک په سوو فائدې
بیان کړی دی۔ او صاحب د کتاب الاسرار د دې درود په خواصو کی د پر بیان کړی دی۔
د حضرت جابر ؓ څخه روایت دی چه آنحضرت صلعم وفرمایلو که چا درود و وایه
پر ماهره ورځ ننل واړه خدای پاک به پوره کړی د هغه سړی نسل کا ره۔ او ؓ یاد
آخرت او د دنیا ئی پرې دنیا کی۔ او یو بل روایت داسی راغلی دی که څوک درود وائی
پر ماهره ورځ پنځه سوه واړه مسکین به نه رسی ابدًا۔ او د غه رنګه د نبی علیه السلام

تړی هوکښ سجده نه ده کړې نو ځکه دده په باره کې دعا د کرم الله وجهه ویل کیږی۔
لکن په فتح الملهم شرح د مسلم کې وائی چه چونکه بعضی بد خواها نو د امیرالمؤمنین علیؓ
د مرګه او شهادت څخه وروسته پر منبرونو باندی په وخت د نامه اخستلو د علیؓ د اسی ویله
"سَوَّدَ اللهُ وَجْهَهُ" یعنی خدای دی توره مخ - نو اهل حق وحقیقت علماء کرام وپه مقابله
کې دهغوی د بغض نو د علیؓ په باب کې دا دعا یعنی "کَرَّمَ اللهُ وَجْهَهُ" شائع کړه - یعنی خدای پاک
دی محترم ولری د ده مخ - د سړیش وائی چه دا وجه دیره معقوله ده - او هم شتیا هم چه د امیر
المؤمنین د بغضانو امیرانو په باره کې د دې ستر صحابی امیرالمؤمنین علیؓ د اسی نابریا او
نابناسته او مخوس الفاظ استعمالول "وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللهِ" او دهغوی حساب په خدای پورې اړه لری۔

مسئله! زمونږ اهل سنتو مذهب دادی چه اصحاب د آنحضرت صلی الله علیه وسلم ټول
عادلان او د امت محمدیه غوره او بهتره کسان وه - هیڅ صحابی تر هوبه بد نه وایی - البته وایی
چه افضل د ټولو امت ابوبکر الصدیقؓ وو - او بیا عمر بن الخطابؓ وو - او بیا عثمان بن عفانؓ وو
او بیا علی بن ابی طالبؓ وو۔

سوال! ذکر یعنی "الله" ویل افضل دی - او که درود ویل افضل دی۔

جواب! د ملایانو په دې کې اختلاف دی لکن شاه انور شاهؒ د اسی فیصله کړې ده چه د شفاعت
محمدی په امید درود افضل دی - او د پاره د تن د دی والی وخدای پاک او د جنبی د گناه ذکر افضل دی۔

سوال! په اذکارو کې کوم ذکر افضل دی؟

جواب! په حدیث نبوی کې راغلی دی چه "اَفْضَلُ الذِّكْرِ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ" د سړیش وائی چه دا
کلمه طیبه څومره لس حرفه ده - نو صوفیه کرامؒ ډې په شبانه روز کې څومره لس سوه واره وهوایی نو ته دویلو
وصیت کوی - او که د مرید همت لوړ وی نو دې څومره لس زره واره وائی په شبانه روز کې - او که ډې په اعتکاف
کې ویله څومره لس لکه واره وائی کله تعداد دی - پرتله واره باندی کلمه پوره وائی یعنی "مُحَمَّدٌ رَسُوْلُ اللهِ"
دی هم وه سوه واره وائی - په صاوی شریف کې وائی چه درود شریف ویل ډې اجانبی د شیخ پیر وائی لری - ولی
چه شیطان په درود کې مداخله نه سی کولای - په خلاف د نورو اذکارو چه په هغوی کې اجانب د من شد کامل شرط دی۔

سوال! مرشد کامل کوم سړی ته وائی؟

جواب! مرشد کامل هغه څوک دی چه د شریعت مبارک سره په تمامو معنا وی برابر وی - او د هغه
سړی په مبارک شهوات نفسیه کې غرق نه وی - پیری په سنب نه ده - لکه د عوامو چه په اوس وخت کې گمان دی
چه د چا پلار پیر او بنه سړی وی نو وی ډې هم پیر کامل وی که څه هم فاسق فاجر وی - حتی چه نږدې خریلی بی لماخه
او نور په دیرو دفسق په کارونو اخته کسان هم نن ورځ پیران دی خلک ډې مریدی کوی - بعضی خلک د پیر نه ده

څخه روایت دی وائی چه نه ده حبیب د خدای یم یعنی دوست - او د درود ویونکی پرمانه ما
حبیب دی - که څوک غواړی چه حبیب سی د حبیب - یعنی د خدای پاک - نو درود دی ویر
وائی پر حبیب -

حضرت امام جلال الدین سیوطیؒ وائی چه دا احادیث ټوله صحیح دی - او په تحقیق سره د ویر
درود ویل پر آنحضرت علیه الصلوٰة والسلام سبب د ویر والی د رزق دی او د ویر والی د
برکت دی - او په درود ویلو سره حاجتونه د سره کیږی - او غمونه فکرونه خرابی وسواس دفع
کیږی - امام سیوطیؒ نور یاته کړې ده چه دا ټوله خبری په مشاهده او تجربه رسیدلی دی -
او د درود پر آنحضرت صلی الله علیه وسلم واسطه کول په ټولو کارونو او مهماتو کې د ټولو
علماوو د که مخنی علماء دی که وروستنی - بلکه په پیر یا نو اولیاؤ کې هم قدیم رواج دی -
امام سیوطیؒ په دې باره کې دیرلوی تحقیق کړې دی او دیر دلائل او کوتاه حدیثونه ئی روایت کړې دی -

د درود په باره کې فقهی معلومات

مسئله! په هر درود کې چه لفظ د "آل" او اصحاب وی هغه بنه دی په لنډ درود کې
د درود بهتر دی او بنه دی - "اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ وَّاَصْحَابِهٖ" د هختار - صاوی۔

مسئله! صلوٰة او سلام دواړه ویل بنه کار دی - او یوازې صلوٰة بیله سلام مکروه
نه دی - او یوازې سلام ډې کفایت کوی - دا مسئله د هختار راوړې ده۔

مسئله! دیر علماء بلکه ټوله اهل سنت ډې د دی عقیده ده چه درود ویل پر پیغمبر
دانبیاء علیهم السلام په مستقل توګه لکه چه وایی علی علیه السلام مکروه تحریمی دی
او بعضی علماء وائی مکروه تنزیهی دی - او په تبع دانبیاء علیهم السلام روا دی - لکه چه
وائی "وَالصَّلٰوةُ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَصْحَابِهٖ وَعَلٰى اَبِيْ حَنِيْفَةَ وَاَجْبَابِهٖ" رد - منهج۔

مسئله! په کنوز الحقائق شرح کنز الدقائق کې وائی چه بنه داده چه د صحابی نوم چه ذکر
سی نو "رضی الله عنه" دی وواني - او که د تابعی نوم ذکر سی نو "رحمه الله" دی وواني - او که د
بل عالم نوم ذکر سی نو "غفرله" دی وواني - لکن امام نوویؒ وائی چه دعا په "رضی الله عنه" سره
صحابه کرامؓ تابعین - تبع تابعین ته دی کوی او دعا په "رحمه الله" دی نورو علماؤ ته او دعا د مغفرت
دی ټولو امت محمدیه ته کوی۔

سوال! د حضرت علیؓ ته ولی اکثر علماء دا دعا کوی چه "کَرَّمَ اللهُ وَجْهَهُ"

جواب! په فتاوی حدیثیه کې وائی چونکه حضرت علیؓ په کوچنیوالی مسلمان سوی دی او بت ته

په باره کی وائی۔ دښو غوښو ښه ښوروا وی۔ جواب! هو لکن چه په ښوروا مرد اړتیا نه سی کیدی۔ بیت ؎

پسر نوح بابدان بنشست　　خانهٔ نبوتش گم شد

قَالَ الشَّيْخُ الْإِمَامُ الْأَجَلُّ الزَّاهِدُ الْعَالِمُ اَبُوالْحُسَيْنِ

ویلی دی شیخ یعنی پیشوا او بزرګ۔ چه خدای پرسته او عالم وو۔ چه د حسین پلار او نوم یی

اَحْمَدُ بْنُ مُحَمُّودِ بْنِ جَعْفَرِ الْبَغْدَادِیُّ الْمَعْرُوفُ بِالْقُدُورِیِّ

احمد د محمود زوی د جعفر لمسی۔ چه وطن یی بغداد دی او مشهور په قدوری دی۔

پوهه سی! چه د قال شیخ بیا ترکتاب الطهارة پورې د خودی مصنف د دې کتاب قول نه دی۔ ولی چه تقوی دا ړکسان او علماء د خپل ځان تعریف نه کوی۔ بلکه د اقول د بعضی شاګردانو مصنف دی دوی د پیژندګلوی دپاره۔ شیخ۔ په لغت کی سپین ږیری ته وائی چه عمر یی پنځوس کاله تیر شوی وی۔ او په اصطلاح د کتابو هغه چا ته وائی چه مقتدا د خلکو وی په هر علم کی چه وی که څه حکمت او منطق وی۔ لکه ابن سینا په حکمتو کی۔ یا عبدالقاهر په معانی کی۔ یا ابن حاجب په نحو کی۔ یا قدوری په فقه کی او نور داسی ذوات۔ او امام هغه سړی دی چه خلک د ده په خبرو او کارونو کی اقتداء کوی۔ لکن نه په بد و کارونو کی۔ لکه امام ابوحنیفه په فقه کی او امام ربانی یی په عقائدو کی او امام ربانی یی په تصوف کی او نور دغسی مبارک کسان۔ او نور هغه چا ته وائی چه د دنیا په کارونو کی یی رغبت وی او د آخرت کارونو ته متوجه وی۔ اَبُوالْحُسَيْنِ۔ دا د مصنف اسم کنیت دی

فائده! نومان دری قسمه دی! اول اسم محض یعنی خالص نوم۔ دا هغه نوم دی چه موږ او پلار او سړی ته اینبی وی۔ لکه اَحْمَد۔ محمد۔ عبدالله۔ عبدالرحمٰن او نور دغه قسمه نومان۔ دوهم اسم کنیت دی چه په سړی د اَب یا د اِبن یا د اَخ یا د اُم لفظ وی۔ لکه ابوالفضل۔ ابوالخیر۔ ابوعبدالله وغیره۔ یا ابن عمر ابن عباس ابن الزبیر۔ یا اخ المحب۔ اخ الشر وغیره۔ دریم اسم لقب دی چه د خیر یا د شر په نامه مشهور سی۔ لکه علامه۔ شیخ۔ شیطان وغیره۔ نو د مصنف دده کتاب اَحْمَد یی اسم محض وو او ابوالحسین یی کنیت وو او شیخ الامام یی لقب وو۔ بَغْدَاد یو مشهور لوی ښار دی چه پای تخت د عراق دی پداوس وخت کی چه په پنځوسمه میلادی کال کی د لوی اهل علم او اهل الله مرکز او مدفن وو۔ لکه امام ابوحنیفه۔ امام محمد۔ امام ابو یوسف۔ پیران پیر عبدالقادر الجیلانی۔ امام غزالی او نور نومیاړی کسان۔ اَلْمَعْرُوف۔ یعنی خلکو د مصنف دده کتاب په قدوری مشهور کړی وو۔ او په دغه نامه خلکو پیژاندی۔ قدوره۔ په بغداد کی د یوې قریې نوم دی او مصنف د هغې قریې وو۔

پوهه سی! چه اصل کتاب او س شروع کیږی۔ ومن الله التوفیق۔

كِتَابُ الطَّهَارَةِ

کتاب دی په بیان کی د پاکۍ

فائده! کتاب وهغه مبحث ته وائی چه دیری مختلفی مسئلی پکښی ذکر سوی وی۔ لکه کتاب الطهارة چه د طهارة مختلف اقسام پکښی ذکر سوی دی۔ یعنی اوبس۔ غسل۔ تیمم۔ طهارة د جامې۔ طهارة د ځای د لمانځه۔

سوال! ولی نو ټول فقهاء د فقهی شریفی د کتابو په اول کی کتاب الطهارة راوړی۔

جواب! سبب دا دی چه لمونځ پس له ایمانه اول رکن د اسلام دی او بهترین رکن د شریعت محمدی دی لکه چه صحیح حدیث داسی وائی ؛ اَلصَّلٰوةُ عِمَادُ الدِّيْنِ۔ لمونځ پایه او تنبه د دین دی۔ مَنْ اَقَامَهَا فَقَدْ اَقَامَ الدِّيْنَ۔ که چا وساته د تنبه د دین یعنی لمونځ پس هغه سړی وساتی دین او اسلام۔ وَمَنْ هَدَمَهَا فَقَدْ هَدَمَ الدِّيْنَ۔ او که چا ونړوله د تنبه یعنی لمونځ ئی نه کاوه یا پرځیلو شرطو برابرئی نه کاوه پس هغه سړی ونړوله د دین خو نه۔ او نور هم صحیح حدیثونه په باره کی د لمانځه دیر دی۔ بلکه په قرآن مبارک کی تر هر عبادت د لمانځه په باب کی دیر آیتونه ولهدا و نازل سوی دی۔

او س نو لمانځه لره دیر شرطونه ستر چه بیان به ئی راسی اِنْ شَاءَ اللّٰه۔ او تر ټولو شرطو مهم اولوی شرط ئی طهارت او پاکی ده۔ ولی چه طهارت په هیڅ عذر سره نه ساقطیږی (مستعلم ان الکفایات حاصل دا چه لمونځ پس نور عبادات دده دی او طهارت پرلمانځه دده دی ولی چه شرط پس مشروط دده وی۔ نو نتیجه داسوه چه طهارة د ټولو کتابو د فقهی شریفی اول کتاب سو۔ نو مصنف هم د کتاب الطهارة څخه شروع وکړه

پوهه سی! چه طهارت که څه هم مختلف اقسام لری لکه چه ذکر سوه۔ لکن چونکه او دس یو عمومی او دین پیښید ونکی وظیفه ده نو حکه مصنف اوبس تر ټولو د مخه کړی۔ نو وائی!

وَالْاَصْلُ فِيْ وُجُوْبِ الطَّهَارَةِ قَوْلُهُ تَعَالٰى

او دلیل په واجب والی کی د طهارت یعنی او دس دا قول د خدای تعالیٰ دی

سوال! اودس خو فرض دی او مصنف وجوب و وایه؟

جواب! واجب په معنی د فرض په فقه کی دیره اغلی دی که څه هم فرض او واجب فرق سره لری چه منکر د فرض کافر دی او منکر د واجب کافر نه دی. مګر د عمل په هیدان کی یو شی دی یعنی عمل د دواړه لازم دی که څوک عمل د فرض یا د واجب نه وکړی وړ د دوزخ دی. دا آیه په سورة مائده کی ده دی. او په سنه ۴ یا ۵ کی د هجرت نازل سوی دی.

سوال! په دې ایاتو کی حکم د فرض والی داو داسه - غسل - تیمم بیان سوی دی. او لمونځ په مکه شریفه کی د معراج په شپه کی فرض سوی دی نکه قول مفسرین د قرآن کریم چه داغسی وائی نو په مکه شریفه کی لمونځ بی اودس او بی غسل کیدی؟

جواب! ایاو لمانځه د فرض والی سره سم اودس او غسل مشروع و و لکن صراحتاً امر په قرآن کریم کی وړ سته نازل سوی دی. کذافی السعادیة ص۵۳

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَ

ای هغو کسانو کنه نن وی کا بنځه - چه ایمان موړ او ی دی چه تاسی ولاړ سی ولمانځه ته پس تاسی مینځی مخونه ستاسی او

أَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ

لاسونه ستاسی تر څنګلو پوری او تاسی مسح کوی (لوند لاس تیروی) پر سر و ستاسی - او پښې مینځی تر بجلکو پورې -

پوهه سه! چه په دې آیت مبارک کی چه داخلو شیانو اغلی دی نو له په اودا سه کی فرض دی. هدایه - ردالمحتار - شرح وقایه - او نور نول کتابونه د فقهی -

سوال! په دې ایت کریمه کی اغلی دی، إِذَا قُمْتُمْ، نو چه سړی پر لمانځه ودریږی نو بیا وړ سته به اودس کوی!

جواب! دې ایت معنی داده چه تاسی اراده د لمانځه د دسړید و کړی. هدایه - سعایه - ردالمحتار او نور کتابونه د فقهی

سوال! که سړی اراده د لمانځه وکړه او اودس نه د لوی بیا به هم اودس تازه کوی. نکه دې آیت شریف څخه چه فهمیږی؟

جواب! په اتفاق د نولو مذهبو د قید دلته وړ سره دی، وَأَنْتُمْ مُحْدِثُونَ، یعنی چه تاسی بی اودسه یاست - حاصل داچه دې اودسه په وخت کی اودس فرض دی کې لمونځ کاوه - او کې اودس د لوی بیا نې هم اودس نوی کړی دا مستحب او دیر ثواب لری -

پوهه سه! چه غسل پر یولو ته وائی - او پر یوځل داو بو بهیدلو سره سا ځی - صرف لوند لاس پر مخ تیر ول کافی نه دی - ولی چه دی ته مسح وائی - او په ظاهر روایت کی د امام اعظم

څخه دا وبو د اندامه څخه شرط د غسل دی که څه هم یو یا دوه څاڅکی وی - و علیه الفتوی - کذا فی السعایة و الکفایة و ردالمحتار وغیرها -

د مخ اندازه د تندی د لوړی برخی څخه تر زنی لاندی پورې ئی او په دوالی دی او د غوږ څخه دیوه غوږ بیا تر بل غوږ ئی پسوره دی - نو نه او کن غښتی په مخ کی داخل دی - هدایه ص۳ - قوله تعالی وَأَرْجُلَكُمْ، د ویښ والی چه اَرْجُلَكُمْ په زبر و لامه پر وُجُوهَكُمْ، عطف دی - یعنی تر فَاغْسِلُوا، لاندی دی - نو د اهل سنت په نزد د پښو پر یولل فرض دی که ئی موزې نه وی په پښو -

سوال! د پښو ذکر او بیان تر مسح د سر وړ سته دی نو باید چه تر مسح لاندی سی او اَرْجُلَكُمْ، په زیر د لام وی نکه په بل قرائت کی چه په زیر سره اغلی دی - چه عطف پر بِرُءُوسِكُمْ سی - نو بناءً عَلَيْه باید وظیفه د پښو مسح وی نکه شیعه کان چه وائی - که چیری وظیفه د پښو غسل وای نو باید چه تر، وَامْسَحُوا، ئی د مخ سره اوړی وای - یعنی تر أَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ، وړ سته دستی -

جواب! وظیفه د پښو خو غسل یعنی پر یولل دی - لکن تر مسح چه وړ سته پښې ذکر سوی دپاره د بیان د ترتیب په اوداسه کی - او قرائت د زیر چه شیعه کان د هغه قرائت په اساس وظیفه د پښو مسح بولی - جواب ئی دادی چه د زیر قرائت پر حال د موزو هم دی نو په حال کی د موزو وظیفه د پښو مسح کول دی - حاصل داچه موږ د واړه قرائته منو او عمل په کوو - هغه داچه د زبر وړ قرائت پر، وُجُوهَكُم، عطف دی تر، فَاغْسِلُوا، لاندی دی - او داهغه وخت چه موزه ئی نه وی په پښو - او د زیر قرائت عطف پر وُرُءُوسِكُمْ دی چه تر، وَامْسَحُوا، لاندی سی او وظیفه مسح وکړی داهغه وخت چه موزه ئی په پښو وی - کذافی ردالمحتار - و نورالانوار -

او شیعه کان د وړ قرائت بیخی نه منی او نه عمل په کوی - نو موږ مذهب پر حق دی ولی چه د قرآن مبارک په دواړو قرائتو موږ عمل کوو او منو ئی - او بل موږ دلیل دادی چه په هیڅ حدیث شریف کی نه دی اغلی چه آنحضرت صلی الله علیه وسلم پر لځو پښو مسح وکړی - که چیری وظیفه د پښو مسح وای نو باید چه په نولو حدیثو کی بیان د لځو پښو د مسح کولو وای - وَاللهُ أَعْلَم بِالصَّوَاب -

فَفَرْضُ الطَّهَارَةِ غَسْلُ الْاَعْضَاءِ الثَّلٰثَةِ وَمَسْحُ الرَّاْسِ

پس فرض داوداسه پریمنځل دری اندامونه دی او مسح کول دسر دی - اودوی

وَالْمِرْفَقَانِ وَالْكَعْبَانِ تَدْخُلَانِ فِيْ فَرْضِ الْغَسْلِ

څنګلی اودوه بجلکی داخلی دی په فرض کی دپس یولو (یعنی پریولو) فرض دی کوچی پاتی سی اودس نه دی صحیح

عِنْدَ عُلَمَائِنَا الثَّلَاثَةِ خِلَافًا لِزُفَرَ

په نزد درنو موږ د علماؤ چه درې دی - اوپه دې کی دامام زفر خلاف دی چه دده په نزد څنګلو او بجلکو پریولل فرض نه دی

مراد دری علماؤ څخه اول امام المذهب مجتهد اعظم ستر پیشوا ابوحنیفهؒ دی چه اصلی نوم یې نعمان دی - دوهم قاضی القضاة مجتهد کبیر امام صاحب شاګرد ابو یوسفؒ چه نوم یې یعقوبؒ دی - اودریم دامام اعظمؒ شاګرد دی چه په مذهب کې دیر لوی کتابونه تصنیف کړی دی - لکه مبسوط، جامع صغیر، جامع کبیر، زیادات، هارونیات وغیره - محمد بن الحسن الشیبانیؒ -

پوښتنه! چه دوی امامانو تاریخ بیانول دوی کوتاه کتاب سره مناسب نه دی - ولی چه دوی تاریخ بیانول په جلدونو جلدونو کتابونه غواړی -

پوښتنه! آیت شریف په بیان کی داوداسه څه وجه تړسو او معنی دوی آیت مبارک هم شکاره ده نو بیا ولی دوه غوږلویی امامانو" په بجلکو او څنګلو کی اختلاف پیدا سو؟

جواب! امام زفرؒ وائی چه داوداسه د آیت معنی داسی ده لکه دوی آیت شریف چه دسر وشړې په باره کی نازل سوی دی" ثُمَّ اَتِمُّوا الصِّيَامَ اِلَى اللَّيْلِ" یعنی بیا نوپوره کړئ روژه تر شپې پورې - نوشپه خو په روژه کی نه ده داخله - نو دغه راتګ څنګل او بجلکه دلاسو اوپښو په وظیفه کی چه پریوله دی نه دی داخل - اوموږ وایو چه روژه چونکه یوحد معین ډک په عرفی ژبه کی نه دی لوی بلکه یوساعت امساک ته هم روژه وائی دعربو په لغت کی - نوخدای پاک په" اِلَى اللَّيْلِ" سره حد شرعی د روژې معلوم کړی - نوحکه شپه د روژې پای سوه - او شپه خو چه سوله - او" اَيْدِيَ" یعنی لاسونه خو تر اوږو پورې او پښې تر ټکو پورې واندامونه ویل کیږی - نو" اِلَى الْمَرَافِقِ" یا" اِلَى الْكَعْبَيْنِ" دوی د پاره خدای پاک وویل چه تر څنګلو لوړ یا تر بجلکو لوړ حکم څه دپریولو وباسی - ولی که دغه" اِلَى الْمَرَافِقِ" یا" اِلَى الْكَعْبَيْنِ" نه وای نو

پریوله دلاسو به تر اوږو پورې فرض وای - او دپښو پریوله به تر ټکنو پورې وای نو بنا ءً علیه چه لوړ یا برخی دلاسو اوپښو څخه راجی سوې څنګلی او بجلکی تر پریولو لاندی راغلی اوپه اصطلاح د فقهی شی یفی دلاسو اوپښو په باره کی" اِلَى غَايَةِ الْاِسْقَاطِ" بولی - یعنی لوړی ساقط کړه - اود روژې په باب کی الی دپاره د مدالحکم ده - یعنی حکم د روژې ترشپې پورې کش کړئ - ردالمحتار - هدایه - شرح وقایه - نورالانوار - مستخلص - بلکه تولو کتابونو د فقهی د علمو

وَالْمَفْرُوْضُ فِيْ مَسْحِ الرَّاْسِ مِقْدَارُ النَّاصِيَةِ وَهُوَ رُبُعُ الرَّاْسِ

اوفرض په مسح کی د سر اندازه د نزلی ده - چه هغه څلرمه د سر کیږی -

پوښتنه! چه سر څلورمه حصې دی - نزله - څه ده - دوه تیکه - مصنف چه مقدار وایه اشاره وی ترده چه خامخا د نزلې مسح فرض نه ده - بلکه پرهره څلرمه د سر چه مسح وکړی د فرض خو خامخا صحیح

فائده! د حضرت امام شافعیؒ په نزد مسح دیوه یادوه یا دری ویښتانو قدر فرض ده

دلیل ئی دادی چه په آیت شریف کی خو مطلق مسح راغلی ده او مطلق مسح عامه ده - او امام مالکؒ د تولو سر مسح فرض بولی - دی وائی چه د تیمم په باب کی خدای پاک وائی" فَامْسَحُوْا بِوُجُوْهِكُمْ" تاسی مسح کوی پرمخانو - نو په تیمم کی خو بالاتفاق مسح د تولو مخ فرض ده - نو په آیت کی داوداسه چه" وَامْسَحُوْا بِرُءُوْسِكُمْ" راغلی دی په هغه آیت کی هم د تولو سر مسح فرض ده - اوموږ په مذهب کی څلرمه د سر مسح کول فرض دی - نوموږ دلیل د احدیث مبارک دی چه مصیح کتابونو کی روایت کړی دی -

لِمَا رَوَى الْمُغِيْرَةُ بْنُ شُعْبَةَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

په سبب د دی چه روایت کړی مغیره د شعبه نه چه خدای دی ورڅخه راضی سی چه آنحضرت صلی الله علیه وسلم

اَتٰى سُبَاطَةَ قَوْمٍ فَبَالَ وَتَوَضَّاَ وَمَسَحَ عَلٰى نَاصِيَتِهٖ وَخُفَّيْهِ

ورغی چا رکښی اچولو خای ته د یو قوم - یعنی هغه خای ته چه خلکو به هلته چا رکښی اچولو - پس بولی ئی وکړه او اودس ئی تازه کړئ او مسح ئی وکړه پر نزله او پر موږ وچه په پښو ئی وکړه -

سوال! په دی حدیث شریف کی خو صرف د راغله چه آنحضرتؐ مسح پر نزله وکړه نو دی حدیث څخه فرض والی د مسح د ناصیه څنګه معلومیږی احتمال سته چه آنحضرتؐ دی مسح د ناصیه استحبابا کړی وی -

جواب! آیت مبارک په باره کی د مقدار د مسحی مجمل دی - یعنی واضح بیان پکښی

نسته چه څونه اندازه د سر مسح کول فرض دی۔ پس د آنحضرت صلعم فعل چه پر ناصیه مسح وکړه بیان د هغه آیة مبارک د مراد دی۔ نو صلی فرضیت د ناصیه په آیة شریف سره ثابت دی۔ لکن پس له بیانه د آنحضرت ؐ۔ کذا فی رد المحتار والهدایه وشرح الوقایه ونور الانوار وغیرها۔

وَسُنَنُ الطَّهَارَةِ غَسْلُ الْيَدَيْنِ قَبْلَ اِدْخَالِهِمَا الْاِنَاءَ

اوسنت داوضو اسره چه دې پر پیل دلاسو دی۔ د هغه تر داخلیدو په لوښی کې۔

سنت هغه کار ته وائی چه آنحضرت صلی الله علیه وسلم همیشه ثواب پرکړی وی۔ مګر پریږدو واره ئی پرې ایښی وی۔ د سنت حکم دادی چه پرکولو ئی ثواب دی او پرنه کولو ئی سزا نشته وه کول کښې دی۔ رد محتار وفتح القدیر وغیره۔

كَمَا قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا اسْتَيْقَظَ اَحَدُكُمْ مِنْ

لکه چه ویلی دی آنحضرت صلی الله علیه وسلم کوم وخت چه بیدار سی یوستاسی څخه د خوب

مَنَامِهٖ فَلَا يَغْمِسَنَّ يَدَهٗ فِي الْاِنَاءِ حَتّٰى يَغْسِلَهَا ثَلَاثًا

څخه پس نو دی غوته کوی لاس چیل په لوښی کی۔ تر څه وخته چه مینځی لاس دری واره۔ ولی

لَا يَدْرِيْ اَيْنَ بَاتَتْ يَدُهٗ مِنْ جَسَدِهٖ

چه دی نه دی خبر چه چیری شپه تیره کړې ده لاس د ده د بدن څخه د ده۔

پوښتنه! اچه ذکر د لوښی بناء پر عادت د عرب و چه په لوښی به ئی او دس تازه کاوی ولی چه په عصر یونی کی عموماً جار سره اوبه نه وی او نه نلکی وی۔ نهایه شرح هدایه۔

پوښتنه! اچه دې حدیث څخه د امعلومیږی چه سنت والی د لاس پر یولو خاص د هغه چاد پاره دی چه د خوب څخه راپیدا سی۔ تفصیل دادی! اچه د عرب و محکی کړی وی او د دوی عادت داوو چه استنجاء به ئی په لوتو اوخاوره و وهله نو به بیدیدله۔ په دې صورت کی غالباً د سړی بدن خوله کوی حتی د دبره ئی هم خوله کوی۔ او سړی چه بیدار وی هر ځای چه کار وکړه هغه ځای کوروی۔ نو که د سړی په خوب کی د دبرې تر لاس وه سیږی او هغې هم خوله کړی وی او استنجاء هم په خاوره و وهل سوې وی۔ نو احتمال د دې سته چه لاس به ئی مړدار سوی وی۔ نو له دې احتماله سره دی لاس په لوښی مه چیخی

ولی چه او به مړداری نه سی۔ نو ځکه بعضی فقهاء پرې دې عقیده دی که چیری سړی د بیدیدو په وخت ګندګی نه وکړی او یا ئی استنجاء په اوبو وهلې وه۔ نو د لاسو پریولو بیا سنت نه دی۔ او دا مذهب ضعیف دی۔ الهداد، په حاشیه کی د هدایه ص۳۱ والی چه د حدیث شریف یوانی د هغو کسانو د پاره دی چه د خوبه ویښ سی او د لاسو په مړدارۍ کې شک وی۔ ولی چه په دې صورت کی پریولو د لاسو تینګ سنت دی او اصل سنت داوو د اسه خو د لاسو پریولو په شروع کی د اوو د اسه دی مطلقاً که د خواب راویښ سی او که نه که لاس په لوښی چیخی اوکه نه۔ بلکه که پرینکه یا په جار ی او بی او دس تازه کوی او یا یقیناً لاسونه ئی پاک وی خو بیا هم د اوو د اسه په شروع کی د لاسو پریولل سنت دی تر اف لوبند و پورې۔ د آنحضرت القدیر ملا الهدایه

پوښتنه! بیله اوو د اسه څرنګه د سړی لاس مړدار بلل کیږی۔

جواب! که چیرې ئی پر لاسو نجاست حقیقی ظاهری و و لکه بولی، ګندګی، وینی، شراب۔ نو لاس ئی مړدار دی کې په لږو اوبو چې کی هغه هم مړدار ګرځی۔ اوکه چا ګونه یا پسکی۔ واچوله د انجاست حکمی دی۔ په دې صورت کی که لاړ په اوبو لاس چې کړی او به نه مړدار ګرځی۔ لکن د دوو دی خوړلو په وخت کې پریولل مستحب دی۔ او کې اوس د رلو دی بیا ئی دوو دی خوړله دلاسو پریولل ادب دی۔ په احادیثِ مبارکه کی ثابته ده۔

فائده! دا احدیث مبارک چه تیر سو شپږو صحیح کتابو د حدیثو ئی روایت کړی دی۔ تخریج زیلعی۔

وَتَسْمِيَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى فِيْ اِبْتِدَاءِ الْوُضُوْءِ وَالسِّوَاكُ

اوبل سنت داوو د اسه نوم اخستل د خدای تعالی دی په شروع کی د اوو د اسه۔ اوبل سنت استعمال د مسواک دی یعنی بسم الله الرحمن الرحیم ویل په شروع کی د اوو د اسه او بسم الله ویل تر استنجاء د څخه اوه ویسته دواړه سنت دی۔ وهو الصحیح هدایه ص۳۱ ج۱۔

پوښتنه! اچه سنت والی د بسم الله ویلو د امام ق۔ وړ ئی او د فقیه ابوجعفر طحاوی مذهب دی۔ او د صاحب د هدایې او نورو کتابو والا مذهب دادی چه بسم الله ویل چه په د غه وخت کی مستحب ده

سوال! په صحیح حدیث کی راغلی دی لَا وُضُوْءَ لِمَنْ لَمْ يُسَمِّ۔ او دس نسته د هغه چاد پاره چه بسم الله ونه وائی۔ نو د دې حدیث په اثر باید بسم الله ویل په او د اسه کی شرط او فرض وی۔ لکه چه اصحاب ظواهر للحدیث چه همدغسی وائی۔

جواب! اشارحان دحدیش وائی چه مراد په دې حدیث کی نفی د فضیلت اوثواب دی۔ نه نفی د وجود د اوداسه۔ هدایه ص۳۱ ج۱

پوښتنه! چه مسواک په اندازه د کوچنۍ کوتی وی۔ او اوږد والی یې واړه د واړه یو ویت وی یعنی که وه وسته کوچنۍ سبې پرې واندې لری۔ او مسواک دی دغابنو پرعرض وهی نه پرطول۔ ولی چه اوږدوالی خرابیږی

فائده! مسواک وهل په اوداسه کی دوه لوئ سنت دی۔ چه آنحضرت صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی۔ که چیری دامت د مشقت بیرته نه وای ما به دوئ امر کړی وای وجوباً په مسواک وهلو سره۔ رواه البخاری

مسئله! که مسواک نه وو د سړی سره بیا به څه کوی؟ **جواب!** بیا به یې غابنو تینګه کوته تیر وی چه آنحضرت صلعم هم یو وخت دغسی کړی دی۔ هدایه ص۳۱ ج۱

مسئله! که د سړی په خوله کی غابنونه نه وی نو به څه کوی؟ **جواب** پوښتنه دی کوته تیر وی

سوال! نبخه به هم مسواک وهی که څنګه؟

جواب! فقهاء وائی چه دبخی وړی ضعیفی دی نو دوئ ته شاوول د مسواک ځای وهی۔ مګر کوته دی پرې غابنو تیر وی۔

فائده! که دیوه سړی خوله او غابنونه دیو سیب څخه بدبویه وی چه وبل چاته آزار رسیدی دهغه د پاره بې اوداسه هم مسواک وهل سنت دی ولی چه انزار ول د خلکو نارواوی۔ نوحکه آنحضرت صلی الله علیه وسلم هغه سړی چه پیاز اوم یا کنده اوهر یا هوښ خوړلی وی د جماعت دحضور څخه منع کړی دی۔ رواه البخاری۔

وَالْمَضْمَضَةُ وَالْاِسْتِنْشَاقُ

اوبل سنت داوداسه په خوله او به لغړول دی۔ اوبل سنت داوداسه پرپوزه اوبه لغړول دی۔

دلیل یې دادی چه ټولو کسانو نامور و اصحابو رضی الله عنهم روایت داوداسه د رسول کریم صلی الله علیه وسلم کړی دی۔ هغو تولو مضمضه او استنشاق ذکر کړی دی۔

سوال! په هدایه ص۳۱ ج۱ کی وائی چه آنحضرت صلعم د مضمضه او استنشاق فعل په اوداسه کی مواظبت کړی دی۔ نو باید مضمضه او استنشاق یا واجب یا فرض وای لکه اهل حدیث چه دغه دواړه په اوداسه اوغسل کی فرض ګڼی۔

جواب! عینی او ملا علی قاری او نور نکره محدثین وائی چه آنحضرت کاهی داوداسه کاړه په اوداسه کی قصداً پرې ایښی دی نو به سبب دد ې موږ حنفیان اود څورو مذهبو امامان ؒ ی سنت بولی۔ او هدایه د مواظبت څخه دې استعمال مراد دی۔

د مضمضه او استنشاق کیفیت دادی چه خوله دی دسړی واړه مینځی او دهر واړه دپاره دی تازه اوبه اخلی او دغه رنګه دپنځی دپاره۔ هدایه ص۳۱ ج۱ رد محتار ص۱۰۸ ج۱

اوطبرانی د آنحضرت صلے الله علیه وسلم داوداسه دغه روایت کړی دی۔ اودحضرت امام شافعی په نزد دسړی واړه د واړه دپاره کافی دی۔ یعنی په یوه واړه دی خوله او پنځه د واړه مینځی۔

پوښتنه! چه په مضمضه او په استنشاق کی پنځه سنت دی (۱) ترتیب یعنی خوله ترپنځی دغه مینځل (۲) دسړی ذړی واړه (۳) هر واړه نوی اوبه اخستل (۴) دواړه دی په یو واسته لاس کوی۔ لکن پنځه دی په یو چپه لاس سون کوی (۵) دپوزې مبالغه او کوشش دی په دواړو کی کوی۔ مګر هغه وخت کی روژه وی۔ رد محتار ص۱۰۵ ج۱

پوښتنه! چه مضمضه او استنشاق سنت مؤکد دی۔ یعنی تینګ سنت۔

مسئله! کرچیری اوبه لږ وی یو یو واړه کفایت کوی۔ رد محتار۔

مسئله! په خوله اوپوزه کی دی کوته هم وهی سره د مسواک۔ رد محتار۔

وَمَسْحُ الْاُذُنَيْنِ

اوبل سنت داوداسه د دواړو غوږونو مسح دی۔

پوښتنه! چه مسح د غوږونو دی په یو واړه سره کوی۔ په دې وړل چه د تسلیم دوې کوتی دی د غوږونو په پشلی چه کړی او دوې یعنی کوتی دی د غوږونو پرشا وخوا تیری کړی۔

مسئله! د غوږونو مسح دی په هغو لندو لاسو کوی چه دسر مسح ئی په کړې وی۔ یعنی نوی اوبه دی نه اخلی ولی چه په ابن ماجه کی حدیث دی چه آنحضرت صلی الله علیه وسلم وائی چه اَلْاُذُنَانِ مِنَ الرَّأْسِ یعنی غوږونه د سر په جمع کی حساب دی۔ په رد محتار ص۱۱۳ ج۱ کی راغلی دی چه سنت په نزد د امام اعظم مسح د غوږونو په اوبو د سره د۔ حلیه۔ کنز۔ تاتارخانیه۔ هدایه۔ شرح الجمیع۔ عینی شرح هدایه۔ هدایه۔ بدائع۔ شرح الدرر۔ او مذهب د امام شافعی ؒ دادی چه د غوږونو دپاره نه نوی اوبه اخلی۔

مسئله! که چاتنکوته په دغو دوو کوتو پوره کړه نو بیا دی د غوږونو دپاره نوی اوبه اخلی رد محتار ص۱۱۳ ج۱

اوخط رنګه به نوی اوبه اخلی که ئی د کوتو لندوالی وچ سوی وو۔ رد محتار

وَتَخْلِيلُ اللِّحْيَةِ وَالْاَصَابِعِ

اوبل سنت داوداسه خلال دڼې ږیرې اود کوتو پښو او د لاسو دی۔

دبڼې خلا لوند دامسې دی چه دوهم غوی شادی دغاړې وخوا ته کړي او کوڼی دی په ویښتانو دبڼې برابر کړي۔ او نوی اوبه ی واخلی۔

مسئله: د خلا لولو دبڼې پس لږ دسې واړه پرې منځ څخه دمخ سنت دی۔ درمختار ص۱۱۰ ج۱

او خلا لولو دکوڼو سنت هوکه دی۔ درمختار۔ د خلا لولو دلاسو دکوتو کیفیت دادی چه دهر لاس دکوتو دوه خوا دی د بل لاس دکوتو د شا په خوا کې وړ دننه کړي۔ درمختار ص۱۱۰ ج۱ او پښو دکوتو خلا لولو دامسې دی چه دچپې پاڼې استه لاس کوچنی کوته دی د پښو کوتې په مابین کې وړ دننه کړي۔ دکښتی خوا څخه۔

مسئله: اکه دیوچا کوتې دبڼې جوتې وې چه اوبه دننه نه وې وړ غلی بیا پرې پوله دهغود مابین فرض دی یعنی د تخلیل سره اوبه پرې اچوی۔ رد محتار ص۱۱۱ ج۱

وَتَكْرَارُ الْغَسْلِ اِلَى الثَّلٰثِ

اوبل سنت داوداسه دړې واړه مکرر پرې یو لل دی۔ (یعنی مخ۔ لاسونه۔ پښې)

سوال: اکه یوچا بعضی اندام په اول واړه اوبعضی په دوهم واړه اوبعضی په دریم واړه پرې یولې۔ داپرې دړې واړه حسابیږی۔ اوسنت په اداکیږی اوکه نه۔

جواب: داد ړې واړه پرې واړه حسابیږی اوپه دې سره سنت نه پرځای کیږی بلکه په هر واړه کې به توله اندام منځی۔ رد محتار ص۱۱۱ ج۱

سوال: اکه چاتر دړې واړه بالا اندام پرې یولې حکم څه دی؟

جواب: په صحیح حدیث کې راغلی دی، فَمَنْ زَادَ عَلٰى هٰذَا اَوْ نَقَصَ فَقَدْ تَعَدّٰى وَظَلَمَ یعنی کمچاړیا توالې وکړی تر دړې واړه اویا ئی کمبوت وکړی تر دړې واړه نوهغه تیری وکړی تر حده مسنون اوظلم ئی وکړی۔ په صورت کې د نقصان۔ هدایه ص۳۲ ج۱

سوال: اکه چاتر دړې واړه بالا اندامونه پرې یولل لکن دنه واړه د آرام دپاره اود شک لیرې کیدو دپاره۔ حکم څه دی؟

جواب: پروا نه لری لکن که داسې وسواسی نه وو۔ اوکه وسواسی وو نو تر دړې دې بالا نه منځی او وسوسه دی قطع کړی۔ ولې چه داوسوسه د شیطان له خواده اوهوښه په مخالفت د شیطان عاموړیو۔ رد محتار ص۱۱۰ ج۱۔

وَيُسْتَحَبُّ لِلْمُتَوَضِّئِ اَنْ يَّنْوِيَ الطَّهَارَةَ

او مستحب دی اووضو کوونکی ته چې نیت د پاکی دی کوی۔ یعنی داوداسه په اول کې

پوهه سی! چه نیت د نورو کارونو دی په څیر نیت ویل کوم ضروری کار نه دی۔ مستحب هغه کار ته وائی چه پرې کولونکی ثواب وی اوکه ئی نه وکړی په وړځ د قیامت ملامتیا وړ نه شته۔ یعنی مستحب تر سنت په درجه کمزوری دی۔ او د امام شافعیؒ په نزد نیت فرض دی۔

سوال: اکه چاد خان دخونک کیدو دپاره اودس تازه کړی نه وطهارة په نیت حکم ئی څه دی۔

جواب: اداوداسه ثواب نه سنت اولوڼځ کولو په روا دی۔ هدایه۔ رد محتار۔ شرح وقایه وغیره

وَيَسْتَوْعِبُ جَمِيْعَ الرَّأْسِ بِالْمَسْحِ

اوبل مستحب دادی چه کښیبا سی بوله سر په مسح سره۔

یعنی پرې توله سر به مسح کوی۔ او امام شافعیؒ دړې واړه په ټوه او بو دسر مسح سنت کنې۔

پوهه سی! چه په کیفیت کې د مسحې د بوله سر اختلاف دی۔ مشهوره داده چه بتې کوتې اوړه پښې دوې کوتې او وړ غوی دی د سر څخه کوښه وینسی صرف دړې کوتې د دواړه لاسو دی د سر پر مقدم حصه کښیږی او ترشحه دې وړ غوی پر تیکوړ اکش کړی تر مقدم حصه پورې۔ او بیا دی په بتو کوتو اوږه وړ نو وکوتې غوږونه وښه مسح کړی۔ لکن زیلعیؒ شارح اکنز او مصنف د فتح القدیر وائی چه دی کیفیت لره اصل په سنت کې نشته۔ بلکه په بوله واړه دی د واړه لاسونه د سر پر مقدم حصه کښیږی او ترشحه دی کش کړی۔ او بیا دی غوږونه وښه مسح وکړی۔ او په دې کار د کوتې او به نه مستعملیږی ولې چه غوږونه د سر په جزء کې دی۔ رد محتار ص۱۱۳ ج۱ تفصیل هوړې وګوره۔

خبر تیا: د دغه زمانې منځې خصوصًا پیښین والا منځې د سر په مسح کې بیخی غفلت کوی سنت لاړ شوکوی بلکه فرض قدر چه څلورمه د سر ده هم نه پوځاوی کوی۔ افسوس دوی پرحال۔

وَيَتَرَتَّبُ الْوُضُوْءُ فَيَبْدَأُ بِمَا بَدَأَ اللّٰهُ تَعَالٰى بِذِكْرِهٖ وَبِالْمَيَامِنِ

او په ترتیب دی اووس کوی پس شروع دی کوی په هغه اندام چه خدای پاک شروع کړې ده په ذکر د هغه۔ او شروع دی کوی په راسته اندام۔ (په لاسو او پښو کې)

یعنی اول دی مخ مینځی بیا دی لاسونه مینځی او بیا دی د سر مسح وکړی او اخیر دی پښې پرې مینځی

پوهه سی! چه ترتیب په مذهب کې د امام شافعیؒ فرض دی۔ دلائل په هدایه ص۳۳ ج۱ کې وګوره یا د رد محتار په ص۱۱۳ ج۱ کې وګوره۔

بسمانه فائده

دادرې کارته یعنی نیت - دمسمم - ترتیب داوداسه - یوانۍ اویوانۍ په نزد دقدورۍ مستحب دی - نوم قول مشائخ او فقهاء لکه صاحب هدایه - ردمحتار - درمختار - بحرالرائق پردې عقیده دی چه دادرې کارته سنت دی - هدایه ص۳۲ جلد اول -

پاته سنت او مستحب دادی -

هغه سنت چه قدورۍ په سبب دکوتاه والی دکتاب نه دی راوړی دادی !

(۱) ولاړوالی - یعنی اودس پیوسته تاته کول دی - یعنی چه مخنیځ اندام لاندې وی وروسته بل اندام په پریولو یا مسح دی شروع وکړی - که عذر نه وی لکه چه اوبه خلاصی سی نوری اوبه پیدا کوی - یاهوا دیره گرمه وی چه اندام ژر وچ سی -

(۲) سنت دلك دی یعنی مینوـل داندامو -

(۳) اسراف نه کول دی - اوداسنتِ مؤکده دی - ردمحتار ص۱۱۲ یعنی دیری اوبه دی نه تویوی ولی چه آنحضرت داسراف څخه منع کړی دی -

سوال! په پنځه کتاب کی والی ده ورتوای توجه برلب جوئ نیست اسراف هرچه می شوئ

جواب! اگرچه اوبه خوښه ضائع کیږی لکن قول فقهاء والی چه داسراف هم خلاف سنت دی وی چه منافع کیږی ده عمر دی -

(۴) وَتَرْكُ لَطْمِ الْوَجْهِ - اوبل سنت دادی چه په شرب دی اوبه پرمخ نه وهی -

(۵) وَغَسْلُ فَرْجَيْهَا الْخَارِجِ - اوبل سنت دادی چه بنځه دی دباندنی فرج هم پری مینځی -

پاته مستحب دادی - پوهه سه چه هندوب - ادب او مستحب یودی - درمختار ص۱۱۵

(۱) مسح دسر قبل یعنی غاړه دکوتو په شا - اوهغه چه مَنِيَّة والا والی چه نوی اوبه غواړی هغه غلط دی - ولی چه دکوتو د شا اوبه نه دی مستعمل سوی - ردمحتار ص۱۳۲ لکن مسح دی پرغټو پلو دغاړې کوی - نه دغوټی پر برابری چه هغه بدعت دی - ردمحتار جلد اول ص۱۳۲

(۲) وَاسْتِقْبَالُ الْقِبْلَةِ - او خامخ وقبله ترکینستل په وخت کی داوداسه - یعنی بیله استنجاء -

(۳) تَقْدِيمُهُ عَلَى الْوَقْتِ - اوتر وخت دهغه دی اودس تاته کوی - لکن په شرط دده چه معذور نه وی - ردمحتار جلد اول ص۱۳۲

(۴) وَتَخْرِيكُ خَاتَمِهِ الْوَاسِعِ - اوښوروَل لکتمی چه فرلخه هم وی - یعنی چه فرلخوی او بدلاندی ورسیږی - بیادې هم داحتیاط دپاره ښوروی اوکه چیری تنکو وی چه اوبه

ولاندی نه رسیدې بیائ ښوروَل فرض دی چه اوبه وهی ورسیږی - ردمحتار ص۱۱۲

ضروری خبرتیا

ښځی علی العموم اوبعضی نر ښځی طبیعتاً داسی تنکی کوتمی په کوته کوی چه په غوښو کی ناستی وی - چه هیڅ امکان داوبو د سیدو تر کوتمی لاندی نه وی اودوی هم کوتمی نه ښوروی - نو دغسی ښځی اونر وښه اودس صحیح دی اونه غسل اونه لمونځ - افسوس -

سوال! نر وښه دکوتمی په کوته کول روادی اوکه نه؟

جواب! دسر وښه وکوتمی ونر وښه قطعاً حرامه ده - اودسپینو ږیرو کوتمی چه تر شمال هم کمه وی ونر وښه روا ده - لکن چه ضرورت وه ته وی - په صحیح حدیث کی راغلی دی چه آنحضرت صلی الله علیه وسلم وفرمایلی چه وروسبم اونر واستعمالول حرام دی تر مادامت ونر وښه اوروادی وښځوښه - افسوس چه نران ولی د ښځو په مثال سوچه وروسبمنی جامې استعمالوی اودسر وښه رواو سپینو ږیرو کوتمی په کوته کوی - خوانان لاښه کوی چه دسپین ږیرو په کوته هم دسر وښه رو کوتمی لیدل کیږی - اخیښه شرم په کار دی داسلام په خاطر -

مسئله! اکه د ښځی غوښه والی په غوښه وی باید دغسل په وخت کی ښه وښوروی چه غاړه تنکی اوبه ورسیږی - ردمحتار جلد اول ص۱۱۲

(۵) وَعَدَمُ الْاِسْتِعَانَةِ بِالْغَيْرِ - اونه به غواړی کومک په اوداسه کی د بل چا څخه - کداوبو په تویولو کی وی اوکه داندامو په مینځ ولو کی وی - مکروهه وخت بیا پرواندی که مریض یاضعیف وی

(۶) وَعَدَمُ التَّكَلُّمِ بِكَلَامِ النَّاسِ - اونه به کوی په اوداسه کی خبری دخلکو مکروهه وخت چه ضرورت وی اوفرصت دلاسه وځی -

(۷) وَحِفْظُ ثِيَابِهِ مِنْ تَقَاطُرِ الْمَاءِ - اوساتی به کالی خپل دخاڅکو څخه داوبو - یعنی حتی الامکان دی دمستعملو اوبو د خاڅکو څخه خان ساتی -

(۸) وَالتَّنْحِيَةِ عِنْدَ غَسْلِ كُلِّ عُضْوٍ - اوبسم الله دی والی په وخت دپریولو دهر اندام -

(۹) وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَى النَّبِيِّ بَعْدَهُ - اوهم دوه اوسلام دی والی پر نبی علیه السلام پس له اوداسه

(۱۰) اوورپسته تر اوداسه دی داسی دعا کوی - خدایه ما وګرځوی د توبه کوونکو څخه اوپاکو کوونکو څخه - ردمحتار ص۱۱۸-۱۱۹ - داوه پاته هندوبات -

اللهم اغفر لكاتبه ولمؤلفه ولوالديهما - آمين يا رب العلمين -

فَصْلٌ فِی نَوَاقِضِ الْوُضُوْءِ

دا فصل په بیان کی د هغو شیانو دی چه ما تو نکی د وضو دا سه دی۔

پوه سه! چه ما توالی اصلاً په اجسامو کی دی لکه کاسه چه ماته سی - نو بیا هغه فائده نه حُصی اختسل کیږی چه کاسه دهغی فائدې، دپاسه وه لکه دودی چه پکښی وی او ول وغیره - پس او دس چه یوه معنی نه ددې ما تیدو نه جانه دی په دې اعتبار سره هغه فائده چه د وضو ده هغه اختسل کیده لکه لمونځ کول یا مسح د قرآن شریف کول وغیره او س چه او دس ماته سوه نو حُصی اختسل کیږی۔

اَلْمَعَانِی النَّاقِضَةُ لِلْوُضُوْءِ کُلُّ مَا خَرَجَ مِنَ السَّبِیْلَیْنِ

هغه شیان چه ما تو نکی دی د وضو دا سه دادی۔ هر هغه شی چه سړی وینی دیوې څخه د دوو لارو کی د نوی کی د بنی

یعنی د مخ د خوا چه د ښی هغه ذکر بولی او د بنځی هغه فرج بولی - او قبل فی هم بولی - یا د شا د خوا چه د نرا و بنځی هغه دواړو ته دُبر وائی - په حدیث شریف کی سړی اغلی دی چه آنحضرت صلی الله علیه وسلم څخه چا پوښتنه وکړه چه ما تو نکی د وضو دا سه څه شی دی آنحضرت وویل چه "مَا یَخْرُجُ مِنَ السَّبِیْلَیْنِ"

پوه سه! چه سړی او تو نکی دوه ډوله دی یو ډول عام دی که عادتی شی وی لکه بولی او کندی یا غیر عادتی شی وی لکه د استحاضی وینی یا د بځ یا چینجی - او د ډبری په باره کی هم او دس ماتیږی - چه ګوند یا پسکی فی بولی

سوال! د فرج یا د ذکر په باره کی او دس ماتیږی که نه؟

جواب! بعضی کتابونو وائی چه په دې باره او دس نه ماتیږی - لکن مصیح دا ده چه دا په حقیقت کی باد نه دی بلکه اختلاج دی یعنی د ننه و پریښی د سړی خیال دا سی چه باد و وتی۔ هدایه ص۳۲ ج۱

وَالدَّمُ وَالْقَیْحُ اِذَا خَرَجَا مِنَ الْبَدَنِ فَتَجَاوَزَا

او وینه او نی یا نړی وی او دس ماتوی چه وهنی د بدن څخه (هر ځای د بدن چه وی) نو تیر سی د غه وینه یا نی

اِلٰی مَوْضِعٍ یَلْحَقُهُ حُکْمُ التَّطْهِیْرِ

هغه ځای ته چه هغه ځای ته د سین ی حکم د پاکوالی۔ یعنی پاکول د هغه ځای

فرض وی په او دا سه کی یا په غسل کی۔

مسئله! که دیو ځای پوست وا وړی او وینه بنکاره سی لکن تر هغه ځای تیره نه سی او دس نه په ماتیږی۔ نهایه

مسئله! که وینه د پنډی و نه مک ته راغله یا د غاښو وینه وخولې ته راغله او دس فی

مات سو ولی چه د پنډی او د خولې پریږدل په غسل کی فرض دی۔

مسئله! که بولی و نلکی ته د ذکر راغلې او نه سره وتی او دس نه په ماتیږی ولی چه د دغی نلکی پریږدل په هیڅ وخت کی فرض نه دی۔ حواشی هدایه ص۳۳

او امام شافعیؒ وائی چه هر شی د غیر سَبِیلَیْنِ څخه و وځی او دس نه په ماتیږی۔ د دغه دلائل او ځوابونه په هدایه کی۔ ردالمحتار کی۔ شرح وقایه کی وګوره۔

وَالْقَیْءُ اِذَا کَانَ مِلْءَ الْفَمِ

او قی او دس ماتوی که چیرې و و یه د کر خوله سره۔

امام شافعیؒ وائی چه قی که څه هم په د کر خوله وی او دس نه په ماتیږی۔ ولی چه په حدیث شریف کی راغلی دی چه عَلَیْهِ السَّلَامُ قی و واهه او دس فی نه کړی تاسره۔ ځوابونه جواب دا وه کوو۔ چه امکان لری چه د علیه السلام د غه قی به په د کر خوله نه وو۔ او بل دا چه د لما څخه وخت به نه وو نو قی سره متصل خو او دس نه دی لازم۔ بلکه د لما څخه په وخت کی۔ ځوابونه دلیل دا دی چه د ابن ماجه په روایت په حدیث کی راغلی دی "مَنْ قَاءَ اَوْ رَعُفَ فِی صَلَاتِهٖ فَلْیَنْصَرِفْ" که چا و واهه قی یا فی پن ه وینی سوه په لما څخه کی پس د لما څخه څخه دی ولاړ سی۔ یعنی په او دا سه پسی۔ دې حدیث شریف څخه معلومه سوه چه په قی سره او دس مات سو۔ او امام زفرؒ وائی چه په لږ او په ډیر قی د واړو او دس ماتیږی۔ دلائل فی په هدایه ص۳۴ ج۱ کی وګوره۔

پوښتنه! د کر خوله قی کوم بولی؟

جواب! خوک وائی هغه دی چه خیری نه سی وړاندی کولای خوک وائی هغه دی چه بې تکلیفه نه سی تیریدای

سوال! که چا خو واړه قی و واهه چه هر واړه فی قی د کر خوله کم و و لکن مجموع فی د کر خوله کیده او دس په ماتیږی او که نه؟

جواب! په نزد د امام ابی یوسفؒ که د تولو واړه و د قی مجلس یو و و نو او دس په ماتیږی او که جلا جلا ځایونه و و او دس نه ماتیږی۔ او امام محمدؒ وائی که چیرې د نړه اشنا و یو و و نو او دس به ماتیږی او که د نړه اشنا و جلا و و او دس نه په ماتیږی

پوه سه! چه سبب دماتید و داوداسه په الحاء سره دا دی چه بند و نه سُست سی او په ځان نه پوهیږی چه باد راځی واقی اوکه د: اودجنون دماتید و سبب دادی چه قوه تینګیږی دباد یعنی ګوزه اوپسکی نه لری اونه په پوهیږی - هدایه جلد اول ص۳۵ -

وَالْقَهْقَهَةُ فِيْ كُلِّ صَلٰوةٍ ذَاتِ رُكُوْعٍ وَّسُجُوْدٍ

اوپه نرو ره خندل په هر هغه لمانځه کی چه رکوع او سجده پکښی وی اودس ماتوی -

او امام شافعیؒ وائی چه اودس نه په ماتیږی - نه قبوږی لیل هغه صحیح حدیث دی چه علیه السّلام پرلمانځه د جماعت ولاړ و او صحابهؓ وړ پسی ولاړ و ځه چه یو صحابیؓ په هغه کی په ډب ولویدی - بعضی لمونځ کوونکو په نرو ره خندل - علیه السّلام چې سلام وکړ ځاوه وې فرمایله چه هرچاچه په نرو ره خندلی وی هغه دی اودس اولمونځ دوباره راوګرځوی

پوه سه! چه خندا دری قسمه ده! قهقهه - چه نژدې خلک ئې واوری که چیری هلته څوک موجود وی - په دې خندا هم لمونځ فاسدیږی او هم اودس په ماتیږی - ضحک - چه فقط لمونځ کوونکی ئې واوری نه بل څوک - په دغه خندا لمونځ فاسدیږی مګر اودس نه په ماتیږی - هدایه جلد اول ص۳۶ - تبسّم - هغه دا چه صرف شونډان ئې سپین سی - په دې نه اودس ماتیږی اونه لمونځ فاسدیږی - سرد مختار -

پوه سه! چه په قهقهه خندا سره دجنازې په لمانځه کی یا په سجده د تلاوت کی یا خارج د لمانځه څخه اودس نه ماتیږی - هدایه ص۳۵ وهکذا فی رد المحتار -

فائده! که نابالغ کوچنی په لمانځه کی په نرو ره وخندل لمونځ ئې فاسد سو اودس ئې نه دی مات - اوکه سړی په لمانځه کی بیده وه او وې خندل لمونځ ئې فاسد سو اودس ئې نه دی مات - په حواله د کوکب دری پر حاشیه د قدوری طبع مجیدی ص۵

پس که مجلس یووی اودنرو ره اشیدل هم یووی اودس په اتفاق مات دی - اوکه مجلس یو وو مګر دنرو ره اشنا ؤ جلاوو دابویوسفؒ په نژد اودس مات سو اوامام محمدؒ وائی اودس نه دی مات - اوکه دنرو ره اشنا ؤ یو وو لکن مجلس د قیا نو جلاوو دامام محمدؒ په نژد اودس مات دی دامام ابویوسفؒ په نژد نه دی مات - وفقه شرنبلالی په نژدې مذهب دامام محمدؒ دی - واللّٰه اعلم بالصواب -

سوال! دکوم شی ق وهل اودس ماتوی؟

جواب! چه دوډی وی یا اوبه وی یا سودا وی یا شراب وی - اوکه چیرې بلغم ق کړی دامام اعظمؒ او امام محمدؒ په نژد اودس نه په ماتیږی - اودابویوسفؒ په نژد اودس په ماتیږی که په دکه خوله وی -

فائده! دا اختلاف په هغو بلغمو کی دی چه دنسه څه راوتړی اوکه دا بلغم دسر خوږه اودس په اتفاق نه په ماتیږی - هدایه جلد اول ص۳۵ ولی چه سر دنجاست ځای نه دی

وَالنَّوْمُ مُضْطَجِعًا اَوْ مُتَّكِئًا اَوْ مُسْتَنِدًا اِلٰى شَيْءٍ لَوْ اُزِيْلَ عَنْهُ لَسَقَطَ

اوخوب اودس ماتوی چه پراخ وی - یاڼی تکیه پریږدی وی او یاڼی شا تکیه کړې وی یا

دلیل ئې دادی چه پس دغو دولو خوب کول بند و نه سُستوی - نو غالباً کوم یا پسکی خفی وړی - او غالب لکه یقین دی - هدایه جلد اول ص۳۵

مسئله! اکه څوک په ولاړی کی بیده سو - یا په رکوع کی یا په سجده کی یا په ناسته کی اودس ئې نه ماتیږی - که په لمانځه کی وی اوبابی لمانځه - هدایه ص۳۵

مسئله! په بعضو کتابونو کی واقی که چیرې دیوسړي په ناستی خوب عادت و و اودس ئې ماتیږی

وَالْغَلَبَةُ عَلَى الْعَقْلِ بِالْاِغْمَاءِ وَالْجُنُوْنِ

اوچه غلبه راسی په عقل ئې اودس ئې ماتیږی په سبب د بیهوښ او لیونتوب -

مسئله! په خلاصة الفتاوی کی واقی چه سکر یعنی مستی تردی حده پورې چه نرو ښه نه پیژنی هر اودس ماتوی -

پوه سه چه تبسم هیڅ پروا نه لری ولی چه په ترمذی شریف کی په روایت د عبداللّٰه بن الحارث بن جزء راضی رضی اللّٰه عنه ما رأیت احداً اکثر تبسّماً من رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم رواه ترمذی لیدلی عیشوکه دې تبسم کوونکی ترې رسول اللّٰه صلعم - او ضحک هم گناه نه ده - اوخنده قهقهه سخته گناه ده -

پوه سه! چه سبب دماتید و داوداسه په الحاء سره دا دی چه بند و نه سُست سی او په ځان نه پوهیږی چه باد راځی واقی اوکه د: اودجنون دماتید و سبب دادی چه قوه تینګیږی دباد یعنی ګوزه اوپسکی نه لری اونه په پوهیږی - هدایه جلد اول ص۳۵ -

وَالْقَهْقَهَةُ فِيْ كُلِّ صَلٰوةٍ ذَاتِ رُكُوْعٍ وَّسُجُوْدٍ

اوپه نرو ره خندل په هر هغه لمانځه کی چه رکوع او سجده پکښی وی اودس ماتوی -

او امام شافعیؒ وائی چه اودس نه په ماتیږی - نه قبوږی لیل هغه صحیح حدیث دی چه علیه السّلام پرلمانځه د جماعت ولاړ و او صحابهؓ وړ پسی ولاړ و ځه چه یو صحابیؓ په هغه کی په ډب ولویدی - بعضی لمونځ کوونکو په نرو ره خندل - علیه السّلام چې سلام وکړ ځاوه وې فرمایله چه هرچاچه په نرو ره خندلی وی هغه دی اودس اولمونځ دوباره راوګرځوی

پوه سه! چه خندا دری قسمه ده! قهقهه - چه نژدې خلک ئې واوری که چیری هلته څوک موجود وی - په دې خندا هم لمونځ فاسدیږی او هم اودس په ماتیږی - ضحک - چه فقط لمونځ کوونکی ئې واوری نه بل څوک - په دغه خندا لمونځ فاسدیږی مګر اودس نه په ماتیږی - هدایه جلد اول ص۳۶ - تبسّم - هغه دا چه صرف شونډان ئې سپین سی - په دې نه اودس ماتیږی اونه لمونځ فاسدیږی - سرد مختار -

پوه سه! چه په قهقهه خندا سره دجنازې په لمانځه کی یا په سجده د تلاوت کی یا خارج د لمانځه څخه اودس نه ماتیږی - هدایه ص۳۵ وهکذا فی رد المحتار -

فائده! که نابالغ کوچنی په لمانځه کی په نرو ره وخندل لمونځ ئې فاسد سو اودس ئې نه دی مات - اوکه سړی په لمانځه کی بیده وه او وې خندل لمونځ ئې فاسد سو اودس ئې نه دی مات - په حواله د کوکب دری پر حاشیه د قدوری طبع مجیدی ص۵

فَصْلٌ فِي الْغُسْلِ

فصل دی په بیان کی د غسل

وَفَرْضُ الْغُسْلِ اَلْمَضْمَضَةُ وَالْاِسْتِنْشَاقُ

اوفرض د غسل په خولہ او به لغړول دی اوپه پزه اوبه لغړول دی۔

اوپه مذهب د امام شافعیؒ نکړه په اوداسه کی په غسل کی هم دواړه سنت دی۔

نهوبنه دلیل دادی چه بیهقیؒ اودارقطنی روایت کړی دی چه آنحضرت صلی الله علیه وسلم وویل چه مضمضة او استنشاق جنب لره فرض دی۔ حاشیه هدایه ص۳۱ اوبل دلیل دادی چه خدای پاک فرمائی وَاِنْ كُنْتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوْا اوکه چیرته تاسی جنب واست بنه ځان پاکوئ۔ بنه ځان پاکول هغه دی چه هغه ځای ته چه بیله خوله اوبه ورسیږی هغه ځای به مینځئ۔ هدایه ص۳۷

وَغَسْلُ سَائِرِ الْبَدَنِ

اوبل فرض د غسل پریمنځل دی د باقی تولہ صورت۔

پوښتنه اداد فرضی غسل بیان دی چه هغه درې دی۔ د جنابت غسل۔ د حیض غسل۔ د نفاس غسل۔ تنبیه ۱ په غسل کی ویراحتیاط په کار دئ۔ حتی هر هغه ځای چه په تکلیفه اوبه ورسیږی پریمنځل فرض۔ لکه شپیلی د غوږ و۔ د نوُ غاړه د وړ خواو بریتو پوست۔ ما بین د ښیری۔ د بنځی خارج فرج۔ مګر کوتہ دی نه په چیخی کښه هم تکلیف نه دئ۔ لکن هغه حکم د باطن لری او دغه رنګه د ستر کو د تنه پریمنځل نه دی فرض۔ ردالمحتار ص۱۴۱ ج۱

مسئله! که د بنځی سر اودئ نه وی د تولہ ویښتانو پریمنځل فرض دی او که کوڅی اوڼی نو لنډ وی د بیخود کوڅیو کافی دی د کوڅیو غوړول نه غواړی ولی چه په دې کی حرج او تکلیف دی۔ دامذهب ظاهر متون دی۔ ردالمحتار ص۱۴۲۔

مسئله! که د بنځی د ویښتانو ویښته اوبه نه رسیدلی بیائی غوړول د سر فرض دئ۔ ردالمحتار ص۱۴۱ نو په اساس د دغی مسئلی کومی بنځی چه د سر ویښتان ډیر تولہ په کنډوسره وهلی وی او د غسل په وخت کی صرف اوبه پرتویوی بیلی دی چه اوبه د ویښتانو ویښته ورسیږی غسل

ډیر صحیح۔

مسئله! که د بنځی غوږ والی په غوږ باندی وه هغه به بښلی وی چه اوبه ورسی۔ ردالمحتار ص۱۴۳

وَسُنَّةُ الْغُسْلِ اَنْ يَّبْدَءَ الْمُغْتَسِلُ بِغَسْلِ يَدَيْهِ وَفَرْجِهِ

اوسنت په غسل کی دادی چه شروع به کوی غسل کوونکی په پریولو د دواړه لاسونو تر بندونو پورې او استنجا به وکړی یعنی که څه هم نجاست په فرج پورې نه وی۔

وَيَزِيْلُ النَّجَاسَةَ اِنْ كَانَتْ عَلٰى بَدَنِهِ

اوښه ائلوی به یعنی مینځئ به مرد اسی که چیرې ئ پر بدن نجاست وو۔

یعنی د دې د پاره دې مینځئ چه پسی د پرې نه سی د اوبو اچولو څخه پر بدن باندی۔

مسئله! په جنابت کی ښه ائلی دی چه هر څه چه سنت د اوداسه دی په غسل کی هم هغه سنت دی بیله استقباله قبلې ولی چه غالباً په حال کی د غسل د سړی عورت لړ وی۔ حاشیه کنز ص۔ د ښه ویښتی وائی د دی څخه د معلومه سوه چه جنب به بسم الله آه هم وائی۔ لکن په نیت د وائی

ثُمَّ يَتَوَضَّأُ وُضُوْءَهُ لِلصَّلٰوةِ اِلَّا رِجْلَيْهِ

او بیا دی اودس تازه کړی لکه اودس د لمانځه۔ مګر پښې دی نه مینځئ۔

د دې عبارت څخه دا معلومیږی چه مسح د سر دی هم وکړی۔ او دا هم ظاهر روایت دی۔ کوکب دری ص۔

مسئله! که غسل والا په داسی ځای کی غسل کاوه چه د غسل اوبه د ده تر پښو لاندی جمع کیدې۔ او یائی پښې په خټو کیدې۔ مطلب دا چه بل وائی د پښو پریولو ته ضرورت وو نو دی پښې په اوداسه کی نه مینځئ ولی فائده نه لری۔ او که پر ډبره یا سمیټ ځای ئ غسل کاوه نو دی پښې په اوداسه کی پرې مینځئ او بیا په اخیر کی د پښو پریولو ته حاجت نشته۔ کوکب دری ص۔

ثُمَّ يُفِيْضُ الْمَاءَ عَلٰى رَأْسِهِ وَعَلٰى سَائِرِ بَدَنِهِ ثَلَاثًا

بیا دی توئ کړی او به پر سر خپل او پر باقی بدن خپل درې واړه۔

پوښتنه! چه په کیفیت کی د اوبو اچولو پر بدن اختلاف دی۔ ملا مسکینؒ او نور ملایانؒ وائی چه اول دی پر ښی اړخ باندی او به درې واړه واچوی۔ او بیا دې پر چپه اوږه

دے پی واړه۔ اوبیا پر سر اوپر نور بدن دے پی واړه۔ اوڈ قدورې دعبارت څخه دامعلوم
چه اول دې پر سر اوبه اچوی۔ اوصحیح همدغه ده اوظاهر روایة دامام اعظمؒ څخه
همدغه دی۔ درمختار ص ۱۴۷ ج ۱۔

پلوکه سه! چه هو بنډل د بدن فرض نه دی لکن مستحب دی۔ درمختار ص ۱۴۷ ج ۱

ثُمَّ يَتَنَحَّى عَنْ ذَالِكَ الْمَكَانِ فَيَغْسِلُ رِجْلَيْهِ

اووروسته دې کوښه سې دهغه ځای څخه دغسل اوبیادې پرې مینځې پښې خپلې۔ اوداهلته کې
چیرې پښې په اوداسه کې نه وې پریولې۔

وَلَيْسَ عَلَى الْمَرْئَةِ اَنْ تَنْقُضَ ضَفَائِرَ هَا فِي

اوښته پر بنځه باندې چه غوړوې به کوشې خپلې په غسل کې۔

الْغُسْلِ اِذَا بَلَغَ الْمَاءُ اُصُوْلَ الشَّعْرِ

کې چیرې سره سیدې اوبه بیخونه دوینتانو دې

په دلیل دهغه حدیث چه آنحضرت صلعم وام سلمة رضه ته وویل کافی دی تالره پ
غسل کې چه اوبه ورسیږی وبیخونه دوینتانو ستا۔

مسئله! شته پر بنځه باندې دغسل په وخت کې چه لندوی به خړیدلی کوشې۔
داهر صحیح مذهب دی ولی چه په دې کار کې تکلیف دی۔ هدایه ص ۳۷ ج ۱

ترویشې والی چه دې مسئلې پورې بیان په حواله د درمختار دمخه تیر سو۔

وَالْمُعَانِي الْمُوْجِبَةُ لِلْغُسْلِ اِنْزَالُ الْمَنِيِّ عَلَى وَجْهِ

اوهغه اسباب چه واجبوونکی دی دغسل هغه دادی۔ یو اوتل دی دمنی پر طریقه

الدَّفْقِ وَالشَّهْوَةِ مِنَ الرَّجُلِ وَالْمَرْئَةِ

دغوړ خیدلو دآلې اودخوند کولو دنر څخه وی او کله د بنځې څخه وی۔

مسئله! که منی نه راووتی غسل نشته۔ کوکب دری۔ درمختار ص ۱۴۵ ج ۱

مسئله! که چیرې دمنی باندې پوهه کړی اومنی یې راووته غسل پرته ولی چه شهوت نشته۔

فائده! صاحب درمختار دامنلی دی چه د بنځې پرانزال دفق نشته نو دا ډیر
حکمه مصنف نه کړی ذکر ص ۱۴۵ لکن صحیح دادی چه د دفق معنی بهیدل دی د منی
چابک۔ کما فی الکوکب الدری ص ۵۔ نو په دې معنی دفق په بنځه کې هم شته۔ لکن
چونکه د بنځې فرج فراخ دی په ظاهره ئې تاثیر نه معلومیږی۔

فائده! وتل دمنی غسل واجبوی پر نر اوپر بنځه کې په ویښه وی اوکه په خوب کې۔ هدایه ص ۳۷ ج ۱

سوال! بنځه هم په خوب کې شیطان خطا باسی لکه نر اوکه نه؟

جواب! هو! شیطان ئې خطا باسی لکن دوی د شرم نه وائی اوپه بهانه د سر پریولو غسل کوی
دلیل ئې دادی! چه په بخاری شریف کې راغلی دی۔ چه اُم سلیم رضه وائی ما سوال وکړی
د آنحضرت صلی الله علیه وسلم څخه۔ عَنِ الْمَرْئَةِ تَرٰى فِي مَنَامِهَا مِثْلَ مَا يَرَى الرَّجُلُ
فَقَالَ اَتَجِدُ لِذَالِكَ لِذَّةً قَالَتْ نَعَمْ قَالَ فَلْتَغْتَسِلْ۔ په باره کې دهغې بنځې چه
داوویني په خوب کې په مثل دهغه چه نرئ وویني (یعنی جماع) پس آنحضرت صلعم وویل
چه دې بنځې ترخوند وړکوی۔ دې وړته وویل چه هو! آنحضرتؐ وفرمائل چه نو دې غسل وکړی

مسئله! که بنځه دخوبه راویښه سوه اوپر توک ئې لوند وو لکن هیڅ شی ئې په یاد نه وو
غسل پر واجب دی لکه پر نرو کې هم داغه حکم دی۔ درمختار۔

وَالْتِقَاءُ الْخِتَانَيْنِ مِنْ غَيْرِ اِنْزَالٍ

اوهغه رنګه غسل واجبوی یو ځای کیدل دوو سنتی ځایو۔ یعنی د نر اوښځې سنتی ځای بیله انزاله۔

یعنی بیله اوډس اوښتو۔ دلیل ئې دا حدیث دی۔ "اِذَا الْتَقَى الْخِتَانَانِ وَغَابَ
الْحَشَفَةُ وَجَبَ الْغُسْلُ اَنْزَلَ اَوْ لَمْ يُنْزِلْ" ترجمه! چه سړه یو ځای سی دوه
د سنتی ځایونه د نر او د بنځې۔ اوپټ سی د ذکر سر غسل واجبیږی که انزال سی اوکه نه

سوال! مصنف ولی وویل "مِنْ غَيْرِ اِنْزَالٍ"

جواب! په انزال سره خو په اتفاق غسل واجبیږی۔

سوال! د نر د سنتی د ولی خو رامعلوم دی چه هغه نرياتی پوستکی څنی پرې
کړی او د ذکر سر ئې سنکاره سی۔ د بنځې سنتی څنګه ده؟

جواب! په حدیثونو کې راغلی دی چه عرب بنځې هم په کوچنیوالی کله نر سنتوی۔
هغه داسی چه د بنځې د فرج پر مابین د لوړې خواڅه نرياتی غوښه ستره کله د چرک
چار خول هغه نرياتی غوښه څنی پرې کوی۔ نو ئې وطی او جماع ډیره مزه کوی۔ عینی جلد اول۔

مسئله! که چاخیل ذکر سړی دبل چا په دُبرۍ کی داخل کړی او انزال نه سی غسل پری واجب دی۔ اودغه رنګه د دُبرۍ پری والا هم غسل سته احتیاطاً۔ هدایه ص۳۲

مسئله! که چا د خرې یا غواسړۍ کار وکړی یعنی حشفه ئی پکښی داخله کړه نو غسل سته چه انزال نه سی۔

مسئله! که چا په ورنو کی د بنځی خپل ذکر داخل کړی یائی سړی یا ټوله ترهغه غسل سته باندی چه انزال نه سی۔ هدایه ص۳۵

پوښتنه! ته بیخی صریح الفاظ استعمالوې ایا دا به د شرم ځنه خلاف نه وی؟

جواب! ددین په خبرو کی شرم نسته دغسی صریح الفاظ په کتابو کی د فقهی شریفو بلکه په احادیثو کی هم استعمال سوی دی۔ مګر دافرق دی چه هغه عربی دی۔ اوها پښتو ژبه بیان کړی دی۔ (تعجب وړ خبره داده! چه فقهاء رحمهم الله د دغو الفاظو ځنه شرمیدل اوهوډه به شرم کوو۔ مثلاً ذکر۔عربی۔ غنې پښتو۔ قُبل۔عربی۔ کُس۔ پښتو دُبر۔عربی۔ کونه۔ پښتو۔ خصیتین۔عربی۔ خوتې۔پښتو۔ حشفه۔عربی۔ دغنې سر فوځ۔عربی۔ غنې او کُس دواړه۔ پښتو۔

اودې قسمه نورو الفاظ هم سته۔ نو دغه په فقه شریفه کی چه کتابونه ئی عربی دی نه استعمالیږی؟ یقیناً استعمالیږی۔ نو موږ چه د عربی کتاب ترجمه ئی په پښتو کوو د دغسی الفاظو په ترجمه کی څوک وایی؟ ایا بیا ته هغه عربی الفاظ استعمال کړو۔ نو ترجمه څه فائده وکړه۔ اوکه په بلاکی سی ته تعبیر وکړو۔ البته غټ طالبان چه د دغو الفاظو په ترجمه خبر دی د ترجمې ضرورت نسته۔ لکن کوچنیان او کوچنۍ نجیلی ته بایه په ترجمه کی صریح الفاظ ایراد سی۔ چنانچه اردو، شرقی والا یا فارسی والا هم د دغو الفاظو نه ډډه کوی۔ نو په دغه خاطر موږ هم په ځینی ځایونو کی دغه پښتو الفاظ استعمال کړی دی۔

اِذَا تَوَارَتِ الْحَشَفَةُ وَالْحَيْضُ وَالنِّفَاسُ

هغه وخت غسل واجبیږی چه حشفه د بنځی په فرج کی پټه سی۔ او حیض او نفاس غسل واجبوی

پوښتنه! چه کمه مدته د حیض د امام اعظم رحمه الله په مذهب کی د سړي د پاره حیض ګڼل کیږی؟ او لږه مدته ئی نفاس د بنځی د پاره ګڼل کیږی؟

مسئله! که د بنځی د حیض او نفاس ترلسو ورځو کم قطع سوې میاشتنی کار سر یعنی جماع نه سی د سړي کولای څوچه غسل ئی نه وی کړی۔ یا دیوه لمانځه وخت نه وی

پاتې سوی۔ اوکه پرلسو ورځو د بنځی د هغه ترغسل ئی هم وطی روا وی۔ درمختار۔ هدایه۔

مسئله! میاشتنی ته دخپلی مایني څخه په وخت کی د حیض هره نفعه احتمال روا وی۔ لکن تر پرتکا بنی لاندی دی کار نه په لږی د احتیاط د پاره۔ چه جماع ځنی و نه سی۔

مسئله! که چیرې د بنځی د ینی ترلسو ورځو تیرې سوې پیاهغه د ینی استحاضی بولی۔ غسل دی وکړی او لمونځ دی کوی او میاشتنی ورته ګڼلای سی۔ لکن معذوره ده هر لمانځه ته به اودس تازه کوی او اکثر مدته د نفاس څلویښت ورځی ده اقل ئی هغه ده چه وینه ئی قطع سوې وی۔ نور تفصیل به وروسته راسی۔

وَسُنَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْغُسْلَ

اوسنت کړلی دی رسول الله صلی الله علیه وسلم غسل د جمعې د پاره او د کوچنی اولوی

لِلْجُمُعَةِ وَالْعِيْدَيْنِ وَعَرَفَةَ وَالْاِحْرَامِ

اختر د پاره۔ او د عرفات ورځی د پاره چه پرعرفات وی۔ او د حج او د عمرې د پاره۔

داخلوه قسمه غسلونه د قدورې پس مذهب سنت دی۔ او بعضی علماء وائی چه دا څلوره سره مستحب دی۔ هدایه ص۳۵۔ په ردمحتار کی وائی چه داغسلونه د سُنن نه واندې ځکه دی نوهغه نرمه پرپښولو کی نسته۔

مسئله! غسل د جمعې د ورځی او د دوو اختر و د پاره د لمانځه دی۔ دا هم ظاهر روایت دی۔ او داقول د امام ابو یوسف رح دی او دا هم صحیح ده۔ ردمحتار ص۱۵۲ ج۱

او حسن بن زیاد رح د پاره د ورځی یولی۔ نو که څوک د جمعې یا د اختر په ورځ سحار غسل وکړی او لمانځه تښه او دس مات سی بیا او دس تازه کړی سنت ئی نه سوه پری خائی۔

مسئله! د اغسلونه پرهغه چا سته چه د جمعې یا د اختر و لمونځ پیل کیږی نو پس بنځه پرنابالغ او پس قریه یعنی کلی والا باندی نسته۔ اوکه د ورځی د پاره راوای نو پرښار او کلی والا به هم وای۔

حکمت! ما سوا د احرام د غسل د دغو نورو غسلو فلسفه داده چه د اورځی د جمع کیدو د مسلمانو دی په جامع مسجد کی یا په عیدګاه کی یا پس عرفات باندی نو غسل د دې د پاره آدی ئی کوی او سنت دی چه یو وبلته د خولې او بدن په بدبوئ سره آزار ورنه کړی۔

فائده! د شریعت مبارک د خولې د بوئ آزار یو وبلته نه خوښوی۔ نو د بنکلتوب یا د هلو یا مال خوښولو وغیره آزار به څه وی۔

وَلَيْسَ فِي الْمَذْيِ وَالْوَدْيِ غُسْلٌ وَفِيهِمَا الْوُضُوءُ

او نسته دمذی په وتو سره یا ودی په وتو سره غسل - او ددغو دواړو په وتو سره اودس لازمیږی

پوهاسئ! چه منی د نرخته سپینی اوبه دی اوسریښ ناکه دی چه دهغه په وتو سره ذکر مرکیږی او دښځی منی ژړ اوبه دی نرمی - اومذی هغه نرمی سپینی اوبه دی چه په وخت کی د سات تیری د نرا وښځی د ذکر څخه د نر کرار کرار وځی او ذکر نه مرکیږی - او شهوت وسره وی - او ودی خټه اوبه دی چه تر بولو وړاندی وځی بیله کوم شهوته -

فائده! د ودی وتل کمزوری وهغه تر جریان وائی - او سبب د کم والی د جوهر د دماغ کرځی او ضعف د بدن د سرنګ ژړ والی وسره پیدا کیږی - طبی علاج ئی کول په کار دی -

فَصْلٌ - وَالطَّهَارَةُ مِنَ الْأَحْدَاثِ جَائِزَةٌ

او پاکی (کراودس وی که غسل وی که د کالو پریولو وی) دبی اودسیانو څخه روا دی

بِمَاءِ السَّمَاءِ وَالْأَوْدِيَةِ وَالْعُيُونِ وَالْآبَارِ وَالْبِحَارِ

په اوبو د اسمان یعنی د باران په اوبو - د شیلو پرا وبو او د چینې په اوبو او د څاه نو په اوبو او د دریاب، یا بو په اوبو - که جاری وی چه هغه ته په پښتو روند وائی او که ولاړ وی چه هغه ته په پښتو د ریاب وائی

سوال! په اوبو دولهم اودس روا دی هغه ئی ولی نه کړی ذکر؟

جواب! والړ په روند کی داخله ده په عرف شریعت کی که څه هم فرق نه لری - په پښتو کی فرق سره لری -

وَلَا تَجُوزُ الطَّهَارَةُ بِمَاءٍ اعْتُصِرَ مِنَ الشَّجَرِ وَالثَّمَرِ

اونه روا پاکی په هغه اوبو سره چه په نبتیځلو سره اونرمی د وښو یا د میوو څخه لکه د انګورو څخه -

فائده! د قدوری د عبارت څخه داسی فهمیږی - که اوبه پخپله د وښو څخه وځیدلی لکه تاک چه تاک بیږی کړی نو اودس په روا دی - اوصاحب د مجتبیٰ اونورو علماؤ لکه صاحب د هدایه هم د وهغه ته تلی دی - لکن بحر د رائق والا وائی چه په هغو اوبو اودس نه دی روا - کوکب دری ص۷

وَلَا بِمَاءٍ غَلَبَ عَلَيْهِ غَيْرُهُ فَأَخْرَجَهُ عَنْ طَبْعِ الْمَاءِ

او نه په هغو اوبو اودس روا دی چه پر غالبه سی یعنی د بلی سی پر هغه اوبو بل شی - لکه خاورې -

یا رنګ - پس وباسی دغه اوبه د خپل طبیعت څخه - طبیعت داو بو سیلان یعنی بهیدل دی -

مسئله! که چیرې بیله دغو اوبو کوم چه قدورې ئی وائی چه طهارت نه دی په روا - نورې اوبه نه وی نو سره یو ځای تیمم وهی - کذا فی الهدایه ج۱ ص۳۹

كَالْأَشْرِبَةِ وَالْخَلِّ

لکه شربتونه - او لکه سرکه - چه د انګورو څخه او د خرما څخه جوړیږی -

پوهاسئ! چه بعضی شربتونه د سر ختو څخه جوړیږی - او بعضی د سختی دمیوو څخه جوړیږی - او بعضی د سر ختو پانو څخه تیاریږی - په دې طهارت نه دی روا - رد محتار ص۱۲۶

وَالْمَرَقِ وَمَاءِ الْبَاقِلَّى

او لکه بنورو او د هر قسم غوښو بنورو اچه وی اودس نه دی په روا او د باغلی اوبه - یعنی چه باغلی پکښې ایشیدلی وی او تغیر ئی پیدا کړی وی او اجزاء د باغلیو پکښې ګډ سوی وی - او که ئی باغلی په اوبو کی خشته کړی وی نو که څه هم داوبو رنګ تر تغیر وسکړی وی طهارت په روا دی - هدایه ص۱۶

وَمَاءِ الْوَرْدِ وَمَاءِ الزَّرْدَجِ

او په اوبو د ګلابو (چه د ګلابو بلکو څخه ئی وباسی) او په اوبو د نرونو کی (چه د نرونو کوپاڼیو څخه ئی وباسی او دښندی) روا

مسئله! په شیدو هم اودس نه دی روا -

وَتَجُوزُ الطَّهَارَةُ بِكُلِّ مَاءٍ خَالَطَهُ شَيْءٌ طَاهِرٌ فَغَيَّرَ أَحَدَ أَوْصَافِهِ

او روا دی اودس په هر هغه اوبو سره چه یو پاک شی پرې ګډ سوی وی په هغو اوبو چه پاک شی پس تغیر ئی کړی وی یو د صفت نه د اوبو

پوهاسئ! چه اوصاف د اوبو درې دی - خوند - رنګ - بوی - د عبارت څخه د قدوری داسی معلومیږی - که چیرې هغه طاهر شی دوه اوصافه یا درې اوصافه د اوبو وبدل کړی نو طهارت نه دی په روا - لکن صحیح دا ده چه تر هغو پورې چه سیلان او بهیدل د اوبو پاتې وی اودس په روا دی - ولی چه تر درې ختو لاندی چه غټ حوض وی د مخی په دوه سو درهم کی د هغو درې ختو بلکوته په حوض کی دیر تویږی - حتی چه بوی رنګ او خوند ئی درې سره بدل سی - مګر علماء کرام د هغه حوض په اوبو سره اودس تازه کوی - او هیڅوک انکار نه کوی - کذا فی النهایه و العنایه علی حاشیة الهدایه ص۲۰

كَمَاءِ الْمَدِّ وَالْمَاءِ الَّذِي يَخْتَلِطُ بِهِ

لکه اوبه د سیل - او هغه اوبه چه کډوه سی په هغه او بو

الْأُشْنَانُ وَالصَّابُونُ وَالزَّعْفَرَانُ

بُر وخه یا صابون یا زعفران

کوم دوغو شیانو په کډید وسره یو وصف د اوبو تغیر موی لکه به بروخه سره بوی په صابون سره خوند په زعفران سره رنګ بدلیږی۔

پوهه سه! چه ینکاره خبره ده چه په بروخه سره هم د اوبو خوند او هم بوی بدلیږی لکه باید د اوو ایو چه د بوی بدلیدلو په بروخه کې پیردی - په دې باره کې باید چه د مختار مرجوع وسی - والله اعلم بالصواب - ده ویش باکناه محمد عبید الله غفرله -

وَكُلُّ مَاءٍ دَائِمٍ إِذَا وَقَعَتْ فِيهِ نَجَاسَةٌ

او هر هغه اوبه چه ولاړې وی هغه وخت چه ولویږی په هغو اوبو کې مردار ې

لَمْ يَجُزِ الْوُضُوءُ بِهِ قَلِيلًا كَانَ أَوْ كَثِيرًا

نه دی روا په هغه اوبو سره اوضو کول - لږوی مردار ې او که ډیرې وی۔

پوهه سه! چه ولاړې اوبه هغه بولی چه نه بهیږی - لکه پوکنه یو کړم اوبه یا د څاه اوبه - که هرڅومره څاه جوړ وی - لکن چه هغه ولاړې اوبه واندازې ته د حوض شرعی نه وی رسیدلی - او د حوض شرعی بیان به راسی -

لِأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِحِفْظِ الْمَاءِ مِنَ النَّجَاسَةِ

ولی چه نبی صلی الله علیه وسلم امر کړی دی په ساتلو سره د اوبو د مردار ې څخه

فَقَالَ لَا يَبُولَنَّ أَحَدُكُمْ فِي الْمَاءِ الدَّائِمِ وَلَا

پس فرمایلی دی آنحضرت صلعم چه هرګز دی بولی نه کوی یوستاسی په ولاړو اوبو کې

يَغْتَسِلَنَّ فِيهِ مِنَ الْجَنَابَةِ

او هرګز دی غسل نه کوی په ولاړو اوبو کې د جنابت څخه۔

پوهه سه! چه د بولو اوبو او د مردار یو فرق نسته - او د انهی د آنحضرت صلعم په سبب د دې دی چه ولاړې اوبه په بولو سره مردار ینې ی - او د غسل نکه چه غسل پکښې وکړی مردار ی د بدن په هغو ولاړو اوبو کې کډیږی - نو هم هغه اوبه مردار ی سوی - اما کې په لوښی کې اوبه ړانګې دی او دس یا غسل فی د باندی ته اوبو کاوه پیدا کوی - ولی اوبه خو پاکی وی۔

وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ إِذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ مَنَامِهِ

او ویلی دی آنحضرت صلعم چه څه وخت بیدار اسی یو ستاسی د خوبه څخه پس هرګز دی

فَلَا يَغْمِسَنَّ يَدَهُ فِي الْإِنَاءِ حَتَّى يَغْسِلَهَا

نه غوته کوی لاس خپل په لوښی کې د اوبو تر هغه وخته پورې چه مینځی لاس خپل

ثَلَاثًا فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي أَيْنَ بَاتَتْ يَدُهُ مِنْ جَسَدِهِ

دریځله ولی چه دی نه دی خبر چه چیرې ښه مالاس شپه تیره کړی ده ښه د بدن څخه۔

په دې حدیث کې په احتمال د مردار والی د لاس منع وکړه د اخلیدو څخه د لاس په لوښی کې - د دې حدیث مبارک څخه داسی معلومیږی چه سړی چه بیده وی امکان لری چه د بره چه ځای د نجاست دی کړ ولې بې وی او په لاس پورې بې نجاست منښتی وی۔

مسئله! که د سړی په لاس پورې مردار ی نه وه لکن اودس ئی نه درلودی نو کې به لوښی لاس ښخ کړی هغه اوبه نه مردار ینې او اودس په روا دی - کې نیت د پیر یولو د لاس نه وو - او کې لاس د پیر یولو د پاره په ښخ کړی هغه اوبه مستعملی سوی اودس نه دی په روا په اتفاق د اهل مذهب اوبه مردار والی کې اختلاف دی چه وروسته به راسی - إِنْ شَاءَ اللهُ

وَالْمَاءِ الْجَارِي إِذَا وَقَعَتْ فِيهِ نَجَاسَةٌ جَازَ الْوُضُوءُ مِنْهُ

او روانی اوبه چه ولویږی په هغو اوبو کې مردار ی روا دی اودس د هغو اوبو څخه

بلکه غسل هم په روا دی او د مردار و کالیو پیر یولو هم په روا دی۔

اِذَا لَمْ یُرَ فِیْہِ اَثَرُھَا لِاَنَّھَا لَا تَسْتَقِرُّ مَعَ جَرَیَانِ الْمَاءِ

کہ چیری نہ معلومیدی پہ او بو کی اثر دھغہ نجاست ولیدہ نو طہارت قرار نلری سرہ د بہیدو د اوبو

پورتہ سرہ! چہ اثر د نجاست خوند۔ رنگ او بوئ دی او دا مسئلہ پہ ھغہ نجاست کی د چہ

نری وی لکہ بولی شراب وغیرہ ولی چہ ھغہ نجاست داو بو د بہیدو سرہ پاتی نہ ی۔

مسئلہ! کہ چیری داوبو رفتار دیر سست وو چہ د ھغہ نجاست اثر پکښی معلومیدلو

نو پہ ھغو اوبو اودس نہ دی روا۔

مسئلہ! کہ چیری ھغہ مردار ی موہرت والا وہ لکہ د انسان کندی یا یو مردار سوی

حیوان نو کہ چیری ھغہ اوبہ چہ د ھغہ مردار شی سرہ مبنلی تر مردار ی ډیری وی۔ نو

اودس پرھغہ ځائ ھم روا دی۔ او کہ اوبہ لږ وی تر ھغہ مردار شی۔ نو د مردار شی

پر برابر اودس نہ دی روا او بل ځائ روا دی۔ کوکب دری شرح قدوری ص۴

وَالْغَدِیْرُ الْعَظِیْمُ الَّذِیْ لَا یَتَحَرَّکُ اَحَدُ طَرَفَیْہِ بِتَحْرِیْکِ

او ھغہ کڑی یا حوض لوئ چہ نہ بنوری یو طرف د دہ پہ بنورو ولو سرہ

الطَّرَفِ الْاٰخَرِ اِذَا وَقَعَتْ نَجَاسَۃٌ فِیْ اَحَدِ جَانِبَیْہِ

د ھغہ بل طرف۔ کہ چیری ولویږی د مردار ی د ھغہ پہ یو طرف کی

جَازَ الْوُضُوْءُ مِنَ الْجَانِبِ الْاٰخَرِ لِاَنَّ الظَّاھِرَ

روا دی اودس د ھغہ بل طرف نہ خو د حوض۔ ولی چہ بنکاری کہ خبرہ دادہ

اِنَّ النَّجَاسَۃَ لَا تَصِلُ اِلَیْہِ

چہ مردار ی نہ رسیږی د ھغہ بل طرف تہ۔

دلیل ئ دادی چہ تاثیر د بنورو ولو ډیر دی تر تاثیر د نجاست نو چہ د بنورو ولو

تاثیر نہ رسیږی نو د نجاست تاثیر ھم نہ رسیږی۔

مسئلہ! امام اعظم بنورو ولو د غسل معتبر بولی۔ او امام محمد بنورو ول پہ

وخت کی داوداسہ معتبر بولی۔ ھدایہ ص۴۱۔

پورتہ سرہ! چہ دا اندازہ د حوض نہ د مذہب د ی نو موبز د مذہب د عراقی فقہاؤ۔ او

د بخارا فقہاء نو موبز د مذہب والی چہ لوئ حوض ھغہ د ی چہ لنی کڑہ پہ لنی کڑہ کی

وی۔ یعنی مخ داو بو سنی کڑہ مربع وی۔ اودا وخلکو تہ آسانی دہ۔ ولی چہ معینہ

اندازہ نہ دہ۔ وعلیہ الفتویٰ۔ ھدایہ ص۴۲

مسئلہ! معتبر کڑہ کرباس د ی چہ نشیبن موتہ د ی۔ کوکب وری۔ او خوک والی او وھمو تہ د ی۔ فتح القدیر

مسئلہ! ژورہ والی داوبو بہ کمالزکم دوند وی چہ پہ غبرگہ اختلو سرہ بہ ھلکی تہ نہ

رسیږی۔ وھُوَ الصحیح۔ ھدایہ۔ او خوک والی چہ یو لویشت ژورہ والی غواړی۔ فتح القدیر۔

وَمَوْتُ مَا لَیْسَ لَہٗ نَفْسٌ سَائِلَۃٌ فِی الْمَاءِ لَا یُفْسِدُ الْمَاءَ

او مرگ د ھغہ شی چہ نہ وی ھغہ شی لرہ وینہ بہید ونکی پہ اوبو کی نہ مردار وی او نہ

کَالْبَقِّ وَالذُّبَابِ وَالزَّنَابِیْرِ وَالْعَقَارِبِ

لکہ عوماشہ او مچ او غالبونہ ی ھر قسم چہ وی۔ او لږ مان۔

او امام شافعیؒ والی چہ د دغو شیانو نو پہ مرگ سرہ پہ اوبو کی او بہ مردار یږی۔ او

موبز لرو حدیث د سلمان فارسیؓ دلیل د ی چہ آنحضرت صلی اللہ علیہ وسلم وفرمایلہ۔ چہ

ھر ھغہ خور اکی شی یا اوبہ چہ پہ ھغہ کی مرہی ھغہ شی چہ وینہ بہانہ نہ لری پس ھغہ

حلال د ی خورک و پخبنک ئ۔ او اودس تازہ کول پہ ھغہ اوبو روا دی۔ کوکب دری۔ ھدایہ ص۴۲

وَمَوْتُ مَا یَعِیْشُ فِی الْمَاءِ لَا یُفْسِدُ الْمَاءَ

او مرگ د ھغہ شی چہ ژوند کوی پہ اوبو کی نہ مردار وی او بہ

کَالسَّمَکِ وَالضِّفْدَعِ وَالسَّرَطَانِ

لکہ ماھی کہ غټ وی کہ کوچنی۔ او لکہ جنگوبنہ کہ څہ ھم غټہ وی۔ او لکہ چنگابنی۔

مسئلہ! ھغہ حیوان چہ د باندی تر اوبو پیدا کیږی کہ څہ ھم پہ اوبو کی کذارہ کوی ھغہ پہ

مرگ اوبہ مردار یږی۔ لکہ ایلیہ۔ نرانی۔

مسئلہ! داشیان کہ پہ شید و یا سرکہ او یا پہ بل مزم شی کی مرہ سی فرق نہ لری یعنی

ھغہ شی نہ پہ مردار یږی۔ فتح القدیر۔

وَالْمَاءُ الْمُسْتَعْمَلُ لَا يَجُوزُ اِسْتِعْمَالُهُ فِي طَهَارَةِ الْاَحْدَاثِ

اومستعملی اوبه نه دی روا استعمال ئی د سر څخه په پاکولوکی د بې اوسیا نو۔

یعنی چه یو واړه مستعملی سی بیا په هغواوبونه اوس سره وادی اونه غسل۔

مسئله! په مستعملواوبوکی اختلاف دی۔ امام شافعیؒ او امام مالکؒ وائی چه اندامونه په ظاهر نجاست مرداړه نه وی په هغومستعملی اوبو دیر واړه ونه اوس سره وادی۔

اوامام زفرؒ وائی که مستعملوونکی اوس دسر لودی۔ اوبیائی اوس وکړی هغه مستعملی اوبه هم پاکی دی اوهم اوس په سره وادی۔ اوکه بې اوسه وی نو هغه اوبه پاکی دی۔ یعنی شی نه په مرداړینږی۔ مګر اوس نه دی په سره وا۔ اوامام اعظمؒ او امام ابو یوسفؒ وائی چه مستعملی اوبه مرداړی دی۔ اوامام محمدؒ وائی چه مستعملی اوبه پاکی دی شی نه په مرداړینږی لکن اوس یاغسل نه دی په سره وا۔ وَهُوَ الصَّحِيحُ الْمُفْتَى بِهِ۔ کوکب دری ۵

مسئله! مصنفؒ داسی ویل «فِي طَهَارَةِ الْاَحْدَاثِ» ولی چه نجاست او مرداړی په نړانلیږی۔ په روایت دامام محمدؒ دامام اعظمؒ څخه هغه اوبه مرداړی دی۔

وَالْمَاءُ الْمُسْتَعْمَلُ كُلُّ مَاءٍ اُزِيْلَ بِهِ حَدَثٌ

او مستعملی اوبه هرهغه اوبه دی چه نړانل کړه سی په هغواوبو سره بې اوس سی۔ یادجنابت اوپاکوچنی بې اوسیا

اَوِ اسْتُعْمِلَ فِي الْبَدَنِ عَلٰى وَجْهِ الْقُرْبَةِ

او یا استعمال کړه سی په بدن کی په طریقه د ثواب۔

لکه سړی چه اوس لری د ثواب د پاره بل اوس تازه کړی۔ یاثواب غسل وکړی۔

مسئله! که په اوبو نجاست حقیقی (لکه بولی۔ کندکی۔ یا شراب) پریمنځی یا استنجاء په ووړی یامرداړ کالی په پریمنځی هغه اوبه په اتفاق مرداړی دی۔ اوهغه اوبه چه پاک شی په پریمنځی پاکی دی اواوس هم په سره وادی په اتفاق سره۔ کوکب دری ۵

مسئله! که چا اوس د سر لودی اوبه نیت د څنکی د بدن (نه پاک نیت د ثواب) ئی اوس تازه کړی هغه اوبه مستعملی نه دی۔ هدایه ۲۳

* ولی چانیت د ثواب گناه تویږی په اوګناه لکه نجاست حکمی وه کذا فی البحر و منه

وَكُلُّ اِهَابٍ دُبِغَ فَقَدْ طَهُرَ

اوهرهغه اوم پوست (که د حلال شی وی لکه پسه اوبز وغیره اوکه د مردار شی وی لکه سګیدړه شغال لیوه وغیره) چه پوخ سی په تحقیق هغه پوست پاک سو۔

مسئله! پخیده د پوست رقم رقم دی۔ په بروځه۔ په باسکو۔ په مالګه۔ په خاورو۔ په لمر۔ کوکب ۵

مسئله! داهغه پوستکی دی چه پختیا قبلوی نو دهار او هوبړک پوست خاسع سو۔ فتح القدیر

مسئله! د هغه حیوان پوست چه په دې باغ پاکیږی د هغه حیوان پوست په حلالید وسره هم پاکیږی مثلاً سګیدړه یالیوه مسلمان حلال کی پوست ئی پاک سو۔ هدایه ۲۵

مسئله! هغه چه هدایه والاوائی چه په حلالید وسره ئی غوښی هم پاکیږی کړځه هم خوړک ئی نه دی سره وا۔ اوپه پای کی ئی ویلی دی وهوالصحیح۔ اما نهایه والاوائی چه صحیح مذهب نه موښه دادی چه غوښی د هغه حیوان چه د اصله مرداړی وی مرداړی دی په حلالید ونه پاکیږی۔ اودیر شار حان د هدایه هم پرده غه دی۔ فتح القدیر۔

مسئله! هغه پوست چه د باغت ئی په دواوسی لکه باسک اومان هغه چه لوند سی نه مرداړینږی۔ اوکه په لمر یا خاورو ئی سره طوبت وچ سو هغه پوست تر چه اوبه ورسیږی اولوند سی دامام اعظمؒ څخه دوه سره وایته دی په یوه سره وایت کی وائی چه بیرته مرداړینږی۔ اوامام محمدؒ وائی چه دبخ سوئ پوست بیا نه مرداړینږی۔ کوکب دری ۵

جَازَتِ الصَّلٰوةُ فِيْهِ وَالْوُضُوْءُ مِنْهُ

سره وادی لمونځ په هغه پوست کی (مثلاً که پوستین خښی جوړ کړی اوکې مصلی کړی لمونځ پرې سره وادی) اواوس

اِلَّا جِلْدَ الْخِنْزِيْرِ وَالْاٰدَمِيِّ

تازه کول د هغه پوست څخه (مثلاً که ثړی یامشکوله خښی جوړ کړی) مګر پوست د سرکوڼی (چه نجس العین دی په هیڅ دول نه پاکیږی) اوداسان پوست (په سبب د کرامت)

په محیط اوبدائع کی وائی چه داسان پوست دبخ قبلوی لکن داسان پوست کښل اونفع په اختتل حرام دی۔ که څه هم هغه اسان کافر وی۔

اوکی چیرې داسان پوست دبخ کړه هغه پاک دی لکن استعمال یه حرام دی۔ درمختار ۱۸۸ منه

وَشِعْرُ الْمَيْتَةِ وَعَظْمُهَا طَاهِرٌ

اوویښتان د مړدارې او هډو کی د مړدارې پاک دی۔

مسئله: اداپه سواک د سرکوني دی۔ اود مړدارې پلې او بنکې اونو کان هم پاک دی۔ کوکب دري

وَشِعْرُ الْاِنْسَانِ وَعَظْمُهُ طَاهِرٌ

اوویښتان د انسان اوهډو کی د انسان پاک دی۔

یعنی که د سړي په جیب کی د انسان ویښتان یا هډو کی وی لمونځ ورسره روادی لکن استعمال ئی په سبب د کرامت نا روادی او دغه رنګه خرڅه ل ئی۔ هدایه ص۴۵

مسئله: که د بنځې خپل ویښتان لنډ وی د بلی بنځې یا نر ویښتان په کښی جاړ ول حرام دی۔

تفریع: ۱ ننه صبا یو مریض وی چه هغه د جراحی۔ اپریشن ضرورت لري او د اکټران وړته وائی چه د غه مریض هوښ نه جراحی کو وکه وینه د بل انسان ورنه کړه سی۔ یعنی د رکوپه د نرې یعه د ته وینه سی پیچکاري۔ او دا هر ینو تجربه کاره د اکټرانو په نظر د غه مریض چه جراحی نه سی مري۔ اوکه جراحی بیله وینو وسی هم مري۔ او بل انسان یا په بیعه یا هفت خپله وینه ورکوی۔ آیا د غه انسان چه مریض دی د وینې د انسان پیچکاري کول روادی اوکه نه دی۔ او بیعه احتسال ئی روادی که ناروا؟

جواب! د خدای په توفیق۔ جراحی یا اپریشن پر د غه عنوان چه اوس کیږي۔ یا پیچکاري یا انتقال د وینې چه اوس معمول دی۔ د متقدمینو یعنی د مجتهدینو په وخت کی نه وو۔ تاچه د وئ مباړه کانو څیل شخصی نظر اوفتوی په دې باب کی بنکاره کړئ وائ۔

او دا هم بنکاره خبره ده چه د فقهاوو په شخصی توګه نه ده راغلی البته د قواعدو د دین څخه دا سی معلومیږي چه په بالا تر سوی صورت کی د انسان د وینې څخه نفع احتسال روا دی۔ هغه قواعد دادی۔

(۱) فقهاء ټوله وائ او د فقهی شریفی په ټولو کتابونو کی نوشته دی "اَلضَّرُوراتُ تُبِیْحُ الْمَحْظُوْرَاتِ" یعنی ضرورتونه مباح کړه ی ممنوع او حرام شیان۔ نو تر د غه جراحی او اپریشن چه مریض د اکټرانو په اتفاق د مرګ سره مخامخ دی که وینه ورپیچکاري نه سی۔ تر دی به لوی ضرورت څنګه وی۔

(۲) ټول فقهاء او مجتهدین په یوه خوله وائ کریو سړی په دا سی لویه مبتلا سوچه

د ده د اوو یقین وچه د لویې څخه مړ مړه۔ او بیله هر دا سی وغوښتو مثلا بل د خوړک شی نه وو نو د غه سړی ته د د غو غوښتو خوړل روادی۔ اما د وینې قدر چه د مړ ګې څخه په خلاص سی۔ نو د غه جراحی ضرورت د لویې تر ضرورت کمه دی او هر کله نه دی کم۔ ولی چه په د وئ وړاندې د مړ ګ بیره ستره۔

(۳) په صحیحینو کتابونو کی د حدیثو او په ټولو کتابونو کی د فقهی روایتونو کی یوچا و بلچا ته پیشو او د همکی د وښ لوړه کړه۔ که چیرې هغه سړی کلمه د کفر نه وو وائ۔ او د هغه سړي هر غالب ګمان دا وو که نه کلمه د کفر نه وو وایي ما وښ ئی۔ نو د غه سړي د ځان د ساتلو د پاره کلمه د کفر صرف په شربه وویل روادی۔ لکن په زړه کی بې محکمه ایمان وی دا موضوع د آنحضرت صلی الله علیه وسلم په وخت کی یو صحابی ته پیښه سوې ده۔

(۴) فقهاء وائ کریوچا یو مسلمان په مرګ سره تهدید کړئ که بت ته سجده ونه کړي هغه مسلمان تر د بت سجده روا ده۔ نو د وینو پیچکاري وی د غه مریض ته چه بیان سو د کفر تر کلمه یا د بت تر سجده دیره بده ده۔ بلکه نه ده۔

(۵) د امام ابو یوسف څخه روایت دی چه د اوبنا نو بولو د استسقاء د مریض د پاره اوس هم چنل روادی۔ د غه پنځه موضوع کانو چه بیان سوې په ټولو مذهبی کتابونو کی ستره۔ څوک دی دا نه وائ چه پس تر لې د کان حواله ده۔ حاسد کله کاهی دا سی خبرې کوي۔

بیت: چشم براندیش کربر کنده باد — عیب نمایش هنرش در نظر

اما دوه هم سوال جواب دادئ چه وینه ورکو ونکی ته د وینې خرڅول حرام دی۔ ولی چه دا سی جزء خرڅول په اتفاق حرام دی۔

دا وه زما غریب کر علمه وینا — والعلم الکامل عند الله

داهاب په باره کی ضروري معلومات! داهاب د پاکوالی په دبغ سره دلیل د آنحضرت صلی الله علیه وسلم دی "اِیُّمَا اِهَابٍ دُبِغَ فَقَدْ طَهُرَ" رواه الترمذی۔ یعنی هر هغه پوست چه دبغ سی په تحقیق هغه پاک سو۔

د حدیث مومنه د خوا دلیل دی پر امام مالک چه هغه وائ چه حیوان مردار سی د هغه پوست نه پاکیږي حتی دی وائ چه د مردار سوې پوست کر څه دبغ سی لمونځ نه دی پرې روا او نه بله نفع حتی احتسال۔

فَصْلٌ فِي الْبِئْرِ

فصل دئ په بیان کی د احکامو د څاه - یعنی چه مس د اړی یا حیوان وړ و لویږی

إِذَا وَقَعَتْ فِي الْبِئْرِ نَجَاسَةٌ نُزِحَتْ

چه و لویږی په څاه کی مردار شی نو وچ دې کړی هغه څاه، اوبه دی بولی څنی و کاږی،

وَكَانَ نَزْحُ الْمَاءِ طَهَارَةً لَهَا

اودئ کښل د تولو اوبو پاکوالئ د پاره د څاه -

مسئله! کوهغه نجاست په ستر کو معلومیدې نکه نجس توکر یا مردار پوست یا بل دغسی شی - نو اول دی هغه نجس څنی و کاږی او بیا دې وچ کړی - اوکه نجاست په ستر کو نه معلومیدئ نکه بولی - شراب نو صرف څاه دی وچ کړی -

پوه سه! چه مسائل د څاه پر اقوالو د نبی علیه الصلوة و السلام بناء دی - هدایه ص۲۵ یعنی عقل او قیاس کار نه پکښې لری - ولی د عقل دلالت هم دا اړی کړ د څاه اوبه تولی مردار ی وی نو خنې او دیوالونه ئ هم مردار دی نو چه اوبه تول سړا و کاږی نو ی او به د چینې څخه راوړی خو هم په هغو مردارو خنې سره بیرته مردار یږی حکم بشر چه یوا مام دی وائ څاه چه مردار سو یا د هیڅ د پاره نفع نه د ه په سړو انو بیا پاکیږی - اوبل قیاس دا هم وائ چه د څاه څخه چه اوبه راخیژی او د چینو د خوا نو ړی اوبه پیدا کیږی - نو نکه حوض د حمام باید کوم سړه مردار نه سی - نکه په یوه روایت کی د امام محمد چه دا غسی هم راغلی دی - نهایه ص۲۵

مسئله! څاه چه وچ سو خنې دیوالونه ډ بړی سولاغه رسی د اوبو راکښو نکی لا سو نه تولې پخپله پاک سوه - کوکب دری ۵۵

فَإِنْ مَاتَتْ فِيهَا فَارَةٌ أَوْ عُصْفُورَةٌ أَوْ صَعْوَةٌ أَوْ

کوم سو په څاه کی موږک یا چوغنګه - یا سو سړی کوچنۍ چوغنګه - یا

سَوْدَانِيَّةٌ أَوْ سَامٌّ أَبْرَصُ نُزِحَ مِنْهَا مَا بَيْنَ

توره دلی وګ - یا کوږبوغ - نو دی کاږی د هغه څاه څخه په ما بین کی

عِشْرِينَ دَلْوًا إِلَى ثَلَاثِينَ بِحَسَبِ كِبَرِ الدَّلْوِ وَصِغَرِهَا

د شلو سولغو تر دیرشو پورې په حساب د اندازه د لوئ والی د سولغې او د کوچنی والی دهغې

پوه سه! چه د شلو سولغو کښل واجب دی اولس نو ړی مستحب دی - لکن موږک یا هغه بل حیوان دی اول د څاه څخه وکاږی -

مسئله! دا حکم په هغه وخت کی دی چه موږک نرخمی نه وی یا د پښی څخه په ځغاست کی نه وی - اوکه نرخمی و وی او یا د ځغاستئ نه وی طبعًا بولی کوی نو بیا هم اوبه تولی مردار ې کړی دی - کوکب دری - ۵۵

مسئله! که د هغه مذکوره شیان څرونده سړا و کښل سی نو څاه نه د ئ مردار - نهایه ص۲۵

فائده! مصنف و ویله بحسب کبر الدلو و صغرها، د دې معنی داده چه اعتبار د مردار د څاه اصلی سولغې لره دی که لوی وی او که کوچنۍ - او بعضی علماء وائ چه اعتبار میانه سولغې لره دی - او بعضی ملایان وائ چه دیوې کاسې په اندازه سولغې ته دی حساب وکړی - لکن د مصنف خبره اعلی ده - او کې چیرې د څاه پنځله سولاغه اوبه نه راکښې بلکه په لوی ټیم ئ راکښلې هغه ټیم ته دی د څاه په سولاغه حساب کوی - وعلیه الفتوی -

وَإِنْ مَاتَتْ فِيهَا حَمَامَةٌ أَوْ دِجَاجَةٌ أَوْ سِنَوْرٌ نُزِحَ

اوکه مړه سوه په څاه کی کوتره اویا چرکه اویا پښی - و دی کښل سی د هغه

مِنْهَا مَا بَيْنَ أَرْبَعِينَ دَلْوًا إِلَى خَمْسِينَ

څاه څخه په ما بین کی د څلویښتو سولغو تر پنځو سو پورې (چه څلویښت ئ واجب دی او پنځوس ئ مستحب دی)

وَإِنْ مَاتَ فِيهَا كَلْبٌ أَوْ شَاةٌ أَوْ آدَمِيٌّ

اوکه مړ سو په څاه کی سپی اویا پسه یا انسان -

مسئله! د سپی مړک نه د ئ شرط کې څرونده سړا و کښل سوکه ئ چیرې او د سل دلو د ی اوبه پاکې دی اوکه بې او د سه و د څلویښت سولغې دی سړا و کاږی اوکه جنب و د تولو څاه دی وچ کړی - کوکب ۵۵

مسئله! هر حیوان ماسوا د سپی او د سړکونړی څخه چه و څاه ته ولویږی او څرونده

را وکښل سی که ئی خوله او بوته نه وه ر سید لې څاه پاک دی ـ اوکه ئی خوله او بوته ر سید لی
وه نو کې پسخوړ ده پاکه وه لکه دا سان نو څاه پاک دی ـ کې پسخوړ ده مرداره وه لکه د
چغال اوکیدړی نو څاه توله مرداره دی ـ اوکې پسخوړ ده مکروه وه اوبه مکروه دی
مستحب داده چه لنلی سولغې دی را وکاږی ـ اوکې پسخوړ ده مشکوکه وه لکه دخره نو
توله څاه دی وپاکه کړی ـ نهایه حاشیهٔ هدایه ص۴۷

نُزِحَ جَمِيعُ مَافِيهَا مِنَ الْمَاءِ وَإِنِ انْتَفَخَ الْحَيَوَانُ فِيهَا

دی کښل سی توله اوبه چه په څاه کی وی ـ (یعنی وړه دی سی) اوکه وپر سیدلی حیوان په څاه کی اویا

أَوْ تَفَسَّخَ نُزِحَ جَمِيعُ مَافِيهَا صَغُرَ الْحَيَوَانُ أَوْ كَبُرَ

وشوړیدی (لکه چې نکړی سو) دی کښل سی توله هغه اوبه چه په څاه کی وی ـ که کوچنی وی هغه حیوان اوکه لوی وی ـ
ولکه دوه دبدن توله اجزاء اوبه طوبت پرا و بوکد سوه ـ هدایه ص۴۷

وَعَدَدُ الدِّلَاءِ يُعْتَبَرُ بِالدَّلْوِ الْوَسَطِ الْمُسْتَعْمَلِ

او حساب دسولغو معتبر دی په هغه سولغه میانه چه مستعملیږی د پاره د څاهانو په سیمه کښ

لِلْأَبَارِ فِي الْبُلْدَانِ فَإِنْ نُزِحَ بِدَلْوٍ عَظِيمٍ

کی ـ (مقصود دا ئی چه د هرڅاه خپله سولغه معتبره ده) که ئی ر اوکښی اوبه په یوه لوی سولغه

يَسَعُ قَدْرًا مِنَ الدِّلَاءِ الْوَسَطِ احْتُسِبَ بِهِ

چه خایولی هغې لوی سولغې یوه اندازه دمیانو سولغو څخه (یا د هغو څخه مثلاً) هغه ته دځنا وکړه سی په دغه میاسو
حتی کرنې په لوی سولغه توله قدر واجب ر اوکښلې بس کافی دی ـ کوکب دری مخ

وَإِنْ كَانَتِ الْبِئْرُ مُعِينَةً لَا يُمْكِنُ نَزْحُهَا

اوکه چیری د وڅاه چشمه خینه (د یری چشمې ئی د ر لوند ی) چه ممکن نه وی توله اوبه
کښل ئی ـ یعنی وچیدل ئی ممکن نه وی ـ

وَقَدْ وَجَبَ نَزْحُ مَافِيهَا أُخْرِجُوا مَا كَانَ فِيهَا مِنَ الْمَاءِ

او حال دا وچه واجب توله اوبه کښل وه ـ را وځی کا یږی هغه اندازه اوبه چه په وخت کی دښخیدلو والی په څاه کی وی

دوی اندازه معلوم پردې لاره کیږی ـ
اول ـ دڅاه دا و بو اندازه دی په یوه ټکړه معلومه کړی او دڅاه پسوه دی هم معلومه کړی
نو بل ځای دی نژدی په هغه اندازه غاړه وکښی دڅاڅخه دی اوبه را کاږی په هغه غاړه کی دی
اچوی چه غاړه ډک سی اوبه دڅاه پاکې سوې ـ
دوهم ـ یوه ټکړه یا اوبه ر نل دی وڅاته وه شوه کړی او دڅاه دا و بو اندازه
دی معلومه کړی ـ بیا دی چا بک چا بک لنلی سولغې را وکاږی او بیا دی ټکړه یا نل وه شوه
کړی چه په لس سولغو څو مره اوبه کمیږی یا کمی سوې ـ نو بیا دی پر لس لس سولغې حساب
وه ته کوی ـ تا چه ټکړه ختمه سوه څاه پاک سو ـ
دریم ـ دوه کسه دا سی کسان چه دا وبو په نر د او نو و پوهیږی پیدا کړی هر
وخت چه هغو دوو کسانو وویل چه اوبه نوی سوې څاه پاک سو ـ هدایه ص۴۷
او دامام اعظمؒ څخه روایت دی چه پاکی د دغه څاه په را یه پوهی د خلکو اړه نه ده
که د دوی دا غالب ګمان سو چه د څاڅرې اوبه را وختلې څاه پاک سو ـ

وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْحَسَنِ يَنْزِحُ مِنْهَا مِائَتَيْ دَلْوٍ إِلَى ثَلَاثِ مِائَةٍ

او دامام محمد بن الحسنؒ څخه روایت دی چه د دی کا یږی دهغه مرداړ څاه څخه دوه سوه سولغې تر دریو سوه پورې

یعنی دوه سوه واجبی دی او تنلل نوړی مستحبی دی ـ علماءؒ وائی چه امام محمدؒ دا فیصله
پر غالبه څیزونو د بغداد کړې ده چه د بغداد په څاه نو کی تر دوه سوه سولغې بالا اوبه
نه وی ـ هدایه ص۴۷ ـ نو بناء پردې په نورو څاهونو کی چه اوبه ئی تر دریو سوه سولغې
ډیری بالا وی په قول د امام محمدؒ دی فتوی څوک نه وه کوی ـ ولی چه مقادیر په
عقل نه معلومیږی ـ یکن په دې کی شک نسته چه د امام محمدؒ قول د عوامو ته ډیره
آسانه ده ـ نو ه دې سبب په خزانة المفتیین کی وائی چه فتوی پر قول د امام محمدؒ ده
ومع هذا په بحر ر ائق او شرح الوقایه کی وائی چه اصح دا ده چه په قول د دوو کسانو
چه په اوبو پوهیږی عمل وکړه ـ اوبه هدایه کی وائی "وهو الاشبه بالفقه" یعنی دغه
مذهب وفقه ته ډیر نژدې دی ـ

وَإِذَا وُجِدَ فِي الْبِئْرِ فَأْرَةٌ أَوْ غَيْرُهَا وَلَا

اوکه چیری پیدا کړه سویه څاه کی موښک مړ یا بیله موښک د بل حیوان لکه پشی سپی وغیره او خلک نه

يَدْرُونَ مَتَى وَقَعَتْ وَلَمْ تَنْتَفِخْ وَلَمْ

پوهیږه اونه ووخبر چه داوښاه ته څه وخت لویدلی دی اوحال داوده چه داموښک نه پریسیدلی وو

تَنْتَفِخْ أَعَادُوا صَلٰوةَ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ إِذَا كَانُوا

اونه شوه پدلی وو - ړاوډی کړځوی دغه خلک لمونځونه دیوې ورځې او دیوې شپې - که چیری دوئ

تَوَضَّئُوا مِنْهَا وَغَسَلُوا كُلَّ شَيْءٍ أَصَابَهُ مَاؤُهَا

اودسونه کړی وو دهغه څاه څخه اوپریمنځی دی هرهغه شی چه دهغه څاه اوبه ورسیدلی وی (که جامې وی که بدن

وَإِنِ انْتَفَخَتْ أَوْ تَفَسَّخَتْ أَعَادُوا صَلٰوةَ ثَلٰثَةِ أَيَّامٍ وَ

اوکه چیری هغه موښک پریسیدلی وو یا شوه پدلی وو نو دی ړاوکړځوی لمونځونه دوه ورځو او دوه

لَيَالِيهَا فِي قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ

شپو - داحکم په قول دامام ابی حنیفه رح دی - اوامام ابویوسف او امام محمد وائی

لَيْسَ عَلَيْهِمْ إِعَادَةُ شَيْءٍ حَتّٰى يَتَحَقَّقُوا مَتَى وَقَعَتْ

چه نشته پردې خلکو ړاکړځیده دهیڅ شی (په ټولوصورتونو کی که پریسیدلی وی یا شوه پدلی وی یا نه وی)

تر هغه وخته پورې چه دوئ ته په یقین نه وی ثابته سوې چه موښک کله وه لویدلی دی -

مسئله ! که چیری دهغه څاه په اوبو وډی یا غوښتی پرې کړی وه هغه دی وسپوته واچوی - درمختار ص ۲۱

د عوامو غلطیا

دوئ وائی هغه مردارشوی وډی دمسکینانو یا طالبانو ورکړی - داغلطه ده ولی چه دمردارشی خوړل هلته روادی چه دلوږی دسببه دمرګ بیره وی -

تفصیل دډغی مسئلې ! مصنف دجوهرې وائی چه فتوی پرقول دیاړانوده اوپه فتاوی

عتابی کی وائی چه قول دیاړانو مختار دی - لکن په ردمحتار ص ۲۰۳ کی وائی چه قول د امام اعظم مختار ده دډیرو فقهاؤ دی - لکه امام برهانی ، امام نسفی ، امام موصلی ، صدرالشریعت ، اوصاحب دبدائع - اوپه ټولوکتابو کی دلائل دامام اعظم قوی بلل سوی دی نو باید فتوی پرقول دامام اعظم وی - لکن په مجتبی کی وائی په نقل درکن الائمة السباعی چه په یاړه کی دلمونځو یادا وډسو فتوی پرقول دامام اعظم ده - احتیاط فی امر العبادة - یعنی دجهته داحتیاط دعبادة په کار کی - اوپه یاړه کی دډوډی ، کتو ، پریمنځلی کالی د هغه څاه په اوبو اوغیره فتوی پرقول دیاړانوده - حاشیه شرح وقایه جلد اول ص ۹۲ اوهمدا مذهب بعضی علماؤ خوښ کړی دی - اود فقیر هم دغه مختار دی - واللّٰه اعلم -

وَسُؤْرُ الْآدَمِيِّ وَمَا يُؤْكَلُ لَحْمُهُ طَاهِرٌ

اوپسخورده (که اوبه وی که بنورې وی) دانسان (که نر وی که ښځه وی) اودهغه شی پسخورده چه غوښتی یی خوړل کیږی (یعنی مردارنه وی) ټول پاک دی (شی نه په مردارینې خورک یی حلال دی)

مسئله ! پسخورده دجنب دحائضې ښځې دلنګی ښځې دکافر دا ټولی پاکی دی -

مسئله ! که چاشراب وچښل اوفوراً ډاډه کوزه یا منګی کی اوبه وچښلې هغه پسخورده دمردارده دی - اوکه ډیری ناړی دوه درې واړه تیری کړې اوپرشته پانوځی هم څو واړه شربه تیره کړه دهغه پسخورده پاکه ده -

مسئله ! که حیوان پسه یا غوا یی یا اوښ کندګی خوړل اکثره اوقات - نو پسخورده یی مکروه ده - اوکه یی ګاهی ګاهی خوړلې نو پسخورده یی پاکه ده - کوکب دری حاشیه قدوری ص ۹ ج ۱

وَسُؤْرُ الْكَلْبِ وَالْخِنْزِيرِ وَسِبَاعُ الْبَهَائِمِ نَجِسٌ

اوپسخورده دسپی اوسرکوټی اودرنده کا نو دچاغلی یا نولکه لیوه چغال اونور - مردار ده -

ولی چه په صحیح حدیث شریف کی راغلی دی چه آنحضرت صلعم وفرمایل که چیری سپی په لوښی کی اوبه وچښی هغه لوښی دی درې واړه پرې پرمنځی - بخاری - مسلم - مشکوة - دډیو حدیث شریف څخه معلومه سوه چه دسپی پسخورده مردار ده - ولی چه لوښی مردار سو خوپه پسخورده مردار سو -

مسئله ! ټول درندګان په حکم کی دسپی دی - ولی چه غوښتی یی مردار دی - نو ناړی چه دغوښو څخه پیدا کیږی هم مردار دی اوهغه ناړی په پسخورده کلیږی -

مسئله! په سپی اوسرکونړۍ کی امام شافعیؒ زموږ سره موافق دی او دنورو درندکانو پسخورده امام شافعیؒ پاک بولی۔ کوکب دری ص۹ ج۱

وَسُؤْرُ الْهِرَّةِ وَالدَّجَاجَةِ الْمُخَلَّاةِ وَسِبَاعِ الطُّيُورِ

او پسخورده د پشی او د چرک یا چرګی د څیل سره ایله د هغې چې په قفس کی بنده نه وی یا ترلې نه وی) او پسخورده د درندکانو د مرغانو (لکه څرخک، تپوس، بابنه او نورو غسی درندکان مرغان)

وَمَا يَسْكُنُ فِي الْبُيُوتِ مِثْلُ الْحَيَّةِ وَالْفَارَةِ مَكْرُوهٌ

او پسخورده د هغه شیانو چې په خونک او سیږی لکه مار او موږک مکروه دی۔

وَسُؤْرُ الْبَغْلِ وَالْحِمَارِ مَشْكُوكٌ

او پسخورده د کچر او د خره شک ستر۔

مسئله! د دې دوو حیوانانو پسخورده چې مشکوک دی لدې سببه چې دلائل دوه قسمه راغلی دی د ابن عباسؓ څخه روایت دی چې، سُؤْرُ الْحِمَارِ طَاهِرٌ، پسخورده د خره پاک ده۔ او د ابن عمرؓ څخه روایت دی چې، سُؤْرُ الْحِمَارِ نَجِسٌ، یعنی د خره پسخورده مردار ده۔ لهذا علماؤ حکم د مشکوک وکړی۔

فَإِنْ لَمْ يَجِدِ الْإِنْسَانُ غَيْرَهُمَا تَوَضَّأَ بِهِ وَتَيَمَّمَ

پس که نکړي پیدا انسان بیله دغې پسخورده د (دلانخرا) نې وه او دس نې نه درلودی) نو دی په دغه پسخورده اودس تازه کړه او تیمم دی هم وکړی ولی که پسخورده پاک وی او دمې پرې او که هغه پسخورده مردار وی تیمم کافی دی۔

وَأَيُّهُمَا قَدَّمَ جَازَ

او هریو د دوی دوو چې دغه کړی روا دی۔

پوهه شه! که هغه پسخورده توی کړی نو یوازې تیمم کافی دی۔

بَابُ التَّيَمُّمِ

باب دی په بیان کی د احکامو د تیمم

پوهه شه! چه تیمم په قرآن مبارک او په حدیث شریف سره ثابت دی۔ قرآن دا دی، فَلَمْ تَجِدُوا مَاءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا، پس که نه موکړي پیدا اوبه نو تیمم وکړئ پس پاک خاک۔ او حدیث دا دی، اَلتَّيَمُّمُ طَهُورُ الْمُسْلِمِ مَالَمْ يَجِدِ الْمَاءَ، یعنی تیمم پاکی د مسلمان ده تر هغو پورې چه اوبه ونه وی پیدا کړی۔

مسئله! تیمم د امام اعظمؒ په نزد طهارت کامل دی حتی چه په یوه تیمم څو لمونځونه روا دی لکه په اوداسه سره۔ او په نزد د امام شافعیؒ تیمم طهارت ضروره دی یعنی چه لمونځ ئې په وکړي بل لمونځ نه دی په روا بلکه بل تیمم به کوی۔

وَمَنْ لَمْ يَجِدِ الْمَاءَ وَهُوَ مُسَافِرٌ أَوْ هُوَ خَارِجُ الْمِصْرِ

او چاچه اوبه نه کړي پیدا (دونه قدرته چه داوداسه بس کیدې) او دغسې مسافر وی او یا د بنار او کلی څخه د باندې وی او که څه هم مسافر نه وی لکه چه د بنار د باندې په لرګو او یا د بنو پسې تللی وی۔

مسئله! په بنار او او لوبو کلو کی که څه هم اوبه نه کړي پیدا تیمم نه دی روا۔ ولی داسې نادره پیښیږی۔ په مبسوط او محیط کی دا مسئله وکوره۔

وَبَيْنَهُ وَبَيْنَ الْمِصْرِ نَحْوُ الْمِيلِ أَوْ أَكْثَرُ

او په مابین کی د ده او بنار مثل دیوه میل یا د دیره تر میل مسافت وی۔

پوهه شه! چه میل زر (۱۲۰۰۰) کامه دا وښی دی او څلویښت زره کزه شرعی دی۔

فائده! د میل اندازه د سړي په ګمان پورې اړه لري که د سړي خیال وی چه ما او تر او بو پورې تر میل کمه مسافه ده تیمم نه دی روا ته روا که څه هم په واقع کی دیره وی او که د سړي ګمان وی چه مسافه یو میل یا بالاده وی ته روا دی که څه هم په اصل کی کمه تر میل وی۔ کوکب دری ص۱۰۱

ګرته! یو میل مسافت مشهور دی روایت دی۔ او اکثر فقهاؤ هم په دغه روایت عمل کړی۔ او بعضې علماؤ وائی چه د ده کاوتر او بو پورې آذان نه اوري بدل کیږي تیمم روا دی

اوخوک وائی کا اوبه په مخکی دمسافروی - نو دوه میله مسافت په کار دی - اکثر شاوخوا یا پر
ساسته خوا یا پر چپه خواوی نو یو میل مسافت غواړی. او دامام ابو یوسفؒ څخه روایت دی، که
چیری اوبه دوه نږلیری وی چه دی تللی وائی اودس ئی تاړه کړی وائی. نو قافله یا موټر څنی
تلی وهغه ته تیمم روادی. په ذخیره کی وائی چه دا دیر ښه روایت دی.

اَوْ كَانَ يَجِدُ الْمَاءَ اِلَّا اَنَّهٗ مَرِيْضٌ فَخَافَ

اویائی اوبه درلوډی اوبه موجودی وی، مګر سړی یا بنځه مریض وو نو ویریږی که اوبه استعمال کړم موهغه، به مې سخت

اِنِ اسْتَعْمَلَ الْمَاءَ اِشْتَدَّ مَرَضُهٗ

سی زیاد اوبوځنه یا دښوریږی وځنه لکه یو سړی چه اپریشن کړی وی. او ډاکټر وه، ته ویلی وی چه
ښوری به نه.

اَوْ خَافَ الْجُنُبُ اِنِ اغْتَسَلَ بِالْمَاءِ يَقْتُلُهُ الْبَرْدُ اَوْ يُمَرِّضُهٗ

اویا ویریږی جنب که چیری غسل په اوبو وکړی نو وژلی یخ او یا ئی مریض کړی.

ښه فائده! مصنف غسل ذکر کړی له دې سببه که بی اودس سړی ویریږی په بناء یا په قریه
کی پر مړک یا مرض که په اوبو اودس وکړی وهغه تیمم نه دی روا په اتفاق پر صحیح مذهب. کوکب
ولی چه په بناء یا په قریه کی دهغان د تود ولو ځایونه نسته داوداسه دیخ څخه اوخلاف د صحرا څخه.
بعضی علماء وائی که په بناء کی حمامونه وه اود حماموروا ج داوو چه مزدوری ئی ورکړی وی نو
غوښته نو جنب دی هم تیمم نه کوی بلکه په حمام کی دی غسل وکړی اوبیا دی حمامی ته
خپل دمسکنت عذر ووائی.

مسئله! که دجنب سړی په دحمام وی هغه ته تیمم نه دی روا.

سوال! په بناء یا په قریه کی هم تود ید وځایونه لکه مسجدونه نسته نو ولی وجنب ته تیمم روادی.

جواب! امکان لری چه دغه جنب دی مریض یا ضعیف البدن یا سپین ږیری وی نو که چیری په یخواوبو
غسل وکړی د تود ید و ترځایه به نه رسیږی اویا که ورسیږی فائده به ورته ونکړی خلاف داودس.

فَاِنَّهٗ يَتَيَمَّمُ بِالصَّعِيْدِ

پس په دغو بالا قولو صورتونو کی دی سړی تیمم وکړی پر پاک مخکه باندی.

وَالتَّيَمُّمُ ضَرْبَتَانِ يَمْسَحُ بِاَحَدِهِمَا وَجْهَهٗ

او تیمم دوه واړه لاسونه پر مخکه وهل دی - نو په یوه ضربه دی مخ مسح کړی

وَبِالْاُخْرٰى يَدَيْهِ اِلَى الْمِرْفَقَيْنِ

او په بله ضربه دی لاسونه مسح کړی تر څنګلو پورې

مسئله! جنب ته چه تیمم روا سوا وبیائی په تیمم لمونځ وکړی هغه لمونځ روا کړځیده نه غواړی.

مسئله! په تیمم کی استنجاء نسته او دسر ودپښو مسح نسته - داحکم الهی دی دعقل کار نه دی.

وَالتَّيَمُّمُ فِى الْحَدَثِ وَالْجَنَابَةِ سَوَاءٌ

او تیمم په بې اودسیا اوجنابت کی سره برابر دی.

یعنی هغه دوه ضربه چه ذکر سوه - که ته هم په اوبو کی سره جلا دی، یعنی
په غسل کی تولد بدن پر یو لل غواړی - په حدیث مبارک کی چه روایت ئی بخاری
اومسلم کتابونو کړی دی راغلی دی چه یو صحابی په سفر کی جنب سوی وو او اوبه
نه وی نو پخپل فکر ئی داسی تیمم وکړی - چه کالی ئی تولد وکښل او په خاورو کی ولغښتی
نو څه وخت چه مدینې منورې ته راغلی د خپل تیمم موضوع ئی آنحضرت صلی الله علیه وسلم
ته عرض کړه نو رسول الله صلعم ورته وویله ستا بس وه دوه ضربه - یعنی یکدواوداسه
تیمم دعضی تیمم دجنابت دپاره کافی دی - اوموږ د څه وویله چه شریعت د
عقل تابع نه دی. نو باید څوک په برابر والی کی د تیمم دجنابت - اوبې اودسیا شک اووسوسه نه کړی
فائده! تیمم خاص په امت کی د آنحضرت صلی الله علیه وسلم روا سو. بخاری مسلم مشکوة

وَيَجُوْزُ التَّيَمُّمُ عِنْدَ اَبِىْ حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ بِكُلِّ

اوروادی تیمم په نزد د امام اعظمؒ او امام محمدؒ رحمهما الله پر هر هغه شی

مَا يَكُوْنُ مِنْ جِنْسِ الْاَرْضِ كَالتُّرَابِ وَالرَّمْلِ

چه دقسمه اوجنسه څخه د مخکی وی عموماً - لکه خاورې - لکه ریګ.

وَالْحَجَرِ وَالْجَصِّ وَالنُّوْرَةِ وَالْكُحْلِ وَالزِّرْنِيْخِ

لکہ ډبرہ او کچ۔ لکہ اهاک یا سرہ خاورہ۔ او سرا نجه۔ او زرنیخ۔

زرنیخ نام دوائی کہ بهندی هرتال گوینه از بحر الجواهر و کشف۔ چه په پښتو ئی نرونه بولی۔ غیاث ص۳۱۱

وَقَالَ اَبُوْ يُوْسُفَ لَا يَجُوْزُ اِلَّا بِالتُّرَابِ وَالرَّمْلِ

او ویلی دی امام یوسف نه دی سره تیمم مکر په خاوره او یا پر سریک۔

وَقَالَ الشَّافِعِيُّ لَا يَجُوْزُ اِلَّا بِالتُّرَابِ خَاصَّةً

او ویلی دی امام شافعی نه دی سره تیمم مکر خاص پر خاوره نه پر بل شی۔

مسئله! محکه چه مرداره سی که وچه سوبه وی تیمم نه دی پر سره او لوغ پر سره وادی۔ ردمحتار۔

وَالنِّيَّةُ فَرْضٌ فِي التَّيَمُّمِ وَمُسْتَحَبَّةٌ فِي الْوُضُوْءِ

او نیت فرض دی په تیمم کی۔ او نیت مستحب دی په اوداسه کی۔

په دې کی امام زفر مخالف دی هغه وائی چه په تیمم کی نیت نه دی فرض۔ او تیمم دخولی نیت داسی دی۔ نیت لرم د تیمم د پاره د لمانځه یا د تلاوت۔

دیرفقهاء وائی چه نیت په اوداسه کی سنت دی۔ او مستحب تر سنت کم دی په درجه کی۔ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ وَعِلْمُهٗ اَتَقَنُ۔

وَيَنْقُضُ التَّيَمُّمَ كُلُّ شَيْءٍ يَنْقُضُ الْوُضُوْءَ

او ماتوی تیمم هر هغه شی چه او دس ماتوی۔ (لکه بول، باد، غائط، وینی وغیره چه په باب کی د نواقض الوضوء په تفصیل سره ذکر سوله۔

وَيَنْقُضُهُ اَيْضًا رُؤْيَةُ الْمَاءِ اِذَا قَدَرَ عَلٰى اِسْتِعْمَالِهٖ

او همدارنګه ماتوی تیمم لیدل داوبو چه قادر وی پر استعمال د هغه او بو۔

یعنی کله چه په څاه کی ولیدلی او سړی اکبلو شی نه وو هم تیمم وړ نه سره وادی۔

پوښتنه! چه ماتول د تیمم هغه وخت دی چه تیمم ئی په سبب د اوبو د نه سی

کړی وی۔ او که تیمم ئی په سبب د نا نیز سړی یا بل سبب کړی وو هغه تیمم په لیدلو داوبو نه ماتیږی۔ بلکه هغه وخت ماتیږی چه عذر نه وی۔

وَلَا يَجُوْزُ التَّيَمُّمُ اِلَّا بِصَعِيْدٍ طَاهِرٍ

اونه دی سره وا تیمم مکر په مخکه پاکه باندی۔

دلیل دا چه په قرآن شریف کی سره اغلی دی، صَعِيْدًا طَيِّبًا، او د طیب معنی پاکه او امام شافعیؒ وائی چه د صعید معنی شنه کونکی دوینو نوپس سړه یا تر څه مخکه تیمم نه دی سره وا۔ هدایه ص۵۳

وَيُسْتَحَبُّ لِمَنْ لَمْ يَجِدِ الْمَاءَ وَهُوَ يَرْجُوْ اَنْ يَّجِدَهٗ

او مستحب دی هغه سړی ته چه او به خو نه لری او ئی امید لری چه پیدا به کړم او به

فِيْ اٰخِرِ الْوَقْتِ اَنْ يُّؤَخِّرَ الصَّلٰوةَ اِلٰى اٰخِرِ الْوَقْتِ

په اخیر کی د وخت۔ دا چه ودی خندوی لمونځ تر اخره پورې د وخت۔

بنهانه فائده۔

سړی جاهل ته په معنی د یقین یا غالب گمان دی۔ او که چیرې ئی شک وو نو دی لمونځ تر اول د وخت مستحب نه خندوی۔

مسئله! دا خندونکی هلته مستحب دی چه په ماپین کی د سړی او د هغه څای چه داوبو امید ئی وی یو میل یا بالا مسافت وی۔ او که مسافت کم وی بیا خو تیمم سره وا نه دی۔ کوکب دری ملا

مسئله! دا خندونکی تر اخیر د وخت د جواز د لمانځه دی لکه څنګه چه وائی لکن صحیح داده چه دا خندونکی تر اخیر د وخت مستحب دی۔ کوکب دری

د بعضی علماؤ څخه شکایت

هغه څه چه دی بیله کوم عذر سره لمونځ نه تر اخیره د وخت مستحب خندوی بلکه وخت مکروه تنزیهی سره سوی۔ یا د مقتدی یا نوپه مراعت۔ یا د څلو شخصی ضرورت یا توله کبله مثلاً د ماښام دیګر لمونځ هغه وخت کوی چه د ماښام آذان نه نیم ساعت پاته وی دا یقیناً وخت مکروه کړی۔ او د سحار لمونځ هغه وخت کوی چه تر لمر خټو پورې نیم ساعت پاکم پاته وی۔ دا یقیناً اخیر د مستحب دی۔ ولی د سحار لمونځ باید داسی وخت خلاص سی چه کرښې یوسړی په اخیره ناسته کی او د سهات سی او خبری وکړی لمونځ ئی فاسد سی

نږدی اودس تازه کړی په قرائتِ مسنون د سحار لمونځ تر طلوع دلمر هغکی ادا کولای سی۔ ردی اودماپښین لمونځ داسی وخت کوی چه دامام شافعیؒ اودامام محمدؒ اودامام ابویوسفؒ په نزد دماښه دیگر وخت داخل وی (یعنی په دوچندی کی) اوداخو بنه خبره نده چه لمونځ په اختلاف کی دامامانو دمذهب سره واقع کړی۔ بلکه باید دماپښین لمونځ تر یکچندی هغکی ادا سی چه په اتفاق صحیح سی۔

اودماخستن لمونځ ثلث اللیل چه مستحب وخت دی۔ هغه چیری بلکه دماخستن اذان قبل الوقت یعنی د شفق تر لوید و هغکی کوی۔ اودماخستن لمونځ په اول کی د وخت ادا کوی۔ ولی چه د مقتدیانو نو دبی بی سی (BBC) د سادیو وخبرونه تلواسه وی۔ حاصل داچه لمونځونه دمقتدیانو نوپه سر ضا سره ادا کړی۔ د داسی ملا یانو نځه چه پوښتنه وکړی چه ته ولی لمونځونه په داسی وختونکی کوی؟ نو دی جواب داسی وائی چه زه د دیر والی دجماعت مراعت کوم۔ مګر داجواب غلط دی ولی چه د دیر والی دجماعت په سبب لمونځ باید وقتِ مکروه ته ونه رسول سی۔ یا تر وقتِ مستحب دمخه یاوسته اداء نه سی۔

فَإِنْ وَجَدَ الْمَاءَ تَوَضَّأَ وَصَلَّى وَإِلَّا تَيَمَّمَ

نو پس لمونځ ولو دلمانځه تر اخره پوری د وخت۔ کوی پیدا کړی اوبه اودس به تازه کړی اوکه اوبه نه کړی پیدا تیمم به وکړی۔

وَيُصَلِّي بِتَيَمُّمِهِ مَا شَاءَ مِنَ النَّوَافِلِ وَالْفَرَائِضِ

اوادا کوی دی په تیمم سره د دغه چه د دغه خوښه وی د نفلی لمونځونه اوفرضی لمونځونه۔

مسئله! په یوه تیمم سره وادی هر څولمونځونه کفرض وی کنفل وی که په یوه وخت کی وی که په دیر و وختونکی وی ترهغو چه بې اودسه سوی نه وی یا اوبه نه وی پیدا کړی دامذهب دامام اعظم رحؒ۔ اوامام شافعیؒ وائی چه هر فرضی لمانځه ته به علیحده تیمم کوی په هغه وخت کی سنت اونفل په کولای سی۔

فائده! کوم تیمم وکړی د نفلو د پاره په هغه تیمم فرض لمونځ هم کولای سی۔ اویا فرض تر وخت د هغه تیمم وکړی لمونځ په سره وادی۔ امام شافعیؒ په دواړو صورتونو کی مخالف دی۔

وَيَجُوزُ التَّيَمُّمُ لِلصَّحِيحِ الْمُقِيمِ إِذَا حَضَرَتِ

اوسره وادی تیمم د پاره د جوړ سړی چه مقیم هم وی چه حاضر کنه سی

جَنَازَةٌ وَالْوَلِيُّ غَيْرُهُ فَخَافَ إِنِ اشْتَغَلَ بِالطَّهَارَةِ

جنازه اومتصرف د جنازې بل څوک وی۔ پس دی بیریدی کنازه مشغول سم په اوداسی اوکه متصرف د جنازې دی وو بیا تیمم نه دی سره وا بلکه جنازه دی وخنډوی۔

أَنْ تَفُوتَهُ صَلَوةُ الْجَنَازَةِ فَلَهُ أَنْ يَتَيَمَّمَ وَيُصَلِّيَ

چه نه ماځه به فوت سی د جنازې لمونځ پس سره وادی و دغه ځکه تیمم وکړی اود جنازې لمونځ وکړی په حدیث مبارک کی راغلی دی کنا ته جنازه حاضره سوه اوته بې اودسه وې تیمم وکړه۔

وَكَذَالِكَ مَنْ حَضَرَ الْعِيدَ فَخَافَ إِنِ اشْتَغَلَ بِالطَّهَارَةِ أَنْ تَفُوتَهُ

اودغه سړی نکره سره وادی تیمم وهغه چا ځکه داختر لمانځه ته حاضر سی اوبیریدی کنازه اودس کوم داختر لمونځ سره ځنه تیرین دی۔

مسئله! په هغه وخت کی تیمم سره وادی چه تول لمونځ څنی تیرین دی۔ اوکې بعضی لمونځ پاتی سو بیا تیمم نه دی سره وا۔

قاعده! هر لمونځ چه عوض نه لری وهغه ته تیمم سره وادی چه پرې یا ته کید وفی بیریدی کنا اودس کوی۔ لکه د جنازې او داختر لمونځ۔ اوهر لمونځ چه عوض لری وهغه ته تیمم نه دی سره وا کنځه هم فوتیږی۔ لکه د جمعې لمونځ چه عوض ئی د ماپښین لمونځ دی۔ کوکب دهـ۔

وَإِنْ خَافَ مَنْ شَهِدَ الْجُمُعَةَ إِنِ اشْتَغَلَ

اوکه چیری بیر ځ هغه سړی چه د جمعې دلمانځه وخت پوراغلی کنه چیری نه مشغول له سم په

بِالطَّهَارَةِ أَنْ تَفُوتَهُ الْجُمُعَةُ تَوَضَّأَ فَإِنْ

په اوداسه د جمعې لمونځ سره ځنه پاتیږی هغه به اودس تازه کوی۔ نو کنه د جمعې

أَدْرَكَ الْجُمُعَةَ صَلَّاهَا وَإِلَّا صَلَّى الظُّهْرَ أَرْبَعًا

ملانځه تر وخته سین ی خو د جمعې لمونځ به وکړي او که د جمعه یتو کاسوه نو د ما پښین لمونځ به څلور رکعته وکړي

حاصل داچه د جمعې د لمانځه د پاره تیمم نه د ی روا کړ شه هم د جمعې لمونځ پاتې ی

مسئله! د سجدهٔ تلاوت د پاره تیمم نه د ی روا - ولې چه هغه قضا نه لري بیا د ې بل وخت وکړي - او د غه رنګه د قرآن شریف د مسه کولو د پاره تیمم نه د ی روا - ولې چه ضرورت وړ نه ښکته

وَكَذَلِكَ إِنْ ضَاقَ الْوَقْتُ فَخَشِيَ إِنْ تَوَضَّأَ فَاتَهُ الْوَقْتُ

او د غه رنګه که وخت تنګ و او وسې بیرې نه کړه او د س تا نه ره کوم لمونځ قضا کیږي (یعنې

لَمْ يَتَيَمَّمْ وَلَكِنَّهُ يَتَوَضَّأُ وَيُصَلِّي فَائِتَتَهُ

وخت وړی) هغه د ی تیمم نه وهي بلکه او د س د ی تا نه ره کړي او لمونځ د ی قضا ئ وکړي.

وَالْمُسَافِرُ إِذَا نَسِيَ الْمَاءَ فِي رَحْلِهِ فَتَيَمَّمَ وَصَلَّى

او مسافر که چیرې خپل هیر ی سوې او به په بار کې پس تیمم ئ وکړي او لمونځ ئ وکړي

ثُمَّ ذَكَرَ الْمَاءَ فِي الْوَقْتِ لَمْ يُعِدْ صَلَوتَهُ عِنْدَ

او بیا ورته یاد سوې او به په وخت کې (یعنې وخت پاتې وي) نو لمونځ د ی نه ړا کړ خوي

أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ يُعِيدُ

په نزد د امام اعظم او امام محمد او امام ابو یو سف وائي چه لمونځ د ی ړا وکړ خوي

پوه سه! چه قید د مسافر اتفاق د ی - د مقیم هم د غه حکم د ی - قاضیخان -

فائده! د امسئله د ری قسمه ده! اول او به د پخله په بار کې ایښې وي - لکن په وخت د او د اسه کې ئ طلب ونه کړي او تیمم ئ وکړي نو لمونځ ئ نه د ی روا په اتفاق - ولې چه ده سستي وکړه چه طلب ئ ونه کړ ئ -

دوهم! مزدور او به ایښې وي او د ی نه وي په خبر په د ې صورت کې تیمم روا د ی او چه لمونځ ئ صحیح سو نو روسته چه او به ئ ولیدې لمونځ ړا کړ خیده نسته پرده په اتفاق -

دریم! او به خو ده ایښې وي لکن بیا ئ هیر وي دا هغصورت د ی چه پرمتن کې ذکر سو - کذا فی الزاهدی نقل للوکیب

وَلَيْسَ عَلَى الْمُتَيَمِّمِ إِذَا لَمْ يَغْلِبْ عَلَى ظَنِّهِ أَنَّ

اونسته پر تیمم کوونکی باند ی چه غالبه نه وی پر کمان د د ه چه نز د ی

بِقُرْبِهِ الْمَاءُ أَنْ يَطْلُبَ الْمَاءَ

و د ه نه او به نسته - د اچه طلب د او بو وکړي -

بلکه تیمم د ی وکړي او لمونځ د ی اداء کړي - که غه هم بیا په وخت کې او به پیدا کړي د لمانځه ړا کړ خیده پر نسته -

فائده! د امسئله د هغه حیوان په صحرا کې د ی - ولې چه غالبه په صحرا کې او به نسته - او په آبادو ځایو کې طلب د او بو پر واجب د ی -

وَإِنْ غَلَبَ عَلَى ظَنِّهِ إِنْ هُنَاكَ مَاءً لَمْ يَجُزْ لَهُ

او که غالبه وي پر کمان د د ه چه د لته او به نسته (یعنې په یو کاروان کې علامه سره لکه شنې درختې ړا وانده

أَنْ يَتَيَمَّمَ حَتَّى يَطْلُبَهُ وَإِنْ كَانَ مَعَ رَفِيقِهِ مَاءٌ

د ه تر چه تیمم وهي تر هغو چه طلب د او بو د ی وکړي - او که چیرې وي سره د ملګري د د ه او به

طَلَبَهُ مِنْهُ قَبْلَ أَنْ يَتَيَمَّمَ فَإِنْ مَنَعَهُ مِنْهُ تَيَمَّمَ

طلب د ی ځنې وکړي د هغه تر تیمم کولو نو که هغه ملګري منع ونه کړ ئ بیا د ی تیمم وکړي

وَصَلَّى ؛

او لمونځ د ی اداء کړي ؛

دلیل ئ دا د ی چه د اسې واجد د او بو د ی نظر د لیل نه چه د د ه غالبه ظن د ی - هم د لیل ئ دا د ی چه غالب د اده چه د او د اسه او به ځوک نه منع کوي نو هم وخت چه هغه منع وکړ ئ نو د ی عاجز ه سو نو تیمم وړ نه روا د ی -

بَابُ الْمَسْحِ عَلَى الْخُفَّيْنِ

باب دی په بیان کے د مسحے پر مونړ و باندی

پوهه سه! چه مسح په لغت کی تړل دلاس دی پرشی باندی او په شرع شریفه کی تړل دی دلاندی لاس پرخاصه مونړه چه بیان ئې ړاسی په خاص وخت کی چه ذکر ړسی په متن کی دکتاب ان شاء الله تعالی۔

مسئله! مصنف ؒ وایی ، علی الخفین، اشاړه ده دی حکم ته چه مسح پر یوه مونړه ړوانده۔ مګر هغه چاته ړواده چه یوه پښه ئې ترپلکه لوړه پرې وی۔ قاضیخان۔

اَلْمَسْحُ عَلَى الْخُفَّيْنِ جَائِزٌ بِالسُّنَّةِ

مسح پر مونړو باندی ړواده په سنت نبوی م ثبت ده۔

فائده! حدیث په اصطلاح کی قول ته د نبی علیه السلام وائی۔ او سنت عام دی قول د نبی علیه السلام او فعل ته د ده ؑ او تقریر ته د ده ؑ وائی۔ نو چه مصنف ؒ سنت وایه اشاړه ئې وکړه چه مسح دمونړو په قول او په فعل او په تقریر د نبی علیه السلام ثابته ده۔

آګاهی! مسح دمونړو ړوافض اوخوارج نه منی بلکه پرلخه پښه مسح ړوابولی۔ نو ړ ټوله امت پر متفق دی۔

ضروری پوهنه

امام الحسن البصری وائی چه ما اویا کسه د صحابه ؓ څخه لیدلی دی چه توله مسح دمونړو جائز بلله او عمل ئې په کاوه۔ او امام اعظم ؒ وائی چه ما جوازه د مسح نه دی ویلی تر څوچه ماته د ړسیدلی د نبی ﷺ نا په شان حدیثونه ړسیدلی۔ اوهم دی مبارک وائی چه زه بیړه دکفر لرم پر هغه چا چه مسح دمونړو نه منی۔ ولی چه اثار په دې باب کی لکه متواتر دی۔ او امام ابویوسف ؒ وائی چه په حدیث د مسح دمونړو نسخ د قرآن شریف ۔ ړاځه ولی چه د غه حدیثونه مشهور ړادی۔ او امام احمد بن حنبل ؒ وائی چه زما په زړه کی دا ړاوالی د مسح دمونړو هیڅ شک نشته ولی چه ماته په دې باب کی د څلویښتو صحابو ؓ احادیث ړسیدلی دی۔

اختلاف د فقهاؤ

بعضی علماء وائی چه دسړی چه مونړې په پښو وی نو مسح ئې افضله ده تر دې چه مونړې کاږی او پښې پریمنځی۔ ولی چه پرخوارجو اوړه د افضیلت نه ړه د او مخالفت ړاسی د اقول دابن عمر ؓ په شرح کی د بخاړی۔ او امام خواهرزاده وائی چه پښې پریول افضل دی او هدایه څخه همدغسی معلومیږی۔ او قدوړی ؒ په دې قول کی چه جائز ئې وویل او مستحب ئې نه وویل اشاړه ده دغه مذهب ته ده۔

مِنْ كُلِّ حَدَثٍ مُوجِبٌ لِلْوُضُوْءِ

د هړی هغه بی او دسی څخه چه او دس ماتوی۔

فائده! که پر سړی غسل واجب وی مسح نه ده ورته ړاوا۔

إِذَا لَبِسَ الْخُفَّيْنِ عَلَى الطَّهَارَةِ ثُمَّ أَحْدَثَ

کی په پښو کړې مونړې پر طهاړة او پاکی باندی او بیا بې او دسه سو۔

فائده! په بعضو نسخو کی د قدوړی او په نورو دیر و کتابو کی همړاغلی دی چه ، عَلَى طَهَارَةٍ كَامِلَةٍ ، لکن دا شرط د کمال طهارت په وخت کی دا غوستو دمونړو نه غواړی۔ حتی که یو سړی تر او داسه څنګی پښې پری منځی او مونړې بې پښو کړې بیائی وړوسته نور او دس وکړی۔ مسح ورته ړاوا ده۔ البته په وخت د بې او دسیا کی بې طهاړة کامل اوپوړه وی۔ کوکب دړی ص ۱۳

فَإِنْ كَانَ مُقِيمًا مَسَحَ يَوْمًا وَلَيْلَةً

کچیړی پرکور وو یعنی مسافر نه وو نو د مسح کوی یوه ورځ اویوه شپه۔

لکن دا شبار ونه د وخته څخه د بې او دسیا حسابیږی نه د وخته څخه د مونړو اغستلو۔ کذا فی ړد المحتار بل فی جمیع کتب الفقه۔

وَإِنْ كَانَ مُسَافِرًا مَسَحَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ وَلَيَالِيهَا

او که سړی مسافر وو مسح د کوی د ړی ورځی او د ړی شپې

وَابْتِدَائُهَا عَقِيبَ الْحَدَثِ

اوشروع دمسحې دمسحې دوخت څخه دې اودسیا حسابیږي۔ هم داڅه مضمون صراحةً په حدیث کې راغلی دی

وَالْمَسْحُ عَلَى الْخُفَّيْنِ عَلَى ظَاهِرِهِمَا خُطُوطًا بِالْأَصَابِعِ

او مسح دموزو پر ظاهره برخه کیږي خطونه په ګوتو سره۔

مسئله! صورت دمسحې دادی چه کښیږدی دړې ګوتې دراسته لاس دراستې پښې دموزې پر منځ دسره څخه۔ اودچپه لاس دړې ګوتې پرچپه موزه اوګوتې دی لږ خلاصې وښی۔ اوبیادی کش کړي دواړه لاسونه تر پونډې پورې تر بجلکولو پورې۔ داطریقه سنت ده۔

يَبْتَدِئُ مِنَ الْأَصَابِعِ إِلَى السَّاقِ وَفَرْضُ ذَالِكَ

اوشروع دمسحې دی کوي دپښو دګوتو څخه تر پنډې پورې۔ اوفرض دمسحې

مِقْدَارُ ثَلٰثِ أَصَابِعَ مِنْ أَصَابِعِ الْيَدِ

اندازه ددرو ګوتو دی۔ دیوې توڅنې دلاس۔

فائده! مصنف والی مقدار۔ اشاره ودې ته کوي چه فرض دمسح خاص ګوتې تیرولو نه دی۔ بلکه په درو غوی کې څه مقدار مسح کړي۔ یاموزه په اوبو چې کړي یادڅه مقدار دپاسه ان په اوبو لنده سې همدومسح فرض اداء کیږي۔

مسئله! دخطو بنکاریدل پر موزو فرض نه دی۔ کوکب دری ص۱۳۰

وَلَا يَجُوزُ الْمَسْحُ عَلَى الْخُفَّيْنِ فِي أَحَدِهِمَا خَرْقٌ كَثِيرٌ

اونه دی روا مسح پرهغو موزو چې په یوه کې دوه ګوتو دوو خیري والی وي دیر

يَتَبَيَّنُ مِنْهُ قَدْرُ ثَلٰثِ أَصَابِعَ مِنْ أَصَابِعِ الرِّجْلِ وَإِنْ كَانَ

چه تر معلومیږي اوظاهریږي تر هغه خیري ځای اندازه ددرو ګوتو ګوتو څخه دپښې اوکه چیري

أَقَلَّ مِنْ ذَالِكَ جَازَ

کم وتر هغه بیا مسح پرې روا ده۔

لکن اعتبار دمسح کوونکي ګوتو ته دپښو دی۔ دلیل ئې دادی چه موزه په غالب ګی دلږ خیري والی څخه نه خلاصیږي۔ نو دپاسه دوه دفع دحرج او تکلیف تردرو ګوتو کم عفوه دی۔ درمختار۔ بحر۔

وَلَا يَجُوزُ الْمَسْحُ لِمَنْ وَجَبَ عَلَيْهِ الْغُسْلُ

اونه دی روا مسح کول هغه چا ته چې پرهغه غسل واجب وي

په حدیث شریف کې چه روایت ئې ترمذي او نسائي کړی دی۔ صفوان ابن عسال وائي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ امر کولو چه موږ مسافر یو۔ چه نه به کابت وهوزه پرې وړځی اودپرې شپې۔ یعنی مسح به پرې کوو۔ مګر نه جنابت څخه یعنی په جنابت کې مسح مه کوی۔

وَيَنْقُضُ الْمَسْحَ مَا يَنْقُضُ الْوُضُوءَ وَيَنْقَضِيهِ

اوهاتوی مسح هغه شی چه اودس ماتوی۔ اودهغه رنګه ماتوی مسح ختل د

أَيْضًا نَزْعُ الْخُفِّ وَمَضِيُّ الْمُدَّةِ فَإِذَا مَضَتْ

موزې (که په قصد وی اوکه بې قصده وی) اوبل تیریدل دمدې دمسحې (که مسافر وی که مقیم) پس څه وخت

الْمُدَّةُ نَزَعَ خُفَّيْهِ وَغَسَلَ رِجْلَيْهِ وَصَلّٰى

چه تیره سې مدې دمسحې ودې کاږي موزې اوپرې دی منځې پښې اولمونځ دی وکړي۔

وَلَيْسَ عَلَيْهِ إِعَادَةُ بَقِيَّةِ الْوُضُوءِ

اونسته پرده باندې راګرځول دنورو اوداسه۔

یعنی کې اودس دسلولو دی۔ دلیل دادی چه موزې ئې وکښې هغه دڅه بې اودسیا وپښو تر راغله۔

وَمَنِ ابْتَدَأَ الْمَسْحَ وَهُوَ مُقِيمٌ فَسَافَرَ قَبْلَ تَمَامِ

اوکه چاشروع کړه مسح دموزو اودی مقیم وو۔ پس مسافر سو دڅه تر پوره کیدو

يَوْمٍ وَّلَيْلَةٍ مَسَحَ ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ وَّلَيَالِيَهَا

دیوه شبا روڼه مسح دی وکړی تر نمامید ودرو وروڅو اودرو شپو پورې۔
یعنی کویا دسږ څخه مسافر وو۔ اوامام شافعیؒ وائی چه دغه سړی مسح دمسافر نه سی کولای بلکه دمقیم مده دی ختم کړی۔

وَمَنِ ابْتَدَءَ الْمَسْحَ وَهُوَ مُسَافِرٌ ثُمَّ اَقَامَ

اوکه چاشروع کړه مسح اودی مسافر وو اوبیا مقیم سو۔ (یعنی وطن ته ورسیدی یانی نیت داقامت دپنځلسو ورځو وکړی۔)

فَاِنْ كَانَ مَسَحَ يَوْمًا وَّلَيْلَةً اَوْ اَكْثَرَ لَزِمَهُ نَزْعُ خُفَّيْهِ

نو کې مسح کړې وه یو شبا روڼه یا زیات تردې نو لازم دی پرده کښل دهوڼه واوکه

وَاِنْ كَانَ اَقَلَّ مِنْهُ تَمَّمَ مَسْحَ يَوْمٍ وَّلَيْلَةٍ

چیرې کم تر شبا روڼو نو مسح دې پوره کړی۔ یعنی بیادې مونږې وکابزی اوپښې دې پریښې۔

وَمَنْ لَبِسَ الْجَرْمُوْقَ فَوْقَ الْخُفِّ مَسَحَ عَلَيْهِ

اوکه چاپه پښو کړې جرموق سر بیره پرهونږه مسح دې کړې پرجرموق باندې۔

پوښتنه! چه جرموق هغه لوی بوټ دی چه دهونږې دحفاظت دپاره ئې پرهونږه سر بیره اغوندی۔
مسئله! مسح پرجرموق په دوه شرطه روا ده۔ یو داچه جرموق به دونږ قدم اوپه داسې شان وی که یوانی وی هم به مسح پرې روا ده۔ نو که چیرې جرموق دپیره څیرې وه مسح نه ده پرې روا۔ دوهم داچه پرهونږه نه وی ځړې۔ هغه داسې چه څه وخت چه ئې مونږې پرپښو کړې نو دغه تراو دس هایند وئې جرموق پرپښو کړې اوکه چیرې مه ... پښو کړی اودس ئې مات کړی بیائی مسح پرهونږو وکړه بیائی جرموق پرپښو کړې نو مسح پرجرموق نه ده روا۔ کوکب

وَلَا يَجُوْزُ الْمَسْحُ عَلَى الْعِمَامَةِ وَالْقَلَنْسُوَةِ وَالْبُرْقُعِ وَالْقُفَّازَيْنِ

اونه ده روا مسح پرپنکوته اوپرخولې اوپرنقاب اوپر دستانې باندې۔
ولې چه دې شیانو پرکښلو کې حرج نشته اومسح دپاره ئې دفع حرج روا کیږی۔

وَيَجُوْزُ عَلَى الْجَبَائِرِ وَاِنْ شَدَّهَا عَلٰى غَيْرِ وُضُوْءٍ

اوروا ده مسح پرسکنده وباندې (یعنه ماتې یاخونږ خای چه ئې ترلې وی که څه مسکنده پرې بې وضا ترلې وی)

مسئله: مسح پرترلې خای هلته روا ده چه خلاصول ئې ضرر ری اوپامسح پرتپ تاوان لری، نو بناء غلبه کې پلستر پریو خای اچولې وی چه لیری کول ئې تاوان نه کاوه مسح ده پرې روا که څه هم مالی تاوان دی۔

فَاِنْ سَقَطَتْ مِنْ غَيْرِ بُرْءٍ لَمْ يُبْطِلِ الْمَسْحَ وَاِنْ

پس که چیرې سکنده ولویده بې له جوړه والی دخای بیرته دی وترې مسح ئې نه باطلیږی اوکه هغه

سَقَطَتْ عَنْ بُرْءٍ بَطَلَ ؕ

خای جوړ وو مسح باطله سوه۔ هغه خای دی پریښې اودنورو اودس تازه کول ئې غواړی ؕ

پوښتنه! چه دامذهب دامام اعظمؒ دی۔ دلیل ئې دادی چه په عادت کې په ښالی جوړو کې څوک تک نه کوی نو لکه څوکر چه ئې پښو پیچلی وی۔ خلاف دعجلدینو اومنعلینو چه په هغوی تک کیدای سی۔

وَقَالَا يَجُوْزُ اِذَا كَانَا ثَخِيْنَيْنِ لَا يُنْشَفَانِ

اویاران وائی چه مسح پرجرابو روا ده چه کلکی اوسختی وی۔ اودباندی څخه پښه نه ترمعلومیږی

پوښتنه! چه اندازه دثخانت داده چه پرپښې باندې بیله ترلو پته تناؤ ولاړ وی۔
مسئله! پرپلاستیکی جرابو کې څه هم پرپښې پخپله تکه کیږی مسح نه ده پرې روا ولی چه په دغو جرابو کې کشکان ورکړې دی نو هغه لکه په تناؤ ترلې وی۔
مسئله! په ذخیره کې راوړې دی چه امام اعظمؒ دهغه تر مرګ اوه ورځې یادې وړځې وقول تدیاړا نورجوع وکړه۔ وعلیه الفتوی۔ کوکب دری صـ۱۴

وَلَا يَجُوْزُ الْمَسْحُ عَلَى الْعِمَامَةِ وَالْقَلَنْسُوَةِ وَالْبُرْقُعِ وَالْقُفَّازَيْنِ

اونده روا مسح پرپنکوته اوپرخولې اوپرنقاب اوپر دستانې باندې۔
ولې چه دې شیانو پرکښلو کې حرج نشته اومسح دپاره ئې دفع حرج روا کیږی۔

وَيَجُوْزُ عَلَى الْجَبَائِرِ وَاِنْ شَدَّهَا عَلٰى غَيْرِ وُضُوْءٍ

اوروا ده مسح پرسکنده وباندې (یعنه ماتې یاخونږ خای چه ئې ترلې وی که څه مسکنده پرې بې وضا ترلې وی)

مسئله: مسح پرترلې خای هلته روا ده چه خلاصول ئې ضرر ری اوپامسح پرتپ تاوان لری، نو بناء غلبه کې پلستر پریو خای اچولې وی چه لیری کول ئې تاوان نه کاوه مسح ده پرې روا که څه هم مالی تاوان دی۔

فَاِنْ سَقَطَتْ مِنْ غَيْرِ بُرْءٍ لَمْ يُبْطِلِ الْمَسْحَ وَاِنْ

پس که چیرې سکنده ولویده بې له جوړه والی دخای بیرته دی وترې مسح ئې نه باطلیږی اوکه هغه

سَقَطَتْ عَنْ بُرْءٍ بَطَلَ ؕ

خای جوړ وو مسح باطله سوه۔ هغه خای دی پریښې اودنورو اودس تازه کول ئې غواړی ؕ

بَابُ الْحَيْضِ

باب دی په بیان کی د احکامو د حیض

فائده! اګرچه په دې باب کی احکام د نفاس هم بیا ئینږی لکن چونکه حیض دیر واقع کیږی نو ئی حکمه عنوان د باب حیض وګرځاوه۔

بنهانه فائده

نو موږ د پښتو بنځی د احکامو څخه د حیض او نفاس او استحاضه دیری ناخبری دی۔ ولی چه دینی تعلیمات سپاره، قرآن شریف او شروط الصلوة دی۔ په دې کی احکام مذکوره د دوئ نه نه بیا ئینږی۔ او اکثره بنځی لږه کوچنی والی کی وائی او په هغه عمر کی د حیض وغیره سره هیڅ علاقه نه لری۔ او بیا ئی چه لویانی سی نو اول خو هم بنو وینکی نه لری او کی ولری بیا په نږده کره ئی نه شرمیږی۔ هم بنو وینکی تفصیلی بیان د شرمه نه سی وړته کولای۔ او په بنځه د شرمه څخه تفصیلی پوښتنه کولای سی۔ لهذا دی باب وعالم النسا، ته د دې اهمیت سته

تن نږدان دیری بنځی په مکتبو او اسکولونو کی تعلیم یافته او خطونه نږده دی۔ نو دوئ په آسانۍ سره کولای سی چه د دې پښتو ترجمی څخه د قدورې لوی فائده او خبرتیا تر لاسه کړی۔ او چونکه بنځه د بنځی په نږده کره د دغو احکامو نه شرمیږی۔ لهذا کولای سی د تعلیم بنځی د تعلیم یافته بنځو څخه خپل خانونه په دغو احکامو او تفصیل خبر کړی۔

پوهه سره واوره! چه حیض وینی دی چه د اونۍ د میاشتی یعنی عیال د جوړیدو د دځای څخه د بنځی چه د مړینی په وجه نږدی۔ که د ناجوړی د سببه وی مګر استحاضه بولی او بنځه هم کوچنی نږدی که کوچنی وی مګر د رحم یا دانی وینه ده۔ د رنګونه نی دادی۔ سره۔ توره۔ شنه۔ سپینه۔

فائده! د بنځی بلوغ پر نهه کالنۍ شروع کیږی۔ او اوعلی دقاق وائی چه دوولس کاله او بعضی وائی پر شپږ کاله او بعضی وائی اوه کاله او بعضی وائی پر اته کاله باندی شروع کیږی۔ لکن عینی او برجندی او نور دیر علماء وائی چه صحیح اول مذهب دی۔

أَقَلُّ الْحَيْضِ ثَلٰثَةُ أَيَّامٍ وَّلَيَالِيْهَا وَمَانَقَصَ مِنْ ذَالِكَ

کم موده د حیض دری ورځی او شپی دی۔ او تر دې چه کمی وی پس هغه حیض نه دی

فَلَيْسَ بِحَيْضٍ بَلْ هُوَ اسْتِحَاضَةٌ

بلکه مرض او ناجوړی ده۔ په تصحیح حدیث کی چه روایت فی صحاح ستة کوی هم دغه موده تر اکثره سوې ده۔

وَاَكْثَرُهُ عَشَرَةُ اَيَّامٍ وَمَازَادَ عَلٰى ذَالِكَ فَهُوَ اسْتِحَاضَةٌ

او دیره موده د حیض لس ورځی دی۔ او چه تر دې نږدی سی هغه ناجوړی ده۔

وَمَاتَرَاهُ الْمَرْأَةُ فِىْ اَيَّامِ الْحَيْضِ مِنَ الْحُمْرَةِ وَالصُّفْرَةِ

او هغه چه وې وینی بنځه په ورځو کی د حیض سره یا شنه ږی

وَالْكُدْرَةِ فَهُوَ حَيْضٌ حَتّٰى تَرَى الْبَيَاضَ خَاصَّةً

یا سپیره وینی هغه ټوله حیض دی۔ تر هغوچه وینی بنځه سپینی او به خالصی۔

او هم د غه مضمون په حدیث کی د بی بی عائشه رض چه روایت فی بخاری، مسلم۔ ترمذی کړی دی راغلی دی۔

وَالْحَيْضُ يَسْقُطُ عَنِ الْحَائِضِ الصَّلٰوةَ وَيُحَرِّمُ

او حیض ساقطوی د حائضې څخه لمونځ (یعنی قضا فی هم پرنږدی) او حرامووی پر دې

عَلَيْهَا الصَّوْمَ وَتَقْتَضِى الصَّوْمَ وَلَا تَقْتَضِى الصَّلٰوةَ

باندی روژه او قضا به راوړی د روژو۔ او قضا نږدی پر دی باندی، لمونځو۔

دې وجه علاوه پر دې چه په حدیثو کی راغلی دی داده چه دلمونځو په راکولو کی تکلیف دی۔ ولی چه لمونځونه په ورځو کی د حیض دیر راځی۔ او د روژو په قضا کی حرج نږدی ولی چه په یوه میاشت کی یو څو ورځی دی۔

مسئله! که د بنځی روژه وه او په مابین کی د وړځی بلکه که څه هم مازیګر وی د حیض د راغلی روژه ئی ماته سوه۔ نیول ئی تر ما بنام حرام دی۔ او د غی ورځی به قضاء راوړی۔

مسئله! کہ بنځه د حیض څخه پرته مابین کی دوه ورځی پاکه سوه هغه وخت دی تر مابنامه امساک وکړی او هم دی بیا د دغی ورځی قضا ، ساه وړی۔

وَلَا تَدْخُلُ الْمَسْجِدَ وَلَا تَطُوْفُ بِالْبَيْتِ

او نه دی ورځی حائضه بنځه مسجد ته او نه دی طواف کوی پر کعبه شریفه باندی

او جنب هم داغه حکم دی۔ په حدیث شریف کی راغلی دی چه آنحضرت صلی الله علیه و. لم وائی زه حلال نه یولم مسجد وحائضې او جنب ته۔

وَلَا يَأْتِيهَا زَوْجُهَا

او نه دی ورځی وحائضې ته میړه د دې (یعنی جماع دی نه وړسه کوی۔

قرآن مجید! ، وَلَا تَقْرَبُوْهُنَّ حَتّٰى يَطْهُرْنَ، یعنی تاسی مه نزدې کیږی وحائضو بنځو ته تر هغو چه پاکیږی د حیض څخه۔

وَلَا يَجُوْزُ لِحَائِضٍ وَلَا لِجُنُبٍ قِرَاءَةُ الْقُرْاٰنِ

او نه دی ورځی وحائضې ته او نه جنب ته قرائت د قرآن پاک کې څه هم په یاد وائی۔

مسئله! وجنب او حائضې ته د کلمې شریفې ویل۔ سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ۔ سلام اچول۔ سلام اچول مطلب دا چه ماسوا د قرائت د قرآن نوره د تولو اذکارو اجازه ورکړه شوې ده۔

د غفلت څخه! بعض عوام بلکه بعض طالبان هم چه جنب سی پس سره پتو اچولی وی او کښته کوږی۔ نو چا ته سلام اچوی او نه جواب ورکوی۔

وَلَا يَجُوْزُ لِلْمُحْدِثِ وَالْجُنُبِ وَالْحَائِضِ

او نه دی ورځی او دسه سړی ته ، جنب ته او حائضې بنځی ته

مَسُّ الْمُصْحَفِ اِلَّا اَنْ يَّأْخُذَ وَهُوَ بِخِلَافِهٖ

هسه کول د قرآن شریف مکر هغه وخت کې وښځی سړه نه پوه شه

مسئله! د پوښته څخه هغه پوښ مواد دی چه د قرآن شریف څخه جلا وی۔ که پوره کتنه لری وی یا سرلیک وی د هغه پوښ سره هسه کول نارواوی۔ هدایه ص۴۲

مسئله! ودغو کاغذونو ته نیول د قرآن شریف په لستونی یا په قمیص مکروه دی۔ هدایه ص۴۲

مسئله! ونابالغو کوچنیانو ته قرآن شریف سره دبی او د سیاد دوی سره وادی۔ ولی چه هر وخت په دوی او دس تازه کول حرج دی او د قرآن شریف وینا هم د دوی څخه پاتیږی۔ نو ضروره ده دی۔ هدایه ص۴۲۔

مسئله! د شرعی کتابونو کې فقه حدیث تفسیر مثلاً مسه کوله په بې اوسیا مکروه دی۔

مسئله! سره د وجود د اوبو د پاره همسی د قرآن شریف تیمم نه دی سره وا۔

فَاِذَا انْقَطَعَ دَمُ الْحَيْضِ لِاَقَلَّ مِنْ عَشَرَةِ اَيَّامٍ لَمْ يَجُزْ

او که د وینه د حائضې بنځی کم تر لس ورځی۔ نو نه دی سره وا میړه ته

وَطْيُهَا حَتّٰى تَغْتَسِلَ اَوْ يَمْضِيَ عَلَيْهَا وَقْتُ صَلٰوةٍ كَامِلَةٍ

ولی د دې تر څو چه غسل کوی۔ او یا تیر یږی پر دې باندی یو کامل وخت د نماځه۔

ولی چه وینه د حیض کاهی کاهی ودریږی او بیرته جاری سی۔ نو باید د قطع خوائی یا په غسل یا د کامل وخت د لمانځه په تیرید و سره تینګ سی۔

مسئله! د بنځی سره جماع په حال کی د حیض گناه کبیره او علاج ئی توبه او پښیمانی ده او یو څه خیرات دی هم وکړی۔

مسئله! د مایني سره د شا په خوا کی کول دیره سخته گناه ده۔

وَاِنِ انْقَطَعَ دَمُهَا لِعَشَرَةِ اَيَّامٍ جَازَ وَطْيُهَا قَبْلَ الْغُسْلِ

او که چیری قطع سوی وینی د حائضې پر لس ورځی سره وا دی جماع وسره کول د څه تر غسل۔

ولی چه تر لس ورځی بالاحیض نشته۔ لکن مستحب دا ده چه غسل ته انتظار وکړی۔

وَالطُّهْرُ الْمُتَخَلِّلُ بَيْنَ الدَّمَيْنِ فِيْ مُدَّةِ الْحَيْضِ فَهُوَ كَالدَّمِ الْجَارِيْ

او پاکی دوینو چه راسی په مابین کی د دوو وینو په وخت کی د حیض پس هغه لکه جاری وینه ده تر حیض کښل کیږی۔

پوه سه! چه د طهر متخلل په باره کی دیر قولونه او اختلاف سته چه د فتاوا ئی په کتابو کی په تفصیل سره ذکر کړه سوی دی چه د تولو ذکر کول د دې مختصر کتاب په سره مناسب نه دی په تولو کی آسان قول مذهب د امام ابو یوسف دی چه په کوکب دری ص۱۵ کی مذکور دی

او هغه دادی! چه منځکړی طهر که پنځلس ورځی وو هغه خو فاصل کښل کیږی۔ یعنی د هغه او وروسته وینه سره کږیږی۔ اوکه تر پنځلس کم وو نو که تر دریو ورځو هم کم وو هغه خو په اتفاق فاصل نه دی۔ بلکه قوله لکه پرله پسی وینه کښل کیږی۔ اوکه دریو ورځو یا بالا وو هغه د امام اعظم په نزد فاصل دی۔ او د امام ابو یوسف په نزد فاصل نه دی حتی که څه هم لس ورځی وی۔ او په کتابونو کی وائی چه امام اعظم هم رجوع وقول ته د ابو یوسف کړی ده۔ او دیر علماء هم په دغه مذهب فتوی ورکړی ده

وَأَقَلُّ الطُّهْرِ خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا وَلَا غَايَةَ لِأَكْثَرِهِ

اوکمه موده د طهر پنځلس ورځی ده او پای نسته اکثری مودې لره د طهر۔

ولی چه طبائع د ښځو مختلف دی۔ بلکه بعضی ښځی پرله پسی لږ یا زیات لوبه میاشتو میاشتو پاکی وی۔

مسئله! ښځه به هم لوښی کوی او هم به روژه نسی تر هغو پورې چه وینه ښکاره کښیږی۔ حتی که څه هم کال یا دوه کاله یا بالاهم پریتې سی۔ هدایه ص۶۵

وَدَمُ الْاِسْتِحَاضَةِ هُوَ مَا تَرَاهُ الْمَرْأَةُ أَقَلَّ مِنْ

او وینی د استحاضه (یعنی وینی د مرض) هغه وینی دی چه وی وینی ښځه کم

ثَلٰثَةِ أَيَّامٍ أَوْ أَكْثَرَ مِنْ عَشَرَةِ أَيَّامٍ

تر دریو ورځو او یا بالا تر لس ورځو۔

مسئله! که حامله ښځی وینی ولیدلې د دریو ورځو یا لس ورځو هغه هم استحاضه ده۔ اوکه یوې ښځی عادت د حیض د لسو ورځو مثلاً شپږ ورځی۔ او په یوه بله میاشت کی تر شپږ ورځو بالا سوې نو نه دی لوښی کوی او نه دی روژه نیسی تر لسو ورځو پورې۔ که پرلس ورځی وینه قطعه سوه نو قوله لس ورځی حیض دی اوکه تر لس ورځو بالا سوې۔ نو تر اوو ورځو څخه وروسته قوله استحاضه ده نو د ښځه به تر اوو ورځو وروسته لوښونه او روژې قضاء سره اوړی۔ او د غه رنګه که نفاس د ښځی تر څلویښت ورځو تیر سو هغه مرض دی۔

فَحُكْمُهُ حُكْمُ الرُّعَافِ لَا يَمْنَعُ الصَّلٰوةَ وَلَا الصَّوْمَ وَلَا الْوَطْئَ

پس حکم د استحاضه دوینو حکم دی وینوی۔ نه منع کوی دغه وینی د استعمالوونکی څخه نه روژه او نه وطی د میړه۔

په حدیث مبارک کی چه روایت دی بخاری او ابن ماجة وغیرهما کړی دی راغلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم و فاطمة بنت قیس رضی الله عنها ته وویل چه اوه یا لس تا نه کوه یعنی هرمیاشت اولمونځ کوه که څه هم وینی دی پرې بهیږی یا څڅیږی۔ حاصل دا چه د مستحاضه حکم د معذور سره دی۔

وَإِذَا زَادَ الدَّمُ عَلَى الْعَشَرَةِ وَلِلْمَرْأَةِ عَادَةٌ مَعْرُوفَةٌ رُدَّتْ

اوکه زیاتی سوې وینی د دې په یوه میاشت کی تر لسو ورځو اوو نو ښځی لره عادة معلوم اوه ورځی یا تر دې

إِلَى أَيَّامِ عَادَتِهَا وَمَا زَادَ عَلَى ذٰلِكَ فَهُوَ اِسْتِحَاضَةٌ

سره دی کړل سی او وروځه د عادت د دې اوه ورځه چه زیات سی پر عادت نو هغه مرض دی۔

یعنی د هغه پخوانی عادت وروځی ته حیض دی اوه ورځه بالا بود وروځی ته استحاضه ده۔

دا مسئله فقیهی د ورځه هم په تفصیل ذکر کړه۔

وَإِنِ ابْتَدَأَتْ مَعَ الْبُلُوغِ اِسْتِحَاضَةً فَحَيْضُهَا عَشَرَةٌ

اوکه شروع سو سره د بلوغ د ښځی مرض (یعنی وینه ئی همیشه سوه) نو حیض د دی ښځی لس

أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ أَوَّلُ مَا رَأَتِ الدَّمَ وَالْبَاقِي اِسْتِحَاضَةٌ

وروځی د دهری میاشتی څخه اول هغه چه وی وینی وینه۔ او نورې شل وروځی مرض دی۔

اوکه دا ښځه لنګه سی نفاس ئی څلویښت وروځی دی۔ او دا مذهب دا امام اعظم او د امام محمد دی۔ او امام ابو یوسف وائی چه حیض د دغی ښځی په حق کی د لمانځه او روژې دریو وروځو دی چه دا اقل موده د حیض ده۔ او دا هم احتیاط دی۔ او د عدې د طلاق په باره کی لس وروځی دی او دا هم د احتیاط دلاری۔ کذا فی الجوهرة والظهیریة۔

وَالْمُسْتَحَاضَةُ وَمَنْ بِهِ سَلَسُ الْبَوْلِ وَالرُّعَافُ الدَّائِمِ

او مستحاضه ښځه او هغه څوک چه په ده مرض د بولو د څڅیدو وی او یا ئی همیشه د پیښی وینه جاری وی

وَالْجُرْحُ الَّذِي لَا يَرْقَأُ يَتَوَضَّئُونَ لِوَقْتِ كُلِّ

یا پر هر وی هغه چه نه دریږی او د لس دی کوی دوی د پاره د وخت د هر

صَلٰوةٍ وَيَصِلُوْنَ بِذٰلِكَ الْوُضُوْءِ فِي الْوَقْتِ

لمانځه اولمونځ دی کوی په هغه اوداسه په دغه وخت کی هرڅه چه خوښ ی

مَاشَاؤُا مِنَ الْفَرَائِضِ وَ النَّوَافِلِ

وی د وی د فرض لمونځو څخه او یا د نفل لمونځو څخه - که څه هم عذر ی جاری وی -

اوداهم زمونږ مذهب دی او امام شافعیؒ وائی چه دهر لمانځه د پاره به جلا اودس کوی - یعنی دوه فرضی لمونځونه به یوه اوداسه نه سی کولای -

مسئله: اد دغو معذورو کسانو نوکالی، که په وخت کی د لمانځه مرداره سی پرواندلری - لکن بل وخت ته نکه نوی اودس چه تازه کوی هغه مرداره کالی به هم پری منځی -

فَإِذَا خَرَجَ الْوَقْتُ بَطَلَ وُضُوْئُهُمْ وَكَانَ

پس څه وخت چه تیر سو وخت باطل سوه اودسونه دوی - او سته

عَلَيْهِمُ اسْتِيْنَافُ الْوُضُوْءِ لِوَقْتِ صَلٰوةٍ أُخْرٰى وَ

پردوی باندی دسره تازه کول داوداسه د پاره د وخت د بل لمانځه - او

النِّفَاسُ هُوَ الدَّمُ الْخَارِجُ عَقِيْبَ الْوِلَادَةِ وَالدَّمُ

نفاس هغه وینی دی چه راووزی وروسته تر نکه والا - او وینی

الَّذِيْ تَرَاهُ الْحَامِلُ وَمَا تَرَاهُ الْمَرْأَةُ فِيْ حَالِ وِلَادَتِهَا

هغه وینی چه وی وینی امید واره ښځه اوهغه وینی چه وی وینی ښځه په حال کی د نکیدو

قَبْلَ خُرُوْجِ الْوَلَدِ فَهُوَ اِسْتِحَاضَةٌ

مخکښ څه تر اوتلو د کوچنی دادواړه وینی استحاضه دی د لمونځ به کوی اوروژه به هم ینسی -

مسئله: که د ښځی د هغه تر اوتلو د کوچنی وینه جاری سوه اووخت د لمانځه وو هغه لمونځ پرله نه دی کړی اودس کولای سوا د دس دی وکړی اډکی اودس نه سو کولای

تیمم دی وهی اولمونځ دی یا په ولاړی یا په ناستی یا په اشاره سره وکړی څنګه چه قدرت ئی وی - اوکه تر اخیره وخت نه سو پیدا اولمونځ ئی نه وکړی دهغه لمانځه قضا به راوړی -

وَأَقَلُّ النِّفَاسِ لَا حَدَّ لَهُ وَأَكْثَرُهُ أَرْبَعُوْنَ يَوْمًا

اوکم موده د نفاس اندازه نه لری او اکثره موده ئی څلویښت ورځی ده -

خبر تیا

زمونږ اکثره ښځی خامخا څلویښت ورځی نه لمونځ کوی اونه روژه نیسی کخه هم وینه قطعه سوې وی او دغسی نه ده ولی چه د نفاس کمه موده معلومه نه ده نو هر وخت چه د ښځی وینی پرځی وړکی سوې دا به غسل کوی اولمونځ به کوی اوروژه به نیسی -

افسوس چه مونږ په اسلامی ملک کی ژوند تیروو بیا هم مونږ د دین د احکامو څخه بی نصیبه پاتیږو اوبه دې شرمیږو چه د عالم څخه د مسلمې پوښتنه وکړو -

وَمَا زَادَ عَلٰى ذٰلِكَ فَهُوَ اِسْتِحَاضَةٌ وَإِذَا

اوهغه وینی چه بالاسی تر څلویښت ورځی نو هغه استحاضه ده ئی - اوکه چیری تیری وی

تَجَاوَزَ الدَّمُ عَلَى الْأَرْبَعِيْنَ وَقَدْ كَانَتْ هٰذِهِ

وینی د ښځی تر څلویښت ورځی او دغه ښځه د هغه تر دې هم

الْمَرْأَةُ وَلَدَتْ قَبْلَ ذٰلِكَ وَلَهَا عَادَةٌ فِيْ

لنګه سوې وه اودې لره عادت وو په نفاس کی (یعنی پاتل ورځی یا دیش ورځی) مثلاً

النِّفَاسِ رُدَّتْ إِلٰى أَيَّامِ نِفَاسِهَا وَعَادَتِهَا

نو د ښځه دی ورسره وهغو ورځو ته د نفاس او عادت دده

یعنی اوس هم ددې نفاس هغه قدر ورځی دی - او هغه راسته هر څو ورځی چه تیری سوی وی د هغو ورځو لمونځونه قضاء دی راوړی او دغه رنګه د روژې خو ورځی وی -

وَإِنْ لَمْ تَكُنْ لَهَا عَادَةٌ فَنِفَاسُهَا أَرْبَعُوْنَ يَوْمًا

اوکه د ده لره عادت نه وو نو نفاس ئی څلویښت ورځی دی -

پوهه سه! چه عادت په یوه واړه لنګید و سره نه معلومیږی بلکه په دریو واړه لنګید و معلومیږی ـ رد ـ بحر ـ

وَمَنْ وَلَدَتْ وَلَدَيْنِ فِي بَطْنٍ وَاحِدٍ فَنِفَاسُهُمَا مَا خَرَجَ

او کچیری و زیږ وَل ښځی دوه عیاله په یوه ځل کی نو نفاس د دې هغه وینه ده چه وروسته

مِنَ الدَّمِ عَقِيبَ الْوَلَدِ الْأَوَّلِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ

تر اول عیال وړاندې سی ـ او دا په مذهب کی د امام اعظم صاحب او د

وَأَبِي يُوسُفَ وَقَالَ مُحَمَّدٌ وَزُفَرُ مِنَ الْوَلَدِ الثَّانِي

ابی یوسف دی ـ او امام محمد او امام زفر وائی ـ نفاس ئی تر دوهم عیال وروسته شروع کیږی

وَالْعِدَّةُ تَنْقَضِي بِالْوَلَدِ الْأَخِيرِ فِي قَوْلِهِمْ جَمِيعًا

او عده تیریږی په اخیری اولاد سره په قول سره د ټولو اماما نو ـ

مسئله! بطن واحد دابولی چه په مابین کی د دوو عیالو تر شپږ میاشتی کمه موده وی ـ نو حاصل دا دی اختلاف دا دی چه د امام اعظم او امام ابی یوسف په نزد چه تر اول هلک پس وینه جاری سوه ښځه نفاس سوه ـ نو نه به لمونځ کوی او نه به روژه نیسی که هر څو ورځی وروسته دوهم بچی پیدا سی ـ او امام محمد او امام زفر وائی چه د دغی ښځی د دوهم بچی څخه نفاس شروع دی ـ نو د مابین په ورځو کی که څه هم وینه بهیږی ـ بیا به هم اوده سی او لمونځ کوی

عجبه مسئله ـ

امام ابی یوسف د امام اعظم څخه پوښتنه وکړه که چیری د دغی ښځی د اول اولاد او د دوهم اولاد په مابین کی څلویښت ورځی تیری سوی نو تر دوهم بچی وروسته دا ښځه نفاس نه لری؟ امام اعظم په جواب کی وفرمایل چه دوئی ورځی فصل نه سی را تلای امام ابی یوسف وفرمایل چه کچیری را اغلی فرضاً امام اعظم وفرمایل چه ویل هو پس له دوهم عیاله دې لره نفاس ستا ـ کذا فی الجوهرة وکذا فی الظهیرة وکذا فی الکوکب ـ

اللهم اغفر لکاتبه ولمولفه ولناشره ولجمیع المؤمنین آمین

بَابُ الْأَنْجَاسِ

باب ثابت دی په بیان کی د احکامو د نجاسا تو

فائده! نجاست دوه قسمه دی یو نجاست حکمی دی لکه بې اوده سیا یا جنابت اویل نجاست حقیقی دی لکه بولی شراب کندی وغیره ـ تر اوسه قدوری بیان د نجاست حکمی کاوه او اوس بیان د نجاست حقیقی کوی ـ

پوهه سه! چه نجاست حکمی قوی دی تر نجاست حقیقی لکه مصنف حکمی دهغه کړی ـ دلیل ئی دادی چه د نجاست حکمی لرل او دیر مانع د لمانځه دی په اتفاق ـ او په حقیقی کی لږ عفوه ستا لکه بیان چه په باب کی را سی ـ اویل دا چه نجاست حکمی په هیڅ عذر نه معافیږی ـ یا په اوبو یا په خاوره یعنی په تیمم نه زائلیږه غواړی ـ او حقیقی په عذر سره زائل والی نه غواړی ـ لکه د مستحاضة وینی یا د سلسل البول بولی او نور ـ

وړاندې! چه نجاست حقیقی دوه قسمه دی ـ یو مرئی یعنی چه په ستر کی معلومیږی بل غیر مرئی دی ـ مرئی هغه دی چه ذات د نجاست پرې له وچید و معلومیږی ـ لکه کندی او خوشاوی وغیره ـ او غیر مرئی هغه دی چه پرې له وچید و ذات نه معلومیږی لکه څه هم رنګ ئی معلومیږی ـ لکه بولی شراب وغیره ـ

تَطْهِيرُ النَّجَاسَةِ وَاجِبٌ مِنْ بَدَنِ الْمُصَلِّي

پاکول د نجاست واجب دی د بدن څخه د لمونځ کوونکی

وَثَوْبِهِ وَالْمَكَانِ الَّذِي يُصَلِّي فِيهِ

او د جامې څخه دده او د هغه ځای څخه چه دی لمونځ پکښی اداء کوی په هغه ځای کی

سوال! نجاست خو هر کزن ناپاکیزی نو مصنف څنګه وائی ، تطهیر النجاسة ،

جواب! تطهیر دلته په معنی د ازالة دی یعنی لیری کول د نجاست واجب دی او هغه جواب چه کوکب دری یا نور کتابونه ئی وائی چه دلته مضاف محذوف دی ـ یعنی تطهیر محل النجاسة ـ ښه جواب نه دی ولی چه دا عبارت بې معنی کړی چه تطهیر

د محل نجاست واجب دی د بدن د مصلی نه - چه بدن د مصلی عین محل د نجاست دی - نه فکر وکړه - او حق په خلک وبخښه - پیژن نه - بلکه خلک په حق وپیژنه -

وَيَجُوزُ تَطْهِيرُ النَّجَاسَةِ بِالْمَاءِ وَبِكُلِّ مَائِعٍ

او روا دی تطهیر د نجاست په اوبو سره او په هر بهیدونکی شی سره چه پاک وی

طَاهِرٍ مُمْكِنٍ إِزَالَتُهَا بِهِ كَالْخَلِّ وَمَاءِ الْوَرْدِ

چه ممکن وی زائلول د نجاست په هغه سره لکه سرکه او اوبه د ګل کلاب وغیره یعنی دد وی عرق د یمکن، توری فائده داده چه په سره وغنیاتق او عملو نجس نه زائلیږی - لکه چه ظاهره ده - او په شیدو کی اختلاف دی - په نهایه کی وائی چه نه دی په سره -

وَإِذَا أَصَابَتِ الْخُفَّ نَجَاسَةٌ لَهَا جِرْمٌ فَجَفَّتْ

او که چیری وسږی مونږ بوټ چپل ته نجاست چه هغه له صورت وی لکه ګډ کی او هغه نجاوچ سو

فَدَلَكَهُ بِالْأَرْضِ جَازَتِ الصَّلٰوةُ فِيهِ

نو فی و مثلنه هغه مونږه وغیره په خلکه پوری (یعنی هغه مړاری خنی زائله سوه) سره وادی لموځ په هغه مونږه وغیره کی

مطلب داچه مونږه پاکه سوه - ولی چه مونږه وغیره حکم د خلکی لری - او په حدیث شریف کی راغلی دی چه پاکیده د خلکی وچ والی دی - بخاری - مسلم -

وَالْمَنِيُّ نَجِسٌ يَجِبُ غَسْلُ رَطْبِهِ فَإِذَا جَفَّ

او منی مړاره ده واجب دی پریوله د لندې منځ او څخه وخت چه وچ سوه پرې جامه باندی

عَلَى الثَّوْبِ أَجْزَأَ فِيهِ الْفَرْكُ

نو کافی ده کوږه ول (یعنی چه د جامې څخه وکوږه ولی سی جامه پاکه سوه)

ثروره کتنه

منی د نبغی کډ شه هم وچه سی په کوږه ولو نه پاکیږی ولی چه هغه نری دی لکه بولی او منی دنر او د نبغی امام شافعی پاکه بولی که وچه وی که لنده - د امام اعظم دلیل دادی چه

رسول کریم صلی الله علیه وسلم وبی بی عائشې ته وویل چه منی منځه کړنده وه او که وچه وه کوږه وه ئې - ابن ماجه - بیهقی -

سوال! پرنس چه او دس اوږی نو اول انتشار د ذکر راځی او د هغه سره مذی راوزی وروسته بیا منی او مذی په فرک نه پاکیږی -

جواب! مذی لږ او مغلوبه وی نو د منی تابع دی -

مسئله! منی په فرک (کړولو) هلته پاکیږی چه د ذکر سرې پاک وی (په اوبو ئې پریولی وی) نهایه منځ

مسئله! منی چه وکوږه ول سی او هغه جامه پاکه سی او بیا هغه ځای په اوبولوند سی بیرته مړاره سږی او که نه؟ د امام اعظم څخه دوه روایته دی - نو احتیاط دادی چه منی په هر صورت کی پریمنځی

وَالنَّجَاسَةُ إِذَا أَصَابَتِ الْمِرْآةَ أَوِ السَّيْفَ اكْتُفِيَ بِمَسْحِهِمَا

او نجاست چه وسږی هندارې ته یا توری ته یا بل ښوی شی ته اکتفا کیږی په مسه کولو د هغه په خلکه پوښ ولی چه نجاست د ننه نه وی ننوزی - او د باندی نجاست په مسه زائل سو -

وَإِذَا أَصَابَتِ الْأَرْضَ نَجَاسَةٌ فَجَفَّتْ بِالشَّمْسِ وَذَهَبَ أَثَرُهَا جَازَتِ الصَّلٰوةُ

او چه وسږی محکی ته نجاست او بیا وچ سی په لمر سره او اثر ئې لاړ سی (یعنی لکه بوی جرم رنګ) روا دی لمونځ

عَلَى مَكَانِهَا وَلَا يَجُوزُ التَّيَمُّمُ مِنْهَا

پر هغه ځای د نجاست او نه دی روا تیمم پر هغه ځای باندی -

فرق دادی چه د تیمم د پاره محکه په قرآن ثابته ده - لقوله تعالی "فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا" او د محکی پاکوالی په وچوالی په حدیث سره ثابت سوی دی - لقوله علیه الصلوة والسلام "ذكوة الارض يبسها"

بنهانه فائده

په متن کی د راغله "بالشمس" دا قید اتفاقی دی ولی چه که محکه په هوا وچه سی یا پرې او اثر د نجاست لاړ سی هم د لمانځه د پاره پاکه ده

وَمَنْ أَصَابَتْهُ مِنَ النَّجَاسَةِ الْمُغَلَّظَةِ كَالدَّمِ

اوکه چاته وړ سیږی (بدن ته یا وجاې ته) نجاست سخت (یعنی ډیره مرداره) لکه وینه

وَالْبَوْلِ وَالْغَائِطِ وَالْخَمْرِ مِقْدَارُ الدِّرْهَمِ

او بولی اوکنډ کی او شراب - په اندازه د ډیوه درهمه

وَمَادُونَهُ جَازَتِ الصَّلٰوةُ مَعَهُ وَإِنْ زَادَ لَمْ يَجُزْ

یا کم تر درهمه لمونځ وړ سره روادی او کم تر درهم بالاوی لمونځ نه دی وړ سره روا -

مسئله! داحکم هلته دی کړې دا نجاست نه وی لیدلی اولمونځ وړ سره وکړی - نو دلمانځه راکوچیده نسته اوکی دهغه تر لمانځه ولیدی بیالمونځ وړ سره منکر وګرځی - ردهغه پوه سه! چه مقدار د درهم په نری نجس کی لکه بولی قدر ډیوه وړ بغوی دی - اوچه صورت لری لکه کنډ کی مقدار ډیوه مثقال دی - کوکب دری ص ۱۸/۱

وَإِنْ أَصَابَتْهُ نَجَاسَةٌ مُخَفَّفَةٌ كَبَوْلِ مَا يُؤْكَلُ لَحْمُهُ

اوکه وړ سیدی وده نه نجاست مخفف لکه بولی د هغه شی چه غوښه یی خوړل کیږی

جَازَتِ الصَّلٰوةُ مَعَهَا مَالَمْ تَبْلُغْ رُبُعَ الثَّوْبِ

(یعنی لکه پسه غوی وغیره) روادی لمونځ وړ سره تر هغوچه څلرمه د جامې نه وی ړ سیدلی -

پوه سه! چه مقدار د ربع ثوب څه شی مراد دی - بعضی فقهاء وائی چه په عرف کی یوه جامه بلل کیږی د هغې څلرم مراد ده - مثلاً قمیص که لوی وی که کوچنی یوه جامه ده - نو د هغه قمیص ربع مراد ده - د هغه ړ نګه پر توک یوه جامه ده - پتو یوه جامه ده - کوټ یوه جامه ده - او بعضی فقهاء وائی چه څلرمه د هغه جامې مراد ده چه لمونځ پکښې روا وی، لکه معمولی لنګ - اودا روایت د امام اعظم څخه هم سوی دی - هدایه ص ۴۲ اول مذهب په مضمرات کی وائی صحیح دی - اوکرمانی وائی څلرمه د هغه خای اعتبار لری چه نجاست وړ سیدلی وی - مثلاً هر لستوڼی او هر کاه - دپرتاکه یاد قمیص یاد کوټ - اوپه دې مذهب کی احتیاط دی - اوهم پرده غه مذهب

نتوی د اکثرو مشائخوده - شرح وقایه ص ۷۲ -

اوپه بعضی روایتو کی د امام ابو یوسف لویشت په لویشت کی اوپه بعضی کی کزه کی د اغلی دی

فائده! د فتوی شریفی په اختلافی مسئلو کی چه هرڅو احتیاط ته نژدې وی - باید فتوی وړ کړه سی په شرط دې چه د ظاهر المذهب اوروایت څخه خلاف نه وی -

وَتَطْهِيرُ النَّجَاسَةِ الَّتِي يَجِبُ غَسْلُهَا عَلٰى وَجْهَيْنِ فَمَا

او پاکول د هغه شی چه ولجب وی بې یوللې پس دوه قسمه دی - پس هغه نجاست چه جسم لری

كَانَ لَهُ عَيْنٌ مَرْئِيَّةٌ فَطَهَارَتُهَا زَوَالُ عَيْنِهَا

معلومیدونکی (لکه کنډ کی وغیره) نو پاکوالی یی دادی چه وړک سی ذات د هغه نجاست (یعنی هیڅ اثر یی پرکالو نه سی پاتې

إِلَّا أَنْ يَبْقٰى مِنْ أَثَرِهَا مَا يَشُقُّ إِزَالَتُهَا

لکه رنګ بوی، مګر پرې وا نه لری که د نجاست داسی اثر پاتې سی چه کوان وی نه ائلولې د هغه -

فائده! مشقت دابولی چه ازالې وصابون یا وتودو او بوته ضرورت لری -

وَمَا لَيْسَ لَهُ عَيْنٌ مَرْئِيَّةٌ فَطَهَارَتُهَا أَنْ يَغْسِلَ حَتّٰى

پس هغه نجاست چه نه لری جسم لیدونکی (پس تروچیدن) پس پاکی د هغه نجاست داده چه تر هغو

يَغْلِبَ عَلٰى ظَنِّ الْغَاسِلِ إِنَّهُ قَدْ طَهُرَ

دې میڼی چه د غاسل غالب ګمان کیږی چه اوس نو پاک سو -

دامام اعظم لوی قانون دی چه داعضی احکام وړ ائی ته د مبتلا بها پرې دی - لکه چه قبلد سری څخه وړ کړه سی -

مسئله! د هغې وارې پرې یوللې چه په دیوال کتابو کی د اغلی دی بناء پر دې دی چه غالب ظن په دې وارې پیدا کیږی - اوبله فائده ئی داده چه د وسواسی سړی وسوسه دفع سی -

مسئله! په هر وله د جامې نجستیدل شرط دی په ظاهر روایت کی اوپه دریم وار دې بنه تینګ ونښتیدی -

فائده! په فتح القدیر کی وائی چه قوة د بنتیځو نکی معتبر دی۔ او بعضی فقهاء وائی چه قوة د کالی والا معتبر دی۔ لکن دا روایت معمول نه دی حکه نر موښ د نر وکالی که څه هم مرداره وی بښځی ئی مینځی او دا معلومه ده چه د نر قوة چه حیوان وی تر بښځی بالا دی۔ نو ځکه د اختلاف ځان باسی چه کالی ئی مرداره سوهغه مردار ځائی دی نو پخپله میښی

وَالْاِسْتِنْجَاءُ سُنَّةٌ يَجْزِئُ فِيْهِ الْحَجَرُ وَالْمَدَرُ وَمَا قَامَ مَقَامَهُمَا

او استنجاء وهل سنت دی۔ کافی ده په استنجاء کی د برة چه دیره بنوی نه وی۔ اولوټه اوهغه شی چه په ځائی کی د دې دوه درینی۔ لکه ریک اوخاورې۔

سوال! استنجائی ولی په سنتو کی داوداسه نه راوړه؟

جواب! استنجاء ازاله د نجاست حقیقی ده اوسنت داوداسه توله د ازالې د نجاست حکمی دی۔ لکه مضمضه او استنشاق۔ وجه د سنت والی دا ده چه رسول الله صلی الله علیه وسلم همیشه توب پرکړی دی۔ هدایه ص۱۷۵۔

وَيَمْسَحُهُ حَتّٰى يُنْقِيَهُ وَلَيْسَ فِيْهِ عَدَدٌ مَسْنُوْنٌ

او مسح کوی دی داستنجاء ځائی تر هغوچه پاکیزی او نسته په استنجاء کی شمار سنت کړسوی

او امام شافعی وائی د درې د برې ضروری دی۔ موږ وایو چه مقصود پاکوالی د هغه ځائی دی۔ نوکه په یوه لوټه سره پاک سی نو څه پرې والړی؟ کذا فی الهدایه۔

اوپه خلاصة الفتاوی کی وائی، لَوْ اِسْتَنْجٰى بِحَجَرٍ وَاحِدٍ وَحَصَلَ الْاِنْقَاءُ يَكُوْنُ مُقِيْمًا لِلسُّنَّةِ، یعنی که استنجاء وکړه په یوه د برة اوپیدا سوه پاک هغه سړی سنت پرځائی کړه۔

فائده! بعضی کتابونه د استنجاء د پاره خاص خاص کیفیت بیانوی لکن په خلاصه کی وائی چه کیفیت شرط نه دی۔ بلکه مقصود پاکول د هغه ځائی دی۔

وَغَسْلُهُ بِالْمَاءِ اَفْضَلُ

اوپریولل داستنجاء ځائی په اوبو سره بهتر دی۔

ولی چه دا آیت چه نازل سو، فِيْهِ رِجَالٌ يُّحِبُّوْنَ اَنْ يَّتَطَهَّرُوْا، یعنی په قبا

کی خلک دی چه د دوی ښه ځان پاکول خوښ دی۔ رسول الله صلی الله علیه وسلم قبا ته وغلی او وې ویل چه خدای پاک ستاسی په پاکی کی صفت کړی دی۔ نو ستاسی پاکی څه ده؟ دوی ورته وویل چه موږ د د بر وتر استنجاء وروسته په اوبو هم استنجاء کوو۔ آنحضرت صلی الله علیه وسلم ورته وویل چه همدغه کار دی۔ رواه البخاری۔ مسلم وغیرهما۔

فائده! اختلاف د فقهاؤ په دې کی دی چه استنجاء د اوبو څنګه ده۔ بعضی وائی چه مستحب ده۔ او بعضی وائی چه سنت ده نر موږ په زمانه کی هم دغه قول صحیح اوپر دې فتوی ده۔ کوکب دری ص۱۹

د بعضی مشائخو رحمهم الله چا پوښتنه وکړه چه څرنګه به استنجاء داوبو سنت وی نر موږ په زمانه کی اوسی که د دې چه غوسه کاصحابو رضی الله عنهم یوانی په د بر و استنجاء وهل؟ هغه شیخ ورته داسی وویل، اِنَّهُمْ كَانُوْا يَبْغُوْنَ فَنَبْغِيْ وَاَنْتُمْ تَتَغَوَّطُوْنَ تَغَوُّطًا، معنی داچه صحابه رضی الله عنهم کنبینستل په پچو یعنی چکر ئی لکه پچی داسی وو اوتاسی چکر کوی نرئی۔ یعنی تر لښی نر خیږئ۔

ضروری مسئله

په لوبو بنارو کی د دنیا په فن زمانه کی د برې لوټې وغیره داوو دس مات په ځائی کی بیخی نه پیدا کیږی نو به سړی څه کوی؟

جواب! استنجاء دی په اوبو کوی هیڅ حرج نسته ولی چه ضرورت په دین کی مدفوع دی۔ اوکه په بیکاره ټکر ده استنجاء وچه کی همدا واده۔ بعضی خلک علاحده په دې باره لوئی حرج کوی حتی لوټې په جیب کی کړځوی۔

وَاِنْ تَجَاوَزَتِ النَّجَاسَةُ مَخْرَجَهَا

اوکه چیری تیر سوی وو نجاست اوکنده کی تر ځائی د راوتو (یعنی د د برې تر خولې)

لَمْ يَجُزْ فِيْهِ اِلَّا الْمَاءُ اَوِ الْمَائِعُ

بیا نه دی روا مګر اوبه یا بل مایع شی لکه اوبه

یعنی په یوانی لوټه ئی چاره نه کیږی بلکه د لوټو سره دی په اوبو هم استنجاء وکړی۔

مسئله! که تیر سوی نجاست تر قدر د درهم بالاوو بیا په اوبو استنجاء وهل

واجب دی په اتفاق - اوکه تر قدره د درهمو کمو وو په نزد د امام اعظمؒ او د امام ابو یوسفؒ په نزد او امام محمدؒ وائی چه دبرې کفایت نه کوی که څه هم تر قدره درهم کم وی

وَلَا يَسْتَنْجِي بِعَظْمٍ وَلَا بِرَوْثٍ وَلَا بِطَعَامٍ وَلَا بِيَمِينِهِ

او استنجاء دی نه وهی په هډوکی او نه په خوشائی او نه په ړوندی او نه په ښی لاس۔

په حدیث شریف کی راغلی دی که چا استنجاء وکړه په هډوکی پسی بیزار ده د دی دهغه څخه ذمت د محمد صلی الله علیه وسلم ۔ کوکب وری ص۱۹۔ او په یو حدیث کی راغلی دی چه آنحضرت صلے الله علیه وسلم فرمائی چه هډوکی تو سنه د پیرانانو دی۔ او خوشاوه د دوئ دچا رپا یا نو تو سنه دی ۔ بخاری۔ ابوداؤد۔ او په دې باب کی حدیثونه نور هم ستر۔

او ړوندی خو شرف لری په استنجاء وهلو کی د اهانت او سپکاوی دی۔ حتی چه دعوامو داعتقاد ه چې په ړوندی استنجاء وهل کفر دی که څه هم دغسی نه وی ۔ او ښی لاس خو د پاره دخوړک دی۔ او په حدیث شریف کی هم نهی د دې څه راغلی دی۔ بخاری۔

مسئله! که څې چیرته لاس خوږ وو نو بیا په ښی لاس استنجاء روا ده۔

مسئله! په کاغذ چه ساده هم وی استنجاء نا روا ده۔ ولی چه د خبر و د قرآن کریم او حدیثو د یکلوخائی دی۔

مسئله! د کفارو په ملکو کی یوشی بخی نازک په شکل د کاغذ ه جوړیږی چه په بازار و کی خرڅیږی او د هوتلو په او د س خائی کی موجود وی د استنجاء د پاره ۔ چونکه هغه کاغذ نه دی او نه شی پرې لیکل کیږی او نه هم دبل کار محترم شی دی نو په هغه استنجاء روا ده۔ لکه په بې فائده ټکره۔ درویش

مسئله که فرضا یو سړی یا یه هډوکی او یا په خوشائی استنجاء وو هله کفایت خو کوی ولی چه مقصود حاصل سو لکن په سبب د مخالفت د حدیث نبوی به گناه کار شوی هدایه ملک ۔ او د دوی سبب د منع د استنجاء موږ قبلاً اهانت بیان کړی او صاحب هدایه ئی سبب ضائع کول د مال او اسراف بیان کړی دی۔

پوهه سه! چه حدیث د نهی د استنجاء بالیمین شین وسی صحاح کتابو روایت کړی دی۔

كِتَابُ الصَّلٰوةِ

کتاب دئ په بیان کی د لمانځه

تر اوسه پورې مصنف لوئ شرط د لمانځه چه طهارت دئ په تولو اقسامو کی بیان کړئ اوس مقصود اعظم ته نوبت ورسیدئ چه لمونځ دئ او طهارت ئی د مخه کړئ ولی چه شرط د مخه وی۔

فائده! چونکه وخت سبب د لمانځه دئ لکه په اصولو کی د فقهی شریفی ئی بیان راغلئ دئ او سبب تر مسبب د مخه وی نو له دې جهته مصنف د لمونځ وخت بیان د مخه راوړئ

پوهه سه! چه لمونځ په شپه د معراج کی فرض سوئ دئ په اتفاق د روایا تو ۔ او په حدیث شریف کی چه تولو کتابو د حدیثو ئی روایت کړئ دئ اسی راغلی دی چه لمونځونه اول پنځوس فرض کړه سوه۔ بیا موسی علیه السّلام و آنحضرت صلی الله علیه وسلم ته وویل چه پنځوس لمونځونه ډیر دی۔ او ستا امت ئی په شپانه روځ کی طاقت د کولونه لری د خدائ جل جلاله څخه د تخفیف خواست وکړه ۔ علیه الصلوٰة والسلام د غسی وکړه خدائ پاک پنځه لمونځونه ورکم کړه ۔ بیا چه موسی علیه السلام ته راغئ موسی علیه السلام ورته وویل چه پنځه څلویښت هم ډیر دی۔ بیا علیه السلام د تخفیف سوال وکړئ پنځه نور خدائ پاک ورکم کړه چه څلویښت پاته سی۔ او داغه شان بیا پنځه کم سوه حتی چه په اخیر کی خدائ پاک د پنځو لمونځو امر وعلیه السلام ته ورکړی۔ او دائ ورته وویل ، لَا يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَيَّ ، چه نور زما قول نه بدلیږی۔ آنحضرت صلی الله علیه وسلم چه موسی علیه السلام ته راغئ هغه ورته ورته وویل چه پنځه لمونځونه هم ډیر دی د تخفیف سوال بیا وکړه ۔ علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل بسته د خدائ څخه شرمیږم۔ هم په دغه حدیث کی راغلی دی چه څه وخت چه آنحضرت صلی الله علیه وسلم سوال بس کړی ۔ د خدائ پاک د خوا ندا وکړه سوه په دې عبارت ، قَدْ اَمْضَيْتُ فَرِيْضَتِي وَخَفَّفْتُ عَنْ عِبَادِي ، یعنی ما پوره کړه خپل فرض او هم می تخفیف وکړئ پر بندګانو ۔ له دې سببه چه امت د علیه السلام نیکی کمه درجه یوه په لس ده ۔ نو پنځه لس پنځوس کیږی

اوپه عین حال کی ظاهره خبره ده چه تر پنځو سو لمونځو پنځه لمونځونه سپک دی۔ داقصه ما کوتاه کړه قوله قصه په حدیث کی دمعراج په هر کتاب کی دحدیثو موجوده ده۔

فائده! قدوری اول د سحار د لمانځه د وخت څخه بیان شروع کړی له څوسببه۔ اول په دې چه د سحار د لمانځه په اول وخت او په اخیر کی اختلاف نشته۔ او د نورو لمونځو په وختونو کی اختلاف شته۔ اوبل داچه د سحار لمونځ اول لمونځ دی چه پس د خوب د شپی (چه نکه مرک داسی دی) اداء کیږی۔ اوتر تولو قوی سبب دادی چه نقلی سبب دی هغه داچه په حدیث شریف کی په روایت د بخاری او مسلم او نورو کتابونو کړی دی داسی راغلی دی چه څه وخت چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دمعراج څخه راغلی او پنځه لمونځونه پرفرض سوه نو د وختونو د بیلو ولو دپاره د سحار جبرئیل علیه السلام پیسی راغلی۔ اول لمونځ رسول الله صلی الله په امامت د جبرئیل د سحار لمونځ وکړی او بیا ئی دانور لمونځونه په ترتیب سره۔ لکن په اول وار او شپه ئی تولو لمونځونه په اول اول وخت کی اداء کړه او په دوهم شبار وئی تولو لمونځونه په اخیر اخیر وخت کی وکړه۔

سوال! دا پنځه لمونځونه خو پیر آنحضرت صلی الله علیه وسلم فرض وه اوپیر جبرئیل خو فرض نه وه نو څوا قتداء د فرض والا چه علیه السلام دی په نفل والا پسی چه جبرئیل دی لامنم سوه او دا اقتداء په فقه کی والی چه نده روا۔

جواب! جبرئیل علیه السلام په امر د خدای پاک راغلی وو نو دا د وه شبار وئی لمونځونه پر جبرئیل هم فرض سول۔

اَوَّلُ وَقْتِ الْفَجْرِ اِذَا طَلَعَ الْفَجْرُ الثَّانِیْ

اول وخت د سحار د لمانځه هغه وخت دی چه راوخیژی دوهمی سپیدی

وَهُوَ الْبَیَاضُ الْمُعْتَرِضُ فِی الْاُفُقِ

چه هغه نوهغه سپین والی دی چه پاشلی په کناره کی د آسمان وی۔

پوښتنه! چه سپیدی دوه قسمه دی۔ یوصبح کاذب چه بل نوم ئی فجر مستطیل دی د هغه سپین والی دی چه لوړه په آسمان کی لکه سپینسی معلوم سی او کناره د آسمان لاتاړیکه وی۔ اود وهم صبح صادق دی چه بل نوم ئی فجر مستطیر دی چه هغه

د اسمان په کنار وکی پاشلی معلوم سی۔ نو هم دغه اول وخت د سحار د لمانځه دی۔ او روژه هم د دغه وخته څخه شروع کیږی۔

وَاٰخِرُ وَقْتِهَا مَا لَمْ تَطْلُعِ الشَّمْسُ

او اخیر وخت د سحار د لمانځه تر هغه وخته پورې دی چه لمر نه وی راختلی۔ ولی چه جبرئیل د وهم پلا داسی وخت اداء کړی چه نهایت سپین والی وو۔

وَاَوَّلُ وَقْتِ الظُّهْرِ اِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ وَاٰخِرُ

او اول وخت د ماپښین هغه وخت دی چه لمر زوال وکړی او آخر وخت د

وَقْتُهَا عِنْدَ اَبِیْ حَنِیْفَةَ اِذَا صَارَ ظِلُّ كُلِّ

ماپښین په نزد امام اعظم هغه وخت دی چه سایه د هر شی وه دوه مثله ته د هغه شی وه پسین

شَیْءٍ مِثْلَیْهِ سِوٰی فَیْءِ الزَّوَالِ

(یعنی قریب وو دوچندی ته) او دا ماسوی د سایی څخه د وخت د زوال۔

یعنی چه لمر پرسر ولاړ وی۔ کوم چیری هغه شی لرې په دغه وخت کی د استواء سایه وه۔

وَقَالَ اَبُوْ یُوْسُفَ وَمُحَمَّدٌ اِذَا صَارَ ظِلُّ كُلِّ شَیْءٍ مِثْلَهٗ

او ویلی دی امام ابو یوسف او امام محمد چه اخیر وخت د ماپښین هغه دی چه سایه د هر شی یو مثله ته وه پسی

پوښتنه! چه د سایه اصلی چه فی الزوال وه ته وائی پیش ندل د پرکړان دی۔ چه په ریاضی پورې تعلق لری او د انره هندیه ته ضرورت شته او دکال په څلورو فصلو کی لنډه او اوږده راځی۔ او د اقلیمونو نری په پیش ند وسره هم اړه لری۔ او د دې کتاب اکثره نرده کونکی چونکه مبتدیان دی لهذا مادې تحقیق نه وکړی۔

مسئله! چونکه په نزد د یارانو پر یکچندی د ماپښین وخت ختم کیږی او د مثل دیکر وخت لږ وروسته داخلیږی۔ او د امام اعظم په نزد د ماپښین وخت نه دی وتلی او د مثل دیکر نه دی داخل سوی۔ لهذا احتیاط دادی چه تر یکچندی د هغه د ماپښین لمونځ پسی وکړی او د مثل دیکر لمونځ پس له دوچندی نه پرې اداء کړی

تاچه دواړه ملخونه په اتفاق صحیح سی۔

افسوس چه بعضی اماماں دماپښین لمونځ په داسی وخت کی اداء کوی چه په اتفاق فی وخت تیروی۔ اودماښد یګر لمونځ په وخت مکروه کی کوی۔ خصوصًا د مصر اماماں نو دعامیانو باړه همدد وئ پرذمه دئ۔ بیت ؎

چو بیښم دین احمد درغریبی ۔۔۔ دلم سوزان زچشمم خون جاری

وَاَوَّلُ وَقْتِ الْعَصْرِ اِذَا خَرَجَ وَقْتُ الظُّهْرِ عَلَى

اول وخت دماښد یګر هغه وخت دی چه د وښی وخت دماښین دهر چا پر چیل مذهب اوآخر وخت دی

الْقَوْلَيْنِ وَاٰخِرُ وَقْتِهَا مَا لَمْ تَغْرُبِ الشَّمْسُ

هغه دی چه لمونځ وی لویدلی (اوحسن بن زیاد وائی چه لمر څرګند سود ما زدیګر خارج سوا وقت موښه په مذهب کی د اوخت مکروه دی)

وَاَوَّلُ وَقْتِ الْمَغْرِبِ اِذَا غَرَبَتِ الشَّمْسُ وَاٰخِرُ

اول وخت دماښام هغه وخت دی چه لمر ولویږی ۔ او اخر وخت ئ تر هغو پورې

وَقْتِهَا مَا لَمْ يَغِبِ الشَّفَقُ وَهُوَ الْبَيَاضُ الَّذِيْ

دی چه شفق نه وی لویدلی ۔ اوشفق هغه سپین والی دی (د مغرب په خوا کی) چه معلومیږی په کار

يُرَى فِي الْاُفُقِ بَعْدَ الْحُمْرَةِ عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ

کی داسمان پس له سرخه څخه په نزد د امام اعظم رحمه الله خدای دی پرده رحم وکړی

وَقَالَ اَبُوْ يُوْسُفَ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُمَا اللّٰهُ هُوَ الْحُمْرَةُ

او وائی ابویوسف او محمد رحمهما الله تم چه شفق هغه سرخی ده۔

پوهه سه! چه د امام اعظم رحمه الله مذهب روایت دی د ابوبکر صدیق، بی بی عائشه، معاذ بن جبل، عبدالله بن الزبیر، ابو هریره، او عبدالله بن رضی الله تعالی عنهم اوهغه مذهب هم مختار ده د محمد بن علی المبرد و ثعلب و عمر بن عبدالعزیز و المزنی و داود رحمهم الله تم ۔ اومذهب دیارانو روایت دی د علی و عبدالله بن عمر

وشداد بن اوس و عبادة بن صامت رضی الله عنهم ۔ اوهمدغه مذهب مختار دی د خلیل بن احمد و الاصمعی و الجوهری و به اخذ الشافعی رحمهم الله تعالی۔

فائده! دامام اعظم رحمه الله څخه روایت دی چه ده مبارک وقول تد دیارانو رجوع وکړه۔ وعلیه الفتوی۔ کذا ذکره بعض المتأخرین۔ وصرح به فی شرح مجمع البحرین وهکذا فی رد المختار وشروح المجمع ۔ کوکب دری شرح قدوری۔

وَاَوَّلُ وَقْتِ الْعِشَاءِ اِذَا غَابَ الشَّفَقُ عَلَى الْقَوْلَيْنِ

اول وخت دماخستن هغه وخت دی چه سپین پټ سی پر دواړو قولو (یا بیاض پر یوه مذهب یا حمرة پر بل مذهب)

وَاٰخِرُ وَقْتِهَا مَا لَمْ يَطْلُعِ الْفَجْرُ الثَّانِيْ

او اخیر وخت دماخستن تر هغوی چه فجر الثانی یعنی صبح صادق نه وی راختلی۔

ولی چه په حدیث شریف کی راغلی دی چه اخیر د ماخستن تر هغوی چه سپیدې نه وی راختلی۔ کذا فی الهدایه ص۔

وَاَوَّلُ وَقْتِ الْوِتْرِ بَعْدَ الْعِشَاءِ وَاٰخِرُ وَقْتِهِ

اول وخت د وتر د ماخستن تر لمانځه دی او اخیر وخت د وتر د

مَا لَمْ يَطْلُعِ الْفَجْرُ الثَّانِيْ

تر هغوی چه سپیدې نه وی راختلی (یعنی نه وی راچاودلی) کذا فی الهدایه

پوهه سه! چه وتر په نزد د امام اعظم واجب دی او په نزد د یارانو سنت دی ۔ عینی۔

وَيُسْتَحَبُّ الْاِسْفَارُ بِالْفَجْرِ

او هغه کار دی په ښه ناکی د سحار لمونځ کول۔ او ثواب دی۔

په دلیل د دې قول د علیه الصلوة والسلام تاسی په ښه ناکی کوی د سحار لمونځ ولی چه دالویونکی د ثواب دی۔ په دې باره کی فقیه ابوجعفر طحاوی د حضرت علی څخه روایت کړی دی۔ او دیلمی هم د انس بن مالک څخه روایت کړی دی۔ او هغه رسنګه طبرانی او بزار د ابی هریره څخه روایت کړی او نور۔ کوکب دری ص۲۲

وَالْاِبْرَادُ بِالظُّهْرِ فِي الصَّيْفِ وَتَقْدِيمُهَا فِي

او دغه رنګه مستحب دی په خونیکی کی دمابښین لمونځ کول په دوبی - او وختی کول دغه لمونځ په

الشِّتَاءِ وَتَاخِيرُ الْعَصْرِ مَالَمْ تَتَغَيَّرِ الشَّمْسُ

ژمی کی - او دغه رنګه مستحب دی خنډول دماښام دیکر د لماښځه چه لمر نا تغیر سوی نه وی (یعنی ژ ر ۱۲

وَتَعْجِيلُ الْمَغْرِبِ وَتَاخِيرُ الْعِشَاءِ اِلٰى مَاقَبْلَ ثُلُثِ اللَّيْلِ

او دغه رنګه مستحب دی وختی کول دماښام لمونځ - او مستحب دی خنډول دماخستن د لماښځه تر دغه د دریمی د شپی

په دې هر مسئله کی دیر حدیثونه په صحاح الستة کی راغلی دی - چه په تفصیل
بیانولو فی پس مبتدی تکلیف دی - او داکتاب هم د مبتدیانو دی او مبتدیان فی ولی
خصوصًا تر کتاب البیوع پورې -

وَيُسْتَحَبُّ فِي الْوِتْرِ لِمَنْ يَّاْلِفُ صَلٰوةَ اللَّيْلِ

او مستحب دی په وتر وکی هغه چا لره چه الفت او عادت لری د شپی د لماښځه سره (یعنی د تهجد لمونځ)

اَنْ يُّؤَخِّرَ الْوِتْرَ اِلٰى اٰخِرِ اللَّيْلِ

چه خنډول دی وتر اخیره د شپی پورې
یعنی تر تهجد وخته وسته دی د وتر و اداء کوی ؛

وَاِنْ لَّمْ يَثِقْ بِالْاِنْتِبَاهِ اَوْتَرَ قَبْلَ النَّوْمِ ؛

او کی باور نه وی په بیدارید و د شپی نو دی وتر کوی د هغه تر خوب - چه نه باید قضا نه سی -

ولی په حدیث شریف کی راغلی دی چه کوک بیربنی چه په اخیر کی د شپی به بیدار
نه سو نو وس دی په اول کی د شپی وکړی او که دچا طمع وه چه بیدار ه به سم په اخیر
کی د شپی نفل و تر دی د شپی یعنی پس له تهجد ه وکړی - کوم باعبارت د قدوری
نقریبًا ترجمه د حدیث نبوی دی -

بَابُ الْاَذَانِ

باب دی په بیان کی د اذان

پوه اسه! چه ابتداء د اذان په مدینه منوره کی سوی ده - بخاری - مسلم - ابوداؤد و غیرها
دی چه د اذان مشروعیت داسی وسو - چه څه وخت چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم مدینې
منوره ې ته هجرت وکړ ې او مسجد نبوی تعمیر سو او مسلمانانو د جماعت لمونځونه شروع
کړه - لکن مشکل دا و چه د لمونځو د وختو د پاره کوم علامه نه وه - په عادتی او اتکلی
توګه به مسلمانان لماښځه ته راتله - دې سبب به بعضی وخت پر مسلمانانو به ناوخته سو -
جماعت به تیر سوی و - او بعضی وخت به مسلمانان وختی راغله چه دیر بې د لماښځه تر وخته انتظار
کاوه - نو د اشکایت و آنحضرت صلی الله علیه وسلم ته وړاندی سو - نو آنحضرت صلی الله علیه وسلم
حسب المعمول دا موضوع مشوره ې ته وړاندی کړه - بعضی اصحابو ؓ داخبره وکړه چه د لماښځه پر وخت
دی ناقوس یعنی بربنګ وهل کیږی - په دې کی دا اشکال پیدا سو چه دا کار د نصارا و د عباد
تخنه ده - او بعضی کسانو دا رایه ورکړه چه د پاره د لماښځه دی بنکر یا توره چه په عربی فی بو
بولی بر غول کیږی - په دې رایه کی دا اعتراض پیدا سو چه دا خو یهودیانو دین علامه ده
او چا و ویله چه د لماښځه پر وخت به لوړ لمبه داور کوو - چونکه دا د آتش پرستانو دین ښایا -
نو دا رایه هم ناخوښه سوه -

حضرت عمر ؓ و ویله " اَلَا تَبْعَثُوْنَ رَجُلًا يُنَادِي بِالصَّلٰوةِ " یعنی ته ولی نه مقرر
یوسړی چه د لماښځه د پاره نعره وکړی - آنحضرت صلی الله علیه وسلم دا رایه خوښه کړه -
نو یو نفر فی مقرر کړی چه د لماښځه د پاره داسی نعره وکړی " اَلصَّلٰوةُ قَائِمَةٌ " یعنی لمونځ کیدونکی
دی - چونکه دا یوه نعره به چا او ویده او ویده او چا به نه وا ویده - لهذا څو ورځی وروسته بیا هغه
لومړی شکایت تکرار سو - نو بیا خبره وشوه ې ته ولویده - او هغه پخوانی شیان بیا تکرار
سول او مجلس بې فیصلې پای ته ورسیدی -

چه ما بنام سویو صحابی چه نوم فی عبد الله بن زید و ؓ خوب فی ولیدی چه دیوه سړی
په لاس کی ناقوس وو - نو صحابی ؓ ورته وویل چه دا ناقوس نه خرڅوې ؟ هغه ورته وویل چه څه
به کوې - صحابی ؓ ورته وویل چه موږ د لماښځه وخت پر معلوموو - هغه سړی ورته وویل چه

نه به تردې بنه شی د سړو ښیم۔ نو هغه سړي پر پوه لوړ ځای ودریدی او پورته آذان
وکړی۔ نو صحابې ؓ سعاره اخوب وه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته بیان کړی۔ آنحضرت
صلے الله علیه وسلم وه ته وویل ﴿إِنَّهَا لَرُؤْيَا حَقٌّ أَنْ شَاءَ اللّٰهُ﴾ یعنی دا حق خوب دی
ان شاء الله تم۔ نو عبد الله ؓ ته امر وکړی چه د بلال ؓ آواز ته تالوه ړی نوته هغه ستا د
خوب کلمې ویلالله وایه هغه به اذان وکړی۔ حضرت عمر ؓ کوه وو چه دا کلمات داذان ئی وا او وه ویده
چا بک مسجد ته راغلی۔ او وه رسول الله علیه وسلم ئی وویل چه قسم په خدای دی چه
ما هم دغسی خوب لیدلی وو۔ او ده شړمه می ځسوای ویلای۔

الغرض اخو لسو صحابه کرامو ؓ نه هغه شپه داغه خوب لیدلی وو۔ دا بیان تولو په بخاری
شریف ابوداؤد۔ مشکوة شریف کی په متفرقو ځایونو کی موجود دی۔

پوهه سه! چه داذان ذکر په قرآن کریم کی هم راغلی دی۔ آیة ﴿إِذَا نُودِيَ لِلصَّلٰوةِ﴾ او
داوو داذان مفصل صحیح بیان۔

اَلْاَذَانُ سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ لِلصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ وَالْجُمُعَةِ دُوْنَ غَيْرِهَا

اذان سنت موکد دی د پنځو لمونځو او د جمعې د لمانځه د پاره نه دنورو د پاره ۔ یعنی لکه د اختر

وَلَا تَرْجِيْعَ فِيْهِ

لمونځ د جنازې لمونځ) او ترجیع نسته په اذان کی۔ (د امام شافعی ؒ په نزد ترجیع په اذان کی سنت
دی او ترجیع داده چه دا دوه کلمې د شهادت اول واړه دوه واړه کړی او وائی او دوه واړه ئی په ټوله واز

وَيَزِيْدُ فِيْ اَذَانِ الْفَجْرِ بَعْدَ الْفَلَاحِ اَلصَّلٰوةُ خَيْرٌ

او ده یا ته ویلی دی په اذان کی د سحارپس له حیّ علی الفلاح ﴿الصلوة خیر من النوم﴾ یعنی لمونځ ډیر ښه
دی تا خوب۔ دوه واړه۔ او اقامت په تولو کلموکی په مثل داذان دی مګر دا وقف نه دی چه په اقامت کی

يَزِيْدُ فِيْهَا بَعْدَ الْفَلَاحِ قَدْ قَامَتِ الصَّلٰوةُ مَرَّتَيْنِ

دی نو یا تو دی پس له حیّ علی الفلاح ﴿قد قامت الصلوة﴾ یعنی په تحقیق برپا ئی سو لمونځ یعنی شروع سو۔ دوه واړه

وَيَتَرَسَّلُ فِي الْاَذَانِ وَيُحَدِّرُ فِي الْاِقَامَةِ

او دسان ئی اوښته دی کوی په اذان کی او تلواړه دی کوی په اقامت کی۔

وَيَسْتَقْبِلُ بِهِمَا الْقِبْلَةَ فَاِذَا بَلَغَ اِلَى الصَّلٰوةِ

او مخامخ دی دسړیزی په دواړو کی و قبلې ته پس چه و سړیزی په اذان او اقامت کی وحیّ علی الصلوة

وَالْفَلَاحِ يُحَوِّلُ وَجْهَهُ يَمِيْنًا وَشِمَالًا

او حیّ علی الفلاح ته وړی کوی حوی مخ خپل پر راسته طرف (په حیّ علی الصلوة کی) اوپر چپه طرف
(په حیّ علی الفلاح کی)

فائده! ظاهر متن اړوند دغه دی په اذان او اقامت دواړو کی لکن تحقیق دا دی چه په
اقامت کی خو اړول ضروري نه دي سنت ولی چه خلک تولې حاضر دی۔ کوکب دري ص۲۳

مسئله! اذان په ناستی مکروه دی او په بې اوضو هم مکروه دی۔

مسئله! په مابین کی داذان او اقامت بله نفرې کول په هره شړبه چه وی لکه پښتانه
په وائی راځئی پر لمونځ دی ریږدی یا لمونځ کوو که خدای کول مکروه دی۔ مګر د سحار
لمانځه د پاره چه وخت دخوب اوغفلت دی دهدایه په ملک کی وائی چه دا نفرې علما ؒ
د کوفې احداث کړی دی پس له زمانې نخعۍ ؒ تابعی نه دا صحابو لکن یوازې د سحار په لمانځه کی۔ لکن
متاخرینو دا نفرې ښه بللې دی په تولو لمونځو کی د جهته د سستی د خلکو په دینی کار وکی۔

فقیر وائی چه دا نفرې په ممالکو اسلامیه کی رواج نه لری۔ لکه توله پاکستان توله عربستان
تولې عراق۔ توله کویت۔ توله د هند مسلمانان۔ مګر د افغانستان په بعض لرې ځایونو کی ګیږی
یعنی روایت کړی دی چه حضرت علی کرم الله وجهه ولیدی یو مؤذن چه د ماخستن په
لمانځه کی ئی دا نفرې وکړې۔ نو علی ؓ خلکو ته وویل چه دا مبتدع د دې مسجد نه وباسئی۔
او دغه رنګه د ابن عمر ؓ نه هم مثل دغه روایت موجود دی۔

وَيُؤَذِّنُ لِلْفَائِتَةِ وَيُقِيْمُ فَاِنْ فَاتَتْهُ صَلَوَاتٌ اَذَّنَ

او اذان دی کوی د پاره د قضا ئی لمانځه او اقامت دی هم کوی۔ او که دیر لمونځونه قضا سوی وی نو اذان دی کوی۔

لِلْاَوْلٰی مِنْهَا وَاَقَامَ وَكَانَ مُخَيَّرًا فِي الثَّانِيَةِ اِنْ

دپاره داول ده وی او اقامت دی هم وکړی. او دده اختیار دی په دوهم لماښځه کې

شَاءَ اَذَّنَ وَاَقَامَ وَاِنْ شَاءَ اِقْتَصَرَ عَلَى الْاِقَامَةِ وَيُنْبَ

اذان واقامت دواړه کوی او کې خوښه وی یوازې اقامت دی وکړی. او بنائی چه اذ

اَنْ يُؤَذِّنَ وَيُقِيْمَ عَلٰى طَهَارَةٍ فَاِنْ اَذَّنَ عَلٰى غَيْرِ وُضُوْءٍ جَا

دی وکړی او اقامت دی وکړی په اودس سره. پس کې اذان وکړی په بې اودسۍ نو روا

یعنی فضیلت فی دلاسه ورکړی خلک دجواز طرف ته ردی.

وَيُكْرَهُ اَنْ يُقِيْمَ عَلٰى غَيْرِ وُضُوْءٍ اَوْ يُؤَذِّنَ وَهُوَ

اومکروه دی (تحریماً) چه اقامت کوی په بې اودسۍ سره. او یا اذان کوی په داسې حال کې چه

جُنُبٌ وَلَا يُؤَذِّنُ لِلصَّلٰوةِ قَبْلَ دُخُوْلِ وَقْتِهَا

جنب وی. او اذان دی نه کوی دلماښځه پاره د هغه تر داخلیدو دوخت دلماښځه

اِلَّا فِي الْفَجْرِ عِنْدَ اَبِيْ يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللّٰهُ

مګر په سحار کې په نزد دامام ابویوسف رحمه الله تعم.

دلیل ئې دادی چه اذان دخبرید ودخلګو د پاره دی په وخت دلماښځه. او قبل الوقت دهغه وخطا استدل دی.

مسئله! کې اذان قبل الوقت وکړی چه وخت داخل سو بیرته دې ږاوکړی او امام ابو یوسف، او امام الشافعیؒ وائی چه د سحار اذان تر نیمې شپې وروسته ږوادی او دامام اعظمؒ دلیل دادی چه آنحضرت صلعم وحضرت بلالؓ ته وویل چه اذان هم کوه تر هغو چه سپیدې نه وی چاودلی. عرف شذی.

اللهم اغفر لکاتبه ولمؤلفه ولوالدیهما آمین

بَابُ شُرُوْطِ الصَّلٰوةِ الَّتِيْ يَتَقَدَّمُهَا

باب دی په بیان کې دهغو شرطونو لماښځه چه تر لماښځه مخکښ دی

یوکاسه! چه هغه شی چه لمونځ بیله هغه شی صحت نلری که په لماښځه کې داخل وی هغه شرطونه دی. یو خارج وی او یو هغه چه شرط وائی. داخل لکه رکوع سجده وغیره. خارج لکه اودس. پاکول دجامې وغیره.

يَجِبُ عَلَى الْمُصَلِّيْ اَنْ يُقَدِّمَ الطَّهَارَةَ مِنَ

فرض دی پر لمونځ کذاره باندې چه د هغه تر لماښځه دی وکړی پاکوالی دبې اودسیاو

الْاَحْدَاثِ وَالْاَنْجَاسِ عَلٰى مَاقَدَّمْنَاهُ وَيَسْتُرُ عَوْرَتَهُ

څخه. اودهر دارې یو څخه. لکه موږ چه د هغه بیان کړی. اوپټ دی کړی عورت خپل

مسئله! عورت دوه قسمه دی یو غلیظ. یعنی سخت لکه دُبره. فرج اوذکر. اوبل خفیفه دی. یعنی سپک لکه وړوکی. کناتې کنیزې وی اوکه دښځې دښځې سره اوشا.

فائده! لږه والی دعورت چه لږدی مانع دلماښځه نه دی. او دیرتوالی مانع دی. دامام اعظمؒ او امام محمدؒ په نزد چه تر څلرمی د هغه اندام کم وی هغه لږدی. او مانع دلماښځه نه دی. او امام ابو یوسفؒ وائی چه تر نیمې کم وی هغه لږدی او چه نیم یا تر هغه بالاوی هغه دیر دی.

بسو وخطه! اندام هغه دی چه په اصطلاح کې جلد نوم لری.

وَالْعَوْرَةُ مِنَ الرَّجُلِ مَا تَحْتَ السُّرَّةِ اِلَى الرُّكْبَةِ وَالرُّكْبَةُ عَوْرَةٌ

اوعورت د نارینه تر نامه تر ښکانه پورې دی. اوښکون عورت دی.

دُوْنَ السُّرَّةِ وَبَدَنُ الْمَرْاَةِ الْحُرَّةِ كُلُّهُ عَوْرَةٌ اِلَّا وَجْهَهَا وَكَفَّيْهَا وَقَدَمَيْهَا

اوپوند دی عورت او بدن د ښځې اصیلې ټول عورت دی. مګر بیله مخ د ښځې او وږغوی د ښځې اوپښې د ښځې

ولی چه ضرورت دی۔ اوښځه په دې نه دی عورة چه په صحیح حدیث کې راغلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائل چه ښځینو نه عورت دی۔

مسئله! دښځې پښې هم عورت نه دی۔ کوکب دری۔ هدایه ص۸۸ لکن شارح للنیة او قاضی خان وائی چه پښې ئې عورت دی۔ لکن په اعتبار د حرج فتوی پر قول د هدایه ده۔

مسئله! که دښځې داسی نازک پوره ئې پرسر و وچه دسر وینان ئې معلومیدل یا تر قمیصه پاس تاکه ئې بدن معلومیدی لمونځ ئې نه دی روا۔ ردمحتار۔

شکایت! بعضی ښځې په لمانځه کې دیره بیباکی کوی۔ یعنی نازک پوره ئې ئې پرسر وی یا ئې بجلکی یا تر بجلکو لوړ پښدی ئې معلومیږی یا مړوند و نه معلومیږی لمونځ ئې نه دی روا۔

وَمَا كَانَ عَوْرَةً مِّنَ الرَّجُلِ فَهُوَ عَوْرَةٌ مِّنَ الْأَمَةِ

او هغه حائ چه عورة وی له نره څخه هغه عورت دی د میئې څخه هم۔

وَبَطْنُهَا وَظَهْرُهَا عَوْرَةٌ وَمَا سِوٰى ذٰلِكَ مِنْ بَدَنِهَا

اوښی د میئې او شا د دې هم عورت دی او ماسوی د دې څخه د بدن څخه د میئې

لَيْسَ بِعَوْرَةٍ وَمَنْ لَمْ يَجِدْ مَا يُزِيْلُ بِهَا النَّجَاسَةَ

نه دی عورت۔ اوکه چانه کړی پیدا هغه شی چه موداره پرې لیری کړی (لکه اوبه سرکه وغیره)

صَلّٰى مَعَهَا وَلَمْ يُعِدِ الصَّلٰوةَ وَمَنْ لَمْ يَجِدْ ثَوْبًا

لمونځ دی وکړی سره د هغه نجاست اوبیا دی لمونځ نه راکړی اوکه چانه د راکړلو ده د دونه جامه چه عورت

صَلّٰى عُرْيَانًا قَاعِدًا يُوْمِيْ بِالرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ

پټ کړی لمونځ دی وکړی په ځمکه عورت په ناسکه۔ او اشاره دی کوی په رکوع او سجده کې سره (تاچه

فَإِنْ صَلّٰى قَائِمًا أَجْزَأَهُ وَالْأَوَّلُ أَفْضَلُ

عورت نخلیږی فی حق الامکان پټ وی) اوکه لمونځ وکړی په ولاړه هغه هم کفایت کوی (ولی عورت کې ځ سوولاړه خوئې پرځای سوه) او اول چه په اشاره لمونځ دی افضل دی۔ (ولی چه د عورت پټول

هم حق دلمانځه دی او هم حق د خلکو او قیام یوانړی حق دلمانځه دی۔

وَيَنْوِي الصَّلٰوةَ الَّتِيْ يَدْخُلُ فِيْهَا بِنِيَّةٍ لَا يَنْفَصِلُ

او نیت دی کوی د هغه لمانځه چه دی پکښی داخلیږی داسی نیت چه جلا والی دی نه

بَيْنَهَا وَبَيْنَ التَّحْرِيْمَةِ بِعَمَلٍ اٰخَرَ۔

کوی په مابین د نیت او الله اکبر د ویلو په یوبل عمل سره (لکه خوړک، لنګوته تړل وغیره)

پوه سه! چه نیت قصد تر د ښه وائی نو که د چا د ښه وه حضور بر ابر وی او په خوله څه ووائی کافی ده۔ لکن اوئی دا دی چه د ښه د نیت سره دی د خولی لفظی نیت هم ملګری کړی۔

مسئله! که د چا ښه په سبب د بعضی عوارضو نه پرځای کیږی۔ نو هغه ښه لفظی نیت هم بس دی۔

فائده: لفظی نیت یو اوښه دی اوبد لنډ۔ اوښه د نیت ئې دادی۔ قصدمی دی د ښه په اخلاص لمونځ کوم څلور رکعته فرض د دې حاضر وخت د مانښ دیکر مخ می دی پر بیت الله شریف۔ الله اکبر۔

تنبیه! که امام وو نیت د امامت د مقتدیانو د دی هم کوی۔ او که مقتدی وو نیت د اقتدا، په امام پسی د دی هم کوی۔

اولنډ نیت دادی۔ لمونځ کوم فرض د دې حاضر وخت د ما پښین۔

قال علیه الصلوة والسلام "إنما الأعمال بالنیات" بخاری۔ مسلم۔ یعنی ثواب د عملو په نیت پوهیږی اړه لری۔

وَيَسْتَقْبِلُ الْقِبْلَةَ إِلَّا أَنْ يَّكُوْنَ خَائِفًا فَيُصَلِّيْ

او څېر قبله دی وګرځوی۔ مګر هغه وخت که ویریدی د دښمن یا درنده څخه۔ که هغسی وو

إِلٰى أَيِّ جِهَةٍ قَدَرَ فَإِنِ اشْتَبَهَتْ عَلَيْهِ الْقِبْلَةُ

بیادی لمونځ ادا، کړی وهر طرفته چه قدرت ئې وی (چه د دښمن یا درنده ویره پکښی نه وی) اوکه چیری پوشیده سوه پر لمونځ کوونکی باندی قبله (یعنی دړک نه وه معلومیدی چه قبله کوم خوا ته ده

وَلَيْسَ بِحَضْرَتِهِ مَنْ يَسْئَلُهُ عَنْهَا اِجْتَهَدَ وَصَلّٰى

اونه وو په حضوره کی دده هغه څوک چه دی پوه ښه ته ځنی وکړي د قبلې (لکه سړي چه پوهه
کی لمونځ کوی) نو دی دې ښه فکر وکړي (یعنی د قبلې په خواکی. نو هره خواته چه دده غالب
ګمان سو هغه طرفته دی) لمونځ وکړي.

فَاِنْ عَلِمَ اَنَّهُ اَخْطَاَهَا بَعْدَ مَا صَلّٰى فَلَا اِعَادَةَ عَلَيْهِ

پس که پوه سو چه ده خطا وکړه په قبله کی پس له دې چه لمونځ یې وکړي. نو پر ده باندې
نه ده اکر څه ده لمانځه نسته.

ولی چه تکلیف پر اندازه د قدرت دی. ددې قدرت هم دا فکر وهل وه.

وَاِنْ عَلِمَ ذٰلِكَ وَهُوَ فِي الصَّلٰوةِ اِسْتَدَارَ

اوکه چیری یقین سو پر خطا باندې او دې په لمانځه کی وو. ودی ګرځی وطرفته

اِلَى الْقِبْلَةِ وَبَنٰى عَلَيْهَا

د قبلې په هغه لمانځه کی او نور لمونځ دی پس بناء کړي (یعنی هغه پاته لمونځ دی
پوره کړي)

مسئله! که دا سړي ګمان وی چه طرفته غالب نه وو بلکه تحرۍ طرفونه وه برابر وه. نو څوک
وائی چه لمونځ دی وځنډوی تر هغوچه د قبلې درک یا په یقین یا په غالب ګمان وه معلومه ښه ی. او څوک وائی چه وځلوه سړه طرفته دی
لمونځ وکړي. وَاللّٰهُ اعلم بالصواب.

مسئله! که یوچا چه قبله ځنی وه ګه وه بیله اجتهاد او فکر ئی لمونځ یې وخواته وګذاره نو دی
هغه لمونځ بیرته راوګرځوی یعنی فکر او اجتهاد دی وکړي او بیا دی لمونځ وکړي.
مګر که چیری پس له فراغه د لمانځه پوه سو چه ما قبله ترلمونځ وکړی نو بیا اعاده پرې
نسته ولی چه اشتباه رفع سوه. فتح القدیر.

بَابُ صِفَةِ الصَّلٰوةِ

باب دې څه په بیان کې د حال د لمانځه

یعنی تفصیلی بیان د لمانځه او د داخل شیان د لمانځه. ددې باب نه ده کړه دې
مُسم دده ولی چه عین مقصود دی.

فَرَائِضُ الصَّلٰوةِ سِتَّةٌ

هغه اعمال چه په لمانځه کی فرض دی شپږ دی.

فائده! فرض د لمانځه هغه شی دی چه په پریښولو ئی لمونځ فاسدیږی.
کې په قصد پریښ دی اوکه په سهوه سړه. او واجب هغه عمل د لمانځه دی کې په سهوه پریښ دی
سجده سهوه پرې لازمه ده. اوکې په قصد پریښ دی لمونځ ئی ناقص سو. اکر څوک ئی واجب
دی. او سنت په لمانځه کی هغه عمل دی کې په قصد پریښ دی ګناه ده په سجده سهوه
ئی چاره نه کیږی. بلکه د لمانځه اکر څوک ئی سنت دی. او مستحب یا مندوب
هغه عمل دی چه کوم ئی ثواب دی. او په پاته کیدو کې شی نسته.

اَلتَّحْرِيْمَةُ وَالْقِيَامُ وَالْقِرَاءَةُ وَالرُّكُوْعُ وَالسُّجُوْدُ

اول الله اکبر ویل دی. قال الله تعالی وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ اوبل ولاړه ده سړه د قدرته. لقوله تعالی وَقُوْمُوْا
لِلّٰهِ قَانِتِيْنَ اوبل قراءة دی پس قدر ده وایاتو. لقوله تعالی فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْاٰنِ اوبل رکوع او
سجده ده. لقوله تعالی وَارْكَعُوْا وَاسْجُدُوْا.

پوهه سه! چه رکوع کښ یدونه وائی دولاړې څخه او سجده تندی او پزه پرې محکمه ایښودل دی.

وَالْقَعْدَةُ الْاَخِيْرَةُ مِقْدَارُ التَّشَهُّدِ

او اخیره ناسته ده په اندازه د التحیات. یعنی نفس ناسته فرض ده که التحیات وائی اوکه نه.

په صحیح حدیث کی راغلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم عبد الله بن مسعود رضی الله عنه
ترلاسه ونیوی او بیائی التحیات ورښودل او ورته وی ویل اِذَا قُلْتَ هٰذَا اَوْ فَعَلْتَ هٰذَا

فَقَدْ تَمَّتْ صَلٰوتُكَ. یعنی که ته دغه التحیات ولوائی او یادغه فعل وکړې نو ستا لمونځ پوره سو. نو معلومه سوه چه بیله یوه دد غو دوو لمونځ نه دی پوره کا۔

وَالْخُرُوْجُ عَنِ الصَّلٰوةِ بِفِعْلِ الْمُصَلِّيْ فَرْضٌ عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ

اوونل د لمانځه څخه په یو فعل د لمونځ کوونکی سره فرض دی په نزد د امام اعظم رح

وَعِنْدَهُمَا لَيْسَ بِفَرْضٍ وَمَا زَادَ عَلٰى ذَالِكَ فَهُوَ سُنَّةٌ

اوپه نزد د یارانو فرض نه دی ـ اوهغه عمل چه تر دغو ذکر سوو بالاوی هغه عمل سنت دی۔

سوال! مصنف ما سوا دهغه شپږو عملونو څخه نور ټول سنت و بلل ـ اوسره د دې چه دیر واجب پکښې ستر ـ (۱) قِرَاءَةُ الفَاتِحَة ـ ویل د الحمد لِلّٰه ـ (۲) ضَمُّ السُّوْرَة ـ د الحمد لِلّٰه سره یو بل سوره د قرآن شریف جوتول (۳) مراعات الترتیب ـ یعنی د ترتیب ساتنه ـ (۴) القعدة الاولیٰ ـ اوله ناسته ـ (۵) وَقِرَاءَةُ التَّشَهُّد فِی الاخیرة ـ اوویل د التحیات په اخیره ناسته کی ـ (۶) و القنوت فی الوتر ـ او دعاءِ قنوت په وتر و کی ـ (۷) و تکبیرات العیدین ـ او تکبیرونه د اختر و په لمانځه کی (۸) وَ الْجَهْرُ فِیْمَا یَجْهَرُ بِهِ الْاِمَامُ وَهِیَ د قراءة امام لره په جهري لمونځو کی ـ (۹) وَالْمُخَافَتَةُ فِیْمَا یُخَافِتُ فِیْهِ ـ او د قراءة امام اویوانی سری ته په خفیه لمونځو کی ـ

جواب! هدایه او جوهرة او کوکب دری وائی چه مصنف چه دا ټول سنت و بلله ولی چه ثبوت یی د ټولو په سنت یعنی په حدیث بنوی سوی دی ـ پرده پت سوال سته فکر وکړه ـ

وَاِذَا دَخَلَ الرَّجُلُ فِیْ صَلٰوتِهٖ كَبَّرَ وَرَفَعَ يَدَيْهِ مَعَ التَّكْبِيْرِ

اوڅه وخت چه اراده وکړي یو سړی چه داخل سي په لمانځه کی نو الله اکبر دی وائی اولاسونه دی پورته کړی سره د تکبیره ـ

د وړه! کوم څه هم په کتاب کی د زړ کر سوی دی خو بنهی په لفظ تکبیر کی دغه حکم دی ـ

مسئله! دلاس پورته کول سره د تکبیره سره یو د فقیه ابو جعفر طحاوی دا ده ـ لکن صحیح دا ده چه لاسونه دی دمخه تر تکبیر پورته کوی ـ

مسئله! بعضی خلک د نیت کولو سره لاس غوږو ته وړی اوبیا د لفظی نیت د کولو په وخت کی لاسونه په غوږو پورې نیولی وی ـ خو دا کار د سنت څخه خلاف دی ـ بلکه د لفظی نیت دی دمخه تر لاس پورته کیدو وکړی اوبیا دی لاسونه پورته کړی او تکبیر دی وائی ـ کوکب ۲۵

حَتّٰى يُحَاذِيَ بِاِبْهَامَيْهِ شَحْمَتَيْ اُذُنَيْهِ

تر هغوچه براښې دی کړي د ښتو کوتو سره ونه د نرمیو سره د غوږونو ـ

فائده! حدیث شریف دری قسمه راغلی دی ـ په روایت د بخاری ـ مسلم ـ ترمذی وغیره یو حدیث داسی راغلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم لاسونه تر اوږو پورې پورته کوله ـ اوبل حدیث په دې ډول دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم لاسونه تر نرمیو د غوږونو پورته کوله ـ اوبل حدیث داسی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به لاسونه تر سره پورې پورته کوله ـ نو دې دری حدیثو جمع فقهاؤ او علماؤ د حدیثو داسی کړې ده ـ چه په وخت کی د تکبیر دی د لاسو وړو غوږو د اوږو سره اوبیا کوني د غوږونو د نرمو سره اود نورو کوتو سره ونه د سر سره برابری کړی ـ

مسئله! په لاس پورته کیدو کی شرط برابر والی دی ـ کوتی مسکول د غوږو سره شرط نه دی ـ

پوښتنه! د لمانځه شروع په فرضو کیږی اوکه په سنتو؟

جواب! په دواړه وکیږی ولی چه اول تکبیر فرض دی اولاس پورته کول سنت دی او دا دواړه یوځای دی ـ همدغه سوال امتحاناً امام اعظم رح پر امام محمد کړی وو ـ

فَاِنْ قَالَ بَدَلًا مِّنَ التَّكْبِيْرِ اَللّٰهُ اَجَلُّ اَوِ اللّٰهُ اَعْظَمُ

اوکه وویل پرځای د الله اکبر ـ الله اجل او یا الله اعظم

اَوِ الرَّحْمٰنُ اَكْبَرُ اَجْزَاَهُ عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ

او یا الرحمٰن اکبر روا دی په نزد د امام اعظم رح او دغه رنګه په نزد د امام محمد رح

وَقَالَ اَبُوْ يُوْسُفَ لَا يَجُوْزُ اِلَّا اَنْ يَّقُوْلَ اَللّٰهُ

او امام ابو یوسف رح وائی چه نه دی روا په اول تکبیر کی مګر داچه وائی الله

اَكْبَرُ اَوِ اللّٰهُ الْاَكْبَرُ اَوِ اللّٰهُ الْكَبِيْرُ

اکبر او الله الاکبر او الله الکبیر

لقوله علیه السلام، تحریمها التکبیر، یعنی احرام تر لمانځه تکبیر دی ـ نو معلومه

سوه چه د تکبیر حروف غواړی۔

او امام صاحب دلیل دادی، وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهٖ فَصَلّٰى، او ذکر کړی نوم د خدائ او بیا لمونځ وکړی نو د دې آیة څخه دا معلومیږی چه نفسی ذکر د نامه د خدائ پاک ضروری دی۔

سوال! نو باید په الله رحیم او الله غفور وغیرهما سره هم شروع روا وی

جواب! ما سوی د الله او الرحمٰن څخه د هغه نورو اسماؤ اطلاق پریل چا هم کیدائ سی نو له دې ځکه مشترک الفاظ دی شروع د لمانځه نه ده په روا۔ ولی په لمانځه کی ذکر مخصوص په خدائ پاک پوری غواړی۔

وَيَعْتَمِدُ بِيَدِهِ الْيُمْنٰى عَلَى الْيُسْرٰى وَيَضَعُهُمَا تَحْتَ السُّرَّةِ

او بیا د ی تکیه وکړی (کښی دی ښی) راسته لاس پر چپه لاس او بیا دی دواړه کښینږدی تر نو لاندی۔

کیفیت! د راسته لاس وړ غوی دی د چپه لاس پر شا کښینږدی۔ او بیته کوته او کوچنی کوته دی پر چپه لاس ور اړوی۔ او نورې دری کوتی دی پر چپه باندو کښینږدی او دا هره موښ مذهب دی۔ او امام مالک وائ چه لاسونه دی د خانه سره ایله کړی۔ او امام شافعی وائ چه لاسونه دی پر ځکر وینسی۔ نه موښ دلیل دا حدیث مبارک دی چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم وائ، إِنَّ مِنَ السُّنَّةِ وضع اليمين عَلَى الشِّمَالِ تَحْتَ السُّرَّةِ، په تحقیق سره د سنت څخه دی ایښو دل د راسته لاس پر چپه باندی لاندی تر نامه

دعوا مو غلطیانی! بعضی عوام چه الله اکبر وائ بیا نو لاسونه د خانه سره ایله کړی او وسته ئ پر نامه وینسی۔ او دا سی نه ده۔ بلکه الله اکبر دی وائ او دستی دی لاسونه پر نامه وینسی او سبحانك اللهم دی شروع کړی۔

مسخره! بعضی خلک پر طالب باندی سوال وکړی چه کوم دی هغه لمونځ چه لاس پر نامه پکښی نه نیول کیږی؟ طالب جان حیران سی کوښنه کوښنه فکروهی۔ باید چه وړته وائ چه تولو لمونځونه دغسی دی چه لاس پر نامه نه ایښو دل کیږی۔ بلکه تر نامه لاندی ایښو ول کیږی۔ حاصل دا چه هر هغه ولاړه چه په هغی کی ذکر مسنون وی په هغه کی دی لاسونه تر نامه لاندی ښیی لکه سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ په وخت کی د دعاء قنوت په وخت کی۔ او چه ذکر مسنون نه وی په هغه کی لاسونه ایله نیول کیږی۔ لکه مابین د سجدې او رکوع او مابین د تکبیر و د احترو۔ کوکب دری ص۲۶۔

ثُمَّ يَقُولُ سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ

بیا دی وائ۔ پاکی دی د تولو عیبو څخه تل ره ای خدایه او ستا د حمد سره او لوړ دی ستا

اسْمُكَ وَتَعَالٰى جَدُّكَ وَلَا إِلٰهَ غَيْرُكَ۔ وَيَسْتَعِيذُ

نوم او بلند و لوړ دی ستا قدرت او نسته حقدار د عبادت پې تا۔ او پناه دی وغواړی

بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيمِ۔ وَيَقْرَأُ

په پاک خدای سره د شیطان څخه چه راندې او تره تلی دی د خدائ د لویه رحمته څخه (یعنی اعوذ بالله دی ټر

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ۔ وَيُسِرُّ بِهِمَا

پایه وائ) او بسم الله الرحمن الرحیم دی وائ۔ چه ترجمه ئ په سر کی د کتاب تیره سوه۔ او کړاس دی وائ اعوذ بالله او بسم الله۔ کذا امام وی او کله مقتدی۔ په حدیث شریف کی دغسی راغلی دی۔ کوکب۔

مسئله! د امام اعظم رح څخه روایت دی چه بسم الله دی په اول کی د هره رکعت نه وائ لکه اعوذ بالله چه نه وائ بلکه صرف په اول رکعت کی دې وائ۔ او بله روایت د امام اعظم رح څخه دادی چه بسم الله دی په هر رکعت کی وائ د احتیاط دلاړی ولی چه امام شافعی رح بسم الله جزء د الحمد لله بولی۔ هدایه ص۹۷ وعلیه الفتوی۔

ثُمَّ يَقْرَأُ الْفَاتِحَةَ الْكِتَابِ وَسُورَةً مَعَهَا أَوْ

او وسته دی وائ الحمد لله شریفه او یو سوره سره د الحمد لله او یا د هری ایاته

ثَلٰثَ اٰيَاتٍ قِصَارٍ أَوْ اٰيَةً طَوِيلَةً مِنْ اَيِّ سُورَةٍ شَاءَ

لنډی او یا یو ایته اوږده د هره سورت څخه چه دده خوښه وی۔

مسئله! ویل د الحمد لله او ضم د سورت دواړه واجب دی۔ هدایه ص۹۷ او امام شافعی رح الحمد لله فرض بولی۔ او امام مالک رح دواړه فرض بولی۔ نه موښ دلیل دادی چه قرآن مبارک نفس قرائت فرض کښلی دی۔ قال الله تعه، فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْاٰنِ، تاسی وایاست هغه شی چه تاسی ته آسان وی د قرآن څخه۔

اوالحمد لله اوضم د سورة په احاديثو مبارکو سره ثابت دی نو نفسي قرائت فرض دی او الحمد لله اوضم د سورة واجب دی، فرقاً بين ما ثبت بالقرآن وما ثبت بالحديث يعنی د پاره د فرق په مابين کی دهغه شی چه په قرآن ثابت وی او دهغه چه په حديث ثابت وی

وَإِذَا قَالَ الْإِمَامُ وَلَا الضَّالِّينَ قَالَ آمِينَ وَيَقُولُهَا الْمُؤْتَمُّ وَيُخْفُونَهَا

او بيا چه د امام ولا الضالين امام به و وائی آمين او وائی دی دا کلمه مقتدی اود دواړه دی پټه وائی

به حديث کی دابن مسعود رضی الله عنه اغلی دی چه څلور شيان دی امام کرام وائی. يو د هغو څخه آمين دی. کوکب دری ۲۲

مسئله! په جهری لمانځه کی دی مقتدی آمين وائی. ولی چه حنفيه لمانځه کی مقتدی ته د ډير معلوميږی او امام يا منفرد سره دی په تولو لمانځه کی آمين په اخير کی د الحمد لله وائی.

ثُمَّ يُكَبِّرُ وَيَرْكَعُ وَيَعْتَمِدُ بِيَدَيْهِ عَلَى رُكْبَتَيْهِ وَيُفَرِّجُ

بيا دی الله اکبر ووائی او بيا دی رکوع وکړی او تکيه دی د کړی د دواړه لاسونه پر دواړه زنګنو او خلاص

بَيْنَ أَصَابِعِهِ وَيَبْسُطُ ظَهْرَهُ وَلَا يَرْفَعُ رَأْسَهُ وَلَا يُنَكِّسُهُ

دی کړی مابين د ګوتو. او دی غوږونه دی ملا اوپوته دی نه نسی سر ترملا اونه دی سر کښته کوی ترملا.

احاديث! كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يُكَبِّرُ عِنْدَ كُلِّ خَفْضٍ وَرَفْعٍ، يعنی نبی عليه السلام الله اکبر وايه په وخت کی د هر کښته کيدو او پورته کيدو کی. او انس رضی الله عنه وائی هغه وخت چه رکوع کوی لاسونه پر زنګنو اينږدوه او کوفی خلاصی لره. حديث! چه رسول الله صلی الله عليه وسلم به رکوع کوله بغلی وغيره وله. بخاری. هدايه کوکب

وَيَقُولُ فِي رُكُوعِهِ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ ثَلَاثًا

او وائی دی په رکوع کی پاکی ده خدای لره چه لوی دی. دری واړه.

وَذَلِكَ أَدْنَاهُ ثُمَّ يَرْفَعُ رَأْسَهُ وَيَقُولُ

او دا کمه مرتبه د تسبيح ده. او بيا دی سر اوپورته کړی سر خپل د رکوع څخه. او دی وائی امام

سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ وَيَقُولُ الْمُؤْتَمُّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ

او په خدای حمد ده هغه چا چه حمد د خدای ووائی. او دی وائی مقتدی يا خدايه تا لره دی حمد.

مسئله! «رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ» «وَرَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ» «اللّٰهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ» دری سره روايته راغلی دی. افضل فی اخير دی. فقير.

مسئله! دا تول تکبيرونه د انتقالاتو تکبيرونه بول نوبه وخت د انتقال ديوالی کښه وبل کښه ته دی فی وائی او د باندی کښه د رسيدو په وخت کی بی ختموی. او دهغه نکته به سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ په ولاړی پوره کوی او د ولاړی څخه به تکبير شروع کوی.

فَإِذَا اسْتَوَى قَائِمًا كَبَّرَ وَسَجَدَ وَاعْتَمَدَ بِيَدَيْهِ عَلَى الْأَرْضِ

کله چه برابر سی په ولاړه کی الله اکبر دی ووائی او سجده دی وکړی او تکيه دی کی د دواړه لاسونه پر ځمکه باندی

وَوَضَعَ وَجْهَهُ بَيْنَ كَفَّيْهِ حَذَاءَ أُذُنَيْهِ وَسَجَدَ عَلَى أَنْفِهِ وَجَبْهَتِهِ

او کښينی دی دی خپل په مابين کی د دوو وږغونو برابری دغوږونو او سجده دی وکړی پر پزه وتندی.

فائده! ولاړه د رکوع څخه سم دم او دهغه رنګه سمه ناسته په مابين کی د دوو سجدو او آرام کول په رکوع او په سجده کی فرض نه دی بلکه سنت مؤکد دی په نزد د امام اعظم رح او امام محمد رح. او امام ابو يوسف رح وائی چه دا تول فرض دی. او همدغه مذهب د حضرت محمد بن ادريس الشافعی رح دی. دوی دليل دادی چه په بخاری. مسلم ترمذی وغيره کی راغلی دی چه يو نفر راغلی ومسجد بنوی ته چه آنحضرت صلی الله عليه وسلم هلته تشريف درلودی. او دهغه نفر لمونځ سپک وکړی يعنی رکوع او سجده قومه او جلسه بين السجدتين ی سم نه وکړه. نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل، صَلِّ فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ، لمونځ بيا وکړه چه تا لمونځ نه دی کړی. حتی چه دری واړه ځی لمونځ په سم اوکی خاوه. او څلورم واړی په تفصيل ورو بنودی.

او د امام اعظم رح دليل آخود دهغه حديث دی چه آنحضرت صلی الله عليه وسلم دهغه سړی ته وفرمايل، وَمَا انْتَقَصْتَ مِنْ هٰذَا شَيْئًا فَقَدِ انْتَقَصْتَ مِنْ صَلٰوتِكَ، يعنی که ته نقصان وکړې د دغه څخه يوشی پس تا لمونځ کم کړی. نو معلومه سوه چه اصل لمونځ باقی دی سره د نقصانه. او سنت پريښودل لمونځ ناقصوی.

دعوا مولی نخونه

نه په سجده کی آرام کوی او نه د رکوع کی او نه د رکوع څخه سم دیږی او نه په مابین کی د سجدو کښینی نو د دوی لمونځ نه پریږی مذهب صحیح دی او پر بل مذهب فاسد دی.

مسئله! په سجده کی دی کوتی سره تولوی او وقبله تر دې مخامخ کوی.

غلطی! ډیر عوام بلکه بعضی اماما ن په وخت کی د سجدی لاسونه د زنګنو سره ایږدی یا ئی څوره اندی. حاصل داچه څه په مابین کی د وه غوو نه ایږدی. د اخلاف د سنت څخه دی. په حدیث مبارک کی راغلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د سجدی په حال کی مخ مبارک په مابین د وه غوو کی ایښوو ئ. او عقل هم دغه وائی ولی چه په اول کی د رکعت یعنی د تحریمی په وخت کی څه په مابین کی د وه غوو ینول کیدئ. نو په اخیر کی د رکعت یعنی د سجدې په وخت کی هم باید څه په مابین کی د وه غوو وی. نهایه شرح هدایه

فائده! بعضی خلک د سجدې په وخت کی کلکی پر ځمکه ایږدی او تندی او پزه د واړه وائی د ځمکی څخه پورته وی د لمونځ په اتفاق فاسد دی. په حدیث شریف کی چه روایت فی عبدالجبار دخپل پلار وائل څخه کوی د اسی راغلی دی چه رسول الله صلے الله علیه وسلم پزه مبارکه پر ځمکه ایښوول سره د تندی. او په حدیث شریف کی د ابی حمید راغلی دی په باب کی د سجدې د آنحضرت صلی الله علیه وسلم «ثم سجد فامکن انفه وجبهته من الارض» کوکب دری ص۲۵

فَإِنِ اقْتَصَرَ عَلَى أَحَدِهِمَا جَازَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ

او که یوس والی وکړی پر یوه دپزی یا تندی روا دی لمونځ فی په نزد د امام اعظم

وَقَالَا لَا يَجُوزُ الِاقْتِصَارُ عَلَى الْأَنْفِ إِلَّا مِنْ عُذْرٍ

او یارلان وائی چه واړه کوتاهی پر پزه مکروه د عذره مثلا تندی فی ټپی وی یا داسی پر باندی وی

فَإِنْ سَجَدَ عَلَى كُورِ عِمَامَتِهِ أَوْ عَلَى فَاضِلِ ثَوْبِهِ جَازَ

او که سجده وکړه پر ولړ د لنګوټ یا پر پاتو حاشی د جامی د لکه پر طرف د قمیص یا پر شمله لمونځ فی روا دی

مسئله! پر ولړ هلته سجده روا ده چه ولړ پر تندی وی او که ولړ پر کلکی وو بیا فی سجده نه ده روا. کمامر. دلیل د جواز هغه دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم سجده کول

پر ولړ د لنګوټ - هدایه منته رواه فی الحلیه - فتح.

او په بل حدیث کی راغلی دی چه آنحضرت صلعم لمونځ کاوه په یوه جامه کی - او څه فی ساقی ده فی جامی په نړیا توب د کړ محمد څخه د هلکی او دیخه څخه - هدایه منته کوکب دری ص۲۷ کذا قال الشرنبلالی

وَيُبْدِي ضَبْعَيْهِ

او بنکاره کوی دی باندی وکان خپل «لقوله علیه السلام وابد ضبعیک»

مسئله! بعضی خلک وی چه لاسونه فی په ځان پورې جوت نیولی وی د اخلاف سنت دی

وَيُجَافِي بَطْنَهُ عَنْ فَخِذَيْهِ وَيُوَجِّهُ أَصَابِعَ

او کوینه کوی دی نس خپل د وه رانو څخه - او مخامخ کوی دی کوتی د د واړه و پښو وطرف

رِجْلَيْهِ نَحْوَ الْقِبْلَةِ وَيَقُولُ فِي سُجُودِهِ سُبْحَانَ رَبِّيَ

تر د قبلې اوولی چه علیه السلام دغسی کړی) او وائی دی په سجده خپله کی سبحان ربی الاعلی

الْأَعْلَى ثَلَاثًا وَذَلِكَ أَدْنَاهُ

دری ځله او دا فی کمه مرتبه ده (یعنی کمه مرتبه د کمال ده - ولی چه کمه مرتبه یو واړه دی. کوکب ص۲۷

ثُمَّ يَرْفَعُ رَأْسَهُ وَيُكَبِّرُ فَإِذَا اطْمَأَنَّ جَالِسًا كَبَّرَ وَسَجَدَ

او بیا د سر د سجدې څخه راپورته کړی او الله اکبر دی وائی - او چه ښه آرام سی په ناسته کی بیا دی الله اکبر وائی او دوهمه سجده دی وکړی.

فَإِذَا اطْمَأَنَّ سَاجِدًا كَبَّرَ وَاسْتَوَى قَائِمًا عَلَى صُدُورِ قَدَمَيْهِ

او بیا چه آرام سی په سجده کی الله اکبر دی وائی او ولاړ دی سی پر څنګرو د پښو -

ولی چه روایت د ابوهریرة راغلی دی چه علیه السلام ولاړ یدئ پر صدور د قدمینو - هدایه

مسئله! امام شافعی وائی چه یو واړ دی کښینی او بیا دی ولاړ یږی. د دې ته دی جلسة الاستراحة وائی - ولی په صحیح حدیث کی په روایت د بخاری د اسی راغلی دی چه آنحضرت صلی الله علیه وسلم به کښینستی او بیا به ولاړ یدئ.

نهوز جواب دادئ چه داهغه وخت وو چه د آنحضرت صلی الله علیه وسلم بدن
دهوند او ضعیف سو۔ کذافی ردالمحتار وفتح القدیر۔

وَلَا يَقْعُدُ وَلَا يَعْتَمِدُ بِيَدَيْهِ عَلَى الْأَرْضِ

او نه دی کښینی او نه دی تکیه کوی لاسونه خپل پر ځمکه باندی۔

مسئله! دا قوله په هغه وخت کی چه عذر او ضعف نه وی۔

وَيَفْعَلُ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ مِثْلَ مَا فَعَلَ فِي

او کوی دی په دوهم رکعت مثل د هغه چه ده کړی وه په اول

الرَّكْعَةِ الْأُولَى إِلَّا أَنَّهُ لَا يَسْتَفْتِحُ وَلَا يَتَعَوَّذُ

رکعت کی مګر دا چه دی نه سبحانک اللهم نه وائی او اعوذ باالله به نه وائی

وَلَا يَرْفَعُ يَدَيْهِ إِلَّا فِي التَّكْبِيرَةِ الْأُولَى

او لاسونه به غوږونو ته نه پورته کوی مګر په اول تکبیر کی۔

مسئله! شافعیان مالکیان او حنبلیان دهر تکبیر سره لاس غوږونو ته وړی لکه په اول تکبیر کی۔

سوال! په حدیث صحیح کی راغلی دی چه علیه السلام لاسونه پورته کول دهر تکبیر سره۔

جواب! دا په اول کی د اسلام وه او بیا منسوخ شوه۔ کذا نقل عن ابن الزبیر رض۔ هدایه ۱۳ کوکب ۲۷

فَإِذَا رَفَعَ الرَّأْسَ مِنَ السَّجْدَةِ الثَّانِيَةِ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ

او چه راپورته کړی سر د دوهمی سجدې څخه د دوهم رکعت

افْتَرَشَ رِجْلَهُ الْيُسْرَى وَجَلَسَ عَلَيْهَا وَنَصَبَ الْيُمْنَى نَصْبًا

نو پرې دی باسی چپه پښه او پر کښینی دی پر دې پښه او ځکه دی ودروی ښۍ پښه په درې ولوسره

وَوَجَّهَ أَصَابِعَهُ نَحْوَ الْقِبْلَةِ

او مخامخ دی کړی کوی د پښو ګوتې قبلې ته۔

دغسی روایت کړی دی بی بی عائشې رض د آنحضرت صلی الله علیه وسلم دلمانځه۔ هدایه۔ کوکب۔

وَوَضَعَ يَدَيْهِ عَلَى فَخِذَيْهِ وَيَبْسُطُ أَصَابِعَهُ

او ایښی دی دې دواړه لاسونه پر ورانونو باندی او وړی دی خوا وی کوتې خپلی او بیا دی نو

ثُمَّ يَتَشَهَّدُ وَالتَّشَهُّدُ أَنْ يَقُولَ التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ وَالصَّلَوَاتُ

التحیات ووائی او تشهد دا ده چه وړی وائی ټول عبادات دخولې خدائ پاک لره دی او عبادات دبدن

وَالطَّيِّبَاتُ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللَّهِ

لکه لمونځ روژه خدائ لره دی۔ او عبادات دمال لکه زکوة خیرات۔ سلام دی وی پر تا ای نبی او رحمت او برکتونه

وَبَرَكَاتُهُ اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللَّهِ الصَّالِحِينَ

دخدای دی وی۔ او سلامتیا دخدای دی وی پر موږ باندی او سلامتیا دی وی پر بندګانو د خدای چه صالح

أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ

وی۔ زه شاهدی وایم په دې سره چه نشته حقداره دعبادت بې یوه الله۔ او زه شاهدیم
په دې سره چه محمد بنده د خدائ ج دی او رسول د خدائ دی۔

فائده! دا تشهد په روایت د عبدالله بن مسعود رض ثابته ده او د غه تشهد ویل د
ابوحنیفه رح مذهب دی۔ او عبدالله بن عباس رض پر بل رقم تشهد روایت کړې ده۔ او د غه
رنګه ابو موسی اشعری رض په نورو الفاظو روایت کړې ده۔

مسئله! هر یوه تشهد روا ده په اتفاق صرف خلاف په اولویت کی دی۔

مسئله! وهابیان وائی که چا یا رسول الله و ویل هغه مشرک دی۔ ولی چه نداء
وغائب ته ده او ستاد اعتقیده ده چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دانغره اوری
او د اعتقیده کفر دی۔ موږ وایو چه تاسی په هر لمانځه کی التحیات نه وایاست؟
او په هغه کی السلام علیک نه واست؟ دا خو خطاب و غائب ته دی۔ او بیا نه وایاست ایها النبی
په عربی شریف دانغره ده۔ نو خو تاسی هم خطاب وغره وغائب ته کوئ۔ نو دا نغره که شرک
وائ نو په لمانځه کی د شرک الفاظ څرنګه استعمالیږی؟

د آنحضرت صلی اللہ علیہ وسلم او د اصحابو ؓ څخه نقل سوی دی۔

وَلَا يَدْعُو بِمَا يَشْبِهُ كَلَامَ النَّاسِ

او دعا دی نه کوی په هغو الفاظو چه مشابه وی د خبرو سره د خلکو

مسئله! خصوصی اللهم ربنا فرض یا واجب نه ده بلکه مستحب ده ولی چه جامع دعا ده۔

مسئله! التحیات ویل ؒ رمونږ په مذهب کی په دې ناسته کی واجب ده او ناسته فرض ده۔ او درود ویل سنت دی او امام شافعی ؒ فرض بولی۔

مسئله! درود ویل پر نبی علیه السلام د باندی تر لمانځه په عمر کی فرض دی په سبب د امر قرآنی۔ او هر وخت چه نوم د رسول اللہ صلی اللہ علیه وسلم ذکر سی امام کرخی ؒ او شمس الائمه سرخسی ؒ مستحب بولی۔ او فقیه ابو جعفر طحاوی ؒ ئی هره پلا واجب بولی۔ وعلیه الفتوی۔ درمختار۔

مسئله! د قرآنه سره ورته الفاظ دا معنی ده چه په قرآن شریف کی راغلی وی لکه "اللهم اغفر لوالدی وارحمهما" او ادعیهٔ ماثوره څخه دیر دی او مشهوره دی۔

مسئله! هغه شی چه طلب ئی د بنده کا نوخه نه سی کید ای هغه دعا په لمانځه کی روا ده۔ نحو "اللهم ارزقنی رزقا حلالا واسعا" او یا "اللهم اشفنی شفاءً کاملا" یا "اللهم احفظنی واهلی وعیالی من جمیع الافات" او چه طلب ئی د بنده کا نوخه کید ای سی هغه دعا روا نده ده۔ لکه "اللهم زوجنی فلانة" "اللهم اعطنی الف روپیه"۔

مسئله! دعا په خارج کی د لمانځه هر قسم روا ده چه ذحرام شی دعا نه وی۔ لکن ادب د دعا دا دی چه په سجده او پای کی دعا وکړی۔

سوال! خدای پاک وعده کړې ده "ادعونی استجب لکم" تاسی ما ته خواست کوئ زه به قبلوم۔ او سره د دې چه هومره دیر دعاوی د دنیا ئی شیانو کوو د قبلیدو څه اثر نه معلومیږی۔

جواب! قبلول د دعا څو قسمه دی یا خو عین مسئول ورکړی۔ یا په عوض کی د مسئول د ده څخه یو آفت دفع کړی چه سائل ته نه وی معلوم۔ یا ئی وآخرت ته ذخیره کړی۔ او بعضی علماء وائی چه دعا خپل شرطونه لری۔ لکه چه دعا په حضور د زړه وی۔ او نفقه به حلاله وی۔ حاصل دا چه دعا کول بې فائده نه دی۔ نو هغه په صحیح حدیث کی راغلی دی۔ "الدعاء مخ العبادة" دعا د عبادت مغز دی۔

سوال! که دوئ وائی چه دا خو په حدیثو کی راغلی دی۔

جواب! په حدیثو کی که دا الفاظ د شرک وائی ولی راتلی۔

سوال! یا رسول اللہ خو نه دی راغلی۔

جواب! چه وغائب ترغړه راسی نو بیا دایها النبی او یا رسول اللہ څه فرق دی د وارې نداء او نغړه وغائب تر دوئ پر عقیده ده۔

وَلَا يَزِيدُ عَلَى هٰذَا فِي الْقَعْدَةِ الْأُولٰى

او نه یا توب دی نه کوی تر دعی التحیات په اوله ناسته کی (یعنی اللهم صل یا اللهم ربنا نه وائی)

مسئله! دا په فرضی لمانځه یا په سنتو کی دی۔ او په څلورو رکعتیز نفلی لمانځه کی دی اللهم صل تر پایه وائی۔ او په اللهم ربنا کی اختیار لری۔

مسئله! که تر دعی التحیاتی ئی په فرضی لمانځه کی صرف دونه قدر بالاکړه چه "اللهم صلی علی محمد" سجده سهوه پرې لازمه ده۔

وَيَقْرَأُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُخْرَيَيْنِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ خَاصَّةً

او وائی دی په دوو اخیرو رکعتو کی الحمد لله شریفه خاص (یعنی سوره ت دی نه وائی)

پوه سه! چه الحمد لله شریف ویل په دوو اخیرو رکعتو کی افضل کار دی که په قدر د الحمد لله شریفی پته خوله دوه درې نی لمونځ ئی روا دی۔ کوکب دری ص۲۸۔

مسئله! که څوک په اخیرو رکعتو کی د الحمد لله شریفی سره سوره ت هم ووائی سجده سهوه نه پرې لازمیږی۔ روښتیا

فَإِذَا جَلَسَ فِي آخِرِ الصَّلٰوةِ يَجْلِسُ كَمَا جَلَسَ فِي الْأُولٰى

پس چه کښینی په اخیر کی د لمانځه کښینی دی لکه په اول کی د لمانځه (یعنی د میاشتې په ناسته کی)

وَتَشَهَّدَ وَصَلَّى عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

نو التحیات دی وائی او درود دی ووائی پر نبی صلی اللہ علیه وسلم (اللهم صل علی محمد تر پایه)

وَدَعَا بِمَا يُشْبِهُ أَلْفَاظَ الْقُرْآنِ وَالْأَدْعِيَةِ الْمَأْثُورَةِ

او بیا دی دعا وکړی په داسی الفاظو چه ورته وی الفاظو ته د قرآن او په هغه دعا نو سره چه

ثُمَّ يُسَلِّمُ عَنْ يَمِيْنِهٖ فَيَقُوْلُ اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَ

او بیا دی سلام وګرځوی پر ښۍ اړخ او داسی دی وای اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ

رَحْمَةُ اللّٰهِ وَيُسَلِّمُ عَنْ يَّسَارِهٖ مِثْلَ ذَالِكَ

اللّٰه - او دغه رنګه دی سلام وګرځوی پر چپ اړخ باندی۔

مسئله! که سړی یوازی لمونځ کاوه - نو په دوارو سلامه کی دی دملکو چه اوله سره دی نیت دی کوی اوکه امام وو په دوارو سلامه کی دی دملکو او دمقتدیانو نیت کوی - اوکه مقتدی وو د ملکو او دامام او دحاضرینو د جماعت نیت دی کوی۔

شکایت! نن دملا صاحب اونه دمقتدیانو ودغه نیت نه فکر ښته - ولی چه زموږ لمونځونه په غفلت وی حضور نشته - ولاړ پر لمانځه یو فکر موږ په دکان کی وی یا په زکوة کی - یا په تجارت وغیره کی وی - وَمِنَ اللّٰهِ الْعِصْمَةُ -

وَيَجْهَرُ بِالْقِرَاءَةِ فِي الْفَجْرِ وَفِي الرَّكْعَتَيْنِ الْاُوْلَيَيْنِ مِنَ الْمَغْرِبِ

او په زوره دی وای قرائت دصبحانه په لمانځه کی او په اولو دوه رکعتو کی دمابنام د لمانځه -

وَالْعِشَاءِ اِنْ كَانَ اِمَامًا وَيُخْفِي الْقِرَاءَةَ فِيْمَا بَعْدَ الْاُوْلَيَيْنِ

او دماښتن په دوو اولو رکعتو کی که امام وو (یعنی پرامام په دغو لمونځونو کی جهر واجب دی)

اوکرار دی وای قرائت په زوره وسته کی دوو اولو رکعتو وجوبًا -

وَاِنْ كَانَ مُنْفَرِدًا فَهُوَ مُخَيَّرٌ اِنْ شَاءَ جَهَرَ

اوکه چیری منفرد وو (یعنی تنهائی لمونځ کاوه) نو دی اختیار لری کی خوښه وی په جهر دې وای

وَاِسْمَعَ نَفْسَهٗ وَاِنْ شَاءَ خَافَتَ

دونه قدر چه په خان ئی واوری او کی خوښه وی کرار دې وای -

مسئله! داحکم په فرضو لمونځونو کی دی - او په نفلو کی دوه ځلی دی جهر وای او په

وَيُخْفِي الْاِمَامُ الْقِرَاءَةَ فِي الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ

اوکرار دی وای امام قرائت په ماښین او په مانښکر کی (یعنی سر اوپټ والی واجب دی)

مسئله! په خفیه قرائت کی تصحیح د حروفو لازمه ده - بعضی عوام وی چه خوله ئی پټه نیولی وی - وای نه قرائت په زوره کی وایم دالمونځ ندی صحیح تول کتابونه دفقهی داحکم کوی -

وَالْوِتْرُ ثَلٰثُ رَكَعَاتٍ لَا يَفْصِلُ بَيْنَهُنَّ بِسَلَامٍ عِنْدَنَا

او وتر دری رکعته دی اوجلا والی دئ کوی په مابین کی په سلام ګرځولو په نزد زمونږ -

مسئله! امام شافعیؒ وتر یو رکعت، دری رکعته، پنځه رکعته، او وه رکعته تول روا بولی ځکه زمونږ دلیل دادی چه د عبدالله بن عباسؓ څخه روایت دئ چه علیه السلام دوتر و په اول رکعت کی "سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلٰى" سوره وایه - او په دوهم رکعت کی ئی "قُلْ يٰٓاَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ" سوره وایه - او په دریم رکعت کی ئی "قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ" وایه - دا دری رکعته سنه

مسئله! وتر د امام اعظمؒ په نزد واجب دی او دیارلو په نزد سنت دی - اوکه پاته سی قضائی په اتفاق ښته - فتح القدیر -

وَيَقْنُتُ فِي الثَّالِثَةِ قَبْلَ الرُّكُوْعِ فِيْ جَمِيْعِ السَّنَةِ

او دعاء قنوت دی وای په دریم رکعت کی مخکی تر رکوع په ټوله کال کی -

وَيَقْرَءُ فِيْ كُلِّ رَكْعَةٍ مِّنَ الْوِتْرِ فَاتِحَةَ الْكِتَابِ وَسُوْرَةً مَّعَهَا

او وای دی په هر رکعت دوتر والحمد لله او یو سوره ښه دهغی (هر سوره چه وی که اوږده وی که لنده)

فَاِذَا اَرَادَ اَنْ يَّقْنُتَ كَبَّرَ وَرَفَعَ يَدَيْهِ ثُمَّ

پس چه اراده وکړی د دعاء قنوت الله اکبر دی وای او لاسونه دی پورته کړی (تر غوږونو)

قَنَتَ وَلَا يَقْنُتُ فِيْ صَلٰوةٍ غَيْرِهَا

بیا دی دعاء قنوت وای - او دعاء قنوت دی نه وای په نورو لمونځونو کی ماسوا د وتر و -

مسئله! امام شافعی وائی دعاء قنوت دی د سحار په لمانځه کی وائی ـ نر هوبنه دلیل دادی چه ابن مسعود ﷺ وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دعاء قنوت نه دی ویلی په سحار کی مکر یو وار

مسئله! دا دیره مهمه مسئله ده اوخلک ځنی غافله دی ـ که پر عمومی مسلمانانو یا پر یوه مملکت یو عام مصیبت لکه وبا، یا غلبه دکفارو پر مملکت د مسلمانانو را سی نو ملایان دی په هر لمانځه کی وی په اخیره رکعت کی د رکوع د عاوی وکړی په دفع کی د هغه مصیبت او قنوت نازله دی وائی ـ په بخاری شریف کی را غلی دی چه علیه السلام یوه میاشت قنوت نازله ویلی دی ـ

وَلَيْسَ فِي شَيْءٍ مِنَ الصَّلَوَاتِ قِرَاءَةُ سُورَةٍ بِعَيْنِهَا بِحَيْثُ لَا يَجُوزُ غَيْرُهَا

اونسته په شی کی د لمونځو ویل د سورة معینه په داسی د ول چه لمونځ بیله هغه سورته نه دی روا ـ نړولی

مسئله! په نزد د امام شافعی بیله ویلو د الحمد لله شریف لمونځ نه دی روا یعنی ویل د الحمد لله فرض دی ـ ولی چه په صحیح حدیث کی را غلی دی ـ لَا صَلٰوةَ اِلَّا بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ ـ یعنی هیڅ لمونځ نسته مګر د الحمد لله په ویلو سره ـ

موږ جواب داسی ورکوو چه په قرآن شریف کی داسی را غلی دی ـ فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْاٰنِ ـ وایاست تاسی هغه شی چه تاسی ته آسانه وی د قرآن شریف څخه ـ نو چونکه دآیة مرتبه لوړه ده نو حدیث نو نفس قرائت فرض دی ـ یعنی بیله ویلو د قرآن شریف لمونځ نه دی روا ـ او الحمد لله واجبه ده یعنی کې په قصد پریښودی لمونځ فی ناقص سو باید بیرته فی را اوګرځوی ـ او که په سهوه سره پاتر سی سجده دی وکړی ـ په دې د ول تطبیق د آیة او حدیث سره راځی ـ کذافی نور الانوار ـ و رد المحتار وشروح کتب الفقه کلها ـ ایوبی ـ

وَيُكْرَهُ أَنْ يَتَّخِذَ قِرَاءَةَ سُورَةٍ بِعَيْنِهَا لِلصَّلٰوةِ

او مکروه دی چه عادت ګرځوی ویل د یوه معین سورة د یوه لمانځه د لمونځ څخه

لَا يَقْرَءُ فِيهَا غَيْرَهَا

په داسی توګه چه بل سورة نه پرې کی وائی دلیل دادی چه باقی قرآن مبارک مهجور ګرځی ـ هدایه ص

مسئله! عوام الناس چه قل هو الله احد وائی بل سورة فی نه وی یاد هغه معذور دی ـ

وَأَدْنَى مَا يُجْزِءُ مِنَ الْقِرَاءَةِ فِي الصَّلٰوةِ مَا يَتَنَاوَلُهُ

اوکم هغه مقدار چه کافی وی د قرائت څخه په لمانځه کی هغه قدر دی چه قرآن وویلی شی

اِسْمُ الْقُرْاٰنِ عِنْدَ اَبِي حَنِيفَةَ وَقَالَ اَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ

کیږی په نزد د امام اعظم او ویلی دی امام ابو یوسف او امام محمد چه

لَا يَجُوزُ اَقَلُّ مِنْ ثَلٰثِ اٰيَاتٍ قِصَارٍ اَوْ اٰيَةٍ طَوِيلَةٍ

نه دی روا په لمانځه کی کم تر دری آیات کوتاه اویا یو آیة اوبد د احتیاط هم په قول کی دیا را نود ی

وَلَا يَقْرَءُ الْمُؤْتَمُّ خَلْفَ الْاِمَامِ

اونه دی وائی هیڅ قرائت مقتدی په امام پسی (یعنی په تولو لمونځونو کی)

پوه سئ! چه په دې مسئله کی لوی اختلاف دی ـ حضرت امام شافعی وائی چه الحمد لله به حتماً وائی که خفیه لمونځ وی اوکه جهری ـ او دلیل فی هغه د څه حدیث دی چه لَا صَلٰوةَ لِمَنْ لَا يَقْرَءُ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ ـ

او زموږ دلیل هغه حدیث دی چه مَنْ كَانَ لَهُ اِمَامٌ فَقِرَاءَةُ الْاِمَامِ لَهُ قِرَاءَةٌ ـ یعنی که چاته امام وی نو د امام قرائت د ده قرائت دی ـ او د هدایه مصنف پر دغه قول باندی د اتفاق او اجماع د صحابه ﷺ دعوه کړې ده ـ هدایه ص۱۰۱ کوکب ص۲۹

وَمَنْ اَرَادَ الدُّخُولَ فِي صَلٰوةِ غَيْرِهِ يَحْتَاجُ اِلَى

او هغه څوک چه اراده د شاملید ولری په لمانځه کی د بل چا (یعنی په امام پسی لمونځ کوی) هغه محتاج

نِيَّتَيْنِ نِيَّةِ الصَّلٰوةِ وَنِيَّةِ الْمُتَابَعَةِ

دی د دوه نیته ته یو نیت د لمانځه او بل نیت د متابعت د امام (یعنی د وائی چه اقتداء می ده په دې حاضر امام پسی) ـ

کتبه محمد عبد الباری غفرله الباری ولوالدیه ولاهله ولعیاله ولاقربائه

بَابُ الْجَمَاعَةِ

باب دئ په بیان کښ د جماعت

وَالْجَمَاعَةُ سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ

اولمونځ په جماعت کول ټینګ سنت دئ ۔ یعنی واجبونه نزدې دئ۔

حتی چه بعضی فقهاء والی چه جماعت فرض دئ ۔ اوکمال الحمام ؒ نی واجب بولی۔ په حدیث شریف کی چه روایت نی مسلم کړئ دی د عبدالله بن مسعود ؓ څخه راغلی دی۔ چه جماعت څخه مخالفت نه کوی مګر منافق ۔ یعنی عملی منافق ۔ نه کافر منافق۔

مسئله ! د جماعت د ترک د پاره شرعی عذرونه دسته (۱) چه ډیر فی بولی یا کندګی وینسی نو جماعت دی پریږدی اوخپل کار دی وکړی خلاص کړی ولی چه په ډیر دیرانه اوداسه لمونځ مکروه دی۔ (۲) بیره د دښمن یا درنده څخه (۳) ډیر باران یا خته (۴) سخت باد په شپه تاریکی (۵) داسی ناجوړی چه تر مسجده نه سی تلای ۔ (۶) چه د مسجد امام مبتدع وی۔ اویل چه مسجد لیری وی۔

وَاَوْلَى النَّاسِ بِالْاِمَامَةِ اَعْلَمُهُمْ بِالسُّنَّةِ

اوښه د ملایانو په امامت سره هغه ملا دئ چه تر نورو ښه عالم اوخبر وی د شریعت په احکامو

مسئله ! داحکم هغه وخت دی چه امام راتب د مسجد نه وی ولی چه امام المسجد که څه هم کم علمه وی تر بیکانه ملا اولی دی په امامت سره۔

فَاِنْ تَسَاوَوْا فَاَقْرَئُهُمْ فَاِنْ تَسَاوَوْا فَاَوْرَعُهُمْ

اوکه چیری په علم شریعت کی سره برابر وی ۔ بیا هغه اولی دی چه قاری وی اوکه په قرائت کی هم برابر وه بیا دی هغه ملا د هغه سی چه د ډیر پرهیزکار وی۔

قال رسول الله صلی الله علیه وسلم مَنْ صَلّٰی خَلْفَ عَالِمٍ تَقِیٍّ فَکَاَنَّمَا صَلّٰی خَلْفَ نَبِیٍّ

ترجمه ! کچا لمونځ وکړی په امام پرهیزکار سره پسی گویا لمونځ نی وکړی په

فَاِنْ تَسَاوَوْا فَاَسَنُّهُمْ وَيُكْرَهُ تَقْدِيْمُ الْعَبْدِ

کچیری په وړع کی هم سره برابر وه نو بیا هر یوچه په سن یعنی عمر کی مشر وی ۔ او مکروه دی د هغه کول د مخه ولی چه هغه د باداره وخدمتګار سبب ونیده کړی ته دلماغه ندی فارغ

وَالْاَعْرَابِیُّ وَالْفَاسِقُ

اودصحرانشینه د هغه کول مکروه دی ولی چه په هغوکی جهل غالب وی۔ او د هغه ډیر مکروه دی د هغه کول د فاسق یعنی چه په بعضی ګناهونوکبائرو اخته وی لکه زنا، لواطت، غیبت اونور د عیسی۔

فائده ! په دې زمانه کی یعنی په ۱۴۱۵ هـ کی غیر فاسق عالم په سره چیری پیدا کوی۔ ولی چه اکثر ملایان په حسد، غیبت، بهتان چه د اتولو ګناهونو کبائرو دی اخته دی۔ الا من عصم الله

وَالْاَعْمٰى وَوَلَدُ الزِّنَا

او د هغه د هغه کول مکروه دی ولی چه هغه د نجاست څخه خلاص جامو او صورت نه سی ساتلای۔ او د زنا زوی یعنی حرموفی ولی چه د حرموفی څخه د خلکو نفرت کیږی۔

فَاِنْ تَقَدَّمُوا جَازَ وَيَنْبَغِیْ لِلْاِمَامِ اَنْ لَّا يَؤُمَّ بِهِمُ الصَّلٰوةَ

اوکه د هغه خلک د هغه سی لمونځ پسی روا دی ۔ اوښائی امام لره چه نه دی اوښه دوی په مقتدیانو سره لمونځ۔

فائده ! اوښه دول د لماغه هلته مکروه دی چه تر سنت قرائت بالاوی۔ په قدر مسنون کی د چالحاظ نشته

وَيُكْرَهُ لِلنِّسَاءِ اَنْ يُّصَلِّيْنَ وَحْدَهُنَّ بِجَمَاعَةٍ فَاِنْ فَعَلْنَ

او مکروه دی بنځو لره د اچه لمونځ کوی یوازی دوی په جماعت سره اوکه دوی جماعت کاوه

وَقَفَتِ الْاِمَامُ وَسْطَهُنَّ كَالْعُرَاتِ وَمَنْ صَلّٰى مَعَ

نو دی ودروی امامه بنځه په مابین خپل کی وصف لکه څنګه چه لمونځ په جماعت کوی۔ اوکچا جماعت کاوه

وَاحِدٍ اَقَامَهُ عَنْ يَمِيْنِهٖ وَاِنْ كَانَا اثْنَيْنِ تَقَدَّمَ عَلَيْهِمَا

دیوه سړی سره نو مقتدی دی پر راسته بغل ودروی او د مقتدیانو څخه نو دی ملا د هغه ودریږی او مقتدیان ترشا

وَلَا يَجُوزُ لِلرِّجَالِ اَنْ يَقْتَدُوا بِامْرَأَةٍ اَوْ صَبِيٍّ

اونه دی سړو نرولره چه اقتداء کوی په بنځه پسی او یا په کوچنی پسی۔

دښځی په باره کی رسول الله صلی الله علیه وسلم وائی۔ اَخِّرُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ اَخَّرَهُنَّ اللّٰهُ، یعنی تاسی وړوسته کوئ بنځی لکه چه خدائ پاک دوئ وړوسته کړی دی۔ اود کوچنی لمونځ نفلی دی نو اقتداء دمفترض په منتفل پسی نه کیږی۔ اود صف ترتیب دادی۔

وَيَصُفُّ الرِّجَالُ ثُمَّ الصِّبْيَانُ ثُمَّ الْخُنْثٰى ثُمَّ النِّسَاءُ

اول صف دی درینی دلوئ خلکو۔ او بیا نابالغه کوچنیان۔ او بیا نر بنځیان۔ او بیا بنځی۔

وَاِنْ قَامَتِ امْرَأَةٌ اِلٰى جَنْبِ رَجُلٍ وَهُوَ مُشْتَرَكَانِ

اوکه چیری ودریده یوه بنځه د بغل تر دنه په لمانځه کی اودوئ دواړه سړه شریکان وه

فِيْ صَلٰوةٍ وَاحِدَةٍ فَسَدَتْ صَلٰوتُهُ اِنْ نَوَى الْاِمَامُ

په یوه لمانځه کی نو د نر لمونځ فاسد سو نه دښځی۔ که چیری امام نیت کړی وی د امامت

اِمَامَتَهَا وَاِنْ لَّمْ يَنْوِ اِمَامَتَهَا لَا يَضُرُّهُ وَلَا تَجُوزُ صَلٰوتُهَا

د بنځی اوکه نیت د امامت د بنځی نه وی کړی نو ضرر نه رسوی نر ته اونه دی سړو لمونځ د بنځی

وَيُكْرَهُ لِلنِّسَاءِ حُضُوْرُ الْجَمَاعَةِ

اومکروه دی بنځو لره حضور د جماعت ته۔ (یعنی خوانانی بنځی علت ئ بیره د فتنی د نر نادره

مسئله! لمونځ چه فرض دی اوجماعت چه سنت مؤکد دی بیا هم د خوانانو بنځو وړ تلل مکروه دی۔ نو د باندی د چکر د پاره یا د سودا د پاره او د خوانانو د دوکان دارانو سره په دوکان کی په لږ وخت مجلس کول ئ۔ څنګه روا دی؟

د نن زمانی بنځی

د نن زمانی اکثره بنځی داسی دی چه میړه ئ دوکان ته ولاړ سی او ما بښام راځی۔ نو بی صاحبه د باندی په سیل روانه سی۔ بعضی بنځی میړه ته وائی چه ته د بنځو د جامو په سود

نه پوهیږی او دوکاندارانو تاته شیان گران درکوی۔ نو هاته ړوپۍ راکړه نړه به په سودا پسی ولاړه سم۔ میړه ئ هم د خپلی سادګی او بیعقلی د سببه داخبره ومنی اوروپۍ ورکړی۔ اوکی میړه ورته وائی چه خوانه بنځه د بیکانه دوکاندار نه څخه څرنګه سودا کوی۔ نو داورته وائی څه کوی هرڅوک خوره وهوړلری اوروا او ناروا پیژنی۔ اودغه رنګه کاهی دواکمتر په بهانه اوکاهی د تعویذ په بهانه دکوړه ووړی۔ اوبنه سنګار هم وکړی۔ حاصل دادی چه د اسلام د نر او بنځو ترمابین یو مشترک دین دی شریعت پاک نرولره خپل احکام اوبنځولره خپل احکام تاکلی دی۔ که نر اوکه بنځه تر احکامو د دین مبارک اود شریعت پاک سرلغړونه وکړی نو په لویه ورځ د قیامت به حساب ورسره وسی۔ بیا بی نو پاک خدائ په خپل رحم سره وبخښی او یا به په دوزخ ئ عذاب ورکړی۔

بشارت او نهیی

د هرګناه کار نه کنړی اوکه بنځه د هرډول ګناه د توبی لویه درولره خلاصه ده ترهرکه پوړی۔

سوال! توبه ترڅنګه ن تر وخته پوړی قبلیږی نو چه سړی ناجوړه سی بیا به وخدائ پاک ته په اخلاص توبه وکاږی۔

جواب! تاته څه معلومه ده چه ستا مرګ به په څنګه توګه وی ایا د توبی وخت به پیدا کړی اوکه نه۔ بل جواب! ستا چه نن ورځ عقل پرځای دی اوبه هرشی پوهیږی د شیطان وړغندی دغاړی نه سی کښلای نو د نړ څنګن په وخت کی چه ته د خپل ځان په تکلیف اخته ئ او عقل دی هم کار نه کوی څنګه به د شیطان تناؤ د غاړی وکاږی۔ یعنی توبه به وکاږی۔ بیت ؎

توبه بکن امروز تو هرگز نگوفردا کنم ۔۔۔ شاید بمیری صبحدم فردا نیابی در شمر

عذر! اغرض د فقیر صرف وخوندو اولونو ته نصیحت وو امید کوم چه دوئ ناراض نه سی۔ اوهرڅه چه ماوویله د تجربی دلاړی نه دغیب کوئ اوبهتان دلاړی او نه پرتولو بنځو هم اعتراض نه لرم پاکی دینداړی بنځی سته چه تر نړو ئ عقیده او دینداړی بالاوی۔ او داهم ما یقین دی چه زهوږ په نړوکی هم بیدینه کسان سته ماته معلومه ده چه د بعضو کورونو بنځی لمونځونه کوی روژی نیسی اونړی نه لمونځ کوی اونه روژه نیسی۔ او ویر کنا هونه دی چه په نړوکی دیر دی اوبه بنځوکی نادر دی۔ مثلاً غلا، چوس، هیرونځ، کیسه بری، بچه بانځی، لواطت، ناحقه قتل، داکووالی، رشوت اختسال، پوچ ویل، خپلی بنځی ناحقه وهل او ټکول، شراب خوړی، قمار کول، سپی جنګول،

نه دکی په سر و پوښتنکول، او همدغسی کړه کان، په بیع و شراء کی خیانت کول، د یراحق خوړل، زکوٰة نه ورکول، حج نه کول، د سواغ ویل په دکړیمانه - په بیکا نه بښځو پسی کتل سود کول، پر مایښې پاپیل بله بښځه د نه ناتهمت ویل، د سینما تګ، ساق خانه نجس ول، دین او مذهب بشکنځل، غیبت کول، مسلمان نه هیرول، اوناحقه تهمې کول، په ورځ کی لس واړه د مایښې طلاق اچول، اوپه هغه سربیره ئی دځان مایښه بلل او نور د دې جملې څخه ګڼهونه چې په خوندو کی لږ پیدا کیږی۔

فائده: ښ وړ سړی او ښځی ته معلوم دی۔ غښتلی هغه دی چې امر د خدائ او د رسول صلعم پرځائ کړی۔ او د نارواکارو څخه پرهیز وکړی او د شیطان څخه خپل دوستی او علاقه وشکوی۔ او د خدائ پاک او رسول کریم صلی الله علیه وسلم دوستی او محبت او اطاعت فرمان برداری مختاره کړی۔ او د دې کار توفیق هم د خدائ جل جلاله څخه وغواړی۔ وَمَا عَلَيْنَا إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ

وَلَا بَأْسَ بِأَنْ تَخْرُجَ الْعَجُوزُ فِي الْفَجْرِ وَالْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ

او باک نشته یعنی مکروه نه دی د اچوونړی نړۍ بښځی د سحار او ماښام او د ماخستن

عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُمَا اللَّهُ

لمانځه ته - په نزد د امام اعظم رح او وائی امام ابو یوسف رح او امام محمد رح چې

يَجُوزُ خُرُوجُ الْعَجُوزِ فِي سَائِرِ الصَّلَوَاتِ

سړو ادی وقت د سپین سر و بښځو مسجد ته په تولو لمونځو کی، ولی چې سپین سړی ته د چا شوق نشته۔ کوب رح

مسئله: فتوی ښ وړ پردې ده چې نړۍ بښځی دی هم په یوه لمانځه کی مسجد ته نه وړی۔ کوکب وړی۔ علت ئی دا دی چې فتنې ډیری سوچ د نارا وړ بل دی۔ پر بعضی خلکو خو نه اوړي فرق نه کړی۔ او سپین سړی هم په باور نه دی۔

وَلَا يُصَلِّي الطَّاهِرُ خَلْفَ مَنْ بِهِ سَلَسُ الْبَوْلِ

او لمونځ دی نه کوی پاک سړی په هغه امام پسی چې هغه ته د بولو د مسلسل تویدو مرض وی۔ یعنی پوره لمونځ په او داسه نه سی کولای۔

مسئله: همدغسی په انفلات الریح پسی۔ یعنی چې باد و نه ئی جاری وی۔ پاک سړی دی لمونځ نه پسی کوی۔ او د غه رنګه په صاحب پسی د جرح سائل یعنی چې تپ ئی وینی جاری لری طاهر سړی دی لمونځ نه پسی کوی۔

وَلَا الطَّاهِرَةُ خَلْفَ الْمُسْتَحَاضَةِ وَلَا الْقَارِئُ خَلْفَ الْأُمِّيِّ

او نه دی پاکی بښځی لمونځ کوی په هغه بښځه پسی چې وینی ئی جاری وی او نه دی قاری لمونځ کوی په امی پسی

پوهه شئ: چې مراد د قاری څخه اصطلاحی قاری نه دی چې قرآن شریف ئی په تجوید سره نه ده وی۔ او نه د امی څخه مراد عرفی امی دی چې په اصطلاح امیان وړ ته وائی۔ بلکه د قاری څخه هغه سړی مراد دی چې قرآن مبارک ئی دونه قدر نه ده وی چې لمونځ په سره اوکړی او امی هغه دی چې د غونه قدر ئی هم نه وی نه ده۔

وَلَا الْمُكْتَسِي خَلْفَ الْعُرْيَانِ

او نه دی هغه سړی لمونځ کوی چې کالی ئی اغوستی وی (یعنی د ونه قدر چې عورت ئی په پټ وی) په داسی سړی پسی چې بن بند وی (یعنی عورت ئی بنکاره وی)

وَيَجُوزُ أَنْ يَؤُمَّ الْمُتَيَمِّمُ لِلْمُتَوَضِّئِينَ

او ړوا دی چې امامت وکړی تیمم والا د اوضو والاؤ (ولی چې تیمم نه هوښه په نزد طهارت کامله دی)

وَالْمَاسِحُ عَلَى الْخُفَّيْنِ لِلْغَاسِلِينَ

او ړوا دی چې امامت وکړی هغه سړی چې پرهونه وئی مسح کړی وی د پښو پر یو نکو کسانو (دا مسئله اتفاقی ده)

وَيُصَلِّي الْقَائِمُ خَلْفَ الْقَاعِدِ

او لمونځ دی کوی ولاړ سړی په ناست امام پسی۔

یعنی چې په ولاړی لمونځ نه سی کولای د ناجوړی د سببه۔ ولی چې په حدیث شریف کی د بخاری او مسلم او مشکوٰة وغیره د اسی ښه اغلی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم آخیری لمونځ په ناستی کاوه او اصحاب کرام رض پسی ولاړ وو۔

وَلَا يُصَلِّي الَّذِي يَرْكَعُ وَيَسْجُدُ خَلْفَ الْمُؤْمِي

اولمونځ دی نه کوی هغه سړی چه رکوع او سجده کوی ورو سته تر هغه سړی چه لمونځ په اشاره کوی.

وَلَا يُصَلِّي الْمُفْتَرِضُ خَلْفَ الْمُتَنَفِّلِ

اولمونځ دی نه کوی هغه سړی چه فرض لمونځ کوی په نفل کونکی پسی (ولی چه بناء دقوی پر ضعیف نه ده روا

وَلَا مَنْ يُصَلِّي فَرْضًا خَلْفَ مَنْ يُصَلِّي فَرْضًا آخَرَ

اونه دی کوی لمونځ هغه سړی چه یو فرض کوی (لکه دماپښین قضائی مثلاً) ورو سته تر هغه چا چه بل فرض لمونځ کوی لکه دماپښین یکر وقتی لمونځ مثلاً۔ ولی چه په اقتداء کی یو والی د لمانځه شرط دی۔

وَيُصَلِّي الْمُتَنَفِّلُ خَلْفَ الْمُفْتَرِضِ وَمَنِ اقْتَدَى

اولمونځ دی نه کوی نفل کونکی په فرضی لمانځه کونکی پسی۔ اوکه چا اقتداء وکړه په یو امام

بِإِمَامٍ ثُمَّ عَلِمَ أَنَّهُ عَلَى غَيْرِ طَهَارَةٍ أَعَادَ الصَّلٰوةَ

پسی او پیا ورو سته ئی علم ورته شی چه دغه امام لمونځ بی اود سه ورته کړی نو دی دی لمونځ ورته اوکړی شی۔

پوهه شئ! چه علم پر بی اود سیا د امام څخه په اقرار د څپل امام وی۔ یعنی هغه ورته ووائی چه زه بی اود سه وم چه لمونځ می درکړئ۔ او یا دوه کسه عادلان شاهدان ووائی چه دغه امام موږ ولیدی چه اود س ئی مات کړئ او بیا پر لمانځه ودریدئ۔

مسئله! امام که په هیره مقتدیانو ته لمونځ په بی اود سیا ورکړئ۔ نو پرده واجبه ده چه هغه مقتدیان به په خپله بی اود سیا خبر وی۔ تاچه دوی څپل لمونځونه اوکړی۔ په دې خبر والی کی دی ملا شرم نه کوی۔

مسئله! که یو سړی د اسی حائ لمونځ ورکړئ چه مقتدیان ده ته نه معلومیږی اودی بی اود سه وو نو دی څپل لمونځ ورته اوکړی۔

فائده! شافعیان په وینه اود س مات نه بولی نو که چیری ملا شافعی مذهب وو۔ نو د حنیفو سړی اقتداء په هغه پسی نه روا کیږی۔ ولی چه ده ته پته نه مثلاً وینی سی اود س نه ټاټوبه کوی۔ نو احتیاط خو دا دی چه په دغسی سړی پسی تر هغو اقتداء ونه کړی

څوده ته دا معلومه سی چه د ځمه شافعی مذهب امام د حنیفیانو د مذهب مراعات کوی۔ یعنی د وینو څخه هم او د س تازه کوی۔

مسئله! په دا سی امام پسی اقتداء نه ده روا چه د هغه عقائد ستا په مذهب کی سبب د کفر د ده وی لکه خوارج و غیره۔

وَيُكْرَهُ لِلْمُصَلِّي أَنْ يَتَبَعَّثَ بِثَوْبِهِ أَوْ بِجَسَدِهِ

او مکروه دی لمونځ کونکی لره چه سات تیروی یا په جامه یا په بدن خپل۔

مثلاً پر بنیره لاس تیروی یا په پښه کوتی وهی۔ او کالی څنډی یا ئی پوکی۔ ولی چه په صحیح حدیث کی راغلی دی "إِنَّ اللّٰهَ كَرِهَ لَكُمْ ثَلَاثًا اَلْعَبَثَ فِي الصَّلٰوةِ وَالرَّفَثَ فِي الصَّوْمِ وَالضَّحِكَ فِي الْمَقَابِرِ" ترجمه په تحقیق خدائ پاک مکروه کړی دی وتاسی ته د درې شیان عبث په لمانځه کی۔ او بیباکی او بښکځل په روژه کی او خندل په اذیر وکی۔

وَلَا يَقْلِبُ الْحَصٰى إِلَّا أَنْ لَا يُمْكِنُهُ السُّجُودُ فَيُسَوِّيَهُ مَرَّةً وَاحِدَةً

اونه دی پری وهی شکی مکی هغه وخت کی قدرت د سجدې نه د رلودئ پر هغو شکو باندی۔ نو بیا دې سړه برابری کړی لکن یو واړه بالا نه۔

وَلَا يَفْرَقِعُ أَصَابِعَهُ وَلَا يَشْبِكُ وَلَا يَتَخَصَّرُ

اوپه لمانځه کی دی په ګوتو ټکان نه کوی اونه دی ګوتی سره جاړه باسی اونه دی لاس پر تشی لنخه چه د شیطان

وَلَا يَسْتَدِلُّ ثَوْبَهُ

فعل دئ۔ اونه به خورا ړندی کوی کالی څپل۔

یعنی چه پتو پر ځان واچوی او دواړه طرفه ئی ایله وی پر اوږه کانو وی راکړی خولی۔ یا کوټ ئی اغوستی وی او لاسونه ئی تر لستو ئی نه وی کښلی او غړ ریکه چینه اویا پوستین۔

وَلَا يَكُفُّهُ وَلَا يَعْقِصُ شَعْرَهُ

اونه دی پیچی جامه څپله اونه دی تړی ویښتان د سر په توکر یا په تناو۔

یعنی چه د خاورو څخه ئی ساتی۔ په ننډه مانه کی دا مکروه دی چه سړی په وخت

کی د لمانځه دمخه د خوا ویښتان تر خولی لاندی کوی۔ د عقص څخه علیه السلام نهی کړی دی او په صحیح حدیث کی ړاغلی دی۔

وَلَا يَلْتَفِتُ يَمِينًا وَّشِمَالًا

اونه دی کوهی په لمانځه کی ړاسته طرفته اوچپه طرفته۔

مسئله! په لمانځه کی کټل دهغې قسمه دی۔ یو په کنجانو دستر کو په هغه کی کراهت نسته لکن د خشوع څخه د لمانځه خلاف دی۔ او بل سر کرځول دی هغه مکروه کا دی۔ اوبل ځکر کرځول دی په هغه لمونځ فاسدیږی۔ کذا فی العینی شرح البخاری۔

وَلَا يَقْعِيْ كَاِقْعَاءِ الْكَلْبِ

اونه دی کښینی په التحیات کی لکه د سپی ناسته۔

د اقعاء الکلب تفسیر فقیه ابوجعفر طحاوی داسی کړی دی۔ چه کناتی پرځکه کښینی دی اونه نکلو نه جګ وی او ځان تی تول کړی او لاسونه پرځکه کښیږدی دغې فعل څخه په صحیح حدیث مبارک کی نهی ړاغلی دی۔ کوکب دری ص۳

وَلَا يَرُدُّ السَّلَامَ بِلِسَانِهٖ وَلَا بِيَدِهٖ

اوجواب د سلام دی نه ورکوی په ژبه (یعنی وعلیکم السلام) اونه په لاس (چه لاس وړته پورته کړی ولی چه دخولې جواب خبری دی اوپه خبرو لمونځ فاسدیږی اوپه لاس مکروه دی۔

وَلَا يَتَرَبَّعُ اِلَّا مِنْ عُذْرٍ وَلَا يَاْكُلُ وَلَا يَشْرَبُ

اوچاړه ناسته نه کښینی مکرد عذر له سببه (ولی چه سنت طریقه یا تیږی) او خوړک به نه کوی اوچنګ به نه کوی په لمانځه کی۔

مسئله! کی خوړک یا چنګ وکړی لمونځ فاسدسو په اتفاق۔

پوښتنه چه لمونځ وخت د پیرعجز اوبیمارۍ او وخت د سړ ب العزت دعاجات دی نو په لمانځه کی لمونځ والا باید داسی کار ونه کړی چه هغه د لمانځه سره منافی وی چه یا لمونځ فاسدسی یا مکروه سی یا کم له کم ثواب تی لږ سی۔

بَابُ الْحَدَثِ فِي الصَّلٰوةِ

باب دی په بیان کی د بی اوضیا په لمانځه کی

فَاِنْ سَبَقَهُ الْحَدَثُ اِنْصَرَفَ وَتَوَضَّاَ

که پینه سی ولمونځ کونکی تر بی اوضیا (که نابینا وی لکه پزه چه ټی وینی سی۔ یا سړه دده علم لکه پر سن کی چه ټی باد وکړی دی خوی تینګوی خنی (ایله سی) فوراً دی لمونځ پرهغه خای پریږدی اودس د تازه کړی

مسئله! که دهغه سړی په دې حالت کی یوه رکوع یا سجده کړه وکړی لمونځ تی فاسدیږی

وَبَنٰى عَلٰى صَلٰوتِهٖ اِنْ لَّمْ يَكُنْ اِمَامًا فَاِنْ كَانَ اِمَامًا

اوبناء دی پرهغه لمانځه وکړی (یعنی لمونځ دی دهغه خای په څنه وینسی که چیری لمونځ کونکی امام نه وو او که

اِسْتَخْلَفَ وَتَوَضَّاَ وَبَنٰى عَلٰى صَلٰوتِهٖ مَالَمْ يَتَكَلَّمْ

امام وو لمونځ کونکی نو فوراً دی یو مقتدی پرخپل خای ودروی اودی دی اودس تازه کړی او بناء دی پرهغنی لمانځه وکړی۔ او داهلته چه خبرې نه وی کړی۔

مسئله! که یوانړی لمونځ کاوه او که امام وو پس له دې چه بی اوضیا وړپینه سوه نو کې خبرې وکړې یا یو بل داسی کار تی وکړی چه د لمانځه سره منافی لکه خوړک وغیره نو هغه تیر لمونځ تی باطل سو لمونځ دی دسره کوی۔

وَالْاِسْتِيْنَافُ اَفْضَلُ وَاِنْ نَامَ فَاحْتَلَمَ

او لمونځ دسره ړاکرځول بنه کار دی۔ که څوک بیده سی په لمانځه کی (یعنی داسی خوب چه اودس نه په مات یږی۔ لکه په رکوع یا سجده یا ولاړه کی) نو شیطان احتلام وړپیښ سو۔

اَوْ جُنَّ اَوْ اُغْمِيَ عَلَيْهِ اَوْ قَهْقَهَ اِسْتَاْنَفَ الْوُضُوْءَ وَالصَّلٰوةَ

اویالیونتوب وړپیښ سو او یا پرده پیهوښی ړاغله۔ او یا تی په ژوړه وخندل۔ نوی اودس دی تازه کړی او لمونځ دی ړاوکړځوی۔

وَإِنْ تَكَلَّمَ فِي صَلٰوتِهٖ سَاهِيًا أَوْ عَامِدًا بَطَلَتْ صَلٰوتُهٗ

او کې خبرې وکړي په لمانځه کې په سهوه يا په قصد سره لمونځ يې باطل سو۔ او که وړې ژبې

فَإِنْ سَبَقَهُ الْحَدَثُ بَعْدَ مَا قَعَدَ قَدْرَ التَّشَهُّدِ تَوَضَّأَ وَسَلَّمَ

سوه ده تېې او دسيا پس لږ دې چې په اخيره ناسته کې په قدر د التحيات کښينستلی وو۔

نو دې او دس تازه کړي او صرف سلام دې وکړي۔

پوهه سلام! چې دا سلام واجب دې نو ځکه او دس دې وړ ته تازه کړي۔

وَإِنْ تَعَمَّدَ الْحَدَثَ فِي هٰذِهِ الْحَالَةِ أَوْ تَكَلَّمَ

او که په قصد او دس مات کړي په دغه حالت کې (چې په قدر د التحيات ئې ناسته کړې وه) او يا ئې خبرې

أَوْ عَمِلَ عَمَلًا يُنَافِي الصَّلٰوةَ تَمَّتْ صَلٰوتُهٗ

وکړي۔ او يا ئې يو بل داسې کار وکړي چې د لمانځه سره منافي وي لکه خوړک وغيره۔ لمونځ ئې

پوره سو ولې چې دا افعال د لمانځه شي نه سو پاتې۔

سوال! واجب سلام خو پاتې دی۔

جواب! که او دس تازه کړي هم بناء د سلام نه سی کولای۔ ولې چې په مابين کې منافي پيدا سوه

وَإِنْ رَأَى الْمُتَيَمِّمُ الْمَاءَ فِي صَلٰوتِهٖ وَقَدَرَ عَلَى

او که ولیدې تيمم کوونکی اوبه په لمانځه کې او دې قادر وي پر

اِسْتِعْمَالِهٖ بَطَلَتْ صَلٰوتُهٗ فَإِنْ رَآهُ بَعْدَ مَا قَعَدَ قَدْرَ التَّشَهُّدِ

او بو نو باطل سو لمونځ ده دې۔ پس کې ولیدې اوبه وړ وسته له هغه چې دې پر قدر د التحيات کښينستلی وي۔

پوهه سلام! چې دا مذهب د امام اعظم دی ولې چې امام صاحب خو وجه په صنع د لمونځ

کونکی فرض بولی۔ هغه دې سره نه ده کړې۔ او يا ئې ان وتل د لمانځه څخه په صنع د مصلي فرض

نه بولی۔ نو د دغه سره لمونځ پوره سو۔ نو دا بو ليدل ئې خارج الصلوة سوه۔

أَوْ كَانَ مَاسِحًا عَلَى الْخُفَّيْنِ فَانْقَضَتْ مُدَّةُ

او يا مسح کوونکی پر موزو وو۔ نو تيره سوه مده د مسحې (چې د سړي وړ ځې مسافر له اويو

مَسْحِهٖ أَوْ خَلَعَ خُفَّيْهِ بِعَمَلٍ قَلِيْلٍ أَوْ كَانَ أُمِّيًّا

شبانه روڼه مقيم له ده) او يا وخته موزې په لږ عمل سره۔ او يا امي وو نو ئې يو سورت

فَتَعَلَّمَ سُوْرَةً أَوْ عُرْيَانًا فَوَجَدَ ثَوْبًا أَوْ

زده کړه سو۔ يعنې وړ ياد سو۔ او يا له وو نو ئې جامه پيدا کړه (يعنې يو چا جامه ورکړه) او

أَوْ مُوْمِيًا فَقَدَرَ عَلَى الرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ

يا ئې په اشاره لمونځ کاوه بيا قادر سو پر رکوع او سجده باندې (مثلاً ملا ئې خوږ يدل بيا جوړه سوه)

أَوْ تَذَكَّرَ أَنَّ عَلَيْهِ صَلٰوةً قَبْلَ هٰذِهٖ

او يا ئې بياد سوه چې پر ده قضا ئې لمونځ پاتې دی د هغه تر دې لمانځه۔

أَوْ أَحْدَثَ الْإِمَامُ الْقَارِئُ فَاسْتَخْلَفَ أُمِّيًّا

او يا چې او د سه سو امام چې قاري وو نو ئې خليفه ورته او ئې امي سړی۔

أَوْ طَلَعَتِ الشَّمْسُ فِي صَلٰوةِ الْفَجْرِ أَوْ دَخَلَ

او يا ورته او ختئ لمر په لمانځه کې د سحار او يا د اخل سو وخت د مازيګر

وَقْتُ الْعَصْرِ فِي صَلٰوةِ الْجُمُعَةِ أَوْ كَانَ مَاسِحًا

د جمعې په لمانځه کې۔ او يا مسح کوونکی وو پر

عَلَى الْجَبِيْرَةِ فَسَقَطَتْ عَنْ بُرْءٍ أَوْ كَانَ

سکنده نو هغه لوبده او هغه ځای جوړ سو او يا وو د لمونځ کونکی

صَاحِبَ عُذْرٍ فَانْقَطَعَ عُذْرُهُ كَالْمُسْتَحَاضَةِ

خاوند د عذر نو قطع سو عذر د ده ـ لکه مستحاضه ښځه ـ

وَمَنْ فِي مَعْنَاهَا بَطَلَتْ صَلٰوتُهُمْ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ

او یا هغه څوک چې په معنا کې دې وي ـ باطل سو لمونځ د دغو نو لو په نزد د امام اعظم

وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ تَمَّتْ صَلٰوتُهُمْ

او وائي امام ابو یوسف او امام محمد چې پوره لمونځ نه د دغو کسانو ـ په دغو نو لو مسئلو کې ـ

پوهه سه ! چې دغه ذکر سوی مسئلې مسائل اثنی عشریه بولی ـ یعنی دوولس مسئلې چې د امام اعظم او د یارانو په کې اختلاف دی ـ

او مبنی د نو لو دغو مسئلو پر دې خبره ده چې د امام اعظم په نزد د تل د لمانځه څخه په فعل د لمونځ کې دا ره فرض دی ـ نو دغه عوارض کرځه هم پس له ناستې په قعده د التحیات پیښ سوه ـ نو چونکه خروج په صنعه پاته دی ـ نو لکه دغه عوارض چې پما بین کې د لمانځه پیښ سی ـ او د لمانځه په ما بین کې په پیښیدو د دغو عوارضو څو لمونځ باطلیږی نو اوس هم باطل سو ـ

او یارانو وائي چې خروج په صنعه نه دی فرض نو لمونځ کوونکی چې په قعده د التحیات کښینستی لمونځ ئې پوره سو او د اعوارضو کو یا څارم الصلوة یعنی د باندې تر لمانځه پیښ سوه ـ او د باندې تر لمانځه څو په دغو عوارضو څو د هغه لمونځ نه باطلیږی ـ کذا في جمیع کتب الفقه ـ

مسائل شتی من المفسدات للصلوة ـ لکه لمونځ کونکی څګیږی وی وکړی یا ئې اوه او اوه وویله او یا ئې په لمانځه کې وشړل چې د شړا څخه ئې حروف پیدا سوه او د اتو له دیادیږی څخه د جنت یاد او د وه لمونځ نه قطع کوی ولی چې د اکاره نه پیښ دی عجز د مصلی دلالت کوی او که د اکاره نه د بدن د د ره څخه یا د یو عضو د وجهې څخه ځنی صادره سو لمونځ ئې فاسد دی ـ لکه کې په لمانځه کې غاړې تا نه کړي بیله عذره او حروف ځنی پیدا سوه لمونځ ئې فاسد دی او که د عذره څخه وو نو هغه عفو دی لکه نو بړی یا تیخ ـ

بَابُ قَضَاءِ الْفَوَائِتِ

باب دې په بیان کې د قضا او د هغو د فوتې لمونځو

فائده ! فقهاء د قضا د لمونځو نه د فوائتو په نامه یاد کړی او د متروکاتو په نامه ئې نه یاد کړی او س ئې ددې چې قضا د لمونځو لازمه ده ـ کې په قصد قضا کړی کې بې قصد ځنی قضا سی په دې عبارت کې د گمان پر مسلمان کول دی یعنی مسلمان څو په قصد لمونځ نه پریږدی ـ البته په غفلت یا په هیره به ځنی فوت سوی وی ـ رد محتار وغیره ـ

وَمَنْ فَاتَتْهُ صَلٰوةٌ قَضَاهَا إِذَا ذَكَرَهَا

او که د چا څخه فوت سو لمونځ قضا دی سره او په هر کوم وخت چې وه پیاد سی ـ

لقوله علیه السلام "مَنْ نَامَ عَنْ صَلٰوةٍ أَوْ نَسِيَهَا فَلْيَقْضِهَا إِذَا ذَكَرَهَا" ترجمه کړشوک بیده سو د لمانځه څخه او یا ئې هیر سو بیا دی قضا سره او په هر وخت چې وه پیاد سی د غه لمونځ ـ

وَقَدَّمَهَا عَلَى صَلٰوةِ الْوَقْتِ إِلَّا أَنْ يَخَافَ فَوْتَ صَلٰوةٍ

او هغه دی ئې کړي قضا ئې لمونځ پر وختنی لمانځه باندې مکروهه وخت کې بیریدی پر وختنی لمانځه یعنی چې وختنی لمونځ به سره څخه قضا سی ـ

الْوَقْتِ فَيُقَدِّمُ صَلٰوةَ الْوَقْتِ عَلَى الْفَائِتَةِ ثُمَّ يَقْضِيهَا

نو بیا دی د هغه کړي وقتی لمونځ پر فوت باندې وړ وسته دی قضا ئې سره او کړي خوی ـ

وَمَنْ فَاتَتْهُ صَلَوَاتٌ رَتَّبَهَا فِي الْقَضَاءِ كَمَا وَجَبَتْ فِي الْأَصْلِ

او که د چا څخه فوت سوه د یر لمونځونه ترتیب دی وړ کړي په قضاء سره لکه چې په اصل کې چې واجب سوی وه یعنی د هغه لمونځ د ی د هغه وکړي پسی وړ وسته بیا تر پایه پوري ـ په حدیث کې د بخاري او نورو کتابو د حدیثو راغلی دی چې د آنحضرت صلی الله علیه وسلم

او دا صحابو رضی الله عنهم څخه په مهمه مشهوره غزا کې څلور لمونځونه قضاء سوه. نو علیه السلام په ترتیب سره اوګرځول او بیا ئې داسې وویل، صلوا کما رأیتمونی أصلی، یعنی تاسی لمونځ کوئ چې څرنګه موږ ولیدم چې لمونځ مې وکړ، لمونځونه په ترتیب وکا. نو په امر د علیه السلام ترتیب واجب سو.

إِلَّا أَنْ تَزِيدَ الْفَوَائِتُ عَلَى خَمْسِ صَلَوَاتٍ

مکروهه وخت ترتیب نه غواړی کې زیات سوه قضائ لمونځونه پر پنځه لمونځو

أَوْ نَسِيَ أَوْ ضَاقَ الْوَقْتُ فَيَسْقُطُ التَّرْتِيبُ فِيهَا

یاندې اویائ هیر سوه او یا وخت تنګ وو بیا نو ساقط دی ترتیب په مابین کې د قضائ لمونځو

فائده! په مابین کې دوخت او د قضائ هم ترتیب ساقط دی.

مسئله! ترتیب څیړو وار ساقط سی بیا په لږ والی د لمونځو بیرته نه راګرځی.

مسئله! که د سړی څخه په جهالت او ناپوهی کې دکلو یا د هیاشتو لمونځونه قضا سوی وه او اوس ئې توبه وکښل او هغه لمونځونه یې راګرځوی څرنګه نیت به کوی. چې هر لمونځ څیړ وار قضاء سوی وی نو نیت به داسې کوی. نیت می دی دنږه د اخلاصه لمونځ کوم څلور رکعته فرض د اول ماښین چې نماپه ذمه کې دی. او همدغسې اول ماښین یکواو سحار مثلاً څوچې دکلو لمونځونه پای ته رسیږی دغه دول نیت به کوی په تولو لمونځو کې. ایوډیې.

کاتب الحروف عفرله الرؤف محمد عبدالباری غفرله الباری وائی چه دی کتاب کتابت محنتی قاری فضل الحق حقانی کړی وو او محنتی تن تصحیح او نظر ثانی چاپ سو نو حکه نړیانی یې نیمګړتیا وی او غلطیانی پکښی موجوده وی. وه وسته مادمولف مولنا عبید الله ایوبی او قاری فضل الحق په مشوره دوهم ځل کتابت دوهم وار وکړی او جناب مولوی عبید الله صاحب د تصحیح او نظر ثانی سره نوی نوی مسئلې د اکثرو بایوپه پای کې درج کړې. نو اوس که چیرې نورهم غلطی رسوی وی ستاسی څخه دحل په هیله یو. والسلام.

بَابُ الْأَوْقَاتِ الَّتِي تُكْرَهُ فِيهَا الصَّلَوٰةُ

باب دئ په بیان کې د هغو وختونو چې په هغوکې لمونځ مکروه دئ

فائده! دا باب په هدایه کې په باب المواقیت کې راوړه سوئ دئ.

سوال! دا باب عنوان مصنف کراهة کښینبود او دستی وائی، لا تجوز الصلوة

جواب! مصنف غالب ته کتلی دی. ولی چې مکروه د ډیر ډیر ناجائز وو. او بل دا چې کراهت په معنی لغوی عدم الجواز ته هم شامل دئ یعنی بدکار کولے.

لَا تَجُوزُ الصَّلَوٰةُ عِنْدَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَلَا عِنْدَ

هیڅ لمونځ روا نه دئ په وخت کې د راختلو د لمر او نه په وخت کې د دریدو و

قِيَامِهَا فِي الظَّهِيرَةِ وَلَا عِنْدَ غُرُوبِهَا إِلَّا عَصْرَ يَوْمِهِ

د لمر پر سر په غرمه کې. او نه په وخت د لویدو د لمر کې مکر د دغې ورځې دمانځه لمونځ

په حدیث کې د عقبه بن عامر رض چې صحیح کتابونو کې راوایت کړئ دئ داسې راغلی دی، قَالَ ثَلٰثَةُ أَوْقَاتٍ نَهَانَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نُصَلِّيَ وَأَنْ نَقْبُرَ فِيهَا مَوْتَانَا عِنْدَ طُلُوعِ الشَّمْسِ حَتّٰى تَرْتَفِعَ وَعِنْدَ زَوَالِهَا حَتّٰى تَزُولَ وَحِينَ تَضَيَّفُ لِلْغُرُوبِ حَتّٰى تَغْرُبَ،

ترجمه! درې وخته دی چې نهی کړی یو موږ رسول الله صلی الله علیه وسلم چې موږ لمونځ پکښی وکړو او یا موږ په قبر کې بړ د وهړی خپل. یعنی چې دجنازې لمونځ پکښی کوو. هغه په وخت کې د راختلو د لمر ترڅو چې ښه راپورته کیږی. او په وخت کې پر سر د ریدو د لمر ترڅوچې زوال کوی او هغه وخت چې میله سی د لویدو ترڅو چې لوېږی.

وَلَا يُصَلِّيْ عَلَى الْجَنَازَةِ وَلَا يَسْجُدُ لِلتِّلَاوَةِ

اولمونځ دی نه کوی پر جنازه او سجده د تلاوت دی هم نه کوی۔ که څه آیت د سجدی په پرله وخت کی ته ووایی

وَيُكْرَهُ أَنْ يَتَنَفَّلَ بَعْدَ صَلٰوةِ الْفَجْرِ حَتّٰى تَطْلُعَ

او مکروه دی چه نفل وکړی پس د سحار د لمانځه څخه تر هغوچه را خیژی لمر دوی نیزی یا د دی نیزی وخت

الشَّمْسُ وَبَعْدَ صَلٰوةِ الْعَصْرِ حَتّٰى تَغْرُبَ الشَّمْسُ

او پس د مازدیګر د لمانځه څخه تر هغوچه لمر لوین ی۔

وَلَا بَأْسَ بِأَنْ يُّصَلِّيَ فِيْ هٰذَيْنِ الْوَقْتَيْنِ الْفَوَائِتَ

او باک نشته چه په دی دوو وختونو کی د اداء کړی قضا ئی لمونځونه

وَسَجْدَةِ التِّلَاوَةِ وَيُصَلِّيْ عَلَى الْجَنَازَةِ وَلَا يُصَلِّيْ رَكْعَتَيِ الطَّوَافِ

او یا سجده د تلاوت او لمونځ دی کوی پر جنازه او نه دی گذاری دوه رکعته د طواف په دی دوخت کی

مسئله: اندازه لمونځ دی هم په دغو دوو وختو کی نه کوی۔ او د طواف واجب دی هم نه پکښی گذاری۔

وَلَا يَتَنَفَّلُ بَعْدَ طُلُوْعِ الْفَجْرِ بِأَكْثَرَ مِنْ رَكْعَتَيِ

او نفل دی نه کوی پس له سپیدو چا د لو څخه بالا تر دوه رکعته د سحار۔ یعنی سنت

الْفَجْرِ وَلَا يَتَنَفَّلُ قَبْلَ الْمَغْرِبِ

او نفل دی نه کوی د مخه د مابنام تر لمانځه

د مذهب محدثان وائی لکه فقیه ابو جعفر الطحاوی په شرح معانی الآثار کی وائی چه د نفل د مابنام تر لمانځه د مخه په ابتدا، کی د اسلام په مدینه منوره کی کیدل او بیا آنحضرت صلعم منع خنی وکړه۔ فهو منسوخ۔

بَابُ النَّوَافِلِ

باب دی په بیان کی د نفلی لمونځو

پوه سئ! چه د نفل معنی زیاته تر فرضو او واجبو نو سنت هم پکښی داخل دی۔ نو هر سنت نفل دی او هر نفل سنت نه دی۔ کوکب دری ۳۳

فائده! په صحیح حدیث شریف کی راغلی دی چه آنحضرت صلی الله علیه وسلم وائی "مَنْ ثَابَرَ (ای واظب) عَلٰى اِثْنَيْ عَشَرَ رَكْعَةً فِي الْيَوْمِ وَاللَّيْلِ بَنَى اللّٰهُ لَهٗ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ الْفَجْرِ وَاَرْبَعِ رَكَعَاتٍ قَبْلَ الظُّهْرِ وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَهَا وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعِشَاءِ"

ترجمه! که چا همیشه توب وکړی پر دولس رکعاته په ورځ او شپه کی خدای پاک به جوړ کړی هغه ته اطاق په جنت کی او هغه دا دی! دوه رکعته د سحار ترلمانځه د مخه او څلور رکعته ډ مابنین ترلمانځه د مخه او دوه رکعته ترماښام وروسته او دوه رکعته ترماخستن وروسته ترډی لمانځه۔ او دوه رکعته ترماښام وروسته او دوه رکعته ترماخستن وروسته همدغه حدیث دلیل دی د دا تلونکی بیان د مصنف۔

اَلسُّنَّةُ فِي الصَّلٰوةِ اَنْ يُّصَلِّيَ رَكْعَتَيْنِ بَعْدَ طُلُوْعِ الْفَجْرِ

سنت په لمانځه کی دادی چه گذاری دی دوه رکعته د سپیدو ترراختو وروسته۔

شروع ئی ۲ پر بیان د سنتو وکړه۔ ولی چه سنت تر نفلو افضل دی۔

وَاَرْبَعًا قَبْلَ الظُّهْرِ وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَهَا وَاَرْبَعًا

او څلور رکعته دی گذاری د مابنین ترلمانځه د مخه۔ او دوه رکعته وروسته ترماښین۔ او څلور رکعته

قَبْلَ الْعَصْرِ وَاِنْ شَاءَ رَكْعَتَيْنِ وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ

د مازدیګر ترلمانځه د مخه او که خوښه سی دوه رکعته دی وکړی او دوه رکعته د مابنام ترلمانځه وروسته

پوه سئ! چه د څلورو یا دوه رکعته د مازدیګر مستحب دی۔

وَاَرْبَعًا قَبْلَ الْعِشَاءِ وَاَرْبَعًا بَعْدَهَا وَاِنْ

اوخلور رکعته دی دماخستن تر لماښه دمخه وکړی اوخلور رکعته وروسته تر لماښه د

شَاءَ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ

ماخستن اوکې خوښه وی دوه رکعته دی وکړی (دمخه خلور رکعته مستحب دی۔ دادوه تینګ سنت دی)

وَنَوَافِلُ النَّهَارِ اِنْ شَاءَ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ بِتَسْلِيْمَةٍ وَاحِدَةٍ

او نفل د ورځې کې خوښه وی دوه رکعته دی وکړی په یوه سلام سره

وَاِنْ شَاءَ اَرْبَعًا وَيُكْرَهُ الزِّيَادَةُ عَلٰى ذٰلِكَ

اوکې خوښه وی خلور رکعته دی وکړی اومکروه دی زیادت پرخلور باندی

فَاَمَّا نَوَافِلُ اللَّيْلِ فَقَالَ اَبُوْ حَنِيْفَةَ اِنْ صَلّٰى ثَمَانِيَ

اوهرچه نفل د شپې دی پس ویلی دی امام اعظم ؒ کې وکړه اته رکعته

رَكْعَاتٍ بِتَسْلِيْمَةٍ وَاحِدَةٍ جَازَ وَيُكْرَهُ الزِّيَادَةُ عَلٰى

په یوه سلام سره روا دی (یعنی بیله کراهته) اومکروه دی بالابود پر اته

ذٰلِكَ وَقَالَ اَبُوْ يُوْسُفَ وَمُحَمَّدٌ لَا يَزِيْدُ عَلٰى رَكْعَتَيْنِ

رکعته باندی۔ او ویلی دی امام ابو یوسف ؒ او امام محمد ؒ بالابود دی نه کوی پر دوه

بِتَسْلِيْمَةٍ وَاحِدَةٍ بِاللَّيْلِ

رکعته په یوه سلام سره د شپې (یعنی دوه رکعته افضل دی)

فتوی! په نزد د امام اعظم ؒ خلور رکعته نفل دی په یوه سلام سره د شپې او د ورځې کوی۔ او په نزد د یارانو ؒ افضل خلور رکعته په یوه سلام سره د ورځې او دوه رکعته په یوه سلام سره د شپې دی۔ کوکب ص۳۳

وَالْقِرَاءَةُ فِي الْفَرَائِضِ وَاجِبَةٌ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْاُوْلَيَيْنِ

اوقرائت ویل په فرض لمونځو کې واجب دی په دوو اولو رکعتو کې

پوهه شه! چه مراد د واجب څخه فرض عملی دی۔ او داهم د موږ مذهب دی او امام شافعی ؒ قرائت په ټولو رکعتو کې فرض بولی۔ او امام مالک ؒ یې په دریمه رکعته کې فرض بولی۔ او حسن بصری ؒ یې په یوه کې فرض بولی۔

وَهُوَ مُخَيَّرٌ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْاُخْرَيَيْنِ اِنْ شَاءَ قَرَءَ

او دی اختیار لری په دوو اخیرو رکعتو کې خوښه وی الحمد لله دی

الْفَاتِحَةَ وَاِنْ شَاءَ سَكَتَ وَاِنْ شَاءَ سَبَّحَ

وائی اوکه ؒ خوښه وی ساکت یعنی پته خوله دی ودریږی اوکې خوښه وی سبحان الله دی ووائی۔ لکن الحمد لله ویل بهتر دی۔

وَالْقِرَاءَةُ وَاجِبَةٌ فِي جَمِيْعِ رَكَعَاتِ النَّفْلِ وَجَمِيْعِ رَكَعَاتِ الْوِتْرِ

اوقرائت واجب دی په ټولو رکعتو کې د نفلی لمانځه او په ټولو رکعتو کې د وتر و۔

وَمَنْ دَخَلَ فِي صَلٰوةِ النَّفْلِ ثُمَّ اَفْسَدَهَا قَضَاهَا

که څوک داخل سو یعنی شروع ؒ وکړه په نفلی لمانځه کې اوبیا ؒ فاسد کړه قضاء دی ؒ اوړی۔ او امام شافعی ؒ وائی قضا ؒ نشته۔

مسئله! داحکم هلته دی ؒ چه قصدا داخل سی اوکه سهوًا او بیا قضاء نشته۔ لکه یو سړی چه خلور رکعات لمونځ پوره کړه او سهوًا پنځم رکعت ته ولاړ سی نو ؒ پیاد سی نو هغه فاسد کړی قضا ؒ نشته۔ فتح۔

مسئله! که چا دخلور رکعتونیت وکړی اودوه رکعته ؒ وکړه نو ؒ پریښودلو هیڅ قضا ؒ پرې نشته۔

فَاِنْ صَلّٰى اَرْبَعَ رَكَعَاتٍ وَقَعَدَ فِي الْاُوْلَيَيْنِ

که چا خلور رکعته کوله نود ما بین په ناسته کې کښینستی ؒ۔ (یعنی په دوو اولو کې)

ثُمَّ أَفْسَدَ الْأَخْرَيَيْنِ قَضَى رَكْعَتَيْنِ

او فاسد ئی کړه آخر دوه۔ نو قضاءً دوه رکعتونه اوړی۔ ولی چه اول دوه رکعته دمابین په ناسته پوره سو

وَيُصَلِّي النَّافِلَةَ قَاعِدًا مَعَ الْقُدْرَةِ عَلَى الْقِيَامِ

او کذاړی دی نفلی لموڅ په ناستی سره د قدرت پرولاړی باسندی۔

ولی چه دروانړه د نفلو فراخه ده۔ لکن ثواب ئی پر ینمائی دولاړی د لماڅه دی

اوکه په عذر وی ثواب ئی پوره دی۔

وَإِنِ افْتَتَحَهَا قَائِمًا ثُمَّ قَعَدَ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ

اوکی شروع کړی نفلی لموڅ په ولاړی بیا وروسته ئی په ناسته پوره کړی بیله عذره

جَازَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَقَالَا لَا يَجُوزُ إِلَّا مِنْ عُذْرٍ

روا دی په نزد د امام اعظم اویارانو ائی نه دی روا د غسی نفل مکرد عذر له سببه۔

د لیل د امام اعظم دا دی چه ولاړه په نفلو کی فرض نه ده۔ نو کول او نه کول

ئی برابر دی ابتداءً او انتهاءً۔

وَمَنْ كَانَ خَارِجَ الْمِصْرِ يَتَنَفَّلُ عَلَى دَابَّتِهِ

اوکه څوک ترښار یعنی آبادی د باندی وو نفل دی کوی پر بی ده هی بوده

إِلَى أَيِّ جِهَةٍ تَوَجَّهَتْ دَابَّتُهُ يُومِئُ إِيمَاءً

چه وی۔ اووهر طرف چه د بوده مخ وی (که مخ پر قبله وی که نه وی) اشاره دی کوی په اشاره کولو سره

مسئله! شیخ عبدالحق دهلوی په مدارج النبوة کی وائی چه په وخت د تحریمی

دی مخ د بوده وقبله ته کړی۔ والله اعلم بالصواب!

دلته وائی چه متون د فقهی شریفو اوشروحو هیڅ یوه داقید چه شیخ عبدالحق راوړی دی نه دی

راوړی بلکه د تولو عبارت تولکه د قدوری مطلق دی لکه چه ښکاره مخته عبارت د قدوری موجود دی

بَابُ سُجُودِ السَّهْوِ

باب دی په بیان کی د احکامو د سجده سهوی

سُجُودُ السَّهْوِ وَاجِبٌ فِي الزِّيَادَةِ وَالنُّقْصَانِ بَعْدَ السَّلَامِ

سجده سهوه لازمه ده په زیاتوب او په نقصان کی پس له سلامه

پوه شئ! چه سجده سهوه واجبه ده پر صحیح د مذهبو۔ لکن د امام اعظم

په نزد مطلقاً پس له سلامه څخه یعنی که زیادت سوی وی اوکه نقصان وی۔ او د امام

شافعی په نزد مطلقاً تر سلام دمخه ده۔ او د امام مالک په نزد که د نقصان څخه وه

هغه قبل السلام ده اوکه د زیاتوب څخه وه هغه بعد السلام ده۔

فائده! د اختلاف په اولویت کی دی یعنی چه ښه کومه خواده۔ روا خو دواړی

دی۔ یعنی قبل السلام وبعد السلام په اتفاق د مذهبو۔ ولی چه په دواړو طرفو

کی صحیح حدیث موجود دی په شپږو کتابو د حدیثو کی۔

مسئله مهمه! په بعضی کتابو د فقهی شریفی کی وائی که سهوه سوی سړی

یواړی لموڅ کاوه نو تر سجده سهوی دمخه دی پرده واړه وطرفو سلام وکړځوی۔

اوکه امام وو نو پر یوه طرف دی سلام وکړځوی۔ ولی باید ده چه هغه مقتدیان

چه اول د لماڅه ځنی تیر سوی وی ولاړه نه سی وپاته رکعتونه۔ لکن په فتاوای

قاسمیه کی په حواله د نورو فتاواو چه منفرد دی هم پر یوه طرف سلام کړځوی

حتی وائی که پرده واړه طرفه سلام وکړ خاوه د لماڅه څخه خارج سو۔ بیا

سجده سهوه نه سی کولای۔ والله اعلم بالصواب۔

يَسْجُدُ سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ يَتَشَهَّدُ وَيُسَلِّمُ

دوې سجدې دی وکړی او بیا دی التحیات وائی او سلام دی وکړځوی۔

مسئله! څوک وائی چه په دمخه ناسته کی فقط التحیات دی ووائی۔ لکن احتیاط

دادی چه اللهم صل دی هم ووائی۔ او په دوهمه ناسته کی دی التحیات۔ درود

او اللهم ربنا تر تولو وائی۔ کوکب دری ص۴۴

وَيَلْزَمُهُ سُجُودُ السَّهْوِ إِذَا زَادَ فِي صَلٰوتِهِ فِعْلًا

اولازمیږی سجده سهوه چه زیادت کړی په لمانځه کی یو کار چه د جنسه څخه د لمانځه

مِنْ جِنْسِهَا لَيْسَ مِنْهَا أَوْ تَرَكَ فِعْلًا مَسْنُونًا

خو وی لکن په دې څای کی څوی (مثلاً لکه په اوله ناسته کی دسرود وائی یا نور) اویائی پریښود سنت فعل

مسئله! په اوله ناسته کی که څوک دوفی بالا بود وکړی چه "اللهم صلی علی محمد" سجده سهوه پر لازمه ده۔ یائی مثلاً دړې سجدې وکړې۔

فائده! سجده سهوه اصلاً یا په پریښودلو د واجب لازمیږی۔ او یا په خندولو د فرض۔ نو د زیادت په صورت کی حتماً تاخر د رکن لازمیږی۔ بنه غوږ وکړه۔

پوه شه! چه مراد د مصنف د سنت څخه واجب دی لکن چونکه اثبات ئی په سنت نبوی سوئ دی نو ئی سنت وبالله۔ هدایه ص۱۴۰

أَوْ تَرَكَ الْفَاتِحَةَ الْكِتَابِ أَوِ الْقُنُوتَ أَوِ التَّشَهُّدَ

اویائی ترک کړه الحمد لله شریف (ولی چه هغه نه موږ په نزد واجب دی) اویائی پریښود دعاء قنوت

أَوْ تَكْبِيرَاتِ الْعِيدَيْنِ

اویائی پریښوده التحیات (په اخیره ناسته کی) او یائی پریښودل تکبیر و نه د دو واخترو د لمانځه۔ ولی چه دا قوله شیان واجب دی۔

أَوْ جَهَرَ الْإِمَامُ فِيمَا يُخَافَتُ

او یائی په هغه قرائت و وایه امام په هغه لمانځه کی چه دپټې خولې لوستل وی۔ لکه دماپښین او دمانړدیګر لوستل۔ ولی چه مخافت په دغو لمونځونو کی واجب دی۔

أَوْ خَافَتَ فِيمَا يُجْهَرُ

او یا کوم قرائت و وائی امام په هغو لمونځونو کی چه جهر پکښی کیږی۔

لکه سحرماښام۔ ماښام۔ ولی چه په دغو لمونځونو کی پر امام جهر لازم دی۔

فائده! د امام د قید څخه دا سی معلومیږی چه پر منفرد باندی سجده سهوه نشته په دواړه صورتونو کی۔ هدایه ص۱۴۱

مسئله! البته جهر یا اخفاء سجده سهوه نه لازمویږی۔ ولی چه لږ د قدرت څخه خارج وی۔ او مقدار د کثیر په نزد د امام اعظم یو آیت دی۔ او په نزد د یارانو دری آیاتونه دی۔

وَسَهْوُ الْإِمَامِ يُوجِبُ عَلَى الْمُؤْتَمِّ السُّجُودَ

او د امام سهوه واجبوی پر مقتدی باندی سجده۔ ولی چه دی تابع د امام دی۔

فَإِنْ لَمْ يَسْجُدِ الْإِمَامُ لَمْ يَسْجُدِ الْمُؤْتَمُّ

پس که سجده سهوه امام نه وکړه مقتدی دې هم یوازی نه کوی (ولی د امام څخه مخالفت نه دی روا۔ جوهره)

فَإِنْ سَهَى الْمُؤْتَمُّ لَمْ يَلْزَمِ الْإِمَامَ وَلَا الْمُؤْتَمَّ السُّجُودُ

او که مقتدی سهوه سو نو نه لازمه پر امام او نه پر مقتدی سجده سهوه۔

ولی که امام سجده وکړی اصل تبع سو او کې مقتدی وکړی یوازی نو مخالفت د امام لازمیږی۔

وَمَنْ سَهَى عَنِ الْقَعْدَةِ الْأُولَى ثُمَّ تَذَكَّرَ وَهُوَ إِلَى

او که سهوه سو یو لمونځ کونکی د اولی ناستی څخه او بیا وه پیاد سو۔ او دی و ناستی ته

حَالِ الْقُعُودِ أَقْرَبُ عَادَ فَجَلَسَ وَتَشَهَّدَ

نزدې وو۔ نو راوګرځی وناسته۔ پس کښینی دی او التحیات دی و وائی۔

یعنی پرده سجده سهوه نسته۔ هدایه ص۱۴۱

وَإِنْ كَانَ إِلَى حَالِ الْقِيَامِ أَقْرَبَ لَمْ يَعُدْ وَسَجَدَ لِلسَّهْوِ

او که چیری وحال ته دولاړی نزدې وو نو نه دی راګرځی او سجده سهوه دی وکړی۔

مسئله! که چیری په دغه صورت کی راوګرځیدی یا ولاړ سوئ وو بیائی پیاد سو یو چا فتحه وکړه۔ که امام وو او ناسته ته راوګرځیدی دیر کتابونه د فقهی شریفی وائی چه لمونځ فاسد سو ولی چه فرض ئی چه ولاړه ده د پاره د واجب ئی چه ناسته ده پریښوده۔ وبالله افتی۔

وَإِنْ سَهَى عَنِ الْقَعْدَةِ الْأَخِيرَةِ فَقَامَ إِلَى

او کہ څوک سهوه سو د اخیری ناستی څخه او ولاړ سو د پنځم رکعت ته

الْخَامِسَةِ رَجَعَ إِلَى الْقَعْدَةِ مَالَمْ يَسْجُدْ

بیرته دی راوګرځی د ناستی ته تر هغو چه سجده ئی د پنځم رکعت د پاره نه وی

لِلْخَامِسَةِ وَأَلْغَى الْخَامِسَةَ وَسَجَدَ لِلسَّهْوِ

کړی۔ او لغوه دی کړی پنځم رکعت او سجده سهوه دی وکړی۔

فائده! دا مسئله خاص د پنځم رکعت په ولاړیدو پوری نه ده۔ بلکه که د سحار په لمانځه کی د دیارلسم رکعت ته ولاړ سو یا د هاسبنام په لمانځه کی څلورم رکعت ته ولاړ سو۔ همدا غه ئی حکم دی دا اګر جیدو۔ او د پنځم رکعت د لغو کیدو دلیل دا دی چه په دغه سره د دری لمونځ د بطلان نه څخه خلاصیږی او سجده سهوه دی په دې سبب کوی چه اخیره ناسته ئی وخنده ول۔

وَإِنْ قَيَّدَ الْخَامِسَةَ بِسَجْدَةٍ بَطَلَ فَرْضُهُ وَتَحَوَّلَتْ صَلٰوتُهُ نَفْلًا

او که بند کی پنځم رکعت په سجده سره (یعنی د پنځم رکعت سجده ئی وکړه) نو فرض ئی باطل سو او وګرځیدی لمونځ ئی نفل۔

مسئله! چه صرف تندی پر ځمکه کښیږدی پنځم رکعت مقید سو۔

وَكَانَ عَلَيْهِ أَنْ يَضُمَّ إِلَيْهَا رَكْعَةً سَادِسَةً

او لازم ده په ده باندی دا چه شپږم رکعت وسجوت کړی (ولی چه نفل تاک نسته)

وَإِنْ قَعَدَ فِي الرَّابِعَةِ قَدْرَ التَّشَهُّدِ ثُمَّ قَامَ وَلَمْ

او که چیری کښینستی په څلورم رکعت کی پر قدر د التحیات او بیا ولاړ سو (یعنی پنځم رکعت ته

يُسَلِّمْ بَطَلَ بِهَا الْقَعْدَةُ الْأُولٰى عَادَ إِلَى الْقُعُودِ

او سلام ئی ونه کړ خو (یعنی سهواً) په کمان د دې چه دا اوله ناسته ده راوګرځی وناسته نه۔

مسئله! التحیات دی نه وائی۔ کوکب دری۔

مَالَمْ يَسْجُدْ لِلْخَامِسَةِ وَيُسَلِّمْ وَيَسْجُدُ لِلسَّهْوِ

تر هغو چه سجده ئی نه وی کړی د پاره د پنځم رکعت۔ او سلام دی وکړځوی (ولی چه سلام کړ خو ل په ولاړیدی مشروع نه دی) او سجده سهوه دی وکړی۔

وَإِنْ قَيَّدَ الْخَامِسَةَ بِسَجْدَةٍ ضَمَّ إِلَيْهَا رَكْعَةً أُخْرٰى

او که مقید کړی پنځم رکعت په سجده سره نو دی ورسجوت کړی یو بل رکعت۔

وَقَدْ تَمَّتْ صَلٰوتُهُ وَالرَّكْعَتَانِ نَافِلَةٌ وَيَسْجُدُ لِلسَّهْوِ

او لمونځ دده تمام سو او دوه رکعته نفل سوه او سجده دی وکړی د پاره د سهوی۔

فائده! دده سجدې وجه دا ده چه په فرض لمانځه کی نقصان راغی ولی چه پر سنت طریقه خارج نه سو۔ او په نفلو کی هم نقصان راغی ولی چه پر وجه مسنونه نه سو په کی داخل۔ هدایه ص۱۴۲

مسئله! دغه دوه رکعته د سنتو د ماپښین پرځای نه دی یږی۔ ولی چه دغه سنت تحریمه قصدی غواړی ص۱۴۲ هدایه

مسئله! که پنځم رکعت ته ئی سجده وکړه او بیا ئی پریښوده یعنی شپږم رکعت ئی نه کړی ورضم او سلام ئی وکړځاوئ دده دوو رکعتو نفلو په سبب د شروع قضاء پرې نسته ولی چه دا شروع قصدی نه ده ۱۴۲ هدایه

وَمَنْ شَكَّ فِي صَلٰوتِهِ فَلَمْ يَدْرِ أَثَلَاثًا صَلّٰى أَمْ أَرْبَعًا

او که څوک شک سو په لمانځه کی پس ده ته نه معلومیده چه دری رکعته می وکړه او که څلور

وَكَانَ ذٰلِكَ أَوَّلَ مَا عَرَضَ اسْتَأْنَفَ الصَّلٰوةَ

او دا اول شک و وچه وده ته پیښ سو۔ د سره دی راوګرځوی لمونځ۔

ولی چه آنحضرت صلی الله علیه وسلم په داسی صورت کی داسی وائی "فَلْيَسْتَقْبِلِ الصَّلٰوةَ"۔

پوه سلطه! چه معنی د اول شک دانده چه دده په عمر کی د اول شک وو
او د اهم نده چه په دغه لمانځه کی د اول شک وو۔ بلکه معنی د اول شک داده چه
شک دده عادت نه وو۔ یعنی دیر دیر نه وو ورپیښ سوی۔

وَإِنْ كَانَ الشَّكُّ يَعْرِضُ لَهُ كَثِيرًا بَنَى عَلَى غَالِبِ ظَنِّهِ إِنْ كَانَ لَهُ ظَنٌّ

اوکه چیری ده ته داشک دیر پیښیدی۔ نو بناء دی وکړی پر غالب گمان که چیری د دی
د پاره گمان وو (یعنی یوطرف ئی پر بل طرف غالب وو)

رسول الله صلی الله علیه وسلم په صحیح حدیث کی وائی "مَنْ شَكَّ فِي صَلَاتِهِ
فَلْيَتَحَرَّ الصَّوَابَ" ترجمه: اکه څوک شک سو په لمانځه کی پس فکر دی ووهی په حق کی۔

وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ ظَنٌّ بَنَى عَلَى الْيَقِينِ

اوکه ده لره نه وو غالب گمان پس یوه خوا باندی پس بناء دی وکړی پر یقین باندی۔

یعنی که په دوو اړو دره کی شک وو۔ دوه یقین دی د دوو څنده دې شروع
کړی۔ اوکه په دره اوخلور کی شک وو د دې یقین دی۔ د دره څنده دی شروع
کړی۔ ولی کم عدد خو یقینی دی۔

مسئله! چه ده بناء پر یقین وکړه چه هغه اقل عدد دی نو پس هغه لمانځ دی کښینی
او التحیات دی وائی چه توهم اوخیال د اخیری ناستی پرې کیږی د پاره د احتیاط
چه اخیره ناسته پاته نه سی۔ کذا فی الهدایه ص۱۳۳ وعلیه الفتوی۔ او سجده
سهوه نسته باندی۔

کاتب مولوی عبد الباری غفرله الباری

اللهم اغفر لکاتبه ولمولفه ولناشره ولآبائهم ولاجدادهم ولاقربائهم
ولجمیع المؤمنین والمؤمنات آمین

بَابُ صَلٰوةِ الْمَرِيضِ

قاعداً ۱۳

باب دی په بیان کی د احکامو د لمانځه د څاجوړی

إِذَا تَعَذَّرَ عَلَى الْمَرِيضِ الْقِيَامُ صَلَّى قَاعِدًا يَرْكَعُ وَيَسْجُدُ

کله سخته وه په ناجوړی باندی ولاړه لمونځ دی کوی په ناسته اوه رکوع او سجده دی کوی۔

مسئله! د ولاړی په سخت والی او تکلیف کی دیر اختلاف دی۔ خو صحیح داده
چه څوده ته په ولاړه کی ضرر رسیږی۔ مثلاً یا ئی سر پرله کړی او غوڅاریږی۔ او یا
تپی وی تپ ئی خرابیږی۔ یا ئی درد ور یا تیږی او یا نور د دغه قسمه څخه۔

فائده! اعتبار د لمونځ کذاره غالب گمان لره دی۔

مسئله! بعضی عوام د لږ ناجوړی څخه هم لمونځ په ناستی کوی۔ نو فرضی لمونځونه
خو نه دی روا۔ نفل او یا سنت روا دی۔

فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعِ الرُّكُوعَ وَالسُّجُودَ أَوْمَى إِيمَاءً

اوکه طاقت نه درلودی د رکوع او سجدې (که څه هم د ولاړې قدرت لری) نو لمونځ دی په

وَجَعَلَ السُّجُودَ أَخْفَضَ مِنَ الرُّكُوعِ

اشاره کوی۔ او کړ خوی دی سجده لږ کښته تر رکوع۔

مسئله! د اشارې لمونځ به په ناستی وی په ولاړې اشاره نه ده روا۔ کوکب دری ص
مسئله! اکه په سجده کی سر تر رکوع کښته نه کړی لمونځ ئی نه دی روا۔
پوه سلطه! چه د ناستی په لمانځه سره او د اشارې په لمانځه سره صریح حدیث
صحیح په روایت د عمران بن حصین رض چه نسائی روایت کړی دی راغلی دی۔

وَلَا يَرْفَعُ إِلَى وَجْهِهِ شَيْئًا يَسْجُدُ عَلَيْهِ

او نه دی پورته کوی د څخه ده یوشی لکه بالښت وغیره۔ تاچه دی سجده کا پرې وکړی۔

رسول کریم صلی الله علیه وسلم فرمائی «اِنْ قَدَرْتَ اَنْ تَسْجُدَ عَلَى الْاَرْضِ فَاسْجُدْ وَاِلَّا فَاَوْمِ بِرَاْسِكَ» کوکب دری ص۳۵۔

یعنی که دی قدرت درلودی چه سجده وکړی پر ځمکه پس سجده وکړه او که قدرت نه وو پس اشاره کوه په سر سره۔

فَاِنْ لَمْ يَسْتَطِعِ الْقُعُوْدَ اِسْتَلْقٰى عَلٰى قَفَاهُ

او که طاقت نه وو د ناستی پریښودی دی پرځټ باندی (یعنی ستنی ستنه)

وَجَعَلَ رِجْلَيْهِ اِلَى الْقِبْلَةِ وَاَوْمٰى بِالرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ

او دی کړخوی پښې خپلی طرفته د قبلې او اشاره دی کوی په رکوع او سجده سره

وَاِنِ اضْطَجَعَ عَلٰى جَنْبِهِ وَوَجْهُهُ اِلَى الْقِبْلَةِ وَاَوْمٰى

او که چیری پر بغل پریوزی او مخ وقبلې ته کړی او اشاره کوی نو دا هم

جَازَ وَاِنْ لَّمْ يَسْتَطِعِ الْاِيْمَاءَ بِرَاْسِهٖ اَخَّرَ الصَّلٰوةَ

روادی او کې قدرت پر اشاره نه درلودی په سر سره نو لمونځ ځنډوینی

وَلَا يُوْمِيْ بِعَيْنِهٖ وَلَا بِحَاجِبَيْهِ وَلَا بِقَلْبِهٖ

دده څخه (تر وخته د صحت) او اشاره دی نه کوی په ستر کو او نه په وهو او نه په زړه۔

تنبیه! لمونځ څوک مهم شی دی چه تر دغی اندازې پوری ئی اداء کول لازم دی۔ نو افسوس صد افسوس پرحال د هغو کسانو چه په صورت جوړ تیار وی او لمونځ نه کوی۔

زموږ د کړان افغانستان خلک تر انقلاب ثور د څخه (۸) (فی صد) لمونځ کذاره وخته چه بې دینه انقلاب راغی او خلقیان او پرچمیان سنکاره او د قدرت خاوندان سوه هغو خو هیڅ لمونځ نه پیژندی بلکه عموماً ځنی منکر وو بیا د انقلاب له کبله بعض د افغانستان خلک امریکې ته او بعضی جرمنی ته او بعضی لندن ته او بعضی پرانسې ته مهاجر سوله۔ د کفار و د وطن مهاجر و هم (۸) فی (۱۰۰)

لمونځونه پریښودل۔ بلکه بعضی کسان خو بیخی په لمانځه پسخندوهی۔ او بل داچه مایني خوندی اولوفې ئی په آزاده توګه بې حجابه په بازارونو کی دکفارو کړی۔

واقعاً ما! په قندهار کی یو حاجی صاحب دیر ښه سړی و و اوس مړ دی خدای دې وبخښی۔ زما من ئی په کوټه کی دی او بعضی په امریکا کی دی۔ دامریکا والو د زامنو ئی واده و و په کوټه کی۔ نو دده څخه حکایت دی چه دې واده والا تر یو شناخته چه کراچی کی ژوند چه د راځه مسجد ته ولاړ سو لمونځ برکړه۔ ده و ویل (العیاذ بالله) چه هغه پخوانی خرتوبی دی لا نه ده پرې اینبې۔ دا یقیناً کلمه د کفر ده او په واده کی ئی شپیته زره کلداره مسلیانو اوشو قیانوته وه رکړی وی۔ افسوس پرهغو ناموس فروشانو چه د دغسی دین فروشانو ته خپلی لوڼې وه رکوی په نکاح۔ البته د روپو په خاطر ئی وه رکوی۔

فَاِنْ قَدَرَ عَلَى الْقِيَامِ وَلَمْ يَقْدِرْ عَلَى الرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ

او که لمونځ کونکی قادر د وړاندې ولاړه او قادر نه وو پر رکوع او سجده باندی

لَمْ يَلْزَمْهُ الْقِيَامُ وَجَازَ لَهٗ اَنْ يُّصَلِّيَ قَاعِدًا يُوْمِيْ اِيْمَاءً

نو نه لازمه پرده ولاړه اوروا ده له چه لمونځ وکړی په ناسته او اشاره دی کوی په رکوع او سجده

بنهانه فائده!

دده عبارت څخه دقدوری داسی فهمیږی چه ولاړه لازمه نده بلکه روا ده۔ نو چه لمونځ په ولاړې سره سو نو اشاره هم په ولاړې روا ده۔ نو هغه چه ما د څخه وویل چه اشاره په ولاړې نسته هغه قول د کوکب دری و و۔

فَاِنْ صَلَّى الصَّحِيْحُ بَعْضَ صَلٰوتِهٖ قَائِمًا ثُمَّ حَدَثَ

او که سړی جوړ و و او بعض لمونځ ئی په ولاړې وکړ او وروسته وه رته پیښ سو

بِهٖ مَرَضٌ اَتَمَّهَا قَاعِدًا يَرْكَعُ وَيَسْجُدُ اَوْ يُوْمِيْ اِيْمَاءً

مرض نو پوره دی کړی لمونځ په ناسته اوه رکوع او سجده دی کوی۔ او یا دی اشاره کوی

إِنْ لَّمْ يَسْتَطِعِ الرُّكُوْعَ وَالسُّجُوْدَ اَوْمَأَ مُسْتَلْقِيًا اِنْ

کنې قدرت نه وي د رکوع او سجدې اويا دې ستوني سنخ وکړي کنې قدرت

لَّمْ يَسْتَطِعِ الْقُعُوْدَ وَمَنْ صَلّٰى قَاعِدًا يَرْكَعُ وَيَسْجُدُ

نه وي د ناستي - اوکه چالمونځ په ناستي کاوه د مرض له سببه او رکوع وسجده

لِمَرَضٍ ثُمَّ صَحَّ بَنٰى عَلٰى صَلٰوتِهٖ قَائِمًا

ئ کولې او بيا جوړ سو (يعنې قدرت ئې پرې ولاړې پيدا کړې) بناء دې وکړي پر هغه لمانځه چې ولاړ

فائده! دامذکوره په قدوري کې مذهب د شيخينو رح دئ چې دوئ اقتداء دولاړ سړي په ناست سړي پسې روا بولي ولې چې آنحضرت صلى الله عليه وسلم ناست وو او صحابه رض په ولاړه ئې لمونځ کاوه - بخاري - مسلم - مشکوة -

نو چې اقتداء روا ده نو بناء هم روا ده - په دې کې امام محمد رح مخالف دئ ولې چې اقتداء د قائم په قاعد پسې روانه بولي -

فَاِنْ صَلّٰى بَعْضَ صَلٰوتِهٖ بِاْلاِيْمَاءِ ثُمَّ قَدَرَ عَلَى

کې يو چا وکړي بعضې لمونځ په اشاره سره او بيا قادر سو په رکوع او سجده

الرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ اِسْتَاْنَفَ الصَّلٰوةَ

باندې نو لمونځ دې د سره راوکړي

پوه سئ! چې دا مسئله نه ده چې تولو امامانو په اتفاق ده ولې چې اقتداء د راکع او ساجد په اشاره کوونکي والا سره نه ده

وَمَنْ اُغْمِيَ عَلَيْهِ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فَمَا دُوْنَهَا قَضَاهَا

اوکه پرچا بيهوشي راغله پنځه لمانځه يا کم تر پنځه لمونځ دهغو قضا دې راوړي -

اِذَا صَحَّ وَاِنْ فَاتَتْهُ بِاْلاِغْمَاءِ اَكْثَرُ مِنْ ذٰلِكَ لَمْ يَقْضِ

چې جوړ سي - اوکه د چا نه قضا سوه د اغماء په سبب بالا تر پنځه لمونځو قضا نه ده -

بَابُ سُجُوْدِ التِّلَاوَةِ

باب دئ په بيان کې د سجدې د تلاوت

يعنې هغه سجده چې په سبب د تلاوت د بعضو آياتو د قرآن لازمېږي

فِي الْقُرْاٰنِ اَرْبَعَةَ عَشَرَ سُجْدَةً

په قرآن مبارک کې څوارلس ځايه د سجدې دي -

پوه سئ! چې دامذهب د حنفيانو دئ - او بعضې علماء ئې پنځلس بولي - او او بعضې علماء ئې يو ولس بولي چې تفصيل ئې په لويو کتابو کې دفقه دئ -

سُجْدَةٌ فِيْ اٰخِرِ الْاَعْرَافِ وَفِي الرَّعْدِ وَفِي النَّحْلِ

يوه سجده په آخر کې د سورة اعراف ده - او په سورة رعد کې - او په سورة نحل کې -

وَفِيْ بَنِيْ اِسْرَائِيْلَ وَمَرْيَمَ وَالْاُوْلٰى فِي الْحَجِّ وَالْفُرْقَانِ

او په سورة بنې اسرائيل کې - او په سورة مريم کې - او اول په سورة حج کې - او په سورة

وَالنَّمْلِ وَالٓمٓ تَنْزِيْلَ وَصٓ وَحٰمٓ السَّجْدَةِ وَالنَّجْمِ

فرقان کې - او په سورة نمل کې - او په الم تنزيل کې - او په سورة صاد کې - او په

وَالْاِنْشِقَاقِ وَالْعَلَقِ

سورة حم سجده کې او سورة نجم کې او په سورة الانشقاق کې او په سورة علق کې

پوه سئ! چې دا هغه سورې تو نومان دي چې په هغوکې نزمونږ په مذهب کې سجده نشته - امام شافعي رح په سورة حج کې دوه سجدې وائي حکه مصنف رح ويلي چې اول سجده د سورة حج

وَالسُّجُوْدُ وَاجِبٌ فِيْ هٰذِهِ الْمَوَاضِعِ عَلَى التَّالِيْ

او سجده واجبه ده په دغو ځايونو کې پر هغه چا باندې چې دا سورې تلاوت کوي

وَالسَّامِعِ سَوَاءٌ قَصَدَ سَمَاعَ الْقُرْاٰنِ اَوْ لَمْ يَقْصُدْ

اوپر اوریدونکی باندی خواه قصد داوریدو د قرآن مبارک فی وی یا فی قصد نه وی۔

دلیل! آنحضرت صلی الله علیه وسلم فرمائی «السجدة علی من سمعها وعلی من تلاها» حدیث صحیح۔ کوکب دری ص۳۳

فَاِذَا تَلَا الْاِمَامُ اٰيَةَ السَّجْدَةِ سَجَدَهَا وَسَجَدَ الْمَاْمُوْمُ مَعَهٗ

کله آیة د سجدې امام وویله نو امام به سجده کوی او مقتدی به هم سجده کوی سره دده

مسئله! که امام په حنفیه لمانځه کی آیة د سجدې و ویله او سجده ئی کوله پس مقتدی تبعًا سجده لازمه ده۔ کی څه هم آیة د سجدې خو نه دی اوریدلی۔ رد۔ فتح۔

فَاِنْ تَلَا الْمَاْمُوْمُ لَمْ يَلْزَمِ الْاِمَامَ وَلَا الْمَاْمُوْمَ

اوکه مقتدی آیة د سجدې و ویله (که څه مقتدی د قرائت څخه منع دی) نه لازمیږی پر امام او نه پس مقتدی

پوهه شه! چه دا مذهب د شیخینو دی۔ او امام محمد وائی چه نوله به سجده کوی لکن وروسته تر لمانځه۔ ولی چه سبب د سجدې پیدا سو۔ او امام اعظم او امام ابو یوسف وائی چه مقتدی چونکه د قرائت څخه ممنوع دی نو دا سبب لکه نه سبب دی

فائده! نهوه مذهب دی په سره امامان ائمه ثلاثه بولی۔ او امام ابو یوسف او امام محمد دواړه یا ران بولی۔ او امام اعظم او امام ابو یوسف دواړه شیخین بولی۔ یعنی سپین ږیری۔ او امام اعظم او امام محمد دواړه طرفین بولی یعنی یو سپین ږیری او بل ځوان۔

وَاِنْ سَمِعُوْا وَهُمْ فِيْ صَلٰوةٍ اٰيَةَ سَجْدَةٍ مِنْ رَجُلٍ

اوک واوریدی خلکو په داسی حال چه دوی په لمانځه کی وه آیة د سجدې د داسی

لَيْسَ مَعَهُمْ فِي الصَّلٰوةِ لَمْ يَسْجُدُوْهَا فِي الصَّلٰوةِ

سړی څخه چه هغه نه وو شامل د دوی سره په لمانځه کی۔ نو دوی دی سجده نه کوی په لمانځه

وَسَجَدُوْهَا بَعْدَ الصَّلٰوةِ فَاِنْ سَجَدُوْهَا فِي الصَّلٰوةِ

او سجده دی وکړی د غه آیة لره وروسته تر لمانځه او که سجده وکړه دې آیة لره په لمانځه کی

لَمْ تُجْزِئْهُمْ وَلَمْ تَفْسُدْ صَلٰوتُهُمْ

هغه سجده کافی نه ده دوی لره او لمونځ دوی هم نه فاسدیږی۔

چونکه سبب د سجدې چه اوریدل د آیة دی پیدا سو نو حکم سجده پر لاړه سوه او په لمانځه کی په دې سبب نه ده رواجه دا سجده صلاتیه نه ده۔ یعنی آیة د سجدې په لمانځه کی نه دی ویل سوی۔ او لمونځ حکمًا نه فاسدیږی چه دا سجده د لمانځه د جنس څخه نه ده۔ او دا هم مذهب د شیخینو دی۔ او فتوی هم پر دغه مذهب ده او امام محمد وائی چه لمونځ فی فاسد سو۔

وَمَنْ تَلَا اٰيَةَ سَجْدَةٍ خَارِجَ الصَّلٰوةِ وَلَمْ

اوک چا و ویله آیة د سجدې د باندی تر لمانځه او سجده ئی نه وکړه د هغه د پاره

يَسْجُدْ لَهَا حَتّٰى دَخَلَ فِيْ صَلٰوةٍ فَتَلَاهَا وَ

او بیا پر لمانځه ودریدی او هغه آیة د سجدې ئی په لمانځه کی بیا و ویله او سجده ئی

سَجَدَ لَهُمَا اَجْزَئَتْهُ السَّجْدَةُ عَنِ التِّلَاوَتَيْنِ

وکړه د دواړو تلاوتو د پاره کافی ده هغه یوه سجده د دواړو تلاوتو د پاره

پوهه شه! چه دا حکم هلته دی چه مجلس ئی نه وی بدل کړی۔ او که مجلس ئی بدل کړی بیا د وې سجدې غواړی۔

وَاِنْ تَلَاهَا فِيْ غَيْرِ الصَّلٰوةِ فَسَجَدَ لَهَا ثُمَّ

او که چا و ویله آیة د سجدې په غیر د لمانځه او سجده ئی د هغه د پاره وکړه او بیا داخل سو

دَخَلَ فِی الصَّلٰوۃِ فَتَلَاھَا ثَانِیًا سَجَدَھَا ثَانِیًا

په لمانځه کې اوبیائی هغه آیة د سجدې وایه نو دوهمه به کوی ۔

وَلَمْ تَجْزِئْهُ السَّجْدَۃُ الْاُوْلٰی وَمَنْ کَرَّرَ تِلَاوَۃً

اوهغه اوله سجده ئی کفایت نه کوی ۔ اوکه چا مکرره کړې یو آیة د سجدی پریږه

اٰیَۃَ سُجْدَۃٍ وَاحِدَۃٍ فِیْ مَجْلِسٍ وَاحِدٍ اَجْزَئَتْهُ سَجْدَۃٌ وَاحِدَۃٌ

مجلس کا یعنی دهغې څلورو واړه ئی وویل) کافی ده هغه سړي لره یوه سجده ۔

مسئلهٔ! که آیات د سجدې دوه دهغې ئی وویل پس هغوئی سجدی غواړی که څه هم مجلس یو وی ۔

مسئلهٔ! کی یو آیة د سجدې په دوه دهغې ځایه جلا کی وویل بیا هم مکرهی سجدی پری لازمیږی ۔

وَمَنْ اَرَادَ السُّجُوْدَ کَبَّرَ وَلَمْ یَرْفَعْ یَدَیْهِ وَسَجَدَ ثُمَّ

چه څوک اراده وکړي د سجدهٔ تلاوت الله اکبر ئی وائی اولاسونه دې نه پورته کړي اوسجده دې وکړي

کَبَّرَ وَرَفَعَ رَاْسَهٗ وَلَا تَشَھَّدَ عَلَیْهِ وَلَا سَلَامَ

اوبیا چه سر له پورته کوی هم دې الله اکبر وائی ۔ او التحیات نسته پرده اونه سلام کړ حول نسته

مسئلهٔ! که چا آیة د سجدې په یوه ځای کی وویل اوبیا د هغه ځایه څخه ولاړهی ۔ اوبیرته هغه ځای ته راغلئ اوبیائی هغه آیة د سجدی وویل ۔ نو دوې سجدې به کوی ۔

مسئلهٔ! که یوه قاری آیة د سجدې په یوه ځای کی وویل اوسامع واوریدی اوسامع ځای بدل کړئ اوقاری په هغه مجلس کی بیا هغه آیة د سجدی وویل پرسامع دوې سجدې اوپر قاری یوه سجده ده ۔ هدایه ص۱۴۷

مسئلهٔ! که قاری مجلس بدل کړی اوسامع په هغه مجلس کی وو چه دهغه وویل صحیح مذهب دادی چه پر سامع یوه سجده ده اوپر قاری دوې دی ۔ هدایه ص۱۴۷

مسئلهٔ! دامکروه ده چه یو سړي په لمانځه کی یا خارج ترلمانځه نور سوره ووائی او آیة د سجدې پریږدی ۔ ولی چه په دې کار کی مشابهت د هغه چا سره راځی چه د سجدې څخه انکار کوی ۔ حقیقت انکار خو کفر دی نو مشابهت ئی مکروه دی ۔

مسئلهٔ! که څوک آیة د سجدې وائی اونور قران او سوره پریږدی نو دا مکروه نه دی ۔ ولی چه سجدې ته ئی خان چمتو کړی ۔ لکن امام محمد رح وائی چه د هغه تر آیة د سجدې دی یو یا دوه آیاته ووائی چه د آیة سجدې تنفیل دی چا خیال نه سی ۔

مسئلهٔ! په خارج کی د لمانځه که چا قرآن شریف وایه او څلک موجود وه ۔ آیة د سجدې دی پټ ووائی د پاره د شفقت پراوریدونکو ۔ هدایه ص۱۴۸

سبحانه فائده!

په روح البیان کی داسی راغلی دی که یوچاته سخت کار او مشکل پیښ سی چه د هغه کار کول ورته گران وی نو د قران شریف څو رلس آیاته د سجدې پرترتیب اوتر هر آیة د سجدې د مخه یو آیة بل دی ووائی او د هر آیات سره دی سجدهٔ تلاوت کوی ۔ چه پای ته ورسیدئ ۔ نو دی لاسونه پورته کړي په دیر عجز دی د هغه مشکل کار حل څنی وغواړی د خدائ څخه ۔ خدائ ئی ورحل کړی ۔ من تجربات الاولیاء ۔

متفرق مسئلې د سجدة التلاوة په بارهٔ کی

۱ سجدة تلاوة په اوقاتِ مکروهه کی نه ده روا لکه لمونځ مکر هغه وخت روا ده چه آیة د سجدی هم په دغه وخت کی ووائی ۔ قاضیخان ۲ د سجدهٔ تلاوة د عدد په قرآن مبارک کی اختلاف دی نو موږ مذهب دادی چه آیاتو نه د سجدې (۱۴) دی په دغه ترتیب سره چه قدوری ذکر کړه ۔ او بعضی علماء وائی (۱۱) دی یعنی په مفصل سوره تو کی آیة د سجدې نسته دده ئی په نزد ۔ او اهل مدینه ئی (۱۵) بولی ۔ او امام شافعی رح په نزد هم (۱۴) دی لکن په سوره ص کی سجده نه وائی او په سوره حج کی دوې سجدې وائی ۔ نو موږ دلیل دادی چه په مصحف عثمانی رض کی (۱۴) سجدې نومولی دمذهب پر لیکل سوی دی ۔ هدایه ص۱۴۶

بَابُ صَلٰوةِ الْمُسَافِرِ

باب دی په بیان کی د لمانځه د مسافر

اَلسَّفَرُ الَّذِیْ یَتَغَیَّرُ بِهِ الْاَحْکَامُ

هغه سفر چه په هغه سره تغیر پیدا کوی حکمونه - (یعنی یکره وشی خوږل چه ورته سوا کین ی اوخلور رکعته لمونځ ی دوه رکعته کین ی اوچ ته سفر شرعی وائی)

هُوَ اَنْ یَّقْصُدَ الْاِنْسَانُ مَوْضِعًا بَیْنَهٗ وَبَیْنَ الْمَقْصَدِ

هغه سفر دا دی چه قصد وکړی یو انسان دیوځای چه دسړی اودهغه ځای چه دده ورته قصد وی

مَسِیْرَةُ ثَلَاثَةِ اَیَّامٍ فَصَاعِدًا بِسَیْرِ الْاِبِلِ وَمَشْیِ الْاَقْدَامِ

لاړ دتک وی دسړو وړځو یا بالاپه تک داوښانو اوپیاده تک اپه هغه تک سره چه هیانه وی

پوه شئ! چه قصدی وایه ولی چه بیله قصده د سفر چه نوله دینا وغواړی مسافر شرعی نه دی - اونفس قصد هم کافی نه دی بلکه عمل د سفر هم غواړی - نوکه قصد د سفر وکړی اوشروع په سفر کی نه وکړه مسافر نه دی - کوکب دری ص۳۷ -

مسئله! د سړی وړځی دوه ویل - اشاره وچ ته ده چه د شپو تک شرط نه دی - ولی چه شپه دپاره د استراحت ده - په هدایه کی د سړی وړځی د سړی شپی چه راغلی دی د هغه مطلب دادی چه سره د استراحاتو -

مسئله! په سفر کی دوړځی تر ماښامه تک شرط نه دی - بلکه په وړاځ کی وخت د لمانځه د استراحت دډوډی خوړلو خنی خارج دی -

حتی چه دفتاو اوو په کتابو کی وائی که څوک داوله څخه دوړځی په تک شروع وکړی تر ماښینه پوری نو یوه مزله ته وړسیږی - نو هلته د استراحت دپاره واړه وی او شپه تیره کړی او دوهمه وړځ د سړیمه وړاځ هم دغسی وکړی - هغه سړی شرعًا مسافر دی - کوکب دری - ص۳۷

مسئله! په هدایه کی وائی، وَلَا مُعْتَبَرَ بِالْفَرَاسِخِ هُوَ الصَّحِیْحُ، لکن اکثر مشائخ پرې دی چه اندازه د دغو سخو نه ده - بیا نو اختلاف دی څوک یو دریشت فرسخه وائی چه دا مذهب ضعیف دی - اوفتولی پر اتلس فرسخه ده - کفایه ج هدایه ص۱۴۸

مسئله! که یو چا د سړو وړځو مسافه په موټر کی په لس ساعته کی مثلًا یا په طیاره کی په دوه ساعته کی مثلًا قطع کړه هغه سړی هم مسافر دی - ولی چه په زمانه کی مجتهد نسته چه نوی اجتهاد وکړی - او پخوانی مجتهدینو هغه مذکوره اندازه کړی دی -

وَلَا یُعْتَبَرُ السَّیْرُ فِی الْمَاءِ

او اعتبار نسته ټک لړه داوبو -

یعنی تک د وچی پر تک داوبو نه قیاسیږی - بلکه هر تک پرخپله لاړ د سړی وړځی غواړی - مثلًا داوبو لاړ د دوو وړځو او د وچی لاړ د دری وړځو که - نو داسړی که د اوبو د لاړی تلی مسافر نه دی - اوکه د وچی لاړی تلی بیا مسافر دی - حاصل داچه پرهر لاړ سړی تلی دهغی لاړی مسافت ته اعتبار دی - ح ص۱۴۸ هدایه -

وَفَرْضُ الْمُسَافِرِ عِنْدَ نَافِیْ کُلِّ صَلٰوةٍ رُبَاعِیَّةٍ

او فرض لمونځ د مسافر په نزد د هر موږ څلور رکعتین دوه رکعته دی -

رَکْعَتَانِ وَلَا تَجُوْزُ لَهُ الزِّیَادَةُ عَلَیْهِمَا

او نه دی روا د پاره د ده د یا توب پر دوه رکعته -

او امام محمد بن ادریس الشافعیؒ وائی چه د مسافر لوخلور رکعته عزیمت دی او دوه رکعته ئی رخصت دی - نوکه مسافر څلور رکعته وکړی د موږ په نزد ګناه کار دی - او د امام شافعیؒ په نزد څلور رکعته سنه کار دی -

مسئله! د ماښام او سحار په لمانځه کی قصر نسته په اتفاق -

مسئله! په سفر کی که سړی په آرام وو د لمانځه د پاره واتب سنت دی نه پریښودی او که تلوار وو یا موتر څخه تلی یا رفقاء څخه خوابدی کیده نو سنت دی پریښودی - کذا فی روایة ابن عمرؓ فی البخاری والترمذی -

فَإِنْ صَلَّى أَرْبَعًا وَقَدْ قَعَدَ فِي الثَّانِيَةِ مِقْدَارَ التَّشَهُّدِ

نو که مسافر څلوره رکعته وکړه او په دوهمه رکعت کې یې قدر د التحیات کښینستلی وو۔

أَجْزَأَتْهُ الرَّكْعَتَانِ عَنْ فَرْضِهِ وَكَانَتِ الْأُخْرَيَانِ لَهُ نَافِلَةً

نو کافی سوه اول دوه رکعته ئې د فرض لپاره څخه اود وه اخیرې رکعته ئې نفل سوه کله۔

مسئله! داسې ګناه کار دی ولې چې د فرضو سلام ئې وخندوا وی۔

وَإِنْ لَمْ يَقْعُدْ فِي الثَّانِيَةِ مِقْدَارَ التَّشَهُّدِ بَطَلَتْ صَلٰوتُهُ

اوکه نه کښینستی په دوهمه رکعت کې یې قدر د التحیات لمونځ ئې باطل سو (ولې چې اخیره ناسته د فرضو پاتې سوکه)

وَمَنْ خَرَجَ مُسَافِرًا صَلَّى رَكْعَتَيْنِ إِذَا فَارَقَ بُيُوتَ الْمِصْرِ

اوکښوک وو اوقات په نیت د سفر نو لمونځ دی دوه رکعته کوی هغه وخت چې ترکورونو د بنار پیتې سو

اوکه د قریې څخه مسافر سو بیا چې د قریې ترکورونو پیتې سی مسافر دی۔

وَلَا يَزَالُ عَلٰى حُكْمِ السَّفَرِ حَتّٰى يَنْوِيَ الْإِقَامَةَ فِي بَلْدَةٍ

اوهمیشه دی پر حکم د سفر دی تر هغو چې نیت د اقامت او پاتې کیدو کوی په یوه بنار یا کلی کې پنځلس

خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا فَصَاعِدًا فَيَلْزَمُهُ الْإِتْمَامُ

ورځې یا پاتې پنځلس ورځې۔ نو پس له نیته پرې دا په پوره کولو دلمانځه لازم دی۔ دا زمونږ

مذهب دی اودا پنځلس ورځې اقامت د عبدالله بن عباس رض او عبدالله بن عمر رض څخه روایت دی۔

مسئله! د عسکر و نیت نه اعتبار نسته بلکه د امیر و نیت نه ئې اعتبار دی۔ د غه

رنګه د بنځې نیت د اقامت نه اعتبار نسته د میړه نیت ئې معتبر دی۔ وهکذا مزدور او اډاړ۔

فَإِنْ نَوَى الْإِقَامَةَ أَقَلَّ مِنْ ذٰلِكَ لَمْ يُتِمَّ

پس که نیت وکړی دا و سیده وکم پر پنځلس ورځې لمونځ به پوره نکوی (یعنی دی مسافر دی)

وَمَنْ دَخَلَ بَلْدًا أَوْ لَمْ يَنْوِ أَنْ يُقِيمَ فِيهِ خَمْسَةَ عَشَرَ

او که څوک مسافر یو بنار ته ورغلی او نیت ئې نه و چې زه به پنځلس ورځې دلته اوسیږم۔

يَوْمًا وَإِنَّمَا يَقُولُ غَدًا أَخْرُجُ أَوْ بَعْدَ غَدٍ أَخْرُجُ

بلکه داسې ئې ویل چې زه سبا وزم دې خایه څخه یا بل سبا وزم

حَتّٰى بَقِيَ عَلٰى ذٰلِكَ سِنِينَ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ

تر هغو چې باقی پاتې وو پر دغه قصد باندې کلونه نو لمونځ دی کوی دوه رکعته۔

بیهقی روایت کړی دی په صحیح سند سره چې عبدالله بن عمر رض په آذربیجان کې

شپږ میاشتې تیرې کړې او لمونځ ئې دوه رکعته کول۔ او انس رض هم په نیشاپور کې شپږ

میاشتې تیرې اوقصر ئې کاوه۔

مسئله! هغه موتروانان چې یو بنار ته ئې بار وړی وی۔ او دهغه ځای په

بار پسې کړی چې من به بار پیدا سی نو به حکم د دې بنار کې صبا به پیدا سی په دغه

کې میاشتې پرتیرې سوې لمونځ به سفر یانه کوی یعنی دوه رکعته۔

مسئله! هغه موټر چلونکی چې تر یوه بنار کې تربل بنار کې بسان سی ویسان

چلوی هغه چې خپل بنار ته راغی مقیم دی۔ او چې د بنار کې وونږی مسافر

دی لمونځ به پوره نه کوی۔

وَإِذَا دَخَلَ الْعَسْكَرُ أَرْضَ الْحَرْبِ فَنَوَوُا الْإِقَامَةَ

اوکه داخل سوه عسکر د اسلام وحکمی ته د حرب (د کفارو وطن ته) او نیت د اقامت ئې

خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا لَمْ يُتِمُّوا الصَّلٰوةَ

پنځلس ورځې وکړی (ولې چې دوی د وطن د کفارو نه وی فتحه کړی په مابین کې قرار و قرارګی) نو لمونځ دی نه پوره کوی

د تعجب فتوی

چې څه وخت د روسانو پرافغانستان یرغل وکړی نو د افغانستان مسلمانان و هیرت ته مجبور

سوه عوام هم ملایان هم ـ څوک پاکستان ته مهاجر سوه او څوک ایران ته۔ او بعضی نور د مملکتونو

اوخوک په خیمو کی اوخوک په بناړو کی اوخوک په قریو اوکلوکی او سیدل۔

چو تکه د افغانستان علماء عموماً برجسته اومدرس علماء وه نو په بناړ اوبانډو کی
د پاکستان د مساجدو د دوی ته ښې ښې ملایانکانی پیدا سوې۔ نو بعضی پاکستانی
ملایانو فتوی صادره کړه چه په مهاجر ملا پسی د پاکستانی لمونځ نه دی صحیح۔ ولی چه
په ملانی کی لمونځ پوره کوی اودوی مسافر دی اونیت د اقامت نی نه دی صحیح کړی هم په کلو
کی د پاکستان وی۔ ولی چه کوی نن وطن آزاد سی پاکستان به په ډیره ډوډه وطنه ځځه دوی وشړی۔

ډزې ملایانو صاحبانو اجواب دی! چه پاکستان خو الحمدلله دار اسلام دی۔
په هیڅ توګه مهاجر چه خیانت ونه کړي د وطنه نه شړی۔ او پاکستان په څوځله د ډیو دلاسی دا
اعلان کړی دی چه افغانی مهاجرین په خپله مرضی افغانستان ته تلای سی جبراً ونه ویستل
کړ دغه ملایان وائی چه مهاجرین په خپله دا نیت لری چه نن به ځم صبا بخم۔ نو جواب دا دی
چه داسی نا پوه مهاجر به څوک وی چه دی به داخیال کوی چه روان عونډی لوی قدرت به
په پښتنو او رحمی کی شکست خوړی او افغانستان به په پښتنو او رحمی کی دار الامان جوړ ین ی
بلکه دا صحیح ده چه ستاسو پر افغانستانی ملایانو د پاکستان ملایانکانی یا مدرسې
نه دی پیدا کیږی۔ نو ډیر ډیر ښه وجه نه کی پیدا کیږی۔ نو ډیر ډیر حق خدای جل جلاله دی۔

وَإِذَا دَخَلَ الْمُسَافِرُ فِي صَلٰوةِ الْمُقِيْمِ مَعَ بَقَاءِ الْوَقْتِ أَتَمَّ الصَّلٰوةَ

اوکه چیرې داخل سو مسافر په لمانځه کی د مقیم یعنی اقتداء پسی وکړه او وخت باقی و و نو لمونځ دی پوره
خواه اول د لمانځه کی نیولی وی یا اخیر د لمانځه۔ ولی چه دغه مسافر په سبب د اقتداء په مقیم
پسی پر ځان متابعت د امام لازم وکړ ځکه نو په سبب د متابعت فرض د مسافر څلور رکعته
کړی نکه په نیت د اقامت چه کړی۔

وَإِنْ دَخَلَ مَعَهُ فِي فَائِتَةٍ لَمْ تَجُزْ صَلٰوتُهُ خَلْفَهُ

اوکه داخل سو مسافر سړی د مقیم په قضا فی لمانځه کی نو نه ده سره اقتداء یعنی لمونځ د مسافر وه سته
تر مقیم۔ ولی چه د مسافر قضا فی لمونځ په متابعت د امام څلور رکعته نه کړی۔

وَإِذَا صَلَّى الْمُسَافِرُ بِالْمُقِيْمِيْنَ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ

اوکه چیرې لمونځ کړاوی مسافر په مقیمینو سره امام مسافر وو۔ مقتدیان مقیمین وه) نو امام دی خپل

ثُمَّ سَلَّمَ وَأَتَمَّ الْمُقِيْمُوْنَ صَلٰوتَهُمْ

دوه رکعته لمونځ وکړي او سلام دی وکړخوی۔ او مقیم خلک دی خپل لمونځ پوره کړي (څلور رکعته دی وکړي)

مسئله! مقیم خلک به په خپلو دوه رکعتو کی هیڅ قرائت نه وائی۔ ولی چه دوی حکماً
خلف الامام دی۔ بلکه په قعده الحمدلله شریفی دی ساکت و دریږی۔ اوکه تسبیح وائی هم روا ده۔

وَيُسْتَحَبُّ لَهُ أَنْ يَقُوْلَ لَهُمْ إِذَا سَلَّمَ أَتِمُّوْا صَلٰوتَكُمْ فَإِنَّا قَوْمٌ سُفْرٌ

او ښه کار دی چه مسافر امام و وائی مقتدیانو ته چه سلام نی وکړ ځکه چه پوره کړي خپل لمونځ ولی چه موږ قوم مسافر یو

مسئله! داسی ویناد ی هغه وخت کوی چه مسافر او مقیم خلک کډ پسی ولاړ وی
اوکه یوازی مسافر وه۔ نو داسی دی وائی چه نه مسافر یم۔ په ابوداؤد او ترمذی کی
راغلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم چه مکې شریفې ته مسافر راغلی وو او
مکې والاؤ ته لمونځ ورکړی نو داعنسی بزغ فی وکړی پس له سلامه۔ دا دې بزغ فائده
داده چه مقیم خلک پوره سی چه په پاته رکعتو کی قرائت ونه وائی۔ اوکه مقتدیان
محصور کسان وه نو ښه داده چه دغه ترلما نځه دی دا بزغ وکړي۔

وَإِذَا دَخَلَ الْمُسَافِرُ فِي مِصْرِهِ أَتَمَّ الصَّلٰوةَ وَإِنْ لَمْ يَنْوِ الْإِقَامَةَ فِيْهِ

اوکه چیرې داخل سو مسافر خپل ښار یعنی وطن ته پوره نه به کوی لمونځ کی څلورم نیت د اقامت د پنځلسو
ورځو نه وی کړي په دغه خپل وطن کی ولی چه خپل وطن د اقامت د پاره متعین دی نو نیت د اقامت ته حاجت نشته۔

وَمَنْ كَانَ لَهُ وَطَنٌ فَانْتَقَلَ عَنْهُ وَاسْتَوْطَنَ غَيْرَهُ

اوکه چا لره وو یو وطن او دهغه وطن څخه باندې سوا او وطن نی وکړ ځا وه بل ځای

ثُمَّ سَافَرَ فَدَخَلَ وَطَنَهُ الْأَوَّلَ لَمْ يُتِمَّ الصَّلٰوةَ

او بیا مسافر سو او خپل وطن ته ورغلی لمونځ به پوره نه کوی۔

پوښتنه! چه وطن درې قسمه دی۔ وطن اصلی هغه وطن دی چه سړی کوره او
ماینه وغیره پکښی وی۔ نو داوطن نه باطلیږی مګر په مثل دهغه۔ یعنی چه کوره او کوچنیان
بل وطن ته یوسی۔ نو اول وطن نی باطل سو۔ که دی یوازی بیا وښی مسافر دی۔

اوبل وطن د اقامت دی۔ د اهغه وطن دی چه سړی د پنځلسو ورځو د اقامت نیت پکښې کړی وی۔ نو د اوطن باطلیږی چه د څو ورځو د سفر په نیت خپل وطن اصلی ته ولاړ سی یا بل ځای د اقامت نیت وکړی۔ اوبل وطن د سکنی دی۔ د اهغه دی چه تر پنځلسو کم د اقامت نیت د اوسیدو پکښې وکړی۔ د اتر تو لو ضعیف وطن دی په هر شی باطلیږی۔

مسئله! که د چا کره او کوچنیان وطاینه په پاکستان کی وی مثلاً اوباغ وځمکه ئی په افغانستان کی وی او دی به کاهی کاهی افغانستان ته تلی د باغ وځمکی د کار د پاره نو تر هغو چه نیت د پنځلسو ورځو په افغانستان کی ونه کړی مسافر دی لمونځ به پوره که نه کوی۔

مسئله! که د چا د وړی کړی وی یوه په پاکستان کی اویوه په قندهار کی وی۔ هر ځای چه وړمی بیله نیته مقیم دی۔

وَإِذَا نَوَى الْمُسَافِرُ أَنْ يُقِيمَ بِمَكَّةَ وَمِنًى خَمْسَةَ

او که نیت وکړی مسافر حاجی چه پنځلس ورځی به په مکه شریفه کی او په منی کی

عَشَرَ يَوْمًا لَمْ يُتِمَّ الصَّلٰوةَ

تیرو م نو د اجاجی به لمونځ پوره نه کوی۔ اولی دوه ځایه چه فاصله سی کالی نیت د اقامت نه دی صحیح

پوره سلمه! اچه حاجی چه مکې شریفې ته ورغلی او یا ورې په مکه شریفه کی د پنځلسو ورځو د اوسیدو وخت نه وو نو دی مسافر دی نیت د اقامت نې نشته۔

وَالْجَمْعُ بَيْنَ الصَّلٰوتَيْنِ لِلْمُسَافِرِ يَجُوزُ فِعْلًا وَلَا يَجُوزُ وَقْتًا

او جمع کول دوو لمونځو روا دی د فعل دلاړی او نه روا د وقت دلاړی۔

او دا هم ړ موږ مذهب دی یعنی مسافر ته روا دی جمع کول دوو لمونځو په داسی شان چه اول لمونځ نکه د ماپښین لمونځ او اخیر ته د وخت وځنډوی او دوهم لمونځ نکه د ماښام لمونځ په اول کی د وخت وکړی۔ فائده ئی دا ده که چیرته دوه واړه به د سفر که نه وځی او د غسی ماښام او ماخستن هم۔ وی نو جمع صوري وای۔

ړ موږ په مذهب کی جمع حقیقی یعنی جمع وقتی د دوه ځایه ړ روا نه ده۔ نکه په عرفات کی د ماپښین او ماښام د یکر چه د ماښام لمونځ د ماپښین په وخت کی کیږی۔ او په مزدلفه کی چه د ماښام لمونځ د ماخستن په وخت کی اداء کیږی۔ یوه جمع تقدیم بولی۔ چه

د ماښام د یکر لمونځ تر وخت د ماخه سو۔ او هغه بله جمع تاخیر بولی۔ او هر ځای چه په حدیثو کی جمع د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ړ روایت سوی دی د هغه څخه جمع صوري مراد ده۔ او په نورو مذهبو کی جمع حقیقی په سبب د هر عذر روا ده۔ لکه سفر۔ باران۔ ناجوړی۔

وَتَجُوزُ الصَّلٰوةُ فِي سَفِينَةٍ قَاعِدًا عَلٰى كُلِّ حَالٍ عِنْدَ

او روا دی لمونځ په کښتی کی په ناستی سره په هر حال کی په نزد د ابی حنیفه ړ

أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ وَعِنْدَهُمَا لَا تَجُوزُ إِلَّا بِعُذْرٍ

او په نزد د یارانو ړ نه دی روا په ناستی مګر د عذر له سببه (یعنی که عذر نه وی په ولاړ به لمونځ کوی)

وَمَنْ فَاتَتْهُ صَلٰوةٌ فِي السَّفَرِ قَضَاهَا فِي الْحَضَرِ رَكْعَتَيْنِ

او که چا څخه قضا سو لمونځ په سفر کی نو په کور کی دی دوه رکعته قضا اوړی۔

وَمَنْ فَاتَتْهُ صَلٰوةٌ فِي الْحَضَرِ قَضَاهَا فِي السَّفَرِ أَرْبَعًا

او که چا څخه قضا سی لمونځ په کور کی نو قضا دې ړ اوړی په سفر کی څلور رکعته۔

حاصل دا چه لمونځ پس له قضا ئیدو څخه په سفر او اقامت نه بدلیږی۔

وَالْمُطِيعُ وَالْعَاصِي فِي السَّفَرِ وَالرُّخْصَةِ سَوَاءٌ

او فرمان وړ وونکی لکه چرته چه سفر کوی او نافرمان لکه په غلا پسی چه ځی۔ په سفر او رخصت کی سره برابر دی

یعنی دواړه ته قصر دلما څخه ړ روشه خوړک ړ روا دی۔ ولی چه په آیة مبارک کی د سفر ذکر خو لهو په باب کی د اسی ړ اغلی دی۔ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ عَلٰى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ ترجمه! که څوک ړ ستاسی څخه مریض اویا پر سفر اوړوشې نې وخوړلی نو په هغه حساب دی په نورو ورځو کی ړ روشې وینسی۔

په دې آیة مبارک کی د مطیع او عاصی فرق نه دی ړ اغلی۔ او په حدیث شریف کی د اسی ړ اغلی دی "صلوة المسافر رکعتان" په حدیث کی هم د مطیع او د عاصی فرق نه دی سوی۔ او امام شافعی وای چه عاصی ته رخصت نسته۔

بَابُ صَلٰوةِ الْجُمُعَةِ

باب دئ په بیان کی د جمعې د لمانځه

یوه مسئله! چه د جمعې لمونځ فرض محکم دی په آیت، حدیث او اجماع او منکر فی اتفاقا کافر دی

لَا تَصِحُّ الْجُمُعَةُ اِلَّا فِیْ مِصْرٍ جَامِعٍ اَوْ فِیْ مُصَلَّی الْمِصْرِ

نه صحیح کیږی د جمعې لمونځ مګر په جامع ښار کی او یا په عید ګاه کی د ښار۔

مسئله! عید ګاه خاصه نږدې بلکه په ټولو اطرافو کی د ښار د جمعې لمونځ روا دی۔

مسئله! اطراف د ښار څوک وائی هغه دی چه یو میل د ښار نه څخه لیری وی او څوک وائی چه دوه میله او څوک وائی چه دوه فرسخه لیری وی۔ او څوک وائی چه د مؤذن اذان وړ رسیږی۔ او څوک وائی هغه ځای هم په طرف کی داخل دی چه سحار د کورنۍ سړی پیاده راوړی او د جمعې لمونځ په ښار کی وکړی دا مابنام د خپل کور ته ورسیږی۔

مسئله! په یوه ښار کی څو ځایه د جمعې لمونځ پر مذهب د امام اعظم او د امام محمد روا دی۔ وَهُوَ الصَّحِیْحُ وَعَلَیْهِ الْفَتْوٰی۔

فائده! د مصر په تعریف کی اختلاف دی۔ څوک وائی هغه دی چه هغه لوی امیر وقاضی وی او چلول د احکامو د شرعی شریفی او حدود و کولای سی۔ او د هم مذهب د امام ابو یوسف دی او مختار د کرخی هم دی۔ او د هم ظاهر المذهب دی۔ او د امام ابو یوسف څخه بل روایت دی چه مصر جامع هغه ځای دی چه د ځای مکلف خلک سره راټول سی نو هغه ځای په لوی مسجد کی نه ځایږی۔ او د هم مختار د امام بلخی دی۔

د خپل ځان حال

زه عبید الله د وولس کاله په سنځری کی مدرس وم چه هلته د جمعې لمونځ د قدیم څخه کیدی او سنځری پر ظاهر مذهب مصر نه وه بلکه پر دوهم روایت مصر وه۔ او بیا وروسته تر سنځری په خوشاب کی چه هلته هم جامع مسجدونه د جمعې لمونځ پکښې کیدی او خوشاب هم پر دوهم روایت مصر وه۔ نو څکه زه ما شخصی

فتوی دا ده چه په دغسی ځایونو کی د جمعې لمونځ روا دی او دیر وکتابونو د فقهی شریفی په دغه روایت فتوی ورکړې ده۔

وَلَا تَجُوْزُ فِی الْقُرٰی وَلَا تَجُوْزُ اِقَامَتُهَا اِلَّا

اونه دی روا د جمعې لمونځ په قریه کی (د قریې تعریف د مصر څخه معلوم کړئ) نه دی روا د جمعې د لمانځه امامت مګر

لِسُلْطَانٍ اَوْ لِمَنْ اَمَرَهُ السُّلْطَانُ

بادشاه ته۔ یا د هغه چا ته چه بادشاه ئی امر کړی (ولی چه په دې کی د فتنې په مابین د خلکو د روا نه بندیږی)

یوه مسئله! چه شرطونه د فرض والی د لمانځه د جمعې دوولس دی۔

(۱) حُرّیة دی۔ پر مړی فرض نه دی۔

(۲) الذکورة دی۔ پرښځه باندی د جمعې لمونځ فرض نه دی۔

(۳) الاقامة دی۔ پر مسافر باندی د جمعې لمونځ فرض نه دی۔

(۴) الصحة دی۔ پر مریض باندی د جمعې لمونځ فرض نه دی۔

(۵) سلامة الرجلین دی۔ پر کوډ باندی فرض نه دی۔

(۶) سلامة العینین دی۔ پر رانده باندی فرض نه دی۔

(۷) المصر دی۔ په قریو کی فرض نه دی۔

(۸) السلطان دی۔ بیله بادشاه یا د نائب د بادشاه د جمعې لمونځ فرض نه دی۔

(۹) الجماعة دی۔ چه جماعت نه وی د جمعې لمونځ فرض نه دی۔

(۱۰) الخطبه ده۔ بیله خطبې د جمعې لمونځ فرض نه دی۔

(۱۱) الوقت دی۔ بیله ماپښین له وخته د جمعې لمونځ فرض نه دی۔

(۱۲) الاذن العام مِنَ الْاِمَام۔ چه عامه اجازه د باچا نه وی د جمعې لمونځ فرض نه دی۔

فائده! د غه مذکوره شرطونه یعنی د صحت او د وجوب دواړه وی۔ او بعضی یوازی د فرضیت دی۔ فکر وکړئ۔ د دې شرطو بیان په قدوری کی راوړان دی۔

وَمِنْ شَرَائِطِهَا الْوَقْتُ فَتَصِحُّ فِیْ وَقْتِ الظُّهْرِ

او بعضی د شرائطو څخه د جمعې د لمانځه وخت دی۔ نو د ماپښین په وخت کی روا دی

وَلَا تَصِحُّ بَعْدَهُ وَمِنْ شَرَائِطِهَا الْخُطْبَةُ قَبْلَ الصَّلٰوةِ

اوند دی سره وی وسته ترمانښین ـ اوبعضی د شرطونځه د جمعې دلمانځه خطبه ده د هغه ترلمانځه ـ ای

يَخْطُبُ الْاِمَامُ خُطْبَتَيْنِ يَفْصِلُ بَيْنَهُمَا بِقَعْدَةٍ

خطبه به وائی امام دلمانځه دوې خطبې اوجلاوالی به کوی په مابین کی د دغو دو وخطبو په ناسته سره اهم په دې

وَيَخْطُبُ قَائِمًا عَلَى الطَّهَارَةِ

سره اجماع دامت د اغلې ده اوخطبه به وائی په ولاړه په پاک بدن سره ـ

روایت دی چه جابر ابن مسعود رضی الله عنه د خطبې دولاړې په باره کی پوښتنه وکړه هغه وفرمایل

تا د آیه مبارکه نه دی اوریدلی ـ وَتَرَكُوكَ قَائِمًا ـ یعنی تا پریښی دی په ولاړې په خطبه کی اودوی ولاړ سی ـ

وَاِنِ اقْتَصَرَ عَلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ تَعَالٰى جَازَ عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ

او که چیرې بس والی وکړی خطیب په خطبه کی په ذکر د خدای تعالی (مثلاً د وائی سبحان الله

الحمد لله لا اله الا الله) سره وادی په نزد د امام اعظم ـ

مسئله: د اهله چه په نیت د خطبې د وائی نه په نیت د ذکر ولی چه خدای پاک

د جمعې د خطبې په باره کی فرمائی "فَاسْعَوْا اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ" په دې آیه کی مطلق ذکر

سره اغلی دی که اوبنه دوی که لنډ وی ـ

وَقَالَا لَا بُدَّ مِنْ ذِكْرٍ طَوِيْلٍ يُسَمّٰى خُطْبَةً

اویاران وائی چه په خطبه کی چاره نسته د اوبنه ذکر څخه چه خطبه مسمّی کیږی ـ

کویا بناء د مذهب دیاران وائی پر عرف ده په عرف کی فقط سبحان الله الحمد لله خطبه نه بولی ـ

فَاِنْ خَطَبَ قَاعِدًا اَوْ عَلٰى غَيْرِ طَهَارَةٍ جَازَ وَيُكْرَهُ

پس که خطبه وویل په ناستی یا بې اوداسه سره وادی لکن مکروه ده ـ

سره په دی ده چه مقصود حاصل سو ـ اومکروه که په دې ده چه د سنت نبوی

څخه خلاف وکړی ـ

وَمِنْ شَرَائِطِهَا الْجَمَاعَةُ وَاَقَلُّهُمْ عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ

اوبلد شرطونځه د جمعې دلمانځه جماعت دی اوکمه مرتبه د جماعت په نزد د امام اعظم صاحب

ثَلٰثَةٌ سِوَى الْاِمَامِ وَقَالَا اِثْنَانِ سِوَى الْاِمَامِ

د رې کسه دی ماسوی د امام څخه ـ اویاران وائی چه دوه کسه دې ماسوی د امام څخه ـ

وَيَجْهَرُ الْاِمَامُ بِقِرَائَتِهٖ فِي الرَّكْعَتَيْنِ وَلَيْسَ فِيْهِمَا

اوجهر دی کوی امام په قرائت خپل په دواړو رکعتونکی ـ اوښته په رکعتونکی د جمعې

قِرَائَةُ سُوْرَةٍ بِعَيْنِهَا وَلَا تَجِبُ الْجُمُعَةُ عَلٰى مُسَافِرٍ

ویل دیوه معینه سورت ـ اونه دی واجب د جمعې لمونځ پر مسافر باندی

وَلَا امْرَاَةٍ وَلَا مَرِيْضٍ وَلَا صَبِيٍّ وَلَا عَبْدٍ وَلَا اَعْمٰى

اونه پرښځه او نه پر ناجوړه او نه پر کوچنی اونه پر مریض او نه پر اندې باندی ـ

فَاِنْ حَضَرُوْا وَصَلَّوْا مَعَ النَّاسِ اَجْزَاَهُمْ عَنْ فَرْضِ الْوَقْتِ

او که دوی حاضر سوه او د جمعې لمونځ ئی وکړی سره د خلکو بس ئی دی د فرض الوقت څخه ـ یعنی د

وَيَجُوْزُ لِلْعَبْدِ وَالْمُسَافِرِ وَالْمَرِيْضِ اَنْ يَّؤُمُّوْا فِي الْجُمُعَةِ

ماپښین دلمانځه څخه ـ اوسره وادی مریض لره اومسافر لره اومریض لره چه امامت وکړی د جمعې په لمانځه کی

ولی چه دوی حاضر سوه د جمعې لمونځ پر دوی فرض دی ـ

وَمَنْ صَلَّى الظُّهْرَ فِيْ مَنْزِلِهٖ يَوْمَ الْجُمُعَةِ قَبْلَ صَلٰوةِ الْاِمَامِ

او که چا وکړی د ماپښین لمونځ په کور خپل کی د مخه ترلمانځه د امام

وَلَا عُذْرَ لَهُ كُرِهَ لَهُ ذَالِكَ وَجَازَتْ صَلٰوتُهُ

اوعذر ئی نه دے لودی۔ مکروه دی ده لره دا کار مکر لمونځ ئی روا دی۔

فَإِنْ بَدَا لَهُ أَنْ يَحْضُرَ الْجُمُعَةَ فَتَوَجَّهَ إِلَيْهَا وَالْإِمَامُ

اوکه پس له دی چه لمونځ ئی کوه وکړي فکر ئی واسوچه د جمعې لمانځه ته ولاړ سی۔ نو ئی مخ

فِيهَا بَطَلَتْ صَلٰوةُ الظُّهْرِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ

وکی خاوی (روان سو) د جمعې لمانځه ته په داسی حال کی چه امام د جمعې په لمانځه کی وو نو دهاپسنیان

بِالسَّعْيِ إِلَيْهَا

لمونځ باطل سو په نزد د امام اعظم صرف په دې کار سره چه روان سو د جمعې لمانځه ته۔

یعنی که دی وړ تلی د جمعې لمونځ تیر سوی وو دهاپسنیان لمونځ به پیرته پرا وکی خوی۔

وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ لَا تَبْطُلُ حَتّٰى يَدْخُلَ مَعَ الْإِمَامِ

اویاران "وائی چه دهاپسنیان لمونځ ئی نه باطلیږی تر څوچه د امام سره داخلیږی په لمانځه کی

وَيُكْرَهُ أَنْ يُصَلِّيَ الْمَعْذُورُونَ الظُّهْرَ بِجَمَاعَةٍ يَوْمَ الْجُمُعَةِ

او مکروه دی داچه وکړای معذورو کسان دهاپسنیان لمونځ په جماعت سره د جمعې

فِي الْمِصْرِ وَكَذَالِكَ أَهْلُ السِّجْنِ وَمَنْ أَدْرَكَ الْإِمَامَ

په ورځ په ښار کی۔ او غه رنګه مکروه دی اهل د بندی خانی۔ اوکه چا پیدا کړی امام

يَوْمَ الْجُمُعَةِ صَلّٰى مَعَهُ مَا أَدْرَكَ وَبَنٰى عَلَيْهِ الْجُمُعَةَ

په ورځ د جمعې (یعنی لمانځه ته وی او سیدلی) دا سې دی وکړي د امام سره هغه قدر چه ده

د امام سره پیدا کړی۔ او د جمعې د لمانځه بناء دی پر وکړي۔

مثلاً کیو رکعت خفتن تیر سوی وو دهغه رکعت دی قضا راوړی۔

وَإِنْ أَدْرَكَهُ فِي التَّشَهُّدِ أَوْ سُجُودِ السَّهْوِ بَنٰى عَلَيْهِ

اوکه ورسیدلی وامام ته په حال کی د التحیات اویاد سجود سهوی نو بنی د جمعې دی پر

الْجُمُعَةَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ

وکړي په نزد د امام اعظم او امام ابویوسف رحمهما الله تعالی

وَقَالَ مُحَمَّدٌ إِنْ أَدْرَكَ مَعَهُ أَكْثَرَ الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ

او ویلی دی امام محمد "که دې سړی وینوی د امام سره اکثره حصه د دوهم رکعت بناء د

بَنٰى عَلَيْهِ الْجُمُعَةَ وَإِنْ أَدْرَكَ مَعَهُ أَقَلَّهَا بَنٰى عَلَيْهَا الظُّهْرَ

جمعې دی پر وکړي او کې کمه حصه د دوهم رکعت وینول بناء دهاپسنیان دی پر وکړي (یعنی څلور رکعته دی وکړي)

فائده: امراد د اکثره څخه د دوهم رکعت دادی چه یا د رکوع ورځه سینه دی یا په

رکوع کی۔ او اقل ئی دادی چه امام په سجده کی وی۔ فتوی د مذهب د شیخینو معمول دی۔

وَإِذَا خَرَجَ الْإِمَامُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ تَرَكَ النَّاسُ الصَّلٰوةَ وَالْكَلَامَ

اوچه کله راوړی امام د جمعې ورځه د جمعې پری دی خلک لمونځ او خبری۔

که د جمعې ورځه په نیت د خطبې او یاد محراب ورځه راولاړ سو هم په نیت د خطبې لکه

زمونږ په پښتنو کی چه امام تر خطبې مخکی په محراب کی سنت کوی۔

مسئله: امراد د صلوة څخه نفل دی او قضا ئی لمونځ روا دی۔ کوکب دری صـ

حَتّٰى يَفْرُغَ مِنْ خُطْبَتِهِ وَقَالَا لَا بَأْسَ بِأَنْ يَتَكَلَّمَ

تر هغوچه د خطبې څخه فارغه کیږی۔ او یاران وائی چه خبری پرواه نه لری۔

مَا لَمْ يَبْدَأِ الْخُطْبَةِ

تر څوچه امام په خطبه شروع نه وی کړی۔ که څه هم د جمعې ورځه راوتلی وی۔

مسئله: د امام اعظم په نزد په دغه وخت کی قرائت د قرآن او د سلام اچول یا سلام

بیا کول هم مکروه دی - او دغه رنګه مکروه دی اجابت د مؤذن - او دغه رنګه مکروه
دی سنت کول یا تحیة المسجد - او په نزد د امام شافعیؒ سنت قبلی یا تحیة المسجد یا ږد
د سلام ږوادی مکروه نه دی - د عبدالله بن عمرؓ څخه ږوایت دی - چه یو سړی و ویل
ته و ویل د خطبې په وخت کی چه کله قافله وښی - هغه ویل سړی وه ته و ویل بنغ مه لره
چپ سه - څه وخت چه لمونځ خلاص سو نو ابن عمرؓ وهغه د وهم سړی ته و ویل
چه ستا د جمعې د لمانځه ثواب نسته - او وې ویل چه لمونځ خلاص سو چه ستا ملګری
یعنی اول سړی خو حرد دی -

فائده: څه وخت چه امام په مابین کی د دو خطبو کښینی د اوخت د اجابت دی
هر سړی دی یوه مختصره دعا کوی -

وَإِذَا أَذَّنَ الْمُؤَذِّنُونَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ الْأَذَانِ الْأَوَّلَ تَرَكَ

او څه وخت چه اذان وکړی مؤذنان یوه ږه د جمعې اول اذان (چه پر منبر یا په لاوډ سپیکر کی کیږی)

النَّاسُ الْبَيْعَ وَالشِّرَاءَ وَتَوَجَّهُوا إِلَى الْجُمُعَةِ

نو پرې ږدی خلک بیع وشراء او ږاځی دی سی د جمعې لمانځه ته لقوله تعالی فاسعوا الی ذکر الله و ذروا البیع

مسئله: په دغه وخت کی هر کار چه د لمانځه څخه سړی مشغوله کوی حرام دی یعنی لکه خوړ ک خښ وغیره

فَإِذَا صَعِدَ الْإِمَامُ الْمِنْبَرَ جَلَسَ وَأَذَّنَ الْمُؤَذِّنُ بَيْنَ

پس څه وخت چه خطیب امام منبر ته کښینی به - او اذان دی وکړی مؤذن په نزد د منبر

يَدَيِ الْمِنْبَرِ ثُمَّ يَخْطُبُ الْإِمَامُ فَإِذَا فَرَغَ مِنْ خُطْبَتِهِ

د امام مخامخ ته - او بیا دی امام خطبه و وائی - څه وخت چه د خطبې څخه امام

أَقَامُوا الصَّلٰوةَ

فارغ سی نو دی اوخلک دی پرې لمانځه ودږیږی

اللهم اغفر لکاتبه ولمؤلفه ولوالدیهما ولاساتذهما ولتلامذهما ولجمیع المؤمنین -

بَابُ صَلٰوةِ الْعِيدَيْنِ

باب دی په بیان د دواړو اختر و د لمانځه کی

مسئله: د دواړو اختر و لمونځ واجب دی - وهو الاصح -

يُسْتَحَبُّ يَوْمَ الْفِطْرِ أَنْ يَطْعَمَ الْإِنْسَانُ شَيْئًا قَبْلَ الْخُرُوجِ

مستحب ده په ورځ د کوچنی اختر چه خوړی به انسان یوشی د څه ترو تلو

مسئله: آنحضرت صلی الله علیه وسلم به تاک دانې خرما وی خوړلې -

إِلَى الْمُصَلّٰى وَيَغْتَسِلُ وَيَتَطَيَّبُ وَيَلْبَسُ أَحْسَنَ ثِيَابِهِ

وعید کاه ته - او غسل به کوی او خوشبوئی به لګوی او اغوندی به بنه کالی چیل کنوی وی او که

وَيَخْرُجُ صَدَقَةَ الْفِطْرِ ثُمَّ يَتَوَجَّهُ إِلَى الْمُصَلّٰى وَلَا

پریږدی وی - او ودی باسی سر سایه - بیا دی ږوان سی وعید کاه ته - او نه دی وائی

يُكَبِّرُ فِي طَرِيقِ الْمُصَلّٰى عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَيُكَبِّرُ عِنْدَهُمَا

تکبیر په لار کی د عید کاه او دا هم په نزد د امام اعظم - او یارانو وائی چه الله اکبر دی پرلاړی

وَلَا يَتَنَفَّلُ فِي الْمُصَلّٰى قَبْلَ صَلٰوةِ الْعِيدِ فَإِذَا حَلَّتِ

وائی - او نفل دی نه کوی په عید کاه کی د څه ترلمانځه د اختر - پس څه وخت چه لمونځ ږواسو

الصَّلٰوةُ بِارْتِفَاعِ الشَّمْسِ دَخَلَ وَقْتُهَا إِلَى الزَّوَالِ

په ږاپورته کیدو د لمر (دوې نیزې قدره) داخل سو وخت د اختر د لمانځه تر ږوالې پورې د لمر

مسئله: نفل دی د څه تر عید کاه په کور کی هم نه کوی - کوکب دری -

او ږوسته تر لمانځه د عید کاه په عید کاه کی مکروه او په کور کی پروا نه لری -

فَإِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ خَرَجَ وَقْتُهَا

پس کله چه لمر زوال وکړی نو خارج سو وخت د لمانځه

وَيُصَلِّي الْإِمَامُ بِالنَّاسِ رَكْعَتَيْنِ

اولمونځ دی وکړی امام په خلکو سره دوه رکعته په نیت د واجبو

مسئله! د اختر په لمانځه کې نه اذان ستا او نه اقامت - په حدیث شریف کې هم دغسې راغلی دی - او پر دغه اتفاق د امت هم دی -

وَيُكَبِّرُ فِي الْأُولَى تَكْبِيرَةَ الْإِحْرَامِ وَثَلَاثًا بَعْدَهَا

او تکبیر دی وواځي په اول رکعت کې یو د تحریمې تکبیر (الله په نوره ولمونځونو کې) او درې تکبیره نور وروستو

مسئله! اول چه نیت ئې وکړي اول تکبیر به وواځي - او بیا به سبحانك اللهم تر پایه پورې وواځي - او بیا به لاس ترغوږونو پورې یوسي او الله اکبر دی وواځي - او بیا به لاسونه دځانه سره ایله ولیږي - او په قدره دره تسبیحو به ساکت اوسي - او بیا به لاس ترغوږونو پورې یوسي بل الله اکبر به وواځي - او دغه شان به لاس ایله ولیږي - پر دریم تکبیر دی لاس تر نامه لاندې ولیږي او الحمد لله شریفه دی شروع کړي -

پوښتنه! چه د اکیفیت منقول دی د عبدالله بن مسعود رض او د حذیفه رض او د ابوموسی اشعري رض څخه او نور صحابه کرامو رض - او همدغه روایت معتبر دی په نزد د احنافو - او نور کیفیات هم راغلی دی -

ثُمَّ يَقْرَأُ فَاتِحَةَ الْكِتَابِ وَسُورَةً مَعَهَا

پس امام دی قرائت وکړي د الحمد لله شریفې او یو سورت سره د الحمد لله

مسئله! هر سورة چه وواځي روا دی - لکن مستحب دا دی چه په اول رکعت کې دی سبح اسم ربك الاعلی، وواځي او په دوهم رکعت کې دی سورة الغاشیه -

ثُمَّ يُكَبِّرُ تَكْبِيرَةً يَرْكَعُ بِهَا

پس دې دی امام الله اکبر وواځي او دغه الله اکبر سره دی رکوع وکړي -

فائده! باقی رکعت لکه دنوره ولمونځونو رکعت داسې دی -

ثُمَّ يَبْتَدِئُ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ بِالْقِرَاءَةِ فَإِذَا فَرَغَ مِنْ

او بیا دی شروع دده وهم رکعت په قرائت سره وکړي (الحمد لله او یو سورت دی وواځي) او بیا چه امام فارغ سی

الْقِرَاءَةِ كَبَّرَ ثَلَاثَ تَكْبِيرَاتٍ وَكَبَّرَ تَكْبِيرَةً رَابِعَةً يَرْكَعُ بِهَا

د قرائت څخه د رب الله اکبره دی وواځي - او بیا دی خلورم تکبیر وواځي او په هغه تکبیر دی رکوع وکړي

مسئله! په مابین کې د تکبیرونو داختر دی لاسونه دځانه سره ایله نیسي - او د دوهم رکعت د دریم تکبیر وروسته دی لاسونه دځانه سره ایله ولیږي - او چه رکوع ترځنې نو دې پرته نکنو ولیږي -

وَيَرْفَعُ يَدَيْهِ فِي تَكْبِيرَاتِ الْعِيدَيْنِ

او لاسونه دی تر غوږونو پورې پورته کوي په تکبیرونو کې د ولمانځو د اختر -

فائده! پورته کول د لاسونو د اختر په تکبیرونو کې په بخاري او مشکوة او نورو کتابونو کې د حدیثو راغلی دی -

ثُمَّ يَخْطُبُ بَعْدَ الصَّلٰوةِ خُطْبَتَيْنِ

او بیا دی امام پس له لمانځه څخه دوې خطبې وواځي -

مسئله! د دوې خطبې د اختر سنت دی - کوکب دري ص۱۱

يُعَلِّمُ النَّاسَ فِيهِمَا صَدَقَةَ الْفِطْرِ وَأَحْكَامَهَا

وروستۍ په دې خطبو کې سړي ته د فطرې احکام دسړي وخلکوته -

پوښتنه! چه احکام پخه دی - پرچا واجبه ده؟ پر هغه چا چه حر وی مسلمان وی مالک د یو نصاب وی د نصابو څخه د زکوة - بالابه وی تر حاجت اصلی د ده -

فائده! بعضی امامان د خلکو په خیال داسې وړکوی - چه سړی سایه پر نفس مسلمان سته که فقیر وی فقر کوی حتی چه په تحریر به ثابته ده چه بعضی کسان روزانه مزدوری کوی نه سرائی لری نه د کور کافی سامان لری - بلکه پورته وړئ وی لکن سړی سایه وملا صاحب ته وړکوی - او ملا صاحب تر هغه دیره موده وی - ملا صاحب ئې هم واخلی - او دا

مسئلہ: (۱) سر سایہ بہ دچا دخواخہ وی کوی؛ دخیل خان دخوا او دکوچنی عیالو د خوابی وی کوی - دمایخی او بالغو عیالو سی سایہ پر سری نہ دہ واجبہ۔

(۲) وچاتہ دی وی کوی؛ وفقیر او مسکین تہ دی وی کوی - بعضی امامان کہ څہ هم غنیان وی کہ یو چاسی سایہ ویو بل پیچاری مسکین تہ وی کړہ ملا صاحب تہ ئی وی نہ کړہ نو ملا صاحب سخته خوابدی کیږی۔ او وائی چہ لمونځ ما او تا وایی نہ دی کوم او سی سایہ ئی وی کوی

(۳) او کلہ واجبیږی؛ یہ سر اختو سی د سپید و دکوچنی اختر د وړځی واجبیږی۔ کہ یو سړی کړدہ میاشت د وړځی ژوندی وی او د اختر پہ شپہ مړ سو سی سایہ ئی نہ دہ واجبہ او کہ یو کوچنی د اختر پہ شپہ پیدا سو سی سایہ ئی پر پلار لازمہ دہ۔

(۴) او د سی سائی مقدار څودی؛ نیمہ کاسہ دغنمو او یا یوہ کاسہ دجوارو او یا د بشو یا حزما۔ یا قیمت د دغو شیانو۔ نیمہ کاسہ د وکیلو دہ۔

(۵) او د کومو کومو شیانو نو څخہ دی وی کوی؛ هغہ غنم - او د بشی - حزما۔ وچکی۔ او د نورو شیانو نو څخہ نہ دہ روا مکر پہ قیمت د دغو څلورو۔

وَمَنْ فَاتَتْهُ صَلٰوةُ الْعِيْدِ مَعَ الْاِمَامِ لَمْ يَقْضِهَا

او کہ چا څخہ فوت سو د اختر لمونځ سړہ د امام پر هغہ قضاء نشته (یعنی یوانہی بې نہ کوی)

فَاِنْ غُمَّ الْهِلَالُ عَنِ النَّاسِ وَشَهِدُوْا عِنْدَ الْاِمَامِ بِرُؤْيَةٍ

او کہ چیری وړځ او پتہ سو د میاشت د خلکو څخہ او بیا خلکو شاهدی اداء کړہ پہ حضور د قاضی پہ

الْهِلَالِ بَعْدَ الزَّوَالِ صَلَّى الْعِيْدَ مِنَ الْغَدِّ فَاِنْ

لید و سړ د میاشتی پس لہ زوال (یعنی شاهدی ئی تر زوال وړ سته اداء کړہ) نو د اختر لمونځ دی صبا وکړی۔ او کہ

حَدَثَ عُذْرٌ يَمْنَعُ النَّاسَ مِنَ الصَّلٰوةِ فِي الْيَوْمِ الثَّانِيْ

عذر وړ پیښ سو چہ منعہ کول ئی خلک د لمانځہ څخہ پہ دوهمہ وړځ دم - نو نہ دی کذا

لَمْ يُصَلِّهَا بَعْدَهٗ وَيُسْتَحَبُّ فِيْ يَوْمِ الْاَضْحٰى اَنْ يَّغْتَسِلَ

د اختر لمونځ وړ سته تر دغہ (یعنی پہ دریمہ وړځ) او مستحب دی پہ وړځ کی د لوئی اختر چہ غسل وکړی

وَيَتَطَيَّبُ وَيَلْبَسُ اَحْسَنَ ثِيَابِهٖ وَيُؤَخِّرُ الْاَكْلَ حَتّٰى

او خوشبوئی وکړی او ښی جامی دی واغوندی - او د دی خندو ی خپرک تر هغو چہ فارغ

يَفْرُغَ مِنَ الصَّلٰوةِ ثُمَّ يَتَوَجَّهُ اِلَى الْمُصَلّٰى وَهُوَ يُكَبِّرُ

کیږی د لمانځہ څخہ - وړ وسته دی روان سی د عید کاہ پر خوا - او دا سړی دی تکبیر وائی

فِي الطَّرِيْقِ جَهْرًا وَيُصَلِّي الْاِمَامُ بِالنَّاسِ يَوْمَ الْاَضْحٰى

پر لاری پہ ژړ وړ - او لمونځ دی وکړی امام پہ خلکو سړہ د لوئی اختر د وړځ

رَكْعَتَيْنِ كَصَلٰوةِ الْفِطْرِ وَيَخْطُبُ بَعْدَهَا خُطْبَتَيْنِ

ړکعته لکہ د کوچنی اختر لمونځ - او خطبی دی وائی وړ وسته تر لمانځہ دوې - خطبې

يُعَلِّمُ النَّاسَ فِيْهِمَا الْاُضْحِيَّةَ وَاَحْكَامَهَا وَتَكْبِيْرَاتِ التَّشْرِيْقِ

او وړ ښئی دی خلکو تہ پہ دې خطبو کی اختری او حکمونہ د اختری او تکبیر ونہ د تشریق۔

فَاِنْ حَدَثَ عُذْرٌ مَنَعَ النَّاسَ مِنَ الصَّلٰوةِ يَوْمَ الْاَضْحٰى

او کړ پښی سو عذر چہ منعہ ئی کړہ خلک د لمانځہ څخہ پہ وړځ د لوئی اختر - نو وی کذا

صَلَّاهَا مِنَ الْغَدِّ وَبَعْدَ الْغَدِّ وَلَا يُصَلِّيْهَا بَعْدَ ذٰلِكَ

لمونځ د اختر د صبا څخہ او پس لہ صبا (یعنی د دوهمہ او دریمہ وړځ) او نہ دی کذا لمونځ پس لہ دغہ

وَتَكْبِيْرَاتُ التَّشْرِيْقِ اَوَّلُهٗ عَقِيْبَ صَلٰوةِ الْفَجْرِ مِنْ يَوْمِ

وړځو - او تکبیر ونہ د تشریق اول ئی شروع کیږی وړ وسته تر لمانځہ د سحار د وړځی د عرفات۔

عَرَفَةَ وَاٰخِرُهٗ عَقِيْبَ صَلٰوةِ الْعَصْرِ مِنْ يَوْمِ النَّحْرِ

او آخیر ئی وړ وسته تر لمانځہ د دریمی د یکر د وړځی څخہ د اختر۔

عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رح وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رح وَمُحَمَّدٌ رح إِلَى

داپه نزد د امام اعظم رح - او ویلی دی امام ابو یوسف رح او امام محمد رح چه تکبیرونه

صَلٰوةِ الْعَصْرِ مِنْ اٰخِرِ اَيَّامِ التَّشْرِيقِ

دی وائی تر ورسته پورې د مازدیګر لمانځه د اخیرې ورځې څخه دوه ورځې د تشریق۔

پوهه شه! چه عدد د لمونځونو د تکبیرونو په نزد د امام اعظم رح اته لمونځونه دی او په نزد د یارانو رح دیرویشت لمونځونه دی۔

مسئله! پر مذهب د امام صاحب تکبیرونه د تشریق پر کلی والا باندې نسته او پر مسافر هم نسته - او پر بنځه هم نسته - او چه په جماعته لمونځ وکړي پر هغه هم نسته - او په نزد د یارانو تکبیرونه د تشریق پر هر لمونځ کذاره واجب دی - یعنی که نږدې او بنځه - که مقیم وي او که مسافر - که بنار والا وي که صحرا والا وي - که لمونځ په جماعت وکړي که یوانړی۔

مسئله! ردالمحتار - فتح القدیر - کوکب درې او نهر د دیرو شرحو او فتاوو پر مذهب د یارانو فتوی کړې ده او د فقیر هم دغه فتوی ده۔

مسئله! که د امام تکبیر هیر سي مقتدیان دې وائي چه د امام هم په یاد سي۔

مسئله! تکبیرونه د تشریق دی ټوله په جهر سره وائي۔

مسئله! تکبیرونه تر فرضي لمونځو وروسته ویل کیږي ولبس۔

وَتَكْبِيرَاتُ التَّشْرِيقِ عَقِيبَ الصَّلَوَاتِ الْمَفْرُوضَاتِ اَللّٰهُ اَكْبَرُ

او تکبیرونه د تشریق وروسته تر فرضي لمونځو دا دی چه مصنف رح ذکر کړي دی - خدای لوی دی

اَللّٰهُ اَكْبَرُ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ

خدای لوی دی - نسته لائق د عبادت بیله خدایه - او خدای لوی دی - او خدای لوی دی

وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ

او خدای لره ثناء ده ؛

بَابُ صَلٰوةِ الْكُسُوفِ

باب دی په بیان کې د لمانځه د تندرې د لمر یاد سپوږمۍ۔

اِذَا انْكَسَفَتِ الشَّمْسُ صَلَّى الْاِمَامُ بِالنَّاسِ رَكْعَتَيْنِ

کله چه تندرې وینیوځي لمونځ دی وکړي امام په خلکو سره دوه رکعته

كَهَيْئَةِ النَّافِلَةِ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ رُكُوعٌ وَاحِدٌ

پر دول د نفلو - او په هر رکعت کې دی یوه رکوع کوي۔

پوهه شه! چه دا مذهب د حنفیانو دی او څوک په یوه رکعت دوه اوځوک درې رکوعې وائي

وَيَطُولُ الْقِرَاءَةُ فِيهِمَا وَيَخْفٰى عِنْدَ اَبِي حَنِيفَةَ رح وَقَالَ

او دا نږدې وائي قرائت په دواړو رکعتونو کې - او کراره دی وائي قرائت په نزد د امام اعظم رح او ویلی دی

اَبُو يُوسُفَ رح وَمُحَمَّدٌ رح يَجْهَرُ ثُمَّ يَدْعُوا بَعْدَهَا حَتّٰى تَنْجَلِيَ الشَّمْسُ

یارانو چه قرائت دی په جهر سره وائي او بیا دی دعا کوي په اجتماع سره ورسته تر لمانځه تر څو چه لمر روښانه کیږي

مسئله! بعضې عوام وائي چه د لمر یاد سپوږمۍ د تندرې سبب د بندګانو ګناهونه دی خو اغلط مفکوره ده - په حدیث شریف کې راغلی دی چه لمر او سپوږمۍ د ایتانِ من ایات الله نه تویږي دوئ په سبب د مرګ د چا یا د ژوند د چا لکه د اهل جاهلیت چه عقیده وه - بلکه خدای پاک په عالم علوي کې په دې تغییر خپل قدرت یوه غښنه ظاهروي۔

وَيُصَلِّي بِهِمُ الْاِمَامُ الَّذِي يُصَلِّي بِهِمُ الْجُمُعَةَ فَاِنْ لَمْ يَحْضُرِ الْاِمَامُ

او لمونځ د کسوف دی دوئ ته هغه امام وکړي چه دوئ ته د جمعې لمونځ وکړي او که امام د جمعې نه وو

صَلَّاهَا النَّاسُ فُرَادٰى وَلَيْسَ فِي خُسُوفِ الْقَمَرِ جَمَاعَةٌ وَاِنَّمَا

حاضر هر سړي دی نفل وکړي یوانړی - او نسته په توره والی کې د سپوږمۍ جماعت بلکه هر سړي دی

يُصَلِّي كُلُّ وَاحِدٍ بِنَفْسِهِ وَلَيْسَ فِي الْكُسُوفِ خُطْبَةٌ

وخان ته جلا جلا لمونځ کوي - او نسته په کسوف کې د لمر خطبه ویل ؛

بَابُ صَلٰوةِ الْاِسْتِسْقَاءِ

باب دی په بیان کی د لمانځه د طلب د باران

قَالَ اَبُوْحَنِيْفَةَ لَيْسَ فِى الْاِسْتِسْقَاءِ صَلٰوةٌ مَسْنُوْنَةٌ بِالْجَمَاعَةِ

ویلی دی امام اعظمؒ چه نسته په استسقاء کی لمونځ چه سنت ئی جماعت وی

فَاِنْ صَلَّى النَّاسُ وَحْدَانًا جَازَ وَاِنَّمَا الْاِسْتِسْقَاءُ الدُّعَاءُ

نو که هر سړی خان ته لمونځ وکړی نو روا دی۔ اونه دی په نزد د امام اعظمؒ استسقاء مګر د سوال

وَالْاِسْتِغْفَارُ وَقَالَ اَبُوْيُوْسُفَ وَمُحَمَّدٌ يُصَلِّى الْاِمَامُ رَكْعَتَيْنِ

او استغفار یعنی طلب د بخښنی د ګناه دی۔ اووائی یارانؒ چه امام دی دوه رکعته لمونځ وکړی۔

وَيَجْهَرُ فِيْهِمَا بِالْقِرَائَةِ ثُمَّ يَخْطُبُ وَيَسْتَقْبِلُ الْقِبْلَةَ بِالدُّعَاءِ

او په دوی کی دی وائی قرائت په دواړو رکعتونو کی۔ اوبیا دی خطبه وائی (یعنی خلکو ته دی نصیحت وکړی چه د ګناهو څخه توبه وکاږی۔ نو به ځنډی باران وکړی) اوخامخ کیږی دی قبله ته په دعا سره۔

وَيُقَلِّبُ الْاِمَامُ رِدَائَهُ وَلَا يُقَلِّبُ الْقَوْمُ اَرْدِيَتَهُمْ

او وادی سړی امام چادر خپل او نه دی اړوی مقتدیان خپل چادرونه۔

یوه مسئله! چه امام ولې د چادر په طرف دننه ګیږی۔ کوکب دری په ص۲۲ کی وائی د قلب په بیان کی۔ کله چې چادر چا راکنجه وو لوړ دی کښته او کښته دی لوړ کړی۔ او که کښی دی وو ښی اړخ ته طرف دی وچپ اوبرعکس یعنی که چپ طرف دی وو ښی اوښه ته واړوی۔ لکن دا ولیش وائی چه د حدیثو په شرحو کی چه د قلب معنی راغلی ده هغه د هغه کیفیت څخه خلاف ده۔

وَلَا يَحْضُرُ اَهْلُ الذِّمَّةِ الْاِسْتِسْقَاءَ

اونه دی حاضرین کی اهل ذمه د کفارو د استسقاء ته۔

بَابُ قِيَامِ شَهْرِ رَمَضَانَ

باب دی په بیان کی د قیامی د میاشتی د روژې یعنی تراویح

یوه مسئله! چه د روژې میاشت په دې سبب د رمضان بولی چه رمض سوځنک ته وائی او دا میاشت د مسلمانانو ګناهونه سوځی۔ کوکب دری ص۴۳

وَيُسْتَحَبُّ اَنْ يَّجْتَمِعَ النَّاسُ فِىْ شَهْرِ رَمَضَانَ بَعْدَ

او مستحب دی چه سړی جمع دی سی خلک په میاشت کی د روژې پس له ماښتن د لمانځه څخه

الْعِشَاءِ فَيُصَلِّىْ بِهِمْ اِمَامُهُمْ خَمْسَ تَرْوِيْحَاتٍ

نو دی ګذاړی په دوی سړه امام د دوی پنځه ترویحه (ترویحه خلور رکعته ته وائی)

فِىْ كُلِّ تَرْوِيْحَةٍ تَسْلِيْمَتَانِ

او په هره ترویحه کی دوه سلامه دی۔

مسئله! په یوه سلام خلور رکعته کول مکروه دی۔ مولوی عبدالحی۔

وَيَجْلِسُ بَيْنَ كُلِّ تَرْوِيْحَتَيْنِ مِقْدَارَ تَرْوِيْحَةٍ

او کښینی دی په مابین کی د هر دوو ترویحو په اندازه دیوې ترویحې۔

یوه مسئله! چه په دغه مسئله هیڅوک عمل نه کوی۔ نه د ختم په تراویحو کی او نه د القرء ترکیف په تراویحو کی۔ یعنی په مقدار دیوې ترویحې نه کښینی۔ او دې جرم پرملا یا نودی

مسئله! دغه د مابین په ناسته کی که څوک تسبیح وائی او که درود وائی او که نفل کوی اختیار لری۔ اما بعضی امامان تسبیح په نه وړه وائی او مقتدیان نو غوږ نه ږدی ته نیولی وی۔ په دې عقیده چه سامع لکه تالی په ثواب کی سره برابر دی۔ لکن دا خبره غلطه ده۔ د فقهی شریفی په کتابونو کی وائی چه سامع لکه تالی په ثواب کی یوازی د قرآن مبارک خاصه ده۔ نو بنه دا ده چه تولو خلکو جلا جلا یوشی کړه کړه

وائی - داپره او ملامتیا پس اماما نوده وَبَس -

ثُمَّ یُوتِرُ بِهِمْ وَلَا یُصَلِّی الْوِتْرَ بِجَمَاعَةٍ فِی غَیْرِ رَمَضَانَ

او بیادی ملاوتر وکړی په مقتد یا نوسره (یعنی وتردی هم په جماعت وکړی) او نه دی کوی وتر په جماعت سره بیله میاشتی دروښې -

مسئله ! قدوری تراویح مستحب وکهلې او دایو ضعیف روایت دی او صحیح روایت اومذهب دادی - چه مختار د لوی وفقهاؤ حنفیانو دی چه تراویح سنت مؤکده دی - او دغه رنګه کول ئی ونوفته په جماعت سره هم سنت مؤکده دی - او دغه شل رکعته هم سنت مؤکده دی -

سوال ! سنت مؤکد خوهغه دی چه رسول کریم صلی الله علیه وسلم پرهغه مواظبت کړی وی مَعَ التَرک احیاناً - او سره دد ې چه تراویح په جماعت سره صرف آنحضرت صلی الله علیه وسلم درې شپې کړی دی - لکه په بخاری شریف - مسلم شریف - مشکوة شریف او نورو حدیثو په کتابونو کې چه راغلی دی - نو څرنګه تراویح اوجماعت ئی سنت مؤکد بلل کیږی ؟

جواب ! مواظبت یوحقیقی اوظاهری دی - اوبل حکمی مواظبت دی - حقیقی خو بنکاره ده ئی - اوحکمی دادی چه آنحضرت صلی الله علیه وسلم دعذر په سبب مواظبت ترک کړی وی - او د تراویحو مواظبت پر یښودل په سبب دعذر وو - ولی چه په تولوحدیثو هباره کوی راغلی دی - چه آنحضرت صلی الله علیه وسلم وائی چه زه بیریزم چه دالمونځ یعنی تراویح به پر تاسی فرض سی - نو په دې سبب زه همیشه توب نه پرکوم - نو کوبا رسول کریم صلی الله علیه وسلم حکمًا مواظبت پر کړی دی - کوکب دری ص۴۳

او دشل رکعته والی دلیل ئی دادی ! چه په زمانه کې دعمر رض او عثمان رض او علی رض او ورسته صحابه رضی الله تعم عنهم هم دغه شل رکعته تراویح کیدلې - او داسنت په دې سبب بولو چه آنحضرت صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی " عَلَیکُم بِسُنَّتِی وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ

الرَّاشِدِینَ - هدایه - کوکب دری -

پوښتنه ! بعضی وخت یوخوکسه مشهوره سره وکړی چه په یوه کوښه کی تراویح په حافظ القرآن پسی کوی - په دې سبب چه په مسجد کی د اَلَم تَرَ کَیفَ تراویح کیږی - او یا په مسجد کی ختم القرآن کیږی لکن حافظ ئی ډیر خطا وکړی او یا د تصحیح الحروف مراعات نه کوی - او یا فاسق وی نو د دغوخلکو تراویح صحیح دی که څنګه ؟

جواب ! هو صحیح دی په بحر الرائق او نورو کتابونو کی چه مکروه کهل سوی دی نو دا په هغه صورت کی دی چه په مسجد کی تراویح بالکل پریښودل سی او تولخلک ئی په کورونو کی کوی - کما یدل علیه عبارة الکتب المذکورة -

مسئله ! بعضی امامان پر اووه ویشتم دروښې دمیاشتی تراویح پریږدی دا بالکل غلط کار دی - بلکه د تولی میاشتی تراویح سنت دی -

مسئله ! بنځو لره په کورونو کی بیله جماعته تراویح کول په کار دی -

مسئله ! بعضی امامان په روښانه کی خنګ بنکه بنځی د صف او د التسبیح د پاره په جماعت سره دعوت کوی - بلکه په لاوډ سپیکر کی اعلان وترتیب کوی - او صلوة التسبیح هم په لاوډ سپیکر کی اداء کوی - تاچی بنځی په کورونو کی اقتداء پسی وکړی - دا کار غلط او بې بنیاده او د څلورو مذهبو څخه خارج کار او بدعت دی -

---

مسئله ! په تراویحو کی جماعت سنت دی داخو دمتونو خبره ده - لکن صاحب هدایه والی چه جماعت په تراویحو کی سنت کفایی دی - او داهم مذهب د اکثرو مشائخو دی حتی که یوه محله والا په اتفاق سره تراویح په کورونو کی کوی اداء کوی په مسجد کی هیڅوک جماعت نه کوی نو له اهل محله گناه کار ګڼی او که بعضی اهل محله والا په مسجد کی په جماعت تراویح کولې او نور په کورونو کی اداء کولې نو توله محله والی گناه کار نه دی البته هغه کسان چه په کورونو کې اداء کوی د فضیلت د جماعت محروم دی - هدایه ص۱۳۴ -

بَابُ صَلٰوةِ الْخَوْفِ

باب دئ په بیان کی دهغه لمانځه چه په شرط دبیری دد بنمن کیږی

پوهه سئ! چه د صلوة الخوف په حدیثو کی مختلفے ډولونه راغلی دی۔ اوهر ډول ئ روا دی لکن مختاره کیفیت ئ دا دی چه قدوری والی۔

اِذَا اشْتَدَّ الْخَوْفُ جَعَلَ الْاِمَامُ النَّاسَ طَائِفَتَيْنِ

هغه وخت چه سخته سی بیره د دښمن مثلاً یا درنده کا نو۔ نو دی کړی خوی مشر دلښکر خلک دوې ډلی۔

پوهه سئ! چه شرط والی داشتداد محض اتفاق دئ۔ حکم چه نه موږ په نزدلفس نزدې والے د دښمن د صلوة خوف دپاره کافی دئ۔

طَائِفَةً اِلٰى وَجْهِ الْعَدُوِّ وَطَائِفَةً خَلْفَهٗ فَيُصَلِّيْ

یوه ډله وهغه د دښمن اویوه ډله وخپله شاته۔ نو اداء دی کړی

بِهٰذِهِ الطَّائِفَةِ رَكْعَةً وَسُجْدَتَيْنِ

په دغه ډله سره یو رکعت اودوې سجدې۔

پوهه سئ! چه دا په هغه صورت کے دئ چه امام اوقوم مسافر وی۔

فَاِذَا رَفَعَ رَأْسَهٗ مِنَ السُّجْدَةِ الثَّانِيَةِ مَضَتْ هٰذِهِ الطَّائِفَةُ

پس چه سر اپورته کړی امام د دوهمی سجدې نه ولاړه دی سی دغه ډله چه یی

اِلٰى وَجْهِ الْعَدُوِّ وَجَائَتْ تِلْكَ الطَّائِفَةُ

رکعت ئ کړی دی وهغه د دښمن اوراځی سی هغه بله ډله چه د دښمن مخه ولاړه وی۔

پوهه سئ! چه دوئ چونکه په لمانځه کی دی حکماً نو خبری یا خوړ وغیره نه کوی۔

فَيُصَلِّيْ بِهِمُ الْاِمَامُ رَكْعَةً وَسُجْدَتَيْنِ وَتَشَهَّدَ وَسَلَّمَ وَلَمْ يُسَلِّمُوْا

نو اداء دی کړی په دوئ سره امام یو رکعت اودوې سجدې اوامام دی التحیات وائی اوسلام دی وکړی خو ولی چه دامام لمونځ خو پوره سو اوخلک به سلام نه کړی خو ولی چه دهغو یو رکعت پاته دئ۔

وَذَهَبُوْا اِلٰى وَجْهِ الْعَدُوِّ وَجَائَتِ الطَّائِفَةُ الْاُوْلٰى

او ولاړ دی سی دغه خلک وهغه د دښمن۔ اوراځی سی اوله ډله۔

فَيُصَلُّوْنَ وَحْدَانًا رَكْعَةً وَسُجْدَتَيْنِ بِغَيْرِ قِرَائَةٍ

نو دی اداء کړی دوئ یو رکعت اودوې سجدې بیله قرائته۔ ولی چه دوئ حکماً په امام پسے دی۔ لکه دا چه حکم دلاحق دئ۔

وَتَشَهَّدُوْا وَسَلَّمُوْا وَمَضَوْا اِلٰى وَجْهِ الْعَدُوِّ

او التحیات دی وائی اوسلام دی وکړی۔ ولی چه دوئ لمونځ هم پوره سو اوولاړ دی مخه

وَجَائَتِ الطَّائِفَةُ الْاُخْرٰى وَصَلَّوْا رَكْعَةً وَسُجْدَتَيْنِ بِقِرَائَةٍ

د دښمن اوراځی سی هغه بله ډله اویو رکعت اودوې سجدې دی وکړی۔ لکن په قرائت سره ولی چه دوی مسبوقین دی یعنی اول دلمانځه څخه یې سوی دئ نو دامام څخه علاقه ددوئ قطعه ده۔

وَتَشَهَّدُوْا وَسَلَّمُوْا

او التحیات دی وائی او سلام دی وکړی۔

پوهه سئ! چه دا بالا کیفیت ابوداؤد او ابن مسعود رضی الله عنه روایت کړی دئ۔ او امام اعظم دا کیفیت مختار کړی دئ۔ ولی چه سند ئ دیر قوی دی اوهغه روایت ته ابن عبدالبر ترجیح ورکړی ده۔ اوهغه کیفیت امام اوزاعی او امام اشهب مختار کړی دئ۔ رد مختار۔

فَاِنْ كَانَ الْاِمَامُ مُقِيْمًا صَلّٰى بِالطَّائِفَةِ الْاُوْلٰى رَكْعَتَيْنِ وَبِالثَّانِيَةِ رَكْعَتَيْنِ

اوکه چیرے امام مقیم وو اداء دی کړی په اوله ډله سره دوه رکعته اوبه دوهمه سره هم دوه رکعته

پوه سلام! چه قوم په اقامت او سفر کې تابع د امام یعنی سر لښکر دی۔

وَيُصَلِّي بِالطَّائِفَةِ الْأُولَى رَكْعَتَيْنِ مِنَ الْمَغْرِبِ وَبِالثَّانِيَةِ رَكْعَةً

او اداء کوی دی امام په اوله دله سره دوه رکعته دمابنام دلماښه څخه او په دوهمه دله یوه رکعت دمابنام په لماښه کې سفر او اقامت فرق نه لری۔ ولی چه دری رکعته نه نیمې کیږی۔

وَلَا يُقَاتِلُونَ فِي حَالِ الصَّلٰوةِ فَإِنْ فَعَلُوا ذٰلِكَ بَطَلَتْ صَلٰوتُهُمْ

او جنګ به نه کوی په حال کې د لماښه او که ئې جنګ وکړی لمونځ ئې باطل سو (ولی چه جنګ عمل کثیر دی) او داعمالو څخه د لماښه نه دی

وَإِنِ اشْتَدَّ الْخَوْفُ صَلَّوْا رُكْبَانًا وَحُدَانًا يُومُّونَ بِالرُّكُوعِ

او که چیری سخته سوه بیره د دښمن لمونځونه دی کوی پر آسانو سپاره یوانی یوانی او اشاره دی کوی

وَالسُّجُودِ إِلَى أَيِّ جِهَةٍ شَاؤُوا إِذَا لَمْ يَقْدِرُوا عَلَى التَّوَجُّهِ إِلَى الْقِبْلَةِ

په رکوع او سجده سره د سر اشارې چه خوښه ده وخاته ئې چیری قدرت پر مخامخ والی د قبلې نه درلودی

لقوله تعالى: فَإِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالًا أَوْ رُكْبَانًا،

تنبیه: ای مسلمان باید فکر وکړی چه لمونځ خومره مهم عبادت دی چه په داسی حال کې لاهم د قضا کولو اجازه نه ده شته۔ نو افسوس پر هغه مسلمان چه سره د صحت لمونځ نه کوی او یا ئې قضا کوی۔

د موبنډ د معاشرې عامه طبقه خصوصًا خوانان خو د سحار لمونځ بیخی قضاء کوی او ترغرمې بیده وی۔ اونه پوهیږی چه په آخرت به د دې بد فعل جواب څه وی؟

روز محشر که جان گداز بود — اولین پرسش نماز بود

پوه سی! چه د خوف د لماښه په باره کې په احادیثو مبارکه وکې دیر ډولونه راغلی دی۔ لکن د احادیثو مبارکه و شارحان وائی چه دا اختلاف په افضلیت کې دکوم کیفیت دی سره توله ډولونه دی۔

بَابُ الْجَنَائِزِ

باب دی په بیان کې د جنازو

پوه سلام! چه جنازه په نهه دجیم نوم دمړی دی او په نهه دجیم نوم دهغه چا په پاکټ دی چه مړی پرې وړی۔ یا دهغه تختې نوم دی چه مړی ته غسل پرې کوی۔

فائده! چونکه اکثره او غالبه مړی نهه موبنډ په حضره کې د قبر یبانو او خلکو مړی نوځکه قدوړی په بیان کې د دغو مړو داسی وائی۔

إِذَا احْتُضِرَ الرَّجُلُ وَجِّهَ إِلَى الْقِبْلَةِ عَلَى شِقِّهِ الْأَيْمَنِ

چه حاضر کړه سی سړی (یعنی مرګ ئې حاضر سی۔ یا ملائکه الموت وړه ته حاضړ سی) نو مخامخ دی کړه سی یعنی خلک دې وقبله ته مخامخ کړی پر ښی اړخ باندی۔

فائده! قید د رجل اتفاقی دی ولې چه د ښځې هم دغه حکم دی۔

مسئله! پر ښی اړخ پرې ایستل ئې قیاس پر وضع دقبر کړی دی لکن مختار او معتاد اوهغتی به داده چه ستنی ستنی دې پرې باسی۔ ولی چه په داسی پرې ایستو کې روح دانسان خیژی۔ کوب روی

پوه سلام! چه غالبه علامه د نزکندن داده چه پښې سره ایله سی او پنډه ئې کږه سی او تیکو نه ئې توره سی وغیره۔

وَلُقِّنَ الشَّهَادَتَيْنِ

او تلقین دی وړته کوی حاضرین وهرې ته دوې کلمې د شهادت

صورة التلقین: حاضرین دی وائی، أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُولُ اللّٰهِ، په داسی آواز چه دی ئې اوری۔ او په دې دی امر نه وړته کوی چه کلمه د شهادت وواید۔ ولی چه حال د نزکندن دیر سخت دی نه باید چه دی منع ونه کړی۔ نعوذ بالله من ذالك۔

اللهم انا نسئلك حسن الخاتمة۔ ونعوذ بك من سوء الخاتمة۔ آمین۔

وَاِذَا مَاتَ شَدُّوْا لِحْيَاهُ وَغَمَضُوْا عَيْنَيْهِ

اوچه مړی نوحاضرین دی وتړی ژنی د ده په یوه ټکره او ستړکی دی وړاپتې کړی۔

د دې سره دا دی چه دمړی خوله چه واړه وی او ستړکی ړوند وی کتونکوته بد معلومیږی۔

مسئله! هغه سړی چه ژنی وړتړی داسی دی وائی "بِسْمِ اللّٰهِ وَعَلٰى مِلَّةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ اَللّٰهُمَّ يَسِّرْ عَلَيْهِ اَمْرَهٗ وَسَهِّلْ عَلَيْهِ مَا بَعْدَهٗ وَاَسْعِدْهُ بِلِقَائِكَ وَاجْعَلْ مَا خَرَجَ اِلَيْهِ خَيْرًا مِمَّا خَرَجَ عَنْهُ"

فائده! دعالږ حاضرې وړې ته دغه فائده لرې چه دعا وکړې۔

مسئله! ادړه کندن په وخت د سورة یاسین شریف ویل په ډیره هم مستحب کار دی۔

فَاِذَا اَرَادُوْا غُسْلَهٗ وَضَعُوْهُ عَلٰى سَرِيْرٍ

هر کله چه اراده وکړی دوی د غسل دمړی۔ نو اینږدی دی مړی پر یوه تخته باندی۔

پوهه شه! چه او به به ډیره کښته توئیږی۔

وَجَعَلُوْا عَلٰى عَوْرَتِهٖ خِرْقَةً وَنَزَعُوْا ثِيَابَهٗ

او وادی چوی پر عورت د ده یو پاک ټکړ۔ او خنی ودی کاږی تولې کالی د ده۔

پوهه شه! مراد د عورة څه عورة غلیظه دی وبس ۔ کذا فی الهدایه۔

وَوَضَّئُوْهُ وَلَا يُمَضْمِضُ وَلَا يُسْتَنْشَقُ ثُمَّ يُفِيْضُوْنَ

او اودس دی ورته نه کړی مګر په خوله او پزه کی دی او به نه ورځوی۔ او بیا دی او به توی کړی پر

الْمَاءَ عَلَيْهِ وَيُجَمَّرُوْا سَرِيْرَهٗ وِتْرًا

مړی باندی۔ او خوشبویه دی کړی تخته د مړی تاک (یعنی یو واړه یا دری واړه یا پنځه واړه)

کیفیت ئی دا دی چه هغه شی چه عود پکښی لګیږی یو واړه یا دری واړه پر تخته شاوخوا راګرځوی۔ که عود نه وو او دا نورې عادی خوشبویګانی وی۔ نو یو واړه یا دری واړه دی یو یو ځاځکی پر تخته شاوخوا توئ کړی۔

وَيُغْلَى الْمَاءُ بِالسِّدْرِ اَوْ بِالْحُرْضِ

او ودی ایشوی او به په سدر (یعنی بلکونه د درختی د سدر۔ چه هغې ته په پاکستان او هندوستان کی بیره وائی۔ او میوه ئی په باران وکی پر موسم خرخیږی) او یا په برو څه (چه دمسکت په دوران

فَاِنْ لَّمْ يَكُنْ فَالْمَاءُ الْقَرَاحُ

کی په هغی خنکو کالی پریوله چه میده کړی دی) او که داد وه نه وه نو په خالص او بودی پر یولی۔

پوهه شه! چه سدر او حرض د پاره د نظافت او بنې پاکۍ استعمالیږی۔

تنبیه! بعض بې علمه امامانو به د سدر معنی په کل سدر طالب ته کوله او دا بې ورته وویل چه سدر د خوشبویه کل نوم دی۔

تردې عجبه

یو امام د قرآن شریف ترجمه کوله د "اية راغلی" وَطَلْحٍ" مترجمه ورته وویل "طلح" تاک یعنی دا نکوره درخته بولی او جاهل نه پوهیږی، چه طلح د کیلی درخته بولی۔

دخنداخبره

یوه اهلم وطالبا نوته د "یمین غموس" ترجمه داسی وکړه چه یمین غموس هغه دی چه سړی ته دروسی او قسم واخلی۔ او دی جاهل نه پوهیږی چه ودې ته خو په عرب یمین فوره وائی۔ او یمین غموس، هغه دی چه پر تیر سوی کار په دروغو قصد قسم واخلی

هدایت

په حدیث شریف کی راغلی دی، "حُبَّ تالٍ للقرآنِ وَالقرآنُ يَلْعَنُه" یعنی د دیر تلاوت کونکی د قرآن۔ قرآن مبارک لعنت پرولی۔ په دغه حدیث کی دغسی خو راځه ترجمه کونکی د قرآن مبارک هم داخل دی بلکه په طریق اولی۔ او په بل حدیث مبارک کی راغلی دی چه آنحضرت صلی الله علیه وسلم وائی "مَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهٗ مِنَ النَّارِ" ترجمه! که چا درواغ وویل پرما باندی په قصد سره نو جوړ دی کړی خپل ځای په اور کی۔ لفظ د حدیث امر دی او په معنی د اخبار دی یعنی ځای ئی په دوزخ کی جوړ کړی۔

نو تاسی فکر وکړی چه پر علیه السلام درواغ ویل دائی جزاء ده۔ نو هغه امام چه پر خدائ پاک باندی درواغ وائی یعنی چه ترجمه د قرآن مبارک غلطه کوی د هغه به

څه جزاء وی۔ نعوذ باللہ من الجرئة والکذب علی اللہ ورسولہ۔

سبب د دا سی غلطی ترجمې اوپر پاک خدائ اوپر رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم د دې واغو ویلو څخه دی۔ هغه دا دی چه دغه جاهل امام یوه لویه ملائ یا امامت گیر څرې وی۔ نو د پاره د اظهار د دې چه زه یو عالم مترجم یم او د هغو علماؤ سره چه یه صحیح توګه د قرآن مبارک ترجمه کوی او یا حدیث د سوی برابر یم۔ نو دی هم پرد غو د واغو پرخدائ اوپر رسول صلعم دلاوره سی۔ مطلب دا چه ذپاره د دین د دنیا پرخدائ او پر رسول صلعم دده د واغ وائ۔ العیاذ باللہ من جمیع المال والمتاع بمثل هذه الاکاذیب المردیة۔

برادران گرامی! دا څو جزئی په توګه د جُمل معترضه راغلې اوس اصلی مطلب ترڅو۔

مسئلهٔ! تاسی پوهیږی چه غږمن د استحمال د سدر یا د بیر وځ څخه نظافت یا پاکی د مسلمان مړی ورکوه۔ نو چونکه په نظافت کی صابون ترهغو دوو بالا دی۔ نو که هغه دوه نه وه نکه په نخی زمانه کی خصوصاً په بنارونو کی نو لږ صابونه دی په اوبو کی وایشوی۔

مسئلهٔ! عادت دا سی دی چه اول واړه او د وهم واړه مړی په ساده اوبو منځی او په دریمه پلاکی سدر یا حرض استعمالوی۔ لکن مسئله دا ده چه د دوه سره واړو کی د غه دوه استعمال کړی چه بنه نظافت راسی۔

وَيُغْسِلُ رَأْسَهُ وَلِحْيَتَهُ بِالْخِطْمِيِّ

او وړی دی منځی س او بږیره د مړی په خطمی چه دیو مشهور بقل نوم دی۔

فائده! د دې سره دا معلومیږی چه مسلمان باید بږیره ولری۔

ثُمَّ يُضْجَعُ عَلَى شِقِّهِ الْأَيْسَرِ فَيُغْسَلُ بِالْمَاءِ وَالسِّدْرِ

اوبیا دی پرې باسی مړی پرچپه بغل باندی۔ اوبیا دی مینځی مړی په اوبو او په سدر

حَتّٰى يُرٰى اَنَّ الْمَاءَ قَدْ وَصَلَ اِلٰى مَا يَلِي التَّخْتَ مِنْهُ

تر هغو چه دا معلومه سی چه اوبه ور سیدې وهغه طرف ته د مړی چه په تخته پوری دی۔

ثُمَّ يُضْجَعُ عَلٰى شِقِّهِ الْأَيْمَنِ فَيُغْسَلُ بِالْمَاءِ وَالسِّدْرِ

اوبیا دی پرې ایستل سی مړی پر راسته بغل اوپرې دی منځل سی په اوبو او سدر سره تر هغو

حَتّٰى يُرٰى اَنَّ الْمَاءَ قَدْ وَصَلَ اِلٰى مَا يَلِي التَّخْتَ مِنْهُ

چه دا معلومه سی چه اوبه ور سیدې وهغه طرف ته د مړی چه په تخته پوری دی۔

ثُمَّ يُجْلِسُهُ وَيُسْنِدُهُ اِلَيْهِ وَيَمْسَحُ بَطْنَهُ مَسْحًا رَقِيقًا

اوبیا دی کښینوی مړی اوتکیه دی کړی غاسل وځان ته اولاس دی تیر کړی پر ښی د مړی په نرمی

فَاِنْ خَرَجَ مِنْهُ شَيْءٌ غَسَلَهُ وَلَا يُعِيْدُ غُسْلَهُ

سره۔ نو که راوقت د نسه څخه د مړی یوڅه شی (مورداره) هغه دی پرې مینځی او غسل دی نه راګرځوی

مسائل

ښ به وضوء غسل ورکوی او بنځه به وبنځی ته۔ او د بنځی غسل وضوء ته یادښ غسل وبنځه ته نه دی ضرورت۔ او که چیرې مړی نر او کوچنی وو چه اشتها نه وه ته کیدل بنځی غسل ورکولائ سی۔ وهکذا که مړه بنځه وه او دیره کوچنۍ وه چه اشتها نه وه ته کیدل نر غسل ورکولائ سی۔ او په ضرورت کی مایښه میره ته غسل ورکولائ سی۔ او میره وما یښې ته غسل نه سی ورکولای۔ او میره ته ښځه مسه کول هم ناروا دی۔ او وضوء کتل روا دی په اصح روایت کی۔ کوکب دری ص۴۴

ثُمَّ يُنَشِّفُهُ بِثَوْبٍ وَيَجْعَلُهُ فِي اَكْفَانِهِ

اوبیا دې وچ کړی په یوه تکړه سره (چه کفنونه ئ لاندې نه سی) اوبیا دی وپیچل سی مړی په کفنونو کی۔

وَيُجْعَلُ الْحُنُوْطُ عَلٰى رَأْسِهِ وَلِحْيَتِهِ وَالْكَافُوْرُ عَلٰى مَسَاجِدِهِ

او دی کرځول سی (دی مبنی) حنوط (چه یو مرکب خوشبوئ دی) پر سر (چه هم خوشبوئ دی) د سجدې پرځایونو ومبنی۔

د سجدی ځایونه تندی۔ پزه۔ ښ لګښونه او ورغوی دی۔

وَالسُّنَّةُ أَنْ يُكَفَّنَ الرَّجُلُ فِي ثَلٰثَةِ أَثْوَابٍ إِزَارٍ وَ

اوسنت طریقه دکفن داده چه کفن ورکول سی نرته په درو جاموکی چه ازار او قمیص

قَمِيصٍ وَلِفَافَةٍ فَإِنِ اقْتَصَرُوا عَلٰى ثَوْبَيْنِ جَازَ

اولفافه دی - اوکه چیری خلکو بس والی وکړی پر دوو جامو هم روا دی -

دلیل ددې دادی چه په بخاری شریف او نورو کتابو د حدیثو کی دا لیکلی دی چه درسول الله صلی الله علیه وسلم کفن درې سپینی جامې د پنبه جوړ سوی وو -

پوکه سلاه چه دینستی په وخت کی یوه جامه هم بس ده - ولی چه د مصعب بن عمیر رض کفن یوه شړۍ چه هغه هم سی ترپښو نه رسیدله - نو علیه السلام امر وکړی چه سر یې ورپټ کړی او پر پښو یې د اذخر واښه ورواچوی - کذا فی البخاری وغیره -

وَإِذَا أَرَادُوا لَفَّ اللِّفَافَةِ عَلَيْهِ ابْتَدَءُوا بِالْجَانِبِ

وخت چه اراده وکړی خلک د پیچلو د لفافې پرمړی نو شروع دی وکړی په چپه

الْأَيْسَرِ فَلُفُّوهُ عَلَيْهِ ثُمَّ بِالْأَيْمَنِ

طرف او پرمخې دې واچوی او ورسته راسته طرف دی پر واچوی چه راسته بالاسی -

طریقه د کفن

اول دی پر یوخای لفافه وغوړوی - او ورسته دی ازار پر وغوړوی - بیادی په مړی قمیص واغوندی او پر ازار دې کښینوی - او دا ازار چپه طرف اول راسته طرف دی ورسته پر راوړی - او لفافه دی ورسته هم پر هغه کیفیت راواړوی -

فَإِنْ خَافُوا أَنْ يَنْتَشِرَ الْكَفَنُ عَنْهُ عَقَدُوهُ بِخِرْقَةٍ

اوکه ویریدلی خلک چه کفن به د مړی څخه واوړی نو دی تړی په یوکار سی بنکی ته ورکړی -

وَتُكَفَّنُ الْمَرْأَةُ فِي خَمْسَةِ أَثْوَابٍ إِزَارٌ وَقَمِيصٌ

اوکفن دی کړه سی ښځه په پنځو جاموکی - هغه دا - ازار - قمیص -

وَخِمَارٌ وَخِرْقَةٌ تُرْبَطُ بِهَا ثَدْيُهَا وَلِفَافَةٌ فَإِنْ

اوپوړنی - اویو وکړ چه په هغه ئې ټې ورو تړی - او بله لفافه ده - اوکه نی چیری

اقْتَصَرُوا عَلٰى ثَلٰثَةِ أَثْوَابٍ جَازَ

بس والی وکړی د ښځی په کفن کی پر درو جامو باندی روا دی -

فائده! او دې ته کفن کفایت وائی - او دا درې جامې به ازار - لفافه او خمار وی -

ترتیب د کفنولو ښځی دادی - (۱) ازار (۲) خرقه (۳) قمیص (۴) خمار (۵) لفافه - لکه چه وائی -

وَيَكُونُ الْخِمَارُ فَوْقَ الْقَمِيصِ وَتَحْتَ اللِّفَافَةِ وَ

او وی دی پوړنی پر قمیص لوړ او تر لفافې لاندی - او وادی چوی

يُجْعَلُ شَعْرُهَا عَلٰى صَدْرِهَا وَلَا يُسَرَّحُ شَعْرُ الْمَيِّتِ

ویښتان د ښځی پر حنکو باندی - او نه دی ښه مونځوی و یښتا د مړی کنګی نه وی او کړ ښځه -

وَلَا لِحْيَتُهُ وَلَا يُقَصُّ ظُفْرُهُ وَلَا شَعْرُهُ

او نه دی ښه مونځوی ښیره د ده - او نه دی پرې کوی نوکان د مړی (که څه هم لوی وی) او نه دی ویښتان ورپرې کوی - (ولی چه دا جزء د انسان دی او دا انسان جزء پس له مرګ پرې کول ناروا دی - دکه ناسنت کوچنۍ چه سنت نه وی -)

وَتُجَمَّرُ الْأَكْفَانُ قَبْلَ أَنْ يُدْرَجَ فِيهَا وِتْرًا

او خوشبوی دی کړی کفنونه د څه تر دې چه پیچل کیږی مړی په هغوی کی لکن تاک -

ولی چه آنحضرت صلی الله علیه وسلم د خپلی مړی لور په کفنولو کی داسی امر وکړی -

فَإِذَا فَرَغُوا مِنْهُ صَلَّوْا عَلَيْهِ

پس چه فارغ سی د غسل او د کفن څخه نو بیا دی د جنازې لمونځ ورکړی -

مسائل

د جنازې لمونځ فرض کفایې دی۔ یکه تکفین۔ تجهیز چه دا ټوله په اجماع دامت ثابت دی۔ اومنکرې کافر دی۔ درمختار۔ اوشرطونه ئې شپږ دی!

(۱) اسلام د مړي دی۔ وکافرته د جنازې لمونځ نه دی روا۔

(۲) پاکوالی د مړي دی۔ نو تر غسل وهلے د جنازې لمونځ نه دی روا۔

(۳) حضور د مړي دی۔ نو غائب ته د جنازې لمونځ نه دی روا۔

سوال! آنحضرت صلعم وبنجاشی ته غائبانه لمونځ وکړې۔ کما فی البخاری ومسلم وغیرهما

جواب! هغه د آنحضرت صلعم خاصه ده کما فی العینی وفیض الباری۔

(۴) پرځمکه به پروت وی یا پر دیرۍ کښته چارپائی۔ نو که مړی پرډابه وی یا په موټرکی وی۔ د جنازې لمونځ ئې نه دی روا۔

(۵) لوبه حصه د مړي به امام وهڅه نه وی۔ نو که مړی کرده ترشا وی د جنازې لمونځ ئې نه دی روا۔

(۶) مړی به د قبلې وخواته وی او د جنازې په لمانځه کې خلور تکبیره فرض دی او رکن دی۔ اویل په ولاړې به ئې اداء کوی۔ حتی چه بیله عذره که په ناستې نه دی روا۔

اوسنت ئې دا دی!

تراوله تکبیر وړوسته "سبحانك اللهم الخ" تردوهم تکبیر وړوسته درود پر علیه السلام باندی۔ تردریم تکبیر وړوسته دعا د مړي "اللهم اغفر لحینا الخ" اوکه دا نه وائی نو دا "اللهم ربنا الخ" دی ووائی۔ اوترخلورم تکبیر وړوسته دی سلام وکړی خوی۔ قنیة زاهدی۔

وَأَوْلَى النَّاسِ بِالْإِمَامَةِ عَلَى الْمَيِّتِ السُّلْطَانُ إِنْ حَضَرَ فَإِنْ لَمْ يَحْضُرْ فَنَائِبُهُ

اوښه خلکو په امامت سره پر جنازه باندی پاچا دی که حاضر وی وکه پاچا نه وی وحاضر بیانائب ددی

مسئله! قاضی د محکمې یا والی د ولایت په حکم کې د سلطان دی۔

فَإِنْ لَمْ يَحْضُرْ فَيُسْتَحَبُّ تَقْدِيمُ إِمَامِ الْحَيِّ ثُمَّ الْوَلِيُّ

که پاچا حاضر نه وی نو مستحب ده چې د کلی د مسجد ملا دی د هغه کړی او که هغه هم نه وی نو بیا دی قریب خپلوان وکړی۔

فَإِنْ صَلَّى عَلَيْهِ غَيْرُ الْوَلِيِّ وَالسُّلْطَانُ أَعَادَ الْوَلِيُّ

او کله چې خپلوان وکړی غیر د ولی او پاچا لمونځ دی بیرته وکړی خوی۔ د ولی خوښه وی لاتر هغه نه ده چه حق ئې ساقط شی۔

وَإِنْ صَلَّى عَلَيْهِ الْوَلِيُّ لَمْ يَجُزْ أَنْ يُصَلِّيَ عَلَيْهِ أَحَدٌ بَعْدَهُ

او که لمونځ وکړی د جنازې قریب نو نه دی روا چه لمونځ وکړی وړې ته هیڅوک پس له قریبه

فَإِنْ دُفِنَ وَلَمْ يُصَلَّ عَلَيْهِ صَلَّى عَلَى قَبْرِهِ إِلَى ثَلَاثَةٍ

او که مړی ښخ شو او چا لمونځ نه وی کړی۔ نو وقبر ته د ده دی لمونځ وکړی تر درې

أَيَّامٍ وَلَا يُصَلِّي بَعْدَ ذَلِكَ

ورځو پورې۔ او پس له درو ورځو دی د جنازې لمونځ نه وړې کوی۔

وَيَقُومُ الْمُصَلِّي بِحِذَاءِ صَدْرِ الْمَيِّتِ

او دی دریږي لمونځ وړې کوونکی یعنی امام پر برابر د هیڅ د مړي کې نر دی او که ښځه۔

او امام شافعی وائی چه د نر د هیڅ پر برابر او د ښځې د فرج پر برابر دی دریږي۔ موږ وایو چه په هیڅ کې نر ډه دی او په ښځه کې نور دا یمان دی او د جنازې لمونځ دایمان دشفاعت دپاره کوی۔

وَالصَّلَاةُ عَلَى الْجَنَازَةِ أَنْ يُكَبِّرَ تَكْبِيرَةً يَحْمَدُ اللَّهَ عَقِيبَهَا

کیفیت د جنازې دلمانځه دادی چه الله اکبر دی ووائی یو واړه اوحمد د خدای پاک دی ووائی پس له هغه (یعنی سبحانك اللهم)

مسئله! د موږ په مذهب کې د جنازې په لمانځه کې قرائت د قرآن نشته۔ حتی "الحمد لله" آه "دی هم نه ووائی۔ مګر په نیت د حمد او تسبیح۔

ثُمَّ يُكَبِّرُ تَكْبِيرَةً ثَانِيَةً وَيُصَلِّي عَلَى النَّبِيِّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ

او بیا دی دوهم تکبیر ووائی۔ او درود دی ووائی پر نبی علیه الصلوة والسلام

ثُمَّ يُكَبِّرُ تَكْبِيرَةً ثَالِثَةً يَدْعُو فِيهَا لِنَفْسِهِ وَلِلْمَيِّتِ وَلِلْمُسْلِمِينَ

او بیا دی دریم تکبیر ووائی او دعا دی وکړی په هغه کې د ځان ته او د مړي ته او ټولو مسلمانانو ته

هغه داسې! اللهم اغفر لنا ولحینا ومیتنا وشاهدنا وغائبنا وذکرنا وانثانا

وصغيرنا وكبيرنا۔ اللهم من احييته منا فاحيه على الاسلام ومن توفيته منا فتوفه على الايمان۔

ثُمَّ يُكَبِّرُ تَكْبِيرَةً رَابِعَةً وَسَلَّمَ عَقِيبَهَا وَلَا يَرْفَعُ

وروسته دی تکبیر وائی څلرم تکبیر اوسلام دی وکړي وروسته تر تکبیر اوندی پورته

يَدَيْهِ إِلَّا فِي تَكْبِيرَةِ الْأُولَى

کوی لاسونه مکر په اوله تکبیر کی۔

وَلَا يُصَلَّى عَلَى الْمَيِّتِ فِي مَسْجِدٍ جَمَاعَةً

اولموغ دی نه کوی پرمړی باندی په مسجد جماعت کی (چه پنځه وخته لموغ) پکښی کښیږی

مسئله! په مسجد کی دمړی لمونځ روا نه دی که مړی اوخلک دواړه په مسجد کی وی۔ اوکه مړی په مسجد کی وی اوخلک دباندی وی۔ اوکه مړی دباندی اوخلک په مسجد کی وی

فَإِذَا حَمَلُوهُ عَلَى سَرِيرِهِ أَخَذُوا بِقَوَائِمِهِ الْأَرْبَعِ

چه خلک واخلی مړی پرچارپائی باندی۔ نو دی ښی خلک څلور پښې دچارپائی

وَيَمْشُونَ بِهِ مُسْرِعِينَ دُونَ الْخَبَبِ

اوعادی تګ دی کوی لکن لږ چابک۔ تر خاسته کم۔

په حدیث کی راغلی دی چه آنحضرت صلی الله علیه وسلم وویل "عَجِّلُوا مَوْتَاكُمْ فَإِنْ يَكُ خَيْرًا قَدَّمْتُمُوهُ إِلَيْهِ وَإِنْ يَكُ شَرًّا أَلْقَيْتُمُوهُ عَنْ رِقَابِكُمْ"

مسئله! جنازه په موتر کی وړل په تن زحمانه کی روا دی۔ په سبب دعذر دلیرې والی دقبرستان۔

مسئله! داحنافو په نزد خلک به ترجنازې وروسته ځی اوداافضله طریقه ده که څه هم وروسته والی دجنازې هم روا دی۔ کوکب دری ص۴۵

مسئله! که جنازه پرپښو روانه وه دخلکو په موتر انو کی سپر تیا متصل په جنازه پسې مکروه دی نوسپاره خلک دی یو څه فاصله وروسته پسې روان وی۔ عینی۔

فَإِذَا بَلَغُوا إِلَى قَبْرِهِ كُرِهَ لِلنَّاسِ أَنْ يَجْلِسُوا

اوچه ورسیږی خلک وقبرته دمړی نوبد کاره دی خلکو لره چه کښینی

قَبْلَ أَنْ تُوضَعَ عَنْ أَعْنَاقِ الرِّجَالِ

دمخه تردې چه جنازه کښته کیږی دغاړو څخه دخلکو۔

ولی چه ضرورت وخلکوته پیدا نه سی په ایښودلو کی دجنازې۔ دجنازې داخستلو طریقه داده چه اول دی دمخ پښه دچارپائی پرخپله راسته اوږه کښیږی دی۔ اوبیادی دچارپائی وروسته پښه پراسته اوږه کښیږی دی۔ اوبیادی چارپائی دمخه پښه پرخپله چپه اوږه کښیږی دی۔ اوبیادې وروسته پښه پرخپله چپه اوږه کښیږی دی۔ چه په حدیث شریف کی راغلی دی که چا څلور واړه دمړی جنازه واخسته دمړی حق ئی وپرځای کړی۔

وَيُحْفَرُ الْقَبْرُ وَيُلْحَدُ وَيُدْخَلُ الْمَيِّتُ مِمَّا يَلِي الْقِبْلَةَ

اووی کښل سی قبراولحد دی وپرکړل سی اوداخل دی کړل سی مړی دطرفه څخه دقبلې۔

مسئله! ښه داده چه قبردی دمخه تر لحد دسړی په قده دنیم قامت غاړه کړی۔ اوکه ئی تر دغه زیات غاړه کړی دیر به ښه وی۔

مسئله! الحد سنت دی آنحضرت صلی الله علیه وسلم وائی "اللَّحْدُ لَنَا وَالشَّقُّ لِغَيْرِنَا" یعنی لحد زموږ مسلمانانو دی اوشق دنورو خلکو دی۔ لکن داهلته چه خاکه لحد منی یعنی دیره مړه اوښه نه وی چه دستی ونړیږی۔

مسئله! شافعیان وغیرهم مړی پرتخته ایږدی اودقبر تې دپښو دخوا وربښویږی۔ موږ وایو چه داد مسلمان اهانت اوسپکاوی دی۔

فَإِذَا وُضِعَ فِي لَحْدِهِ قَالَ الَّذِي يَضَعُهُ بِسْمِ اللَّهِ وَ

اوچه ایږدی مړی په لحد کی وائی دی هغه څوک چه مړی ایږدی دا کلمه "بسم الله الخ" یعنی ابتداء

عَلَى مِلَّةِ رَسُولِ اللَّهِ وَيُوَجَّهُ إِلَى الْقِبْلَةِ

په نامه دخدای کوم اوپرملت دعلیه السلام تا ایږدم په قبر کی۔ اومخ دمړی دی دقبلې خواته مائل کړی

وَيُحَلُّ الْعُقْدَةَ وَيُسَوِّي اللَّبِنَ عَلَيْهِ وَيُكْرَهُ الْآجُرُّ وَالْخَشَبُ

او خلاصه دی کړي هغه غوټې د کفن (ولې چه اوس ضرورت ورته نشته) او سمې دی کړي خښتي د لحد تر او مکروه دی پخې خښتي اولرګي (ولې چه پخې خښتي او مسحه کړي دی اولرګي د عمارت د پاره دی)

مسئله! بعضې ځایونه چه اوږې خښتي نه وي نکه په اکثرو بنارونو کې د پاکستان نو بیا دی تختې استعمال کړي۔ **خو د ضرورت له کبله کراهت نه لري لان الضرورة تبيح المحظور**

وَلَا بَأْسَ بِالْقَصَبِ

اوپر واښته د نلانو په اچولو سره یعنی پس خښتو سر بیره۔

په جامع صغیر کې راغلی دی چه د علیه السلام په قبر کې یوه عین نلان واچول سوه۔

ثُمَّ يُهَالُ التُّرَابُ عَلَيْهِ وَيُسَنَّمُ الْقَبْرُ وَلَا يُسَطَّحُ

او بیا دی په اړام سره خاوری ورواچوی قبرته۔ او بوکنډه دی کړي قبر او د کانچه کوی دی نه۔

ابراهیم نخعی روایت کوی چه ماته وویل هغه چا چه ده قبر د نبی علیه السلام او د ابوبکر او عمر لیدلی وو۔ چه هغه درې سره مسنم وه۔

مسئله! دیر جګول د قبر مکروه دی۔ سنت طریقه داده چه ملن د قبر دی په اندازه دیوی لوښتی سره اولی اوپر ما بین دې مسنم کړي۔

مسئله! په کچو یا په سیمیتو جوړ ولی د قبر اتفاقا مکروه دی۔ البته متأخرینو په ختو جوړ ولی د قبر اجازه کړې ده۔

مسئله! پر قبر دی خونه نه جوړوی۔ ولی چه علیه السلام وائی، **لا تجصصوا القبور ولا تبنوا عليها ولا تقعدوا عليها** ترجمه! تاسی په کچو مه سموئ قبرونه او بنا مه کوی پر قبرو باندی او مه کښینئ پر قبرو۔

افسوس صد افسوس

چه په ځنی زمانه کې د بنار نوله کچه اومرداره ځمکه په اډیره کې اچول کیږی او بیا چه هغه کچه حکومت لیږی کړي او قبرونه آولهسی خدا نا ترسه کسان پر هغه ځائ او به سره ایله کړي چه قبرونه ونړیږی او بیا هغه نارواسره د هغو قبرو په ما بین کې کندګی او نولی کوی۔ او بیې پکښې جنګوی او اډیره په اوس وخت کې دیر سیالنواو هیوینا نواده وی۔

هغه قبر و سره ځای جوړ کړي یا دوکانونه بلکه اکثر و هدیرونه نړدی کوره وا ۴

او پایلوچان په اډیره کې خپل نښانونه سره معلومول۔ دا تولې کارونه دا سلا ملیت او انسانیت څخه خلاف دی۔ اسلامی حکومت تر لاسه مړده چه ددی کار وخلوکسیرې وکړي۔ او د مسلمانانو اډیرې د دیوال په ذریعه محفوظ کړي۔ لکن فیهات۔

مسئله! د قبرو سره لوبه د بې ادبۍ شخته د پاره د معلومولو د قبرو اقربا ؤ تر دمې روا ده۔ لکن د قرآن شریف سوره یا آیت پرلیکل په اجماع د امت مرحومه د علماؤ ناروا ده۔

وَمَنِ اسْتَهَلَّ بَعْدَ الْوِلَادَةِ سُمِّيَ وَغُسِّلَ وَكُفِّنَ وَصُلِّيَ عَلَيْهِ

او که یو کوچنی پس له زیږیدو آواز وکړي (یعنی وچ ژړا) نوم دی پرکښیښودل سی او غسل دی ورکړل سی او کفن دی ورکړل سی۔ او لمونځ د جنازې دی ورکړل سی۔

پوه سئ! چه شرط داندې چه ژړا دی به بلکه د شوند هره علامه چه پر ښکاره سی لکه لاس یا پښه سوری وهل یا بلد غسی کارکول۔ وهغه ته غسل او لمونځ باید ورکړل سی۔ او نوم دی هم پرکښیښودی۔

وَإِنْ لَمْ يَسْتَهِلَّ أُدْرِجَ فِي خِرْقَةٍ وَدُفِنَ وَلَمْ يُصَلِّ عَلَيْهِ

او که ژوندۍ آوازونه کړي نو په ټکره کې دی وپیچي او بنخ دې کړي او لمونځ دی نه ورکوی۔

مسئله! په غسل ورکولو کې د دا سی کوچنی دوه روایته راغلی دی۔ صحیح دا ده چه غسل دی ورکړل سی۔ لکن په هدایه کې وائی چه غسل دی ورکړي۔ وهو المختار والله اعلم بالصواب۔

مسئله! چونکه په ځنی زمانه کې د سلطان اعظم حضور وجنازه تقریبا د ملین تللی دی او نائب دهغه چه په اصطلاح والی ټولی یا کومښنر یو فاسق او فاجر سړی وی په اکثر و ممالک اسلامی ؤکی۔ نو اوس قاضی د ولایت یا د ولسوالۍ احق بالامامت دی۔ دا رویش۔

مسئله! ولی به هغه ولی د جنازې لمونځ ورکوی چه مړی ته په سب نژدی وی ثم الاقرب فالاقرب اوکه په درجه کې د قرابت سره برابر وه نو هغه مشر دی دهغه سی۔ عینی۔

بَابُ الشَّهِيدِ

باب دی په بیان کی د احکامو د شهید

اَلشَّهِيدُ مَنْ قَتَلَهُ الْمُشْرِكُونَ

شهید هغه څوک دی چه مړی کړی مشرکان -

یوه سړی! چه مراد د مشرک څخه دلته مطلق کافر دی - که مشرک وی لکه هندو - یا یهودی وی یا نصرانی وی - یا د هری وی لکه روسان -

فائده: هغه څوک چه یا غیان یا د لاری غله مړکړی هغه په حکم کی د وژل سوی د کافر دی -

اَوْ وُجِدَ فِي الْمَعْرَكَةِ وَبِهٖ اَثَرُ الْجِرَاحَةِ

او یا پیدا کړل سی په میدان کی د جنګ مې او پر ده باندی تاثیر د تپ وی

اَوْ قَتَلَهُ الْمُسْلِمُونَ ظُلْمًا وَلَمْ يَجِبْ بِقَتْلِهِ الدِّيَةُ

او یا ئی مړکړی مسلمانان ناحقه او نه وی واجب په وژلو د ده سره دیت بلکه قصاص واجب وی

حاصل دا چه په الد قتل مړکړی که چا سبکار و یشتی یا ئی نښان ویشتی - یا یوه سړی بل په لغته و ظلمه او هغه مړ سو - په دې قتل کی دیت نسته - نو هغه ته شهید په شرع شریف کی نه وائی -

فائده: ډیر صبا په دنیا کی مسلمانان یو د بله سره وژنی خصوصًا په افغانستان کی - نو کوم څوک شهید دی او مقتول ظلمًا دی - نو وا وره! چه په تولو کتابو کی د تفسیر و او حدیثو او فقه د خلورو مذهبو وائی چه دې ډیر وژنی پر حق دی او نو ډیر وژنی ناحقه او ظلم دی -

(۱) چه یو مسلمان د اسلام څخه وبل دین ته واړه ی (العیاذ باالله) (۲) وژل د هغه سړی چه ناحقه ئی مسلمان یا اهل ذمه وژلی وی - چه دې ته قصاص په شرع کی وائی (۳) چه مایند لړی او نا وکړی او شاهدان خلور نفره پر تیر سی - چه دې ته رجم وائی -

سوال! پلار چه نه وی په قصد مړکړی پلار نه پر قصاص یې نو دا نه وی ئی شهید نه دی؟

جواب! ابتداءً په دغه قتل سره خو قصاص پر پلار واجب دی - لکن وروسته شرع شریف

قصاص څنی ساقط کړی په سبب د شفقت او د حق د پلار کلوی - او دیت ئی پر لازم کړی -

نو نه وی ئی شرعًا شهید دی - کذا فی رد المحتار والهدایه والکوکب -

فَيُكَفَّنُ وَيُصَلَّى عَلَيْهِ وَلَا يُغَسَّلُ وَاِذَا اسْتُشْهِدَ

نو کفن دی ورکړ سی و دغه شهید ته او لمونځ د جنازې دی ورکړ سی او غسل دی نه ورکوی (دا مسئله اتفاقی ده)

اَلْجُنُبُ غُسِلَ عِنْدَ اَبِي حَنِيفَةَ وَكَذٰلِكَ الصَّبِيُّ

او که چیرې شهید کړه سو هغه څوک چه د هغه جنب و غسل دی ورکړ سی د جنابت له سببه په نزد د امام اعظم ابی حنیفه او محمد غسی دی حکم د نابالغ (یعنی غسل دی ورکړ سی)

وَقَالَ اَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ لَا يُغَسَّلَانِ وَلَا يُغَسَّلُ عَنِ الشَّهِيدِ

او ویلی دی امام ابو یوسف او امام محمد چه غسل دی نه ورکړل کیږی شهید جنب او کوچنی شهید - او نه دی مینځلی

دَمُهُ وَلَا يُنْزَعُ عَنْهُ ثِيَابُهُ وَيُنْزَعُ عَنْهُ الْفَرْوُ وَالْحَشْوُ

د شهید څخه وینی نه دی - او نه دی کابنی د شهید څخه جامې د بدن د ده او کابنی به د شهید څخه پوستین د ده

وَالْخُفُّ وَالسِّلَاحُ وَمَنِ ارْتَثَّ غُسِلَ وَالِارْتِثَاثُ اَنْ يَاْكُلَ

او چپنه او موزې او د غه رنګه بلو نه یا چنبل یا مچني او کابنی به د ده څخه د سر سته یعنی تر ډوډۍ یا تر پک کلا شنکوف وغیره - کړ چا پس له تپی کید و څخه د سر تنګ او ځنډ وکړې نو دی غسل ورکړ سی - او ارتثاث دا دی چه خوړ وکړې

اَوْ يَشْرَبَ اَوْ يُدَاوٰى اَوْ يَبْقٰى حَيًّا حَتّٰى يَمْضِيَ عَلَيْهِ وَقْتُ صَلٰوةٍ

یا چښنګ وکړې یا د وا وکړې یا باقی ژوندی وی چه پر ده تیر سی وخت د لمانځه او دی په سد کی وی پوهیږی - او یا

اَوْ يُنْقَلَ مِنَ الْمَعْرَكَةِ حَيًّا وَمَنْ قُتِلَ فِي حَدٍّ اَوْ قِصَاصٍ غُسِلَ وَصُلِّيَ

او یا یستل سی د جنګ د میدان څخه ژوندی - او څوک و وژل سو په حد (لکه زنا) یا په قصاص کی غسل دی ورکړ ی او لمونځ د جنازې وی

عَلَيْهِ وَمَنْ قُتِلَ مِنَ الْبُغَاةِ وَقُطَّاعِ الطَّرِيقِ لَمْ يُصَلَّ عَلَيْهِ

ورکړی او که څوک د باغیانو څخه و وژل سو او یا د لاړ و هو نکو څخه نو لمونځ دی نه ورکوی د ده ته -

بَابُ الصَّلٰوةِ فِی الْکَعْبَةِ

باب دئ په بیان کی دلمانځه په خونه کی د کعبې مکرمې

اَلصَّلٰوةُ فِی الْکَعْبَةِ جَائِزَةٌ فَرْضُهَا وَنَفْلُهَا

لمونځ په خونه کی د کعبې شریفې روا دئ فرض ئ او نفل ئے۔

داهم زمونږ مذهب دئ۔ او امام شافعئ وائی چه هیڅ لمونځ په خونه کی د کعبې شریفې نه دئ روا۔ په صحیح حدیث کی چه روایت ئ امام بخاری او نور وکتابو کړی دئ۔ راغلی دی چه آنحضرت صلی الله علیه وسلم په کال د فتحی د مکې شریفې داخل سو د مکه معظمه ته اود وه رکعته نفل ئ پکښې وکړه۔ نو داکه څه هم نفل وه لکن فرض لمونځ پر قیاس دئ

فَاِنْ صَلَّی الْاِمَامُ فِیْهَا بِجَمَاعَةٍ فَجَعَلَ بَعْضُهُمْ

نو که امام لمونځ کاوه په خونه کی د کعبې شریفې په جماعت سره نو وکړل بعضو مقتدیانو

ظَهْرَهٗ اِلٰی ظَهْرِ الْاِمَامِ جَازَ

شاخپله د شا ته د امام نور روا دئ۔ (ولی چه امام او څه مقتدیان ټول مخامخ ویودیوال ته د کعبې دی

وَمَنْ جَعَلَ وَجْهَهٗ مِنْهُمْ اِلٰی وَجْهِ الْاِمَامِ جَازَ وَیُکْرَهُ

او څه قدمه کافی دی) او که چا وکړل خاوه مخ خپل د مقتدیانو څخه د مخ ته د امام لمونځ ئ روا دئ (ولی چه د مقتدی مخ هم ویوه دیوال ته د کعبې شریفې دئ) لکن مکروه دئ۔

وَمَنْ جَعَلَ مِنْهُمْ ظَهْرَهٗ اِلٰی وَجْهِ الْاِمَامِ لَمْ تَجُزْ صَلٰوتُهٗ

او که چا وکړل د مقتدیانو څخه شاخپله د مخ ته د امام د هغو مقتدیانو لمونځ نه دئ روا (ولی چه قرار امام مخکی د امام

وَاِذَا صَلَّی الْاِمَامُ فِی الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ تَحَلَّقَ النَّاسُ

پر جهت کی ولاړ دئ) او که امام لمونځ کاوه په مسجد حرام کی یعنی په مسجد کی د کعبې شریفې نو شاو خوا دی راوګرځی

حَوْلَ الْکَعْبَةِ وَصَلُّوْا بِصَلٰوةِ الْاِمَامِ

خلک پر کعبه شریفه او لمونځ دی کوی د هغه خلق په لمانځه د امام سره (یعنی په جماعت سره)

فَمَنْ کَانَ مِنْهُمْ اَقْرَبُ اِلَی الْکَعْبَةِ مِنَ الْاِمَامِ

پس هغه سړی چه وی د مقتدیانو څخه نژدې وکعبې شریفې ته ټ امام لمونځ ئ روا دی۔ که چیرې

جَازَتْ صَلٰوتُهٗ اِذَا لَمْ یَکُنْ فِیْ جَانِبِ الْاِمَامِ

په طرف کی د امام نه وی (ولی چه د امام په طرف کی چه وی خو ټ امام د مخه سوا د دا روا نه دئ)

وَمَنْ صَلّٰی عَلٰی ظَهْرِ الْکَعْبَةِ جَازَتْ صَلٰوتُهٗ

او که چا لمونځ وکړی پر بام د کعبې شریفې نو لمونځ ئ روا دئ۔

پوه سئ! چه په دې مسئله کی امام شافعئ مخالف دئ هغه وائی چه د دغه سړی لمونځ نه دئ روا۔ د دې اختلاف سبب دا دئ چه قبله د امام شافعئ په مذهب کی فقط داخونه مبارکه ده۔ او زمونږ په نزد قبله د هغه میدان دی چه خونه پکښې ده ټ آسمانه پورې نو د دغه سړی لمونځ هم وکعبه ته دی۔ زمونږ د مذهب دلیل دادی چه خونه د کعبې په زمانه د عبدالله بن الزبیر رضی الله عنه کی د حجاج بن یوسف د ما بین څخه ولاړه۔ او خلکو لمونځونه و هوا ته د کعبې کوله۔ او بلدا چه جبل ابی قبیس چه کعبې شریفې ته نژدې غږدئ۔ او ټر خونه د کعبې شریفې ډیر لوړ دئ۔ پر دې عذر بالا لمونځ په اتفاق روا دئ۔ سره د دې چه خونه ئ څه نسته۔

مسئله: د فقهی شریفی کتابونه وائی چه د لمونځ اګرچه روا خو دئ لکن مکروه دی۔ ولی چه په دې کی ترک د تعظیم د بیت الله شریف دی او په صحیح حدیث کی هم منع حتی راغلی ده۔

فائده: د نور و مسجد و حکم د کعبې نه دې۔ د هغو پر بامونو لمونځ هم کراهت روا دئ۔

اللهم اغفر لکاتبه و لمؤلفه ولوالدیهما ولاهلهما ولعیالهما ولاقربائهما ولجمیع المؤمنین والمؤمنات۔ آمین

کتبه محمد عبدالباری عفرله الباری

کِتَابُ الزَّکوٰۃِ

دا کتاب د زکوٰۃ په بیان کی دی

فائدہ: زکوٰۃ ئی په لمانځه پوری جفت کړی. ولی چې په قرآن مبارک کی دواړه ځایه اَقِیمُوا الصَّلٰوۃَ وَاٰتُوا الزَّکٰوۃَ راغلی دی. او په مشهوره حدیث کی چې روایت ئی تولو کتابونو د حدیثو کوی هم داسی راغلی دی، وَاِقَامُ الصَّلٰوۃِ وَاِیْتَاءِ الزَّکٰوۃِ،

مسئلہ: زکوٰۃ په دوه کاله د هجرت ترړوند ئی د هغه فرض سوی دی.

اَلزَّکٰوۃُ وَاجِبَۃٌ عَلَی الْحُرِّ الْمُسْلِمِ الْبَالِغِ الْعَاقِلِ

زکوٰۃ واجب دی پر هر آزاد سړی چې مسلمان وی بالغ وی کوچنی نه وی عاقل وی لیونی نه وی.

پوهه سره: چې واجب په اصلاح کی د فقهاؤ د هغه عمل ته وائی چې کول ئی سبب د ثواب وی او نه کول ئی سبب د دوزخ وی. او منکر ئی کافر نه کیږی لکه اضحیه، سی سایه د وتر لمونځ وغیرها. او فرض هغه عمل دی چې منکر ئی کافر بلل کیږی. نو بناءً علی هذا چونکه زکوٰۃ فرض عین دی او منکر ئی کافر دی. نو مراد د مصنف دواجب څخه فرض دی چې دا اصطلاح هم په فقه او اصولو کی ده. نو زکوٰۃ فرض دی په قرآن او حدیث او اجماع د امت او منکر ئی کافر دی.

پوهه سره: چې زکوٰۃ په لغت کی نماتړ وائی لکه په دې محاوره کی، زکی الزرع، یعنی نما او زیاتوب وکړی کښت. نو زکوٰۃ شرعی ترې دې سبب زکوٰۃ وائی چې دا اکول ئی سبب د زیاتوالی د مال دی په عوض کی په دې دنیا او په ثواب کی د آخرت. قَالَ اللّٰہُ تعالیٰ، وَمَا اَنْفَقْتُمْ مِنْ شَیْءٍ فَهُوَ یُخْلِفُهٗ، یعنی هغه شی چې تاسی نفقه کړی یعنی وچاته ئی ورکړی د هغه خدای پاک عوض درکوی او زکوٰۃ طهارت ترهم وائی لکه په دې آیت کی، خُذْ مِنْ اَمْوَالِهِمْ صَدَقَۃً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَکِّیْهِمْ، یعنی اخله د مالونو څخه د مسلمانانو زکوٰۃ او پاکوه دوی په هغو سره. نو زکوٰۃ شرعی په دې زکوٰۃ بولی چې مزکی د بخله او مال د خبث پاکوی. او بل زکوٰۃ برکت ترهم وائی زکوٰۃ شرعی سبب د برکت د مال دی. او ثنا ترهم وائی د مزکی هر سړی ثناوائی او په شرعه شریفه کی زکوٰۃ په ملک ورکول دی دیوې حصې د مال چې خدائ معینه کړې ده د پاره د خالص د رضا د خدائ د مسلمان فقیر ته.

مسئلہ: که چا مسکین ته د استوکنی سرائ یا دوکان ورکړی او په کرایه کی ئی نیت د زکوٰۃ ورنه کوه ئی نه خیزی. ولی چې د زکوٰۃ د مال جزء نه دی. دا واکیدو صورت ئی دادی چې په اندازه د کرایه د سرائ یا دوکان دی هغه مسکین ته زکوٰۃ ورکړی او بیا ترې په کرایه کی حیلی واخلی. طحطاوی. رد محتار.

مسئلہ: کوئ بزګر یا باغوان ته زکوٰۃ د ډیرو پاره ورکاوه چې بزګری یا باغوانی سره پرې دی زکوٰۃ ئی نه دی سره وا ولی چې د خدائ د رضا د پاره نه دی.

مسئلہ: کوئ د مسجد ملا یا مؤذن ته یا معلم ته په ترون یا بې ترونه زکوٰۃ ورکړی نو که دوی مسکینان وی خو په اتفاق ئی زکوٰۃ سره وادی. او که غنیان وی د معلم په زکوٰۃ کی اختلاف دی لکه چې ورسته به سره راسی او امام مسجد او مؤذن ته نه سره وادی.

اِذَا مَلَکَ نِصَابًا کَامِلًا مِلْکًا تَامًّا وَحَالَ عَلَیْهِ الْحَوْلُ

چې مالک وکړی د نصاب کامل په پوره ملک سره او تیر سی پرې کال پوره د نصابو بیان به په تفصیل سره سی

وَلَیْسَ عَلٰی صَبِیٍّ وَلَا مَجْنُوْنٍ وَلَا مُکَاتَبٍ زَکٰوۃٌ

او نه ښته پس کوچنی نابالغه او پر لیونی او پر مکاتب باندی زکوٰۃ

فائدہ: مکاتب هغه مرئ دی چې بادار ورته وائی چې په څو کښته زر روپۍ مثلاً سره اکړه نو ته آزاد ئی. نو مکاتب چې څه اندازه زر روپۍ که څه نصاب وی برابروی کړی په هغه کی زکوٰۃ نشته.

مسئلہ: پر لیونی کوچنی زکوٰۃ نشته ولی چې دوئ په عبادت مکلف نه دی. او تاوان د حقوقو د بندګانو او صدقۂ فطر او عشر پرې دوئ باندی سته. رد محتار.

وَمَنْ کَانَ عَلَیْهِ دَیْنٌ مُحِیْطٌ بِمَالِهٖ فَلَا زَکٰوۃَ عَلَیْهِ

او که چیرې پرچا پوره باندی وی داسی پوره چې احاطه ئی د ده پر مال کړې وی نو پر هغه سړی زکوٰۃ نشته

پوهه سره: چې مراد هغه پوره دی چې طلب ئی بند کان کوی. کوکب دری ۷۷. نو پوره د کفاره اتو چې پر سړی باندی وی مانع د زکوٰۃ نه دی.

وَاِنْ کَانَ مَالُهٗ اَکْثَرَ مِنَ الدَّیْنِ زَکّٰی الْفَاضِلَ اِذَا بَلَغَ نِصَابًا

او که چیرې مال تر پوره دیرو د زکوٰۃ دی ورکړی د هغه بالا بود مال که چیرې هغه بالا بود مال ئی نصاب ته رسیدی.

وَلَيْسَ فِي دُورِ السُّكْنَى وَثِيَابِ الْبَدَنِ وَأَثَاثِ الْمَنْزِلِ

اونسته نه زکوة په سرایو کې داوسیدو - اوپه کالو کې د بدن - اوپه اسبابو کې د کورداوپه

وَدَوَابِّ الرُّكُوبِ وَعَبِيدِ الْخِدْمَةِ وَسِلَاحِ الِاسْتِعْمَالِ زَكَوٰةٌ

حیوانانو کې د سپرتیا اوپه مریانو کې د خدمت اوپه سلاح کې د استعمال (یعنی په تولو نه زکوة نسته ولې چه مال نامی نه دی)

فائده: ۱ مال مطالب د بندګانو خو د غه پورې دی - قرضِ حسن - د مبیعې ثمن - د بدل د مال د تلف کولو تاوان - د تپ تاوان - وَلوَر د بنځې - بدل د صلح د خون په قصد - اوپورې عام دی که سره نه وي اوسپین نه وي - اوکه مکیل اوموزون وي لکه غنم، جوار، وریجې وغیره اوکه کالي وي - کفایه ص۱۶۸

مسئله: د ولوږې پورې که بنځه کوچنۍ وي او دوده نه وي یالوي لکن میرۀ ئې د ولوږې وکولو اراده نه لري - هغه پورې مانځ د زکوة نه دی - ذکره الامام البزدوی فی جامعه -

مسئله: پورې کتو وعده پرې باندې و او وعده ئې نه وه سیدلی - بعض علما، وائي چه مانځ د زکوة دی اوبعض وائي نه - طریقة الشهید -

قاعده کلیه: که چاهغه د کښت یا باغ نه د حاصلاتو د سلو ده چه قیمت د سر قبې د هغوې په لګولو وخې جوړیدی په هغوې وپوکې زکوة نسته - البته په حاصلاتو کې عشر یا خراج سته -

جزئیه: که چا د اوسیدو د پاره سرای کوتې بنګله جوړه کړه چې قیمت ئې په لګولو وخې وه په قیمت کې ئې زکوة نسته - جزئیه: که چا کتابونه د پیر د سلو ده چه د لګولو وپو وه خوا ه دی اهل وی اوکه نه - چې د تجارت نیت نه وي په هغوې وپوکې زکوة نسته -

سوال: په هدایه کې وائي «وَعَلَى هٰذَا كُتُبُ الْعِلْمِ لِأَهْلِهَا» نو هدایه اهل د کتابو شرط کړې دی د زکوة په نه واجبیدلو کې - جواب: په فتح القدیر اوپه عنایه کې ص۱۳۰ ج۲ وائي چه دا قید اتفاقي دی - «فَإِنَّهَا لَوْ كَانَتْ لِمَنْ لَيْسَ مِنْ أَهْلِهَا وَهِيَ تُسَاوِي نِصَابًا لَا تَجِبُ فِيهَا الزَّكَوٰةُ إِلَّا أَنْ يَكُونَ أَعَدَّهَا لِلتِّجَارَةِ اه»

الفرق بين اهل العلم وغيرهم

د غیر اهل علم سره چه کتابونه وي چه نصاب ته رسیږي وهغه ته د بل چا د زکوة اخستل ناروا دی - اوکه سړی اهل علم وو اوپه هغو کتابو چه د ده سره دی یا په درس یا مطالعه پوهیدی نو هغه ته د بل چا زکوة روا دی که څه هم د هغو کتابو قیمت نصاب ته رسیږي یا نه لاوي -

مُلَّا ئی حیله: یو ملا چه د کنز یا قدوري یا د شمې ملاوي هغه د احادیثو د غټو شروحو یا د لویو لویو کتابو د تفاسیرو او یا د فقهې د لویو فتاوا و وچه په هغوی کې نه پوهیږي خریداري

کوي په دې نیت چه ماته د بل چا زکوة رسي اسې هغه ته زکوة اخستل ناروا دی - ولې چه دې ئې اهل نه دی - دیر ملایان اماما ن په دې حیله خانونه فقیرانوي چه د خلکو څخه زکوة واخلي خو دا حیله ئې بنه نه ده اوزکوة اخستل ورته حرام دی -

د کتابو په باره کې تحقیق

په فتح القدیر ص۱۳۰ ج۲ کې دا سې راغلی دی چه اهل علم یعنی مدرس ملایان که چیرې محتاج وه هغه کتابونه چې د دوی ته موجودوی احتیاج یا د درس د پاره یا د مطالعې د پاره یا د مشکلاتو د حل کولو کتابونه د حل د پاره یا د خلکو ته د فتوې ورکولو د پاره یا د تبلیغ او نصیحت د پاره هغه عالم فقیر دی که څه هم د هغو کتابو چه د ده سره دی قیمت ئې تر نصاب بالاوي - ولې د اکتابونه په حاجتِ اصلی مشغول دی -

مسئله: فتح القدیر ص۱۳۰ ج۲ د علم د پاره د حاجت کتابونه د تفسیر القرآن، احادیث نبویه، فقه، عقائد، سیرة النبی کتابونه دی - او د ادبو کتابونه، د طبو کتابونه، د نحو کتابونه، د صرفو کتابونه، د عروضو کتابونه، د تاریخ کتابونه د منطقو کتابونه، د سیاضی کتابونه، د حکمت کتابونه وغیره ها که ئې چیرې قیمت نصاب ته رسیدی هغه ملا غنی دی - د بل زکوة ورته حرام دی - اګرچه د دغو کتابو په قیمت کې زکوة نسته چه د تجارت د پاره نه وي -

مسئله: هغه کتابونه چه زکوة اخستل ورسره روا دی لکه چه د کلي سوله بعض فقهاء وائي چه د هر کتاب د وې نسخې پرواه نه لري - لکن فتح القدیر وائي چه یوه یوه نسخه پروا نه لري که د یرې نسخې د یوه کتاب وي چه قیمت ئې نصاب ته رسیدی وهغه ملا ته زکوة حرام دی - فتح القدیر ص۱۳۰ ج۲

جزئیه: که چا د سپرتیا د پاره موټر سائیکل یا موټر په ډیرو وپو چه تر نصاب تیر وي لکه په اوس زمانه چه یو موټر د سپرتیا په لګولو وپو دی سرا نیولی وو د قیمت پورې وپوکې زکوة نسته

مسئله: که یو چا سروایس، بس، لاري وغیره په ډیرو وپو سرا نیولی وه د کرایه د پاره یعنی د مزدورۍ د پاره او د عیال د نفقې د پاره د هغه د قیمت پورې وپوکې زکوة نسته - البته کې د مزدورۍ سره سره وپه نصاب ته رسیدې او کال پرې تیر سو په هغه کې زکوة سته -

جزئیه: که د چا په کور کې قیمتي غالۍ اواني وې که څه هم پالتو اواني وي د تجارت د پاره نه وې د هغو په قیمت کې زکوة نسته که څه هم نصاب ته رسیږي - البته که د پالتو غالیو قیمت نصاب ته رسیدی وهغه مالک ته ئې د بل زکوة حرام دی -

مسئله: که یوه سړی کوم کوم پوستینان او کوم پتوان چه قیمتونه ئې تر نصاب تیر وي

د سرلوړه د هغو په قیمت کې زکوة نشته۔ البته تریو کې می کړې که پوستین وی او که بل شی وی چه بالاوی او قیمت یې نصاب ته رسیږی وهغه تر زکوة حرام دی۔

مسئله: که د چاپه کور کې یخچال یا د کندلو مشین یا د خامک د وینې مشین یا د کالو د یخلو مشین وی او قیمتونه یې نصابو ته رسیږی پر هغه سړی د قیمتو زکات نشته۔ البته که د غه شیان د ملا صاحب په کور کې وی احتمال لری چه د وخت په تناسب دی د حاجت اصلی څخه وی او مانع د زکات احتسلو دی نه وی۔ د غه رنګه د جیب یا لاس قیمتی ساعت "وَلَمْ أَرَهُ بِعَيْنِهِ"

سوال: په رد محتار کې وائی چه طالب علم ته چه مدرس هم په دې کې داخل دی یعنی هغه هم په طلب د علم کې دی که څه هم ډیر غنی وی زکوة ورکول دی د اخبره صحیح او که نرده حتی امیان وائی چه ملا صاحب که څه هم دسرو زرو په حیثیت کې سپوږی وی هم زکوة ورته ورکول دی۔

جواب: اول دا یو ضعیف روایت دی مفتی بها نه دی۔ او که صحیح هم وی نو په محض نامه طالب العلم او ملا صاحب نه دی مراد بلکه هغه طالب العلم یا مدرس ملا مراد دی چه څوند وخت چه مزدورکار ته دوامی په من دوری کې تیی وی د غه طالب العلم یا ملا صاحب ډې په هغه مقدار د سبق په ویلو یا مطالعه کې تیی وی وایی۔

مسئله: که یو سړی خیاط وو یا نجار وو او یا بل کسبکار وو چه شاګردان ډې ډیر د لوړو چه هغوته ډې دکالو مشینان یا د نجارۍ مکرر اسباب رسانیولی وه د هغو په قیمت کې زکوة نشته لکن د بل زکوة اخستل وړ ته حرام دی۔

مسئله: که یو چا پالتو سړی د سرلوړی او هغه ډې چا ته په کرایه ورکړی وو د هغه سړی په قیمت کې زکوة نشته لکن د بل چا زکوة وړ ته حرام دی۔ ولی چه د اسړی تر حاجت اصلی زیاته دی۔

مسئله: په ننی زمانه کې لوی تو پنچه یا توفک یا کلاشنکوف د حاجت اصلی څخه کنډل کیږی او د زکوة مانع نه کیږی۔

وَلَا يَجُوزُ أَدَاءُ الزَّكٰوةِ إِلَّا بِنِيَّةٍ مُقَارِنَةٍ لِلْأَدَاءِ

او نه د سړو او ورکړه د زکوة مګر په نیت چه جفت د ورکړی سره وی او د ورکولو په وخت کې نیت وی

أَوْ مُقَارِنَةٍ لِعَزْلِ مِقْدَارِ الْوَاجِبِ

او یا نیت جفت وی د هغه وخت سره چه د زکوة مال ورکوی

نیت ولی غواړی؛ ولی زکوة خو عبادت دی په عبادت کې نیت شرط دی که څه هم د هغه

ټ عبادت وی لکه د روژې نیت د پیشلمی څخه۔ یعنی د زکوة مال جلا کړی چه د زکات دی نو بیا که ترڅو ورځو وروسته ورکړی کې نیت نه وی پروا نه لری۔

مسئله: د زکوة په ورکړه کې د زکوة د خولې ویلو نه غواړی بلکه د زړه نیت اعتبار لری۔ البته د خولې ویلو ډیر فائده کوی که هغه سړی غنی وی یا سید وی نو په دوائی چه پر مانه زکوة نه کیږی یعنی نه ده ډې اهل دا خستلو نه یم۔

مسئله: زکوتونه، عشرونه، خراجونه د اسلامی حکومت حق دی چه تول ډې کړی او بیا حکومت د علماؤ، مدرسینو، قاریانو، مؤذنانو او طالبانو ته د هغه مال څخه تنخواه په قدر د ضایکفی ورکوی۔ او که چیرې اسلامی حکومت نه وی یا ملایانو وغیره هم ته ډې تنخواه نه ورکوله نو په دې صورت کې دی مالکان پخپله خپل زکوة وعشر د فقراؤ و مساکینو ته ورکوی۔

وَمَنْ تَصَدَّقَ بِجَمِيعِ مَالِهِ وَلَمْ يَنْوِ الزَّكٰوةَ سَقَطَ فَرْضُهَا عَنْهُ

که یو چا خیرات کړی تول مال خپل او نیت ډې د زکات نه وکړی ساقط سو د ده څخه فرض د زکات (او زکات پرې نشته)

بَابُ زَكٰوةِ الْإِبِلِ

باب دې په بیان کې د زکوة د اوښانو

لَيْسَ فِي أَقَلَّ مِنْ خَمْسٍ ذُودٍ مِنَ الْإِبِلِ صَدَقَةٌ فَإِذَا

نشته په کم کې تر پنځه اوښه د اوښانو څخه زکوة۔ پس چه وسیږی اوښان

بَلَغَتْ خَمْسًا سَائِمَةً وَحَالَ عَلَيْهَا الْحَوْلُ فَفِيهَا شَاةٌ

پنځه ته چه پخپله خوله ډې څرګاو وی او تیر سو پر هغو اوښانو کال نو په هغو کې زکوة یو پسه کیږی۔

پوهه سئ: چه د اوښانو څرګاو پخپله خوله اکثر کې د کال معتبر دی۔ که یو چا د اوښانو پر کور نفقه وغواړی په هغو کې زکوة نشته۔ البته که توله کال یا اکثر کال پر کور نفقه غواړی په هغو کې نشته۔

مسئله: د کرې په کښتۍ په اوښانو کې زکات نشته۔

مسئله: که چیرې یو چا اوښان د تجارت د پاره ساتلی وه په هغو کې که څه هم پخپله خوله

خر کوی زکات دا وبنانو نسته ـ بلکه زکات دنغدو پو سته ـ کوکب دری ص۲۸

اِلٰی تِسعٍ فَاِذَا بَلَغَتْ عَشْرًا فِیْهَا شَاتَانِ اِلٰی اَرْبَعَ عَشْرَةَ

بیا تر نو او بنانو پوری (یعنی یو پسر دی) پس چه او بنان لس ته ورسیدی نو په هغوی کی دوه پسونه کیږی تر څوارلسو پوری. یعنی تر څوارلس او بنانو پوری هغه دوه پسونه زکات دی ـ

فَاِذَا کَانَتْ خَمْسَ عَشْرَةَ فِیْهَا ثَلٰثُ شِیَاهٍ اِلٰی تِسْعَ عَشْرَةَ

پس چه پوره سوه پنځلس او بنان نو په هغی کی زکات دری پسونه دی تر نولس پوری ـ

فَاِذَا کَانَتْ عِشْرِیْنَ فِیْهَا اَرْبَعُ شِیَاهٍ اِلٰی اَرْبَعَ وَعِشْرِیْنَ

پس چه سوه او بنان شل نو په هغوی کی زکات څلور پسونه دی بیا تر څلیرویشت پوری داخلوړ پسونه دی ـ

فَاِذَا بَلَغَتْ خَمْسًا وَعِشْرِیْنَ فِیْهَا بِنْتُ مَخَاضٍ اِلٰی خَمْسٍ وَّثَلٰثِیْنَ

پس چه ورسیدی او بنان پنځویشت نو نو په هغوی کی زکات یوه جونکی ده چه یو کال ئی پوره سوی وی او دوهم کال ته داخله سوی وی ـ بیا تر پنځه دیرش پوری دغه یوه جونکی ده ـ

مسئله: داو بنانو نو په زکات کی خاطبا بنځه ورکوی چه نسل وکړی ـ

فَاِذَا بَلَغَتْ سِتًّا وَّثَلٰثِیْنَ فِیْهَا بِنْتُ لَبُوْنٍ اِلٰی خَمْسٍ

پس چه ورسیدی او بنان شپیته تر نو په هغوی کی یوه دوه کاله جونکی ده (چه دریم کال ته داخله سوی وی) بیا تر پنځه

وَاَرْبَعِیْنَ فَاِذَا بَلَغَتْ سِتًّا وَّاَرْبَعِیْنَ فِیْهَا حُقَّةٌ اِلٰی سِتِّیْنَ

څلویښت پوری پس چه ورسیدی او بنان شپږ څلویښت تر نو په هغوی کی زکات یوه دوه کاله جونکی ده (چه څلرم کال ته داخله سوی وی) بیا تر شپیتو پوری دغه یوه جونکه زکات دی ـ

فَاِذَا بَلَغَتْ اِحْدٰی وَسِتِّیْنَ فِیْهَا جَذَعَةٌ اِلٰی خَمْسٍ وَّسَبْعِیْنَ

پس چه ورسیده او بنان ویو شپیته تر نو په هغوی کی زکات دځلورو کالو اوښه ده (چه پنځم کال کی داخلوی) بیا تر پنځه اویا پوری دغه یوه جذعه ده ـ

فَاِذَا بَلَغَتْ سِتًّا وَّسَبْعِیْنَ فِیْهَا بِنْتَا لَبُوْنٍ اِلٰی تِسْعِیْنَ

پس چه پوره سی شپږ اویا نو په هغوی کی زکات دوه ځوانی دوه کالو جونکی دی بیا تر نوی پوری

وَاِذَا کَانَتْ اِحْدٰی وَتِسْعِیْنَ فِیْهَا حِقَّتَانِ اِلٰی مِائَةٍ وَعِشْرِیْنَ

کم سوه او بنان یو نوی پس زکوة ئی دوه ځوانی دوه کالو جونکی دی بیا تر یو سل اویشلو پوری

پوه سئله: چه په بخاری شریف او تولو کتابو کی داحادیثو مبارکو راغلی دی چه په دغه تیر سوی حساب رسول الله صلی الله علیه وسلم وخپلو عاملانو تر مکتی بو نه استولی دی ـ او بیا په زمانه کی د خلفاء راشدینو هم دغه حکم وو ـ ثم وَ ثم الی یومنا هذا بل الی یوم القیامة ـ

ثُمَّ تَسْتَأْنِفُ الْفَرِیْضَةَ فَیَکُوْنُ فِی الْخَمْسِ شَاةٌ مَعَ الْحِقَّتَیْنِ

وروسته تر یو سل و شلو دی دسره راوګرځی فرض (یعنی زکات) (یعنی تر یو سل اویشلو چی او بنان بالاسی یعنی یو سل اویخښت سی) نو په هغوی کی زکوة یو پسر سره دوه حقی دی ـ

وَفِی الْعَشْرِ شَاتَانِ وَفِی خَمْسَ عَشْرَةَ ثَلٰثُ شِیَاهٍ وَفِی عِشْرِیْنَ

او په لسو کی دوه پسونه دی او په پنځلسو کی دری پسونه دی او په شلو کی څلور پسونه دی

پوه سئله: چی پنځه بالاسی نو (۱۲۵) کیږی او چه لسی بالاسی نو (۱۳۰) کیږی او چه پنځلس بالاسی نو (۱۳۵) کیږی او چه شل بالاسی نو (۱۴۰) کیږی ـ

اَرْبَعُ شِیَاهٍ وَفِی خَمْسٍ وَعِشْرِیْنَ بِنْتُ مُخَاضٍ

او په پنځویشت کی دیوه کال جونکی ده سره دوه حقی ـ چه مجموع او بنان (۱۴۵) سی نو دوه حقی یوه بنت مخاض پنځه زکوة کیږی ـ

اِلٰی مِائَةٍ وَخَمْسِیْنَ فَیَکُوْنُ فِیْهَا ثَلٰثُ حِقَاقٍ ثُمَّ تَسْتَأْنِفُ

بیا تر سل و پنځوس پوری او په (۱۵۰) کی دری حقی زکوة دی ـ او بیا دی دسره راوګرځی

الْفَرِیْضَةَ فَفِی الْخَمْسِ شَاةٌ وَفِی الْعَشْرِ شَاتَانِ وَفِی

زکات نو پیښه او بنانو کی یو پسر دی سره دهغه څخی زکات او په لسو کی دوه پسونه دی ـ او په

خَمْسَ عَشَرَ ثَلٰثَ شِيَاهٍ وَفِي الْعِشْرِيْنَ اَرْبَعَ شِيَاهٍ وَفِي

پنځلسو کې درې پسو نه دی ۔ او په شلو او ښانو کې څلور پسو نه زکوة کښې دی او په پنځویشت

خَمْسٍ وَعِشْرِيْنَ بِنْتَ مَخَاضٍ وَفِي سِتٍّ وَثَلٰثِيْنَ بِنْتَ لَبُوْنٍ

او ښانو کې یوه دیوه کال جونګه او په شپین دیرش او ښانو کې یوه دوه کاله جونګه زکات کښې دی۔

فَاِذَا بَلَغَتْ مِائَةً وَسِتًّا وَتِسْعِيْنَ فَفِيْهَا اَرْبَعُ حِقَاقٍ اِلٰى مِائَتَيْنِ

پس چې وسپنې او ښانو ویو سل وشپیڅ نو نو په هغو څلورو حقې دی بیا تر دوه سوه پورې

ثُمَّ تَسْتَاْنِفُ الْفَرِيْضَةَ اَبَدًا كَمَا تَسْتَاْنِفُ فِي الْخَمْسِيْنَ

او بیا دې دسره سره او کړه څوې زکات همیشه لکه چې سره کې څه پنځوس کې لکه چې

اَلَّتِيْ بَعْدَ الْمِائَةِ وَالْخَمْسِيْنَ وَالْبُخْتُ وَالْعَرَبِيُّ سَوَاءٌ

وسوستر یو سل وپنځوس ته سره کې څاوه ۔ بختی او عربي اوښان په زکوة کې سره برابر دی۔

بخت جمع د بختی دی هغه اوښ دی چې عرب او عجم اوښان سره یوځای کړي یعنی نر ئ عربي اوښځه ئ عجمي وي او بالعکس چونکه دا کار اول بخت نصر کړې وو نو حکماً ورته منسوب کړې او عربي هغه اوښ دی چې هوسا اوپلاسره وارې ئ عربي وي۔

بَابُ صَدَقَةِ الْبَقَرِ

باب دی په بیان د زکات دغویو اوغواوو۔ د بقر لفظ اسم جنسی دی نر او ښځې دواړه وتر ویل کیږي۔

لَيْسَ فِي اَقَلَّ مِنْ ثَلٰثِيْنَ مِنَ الْبَقَرِ السَّائِمَةِ صَدَقَةٌ فَاِذَا

نسته په کم کې تر دیرشو غویو چې څړکوونکي وي زکات ۔ پس چې سوه

كَانَتْ ثَلٰثِيْنَ سَائِمَةً وَحَالَ عَلَيْهَا الْحَوْلُ فَفِيْهَا

غوایی دیرش چې پخپله خولې څړکاوه او تیر سو پرې هغو باندې کال نو په هغو غویو کې یا نر یا ښځه د

تَبِيْعٌ اَوْ تَبِيْعَةٌ وَفِي اَرْبَعِيْنَ مُسِنَّةٌ اَوْ مُسِنٌّ

یوه کال کلکی دی (چې کال فې پوره وي) او په دوه اوم کال کې داخل وي) او په څلویښتو کې دوه کاله نر یا ښځه کلکی ده۔

فَاِذَا زَادَتْ عَلَى الْاَرْبَعِيْنَ وَجَبَ فِي الزِّيَادَةِ

پس کله چې زیاتې سوې غوایې تر څلویښتو نو واجب دی زکات په هغه زیادې کې په قدر

بِقَدْرِ ذٰلِكَ اِلٰى سِتِّيْنَ عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ فَفِي الْوَاحِدَةِ رُبُعُ عُشْرِ مُسِنَّةٍ

د هغه زیادتی شپیتو پورې او دا په نزد د ابو حنیفه ۔ نو کله چې نر یا ښځه غوی کې زیاتې سې په هغه کې زکات د لسمې حصې څلورمه حصه د مسنه

مثلاً قیمت د مسنه (۴۰) سوه روپۍ وي لسمه حصه ئ (۴) سوه روپۍ کیږي او د (۴) څلورمه حصه ئ یوه سوه روپۍ

دا نو یوه سوه روپۍ زکات دی۔ پرې د هغه قیاس کر قیمت بالا یا کم وي۔

وَفِي الْاِثْنَيْنِ نِصْفُ عُشْرِ مُسِنَّةٍ

او کله دوه غوایې بالاوه سوه روپۍ په هغو کې د لسمې حصې د قیمت د مسنې نیمه حصه کیږي۔

مثلاً په مذکوره صورت کې دوو غویو زکات دوه سوه روپۍ دی۔ وعلی هذا القیاس۔

وَفِي الثَّلٰثَةِ ثَلٰثَةُ اَرْبَاعِ عُشْرِ مُسِنَّةٍ

او په دریو کې د دریو څلورمې د قیمت د مسنې زکات دی۔

وَقَالَ اَبُوْ يُوْسُفَ وَمُحَمَّدٌ لَا شَيْءَ فِي الزِّيَادَةِ حَتّٰى

او وائي امام ابو یوسف او امام محمد چې په زیاتې غویو کې هیڅ زکات نسته تر څو چې ورسیږي

تَبْلُغَ سِتِّيْنَ فَيَكُوْنَ فِيْهَا تَبِيْعَانِ اَوْ تَبِيْعَتَانِ وَفِي

تر شپیتو پورې نو دې زکات په شپیتو کې دوه دیوه کال کلکیان یا کلکیانې ۔ او په

سَبْعِينَ مَسِنَّةً وَتَبِيعٌ وَفِي ثَمَانِينَ مَسِنَّتَانِ وَفِي تِسْعِينَ

اوڻیا کی یو ددوو کالو اوبل دیوه کال کلکیان نر یا بنځه نه زکات دی۔ اوپه اتیا کی دوه مسنې کیږی اوپه نوی کی

ثَلٰثَةُ أَتْبِعَةٍ وَفِي مِائَةٍ تَبِيعَتَانِ وَمُسِنَّةٌ وَعَلٰى

دری تبیع نه زکات دی اوپه سلو کی دوه تبیع او یوه مسنه کیږی اوپر دغه دول تغیر کوی فرض دی زکات

هٰذَا يَتَغَيَّرُ الْفَرْضُ فِي كُلِّ عَشْرٍ مِنْ تَبِيعٍ

چه بالا سی پر هرلس کی د تبیع څخه او مسنه ته (یعنی بالا کیږی اولوړیږی دیوه کال د کلکی څخه ددوو کالو

إِلٰى مُسِنَّةٍ وَالْجَوَامِيسُ وَالْبَقَرُ سَوَاءٌ ؕ

کلکی ته) اوکامیښی نر یا بنځی او غوایی سره برابر دی۔

بَابُ صَدَقَةِ الْغَنَمِ

باب دی په بیان کی د زکات د پسو یا بزو

فائده: د غنم لفظ پسه نر یا بنځه اوبزه نر یا بنځه تولو ته وائی اومتاپسه اوميږی نه وائی اومغز بوټه چا اوونه کړی نه وائی۔

لَيْسَ فِي أَقَلَّ مِنْ أَرْبَعِينَ شَاةً صَدَقَةٌ فَإِذَا كَانَتْ

نسته په کم کی نه څلویښتو پسو زکات۔ پس چه وه سیده پسونه

أَرْبَعِينَ شَاةً سَائِمَةً وَحَالَ عَلَيْهَا الْحَوْلُ فَفِيهَا شَاةٌ

وڅلویښت نه چه پخپله خوله ځی څرکاوه اوپر دوی کال تیر سو نو په هغوی یو پسه زکات دی

إِلٰى مِائَةٍ وَعِشْرِينَ فَإِذَا زَادَتْ وَاحِدَةً فَفِيهَا شَاتَانِ

بیا تر یو سل وشلو پورې دغه یو پسه دی بیا که پسه نور یات سو نو په هغوی دوه پسونه زکات کیږی

إِلٰى مِائَتَيْنِ فَإِذَا زَادَتْ وَاحِدَةً فَفِيهَا ثَلٰثُ شِيَاهٍ فَإِذَا

بیا تر دوه سوه پورې (دغه دوه پسونه زکات دی) بیا چه نور یات سی تر دوه سوه یو پسه نو په هغوی دری پسونه زکات دی پس

بَلَغَتْ أَرْبَعَ مِائَةٍ فَفِيهَا أَرْبَعُ شِيَاهٍ ثُمَّ فِي كُلِّ مِائَةٍ شَاةٌ

چه وه سیده څلور سوه نو نو په هغوی څلور پسونه زکات دی وروسته په هر سل کی یو پسه زکات کیږی

مثلاً که پسونه پنځه سوه دانې وی پنځه پسونه فی زکات دی۔ اوکه اووه سوه وی نو په هغوی اووه

پسونه زکات دی۔ همدارنګه تر سوه بیا تر پایه پورې۔

وَالضَّأْنُ وَالْمَعْزُ سَوَاءٌ

اوپسه جنس اوبز جنس سره برابر دی په زکات کی

یعنی دیوه نصاب په بل پورې کیږی۔ اوکه یوازې هر یو وی نصاب اونه زکات فی هغه دی چه ذکر سو۔

بَابُ زَكٰوةِ الْخَيْلِ

باب دی په بیان کی د زکات د آسانو

إِذَا كَانَتِ الْخَيْلُ ذُكُورًا وَإِنَاثًا وَحَالَ عَلَيْهَا الْحَوْلُ

که چیرې وه آسان نر او بنځی سره او تیر سو پر هغو باندې کال

فَصَاحِبُهَا بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ أَعْطٰى مِنْ كُلِّ فَرَسٍ دِينَارًا

پس مالک د آسانو اختیار لري که څوښه وی ورکړی هر آس پر سو باندې یو دینار په کال کی

وَإِنْ شَاءَ قَوَّمَهَا فَأَعْطٰى مِنْ كُلِّ مِائَتَيْ دِرْهَمٍ خَمْسَةَ دَرَاهِمَ

اوکه څوښه وی آسان دی قیمت کړی نو دی ورکړی په هر دوو سوو درهمو کی پنځه دراهم

وَلَيْسَ فِي ذُكُورِهَا مُنْفَرِدَةً عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ زَكُوٰةٌ وَقَالَ

اوښته په نر و آسانو کې يوالۍ (چه بنځې نه وي او سره) په نزد د امام صاحب زکات نه کيږي۔ او وايي

أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ لَا زَكُوٰةَ فِي الْخَيْلِ وَلَا شَيْءَ فِي الْبِغَالِ

امام ابو يوسف او امام محمد چه هيڅ زکوة نه ښته په آسانو کې۔ او هيڅ شی نه ښته په غاګو و

وَالْحَمِيرِ إِلَّا أَنْ تَكُونَ لِلتِّجَارَةِ وَلَيْسَ فِي الْفَصْلَانِ وَالْحُمْلَانِ وَالْعَجَاجِيلِ

اوخرو کې مګر هغه وخت چه د تجارت د پاره وي۔ او نه ښته زکوت په جوګيانو اوو ديمانو او ګڼګيانو کې۔

فَصْلَان جمع د فصيل دی هغه جوګی ترڅو چه د دوه کال نه وي سره سيدلی۔ حُمْلَان جمع د

حمل دی هغه وړی ترڅو چه د پوره کال نه وي۔ عجاجيل جمع د عِجْل دی هغه ګڼګی ترڅو چه کال نه وي

پوره سوی۔

زَكُوٰةٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ إِلَّا أَنْ تَكُونَ مَعَهَا كِبَارٌ

يعنی نه ښته په دغو شيانو کې په مذهب د امام صاحب او امام محمد زکات مګر هغه وخت کې وي د دغو سره لويان دوي

يعنی کې لويان او کوچنيان ګډ وي دا بيا تولې حسابيږي کې او په تولو کې زکات فرض دی۔

وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ تَجِبُ فِيهَا وَاحِدَةٌ مِنْهَا

او وايي دی امام ابو يوسف چه په دغو کوچنيانو کې هم زکوة ښته يو د دوی څخه په وړه کې (فتوی پر قول د طرفينو ده کذا في التحفة)

وَمَنْ وَجَبَ عَلَيْهِ سِنٌّ فَلَمْ يُوجَدْ أَخَذَ الْمُصَدِّقُ أَعْلَى مِنْهَا

او کې پرچا واجب وي سن او هغه نه پيدا کيږي د مالک سره نو وي زکوة اخستونکی دی تر سن لوړ څخه د اخلی

يعنی خاځنا مالک نه دی مکلف چه سن به پيدا کوی۔

وَرَدَّ الْفَضْلَ أَوْ أَخَذَ دُونَهَا وَأَخَذَ الْفَضْلَ وَيَجُوزُ

او مصدق دی وړه کې هغه بالا بود سره په او يا دی کم تر سن څخه او اخلی او هغه بالا بود سره په دی هم څخه او اخلی۔ او

دَفْعُ الْقِيَمِ فِي الزَّكَاتِ وَلَيْسَ فِي الْعَوَامِلِ وَالْحَوَامِلِ وَالْعُلُوفَةِ زَكَاةٌ

او ورځادې وړه کې د قيمتو د دغو حيوانانو په زکوة کې۔ او نه ښته په هغه غويو کې چه يوې او غوبل په کوی او

په هغه اوښانو کې چه کرنيز په کوی او په هغو حيوانانو کې چه پرکوه وهلو او اچوی (په خوله څرنه کوی) زکوة نه ښته۔

مسئله: په نزد د امام اعظم صاحب په عشر کې په سر سايه کې په نذر کې په کفاره کې توکې هم وړه کې د

قيمت روا دی۔ کوکب دری ص۔ وهكذا في الهداية ورد المحتار وغيرهما عند أبي حنيفة رح۔

وَلَيْسَ لِلْمُصَدِّقِ أَخْذُ خِيَارِ الْمَالِ وَلَا رَذَالَتِهِ وَ

او نه ښته يعنی نه دی روا مصدق ته اختيار د ښو د غوره مال په زکوة کې او نه هم هغه بيکاره د د غوره مال بلکه ميانه

يَأْخُذُ الْوَسَطَ وَمَنْ كَانَ لَهُ نِصَابٌ فَاسْتَفَادَ فِي أَثْنَاءِ

دی څخه واخلی (يعنی چه يو تن اوښان د سلو دی دهغه مالګه چه وی پس وې کاتی په مابين کې د کال

الْحَوْلِ مِنْ جِنْسِهِ ضَمَّهُ إِلَى مَالِهِ وَزَكَّاهُ بِهِ

د هغه جنسه څخه د نصاب تر هغه مال نو هغه تر هغه مال دی هم وشمارې مال ته د ده جوت کړې او د تولو مالونو زکوة دی وړه کړی

يعنی پر نوی مال چه ده کتلی دی کال تير بيدل شرط نه دی۔

مسئله: کرسره اوښانی يا مينې يا غواوی د سلو دی او د هغې په شيد و يا شلو هيو يا کوچنی روا دی

وکتلې هغه روپۍ جلا کال تير بيدو غواړی۔

وَالسَّائِمَةُ هِيَ الَّتِي تَكْتَفِي بِالرَّعْيِ فِي أَكْثَرِ الْحَوْلِ فَإِنْ

او سائمه هغه مال ته وائی چه کذا اړه کوی په اکثره کال کې په پو ولوا و څرس ره۔ کرنيز چيرې

عَلَفَهَا فِي نِصْفِ الْحَوْلِ أَوْ أَكْثَرِهَا فَلَا زَكُوٰةَ فِيهَا ثُمَّ

وابنه وړاچول پر کوه په نيم کال کې يا بالا تر نيم کال نو په هغه مال کې زکوة نه ښته۔ پس

الزَّكُوٰةُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ فِي النِّصَابِ

زکوة په نزد د امام اعظم او ابو يوسف په نصاب کې دی۔

دُونَ الْعَفْوِ وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ وَزُفَرَ تَجِبُ فِيهِمَا

نیه هغه مال کی چه هغه عفو دی۔ اوپه نزد دامام محمدؒ اوزفرؒ زکات په نصاب اوعفو واړه وکی دی۔

د دې اختلاف فائده ګڼه: کړیوه سړی اوه اوښان درلوده پنځه ئی نصاب اودوه ئی عفو دی اوپرده غه سړی یوپسه زکات کیږی۔ بیا کړده اوښان ئی هرڅ سوه یا ئی خرڅ کړل پس د کال تیریدو څخه اودهغه زکات وړکولو نوپه نزد دامام اعظمؒ او ابو یوسفؒ هغه یوپسه زکات به وړکوی ولی چه زکات په نصاب کی دی اونه اب باقی دی۔ اوپه نزد دامام محمدؒ اوزفرؒ پوره پسه نه کیږی بلکه یوپسه دی قیمت کړی اوپس اووه دې تقسیم کړی پنځه بر څې د قیمت دی زکات وړکړی نوهم پردغه قیاس کړه۔

وَإِذَا هَلَكَ الْمَالُ بَعْدَ وُجُوبِ الزَّكَاةِ سَقَطَتْ

اوکه هلاک سومال (هرمال چه وی) پس له واجبیدو څخه د زکات ساقط سی زکات۔

یعنی زکات هم هلاک سو ولی چه واجب جزء دمال دی جزء فرع دکل دی چه کل ولاړ جزء ئی هم ولاړی۔

وَإِنْ قَدَّمَ الزَّكَاةَ عَلَى الْحَوْلِ وَهُوَ مَالِكُ النِّصَابِ جَازَ

کړیوه سړی د هغه وړکړی زکات تر کال تیریدو اودې مالک د نصاب ووړاندې کړی۔

مسئله: چه څوک مالک دنصاب وی دهر مال څخه چه وی اود هغه تر کال تیریدو دیوه کال یادد وو کالونه زکات وړکړی غاړې ئی خلاصی دی۔ اوبیا نوی زکات نسته۔

مسئله: کړچا نصاب نه درلودی اوړوپه ئی وخلکوته وړکولې پرده ئی نیت کړچیری زما مالک د نصاب سوم نوزکات به می وړکړی وی هغه زکات نه دی بلکه خیرات دی کړمالک دنصاب سو اوکال پس تیس سو نوی زکات به وړکوی۔

بَابُ زَكَوٰةِ الْفِضَّةِ

باب دی په بیان کی د زکات دسپینو زرو

مسئله: په هر وجوړولو کی چه پته نوښه کی رواج دی چه هغوته نوتونه وائی چه د

سپینو زرو په مقابل کی هم جوړی سوی دی لکه په افغانستان، پاکستان، ایران، عربستان او نورو دغسی ملکونو کی۔ اودسرو زرو په مقابل کی هم جوړی سوی دی لکه ډالر دامریکا دینار دکویت اودعراق اونورو دغسی ملکونو۔ په دې نوتونو کی اختلاف دی۔ بعضی علماء وائی چه دا نوتونه پرځای دسرو زرو یا سپینو زرو ولاړدی۔ لکه چه پرتولو هم داغه نوشته دی اوصحیح هم دغه مذهب دی۔ نوبناءً پردغه مذهب په نوتونو کی سودنا روادی۔ اوپه وتلو کولو کی یعنی یو قسم لو تونه په بل قسم لو تو بدلولو کی پوره نا روادی۔ بلکه لاس په لاس به وی۔ نوبناءً پردې د تجارانو معاملې دیر ې مشکلی دی۔ ولی چه مثلاً یوسړی اوس کالداری وړکړی اوهغه بل طرف یوه یا دوې میاشتی وروسته افغانۍ وړکوی۔ یا یوسړی کالداری په پاکستان کی وړکړی اوهغه بل طرف افغانی په افغانستان کی وروسته وړکوی یا عکس دې دی۔ اودغه رنګه تجارانو په کالدارانو اودالرو کی دامعاملې کوی داتولی حرامی دی۔ ولی چه په حدیث شریف کی چه روایت ئی بخاری اومسلم اونورو کتابونو کی آنحضرت صلی اللہ علیه وسلم داسی فرمائی، اَلْفِضَّةُ بِالْفِضَّةِ رِبَا اِلَّا هَاءَ وَهَاءَ، ترجمه سپین زر په سپینو زرو بدلول سود دی مګر هغه وخت چه طرفین ئی واخله واخله۔ یعنی لاس په لاس۔ او سرو زر په سرو زرو سود دی مګر ووائی چه واخله واخله۔

اودغه رنګه کالداره په دالر بدلول کی تفاضل نا روادی لکن لاس په لاس والی شرط دی۔ اوکالداری اوافغانۍ کی څه هم دواړه دسپینو زرو په څای کی دی تفاضل ئی روادی ولی چه مقداره کالداری غټ دی لکن لاس په لاس والی ئی ضروری دی۔ دغو مسئلو دپاره دحل اودصحت لاسته۔ تجارانو دی ملا یانو ته رجوع وکړی اوهغه لاره دی نوره وکړی۔

نادره خبره

یولوی سرمایه دار سړی چه دوقې کاروبار کوی۔ اونوم اخستل ئی په کار نه دی۔ ویوچا ته ویلی وو چه پرما زکات نسته ولی زما سروپه پر قانون شرعی دوقې نه دی برابری۔ نو تولی سروپه زما حرامی دی اومرداری او په حرام اومرداره مال کی زکات نسته۔ افسوس: چه دغه سړی پردغو نوپوکالی کوی وخان وحیال ته اوبیا په هغو کالو لمونځ کوی۔ اوکاهی دی خیرات په نیت د ثواب هم کوی۔

اودا مسئله دکه چه په حرام کی نیت د ثواب کول کفر نه وی گناهِ کبیره خو وی اودغه سړی ته خلک وائی دیر ښه سړی دی۔ اودا جمله معترضه وه اوس بیرته د نوتو مسئلې ته کوځم۔

اوبعض علماء وائی چه نوتونه حکم دعروضو لری۔ یعنی لکه کمبلی توکران کاغذونه وغیره۔ کړچیرته دا خبره صحیح وی هغه مشکلات تولپوره کیږی۔ لکن په هر صورت کی زکات ئی هغه دی چه سابه سی۔

لَيْسَ فِيمَا دُوْنَ مِائَتَيْ دِرْهَمٍ صَدَقَةٌ فَإِذَا كَانَتْ مِائَتَيْ

نستہ پہ کمی تر دو ۲ سوہ سرو پی نہ زکات

بیا چہ دو ۲ سوہ د سرہ سمہ

دِرْهَمٍ وَحَالَ عَلَيْهَا الْحَوْلُ فَفِيهَا خَمْسَةُ دَرَاهِمَ وَلَا

پورہ سی اوپر دو ۲ کال تیر سی۔ نو پہ هغو کی پنځہ د سرہ سمہ زکات دی۔ او هیڅ

شَيْءَ فِي الزِّيَادَةِ حَتّٰى تَبْلُغَ أَرْبَعِينَ دِرْهَمًا فَيَكُوْنُ فِيهَا

شی نستہ پہ زیاتو کی تر دو ۲ سوہ تر څو چہ د سیزی و څلویښت د رهمہ تہ۔ نو پہ څلویښت کی یو

دِرْهَمٌ ثُمَّ فِي كُلِّ أَرْبَعِينَ دِرْهَمًا دِرْهَمٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ

د رهم دی۔ او بیا پہ هر څلویښت کی یو د رهم زکات دی۔ پہ نزد د امام صاحب

وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ مَا زَادَ عَلَى الْمِائَتَيْنِ

او وائی ابو یوسف او محمد چہ هغہ چہ تر دو ۲ سو ۲ زیات سی زکات ئی پہ حساب دد و

فَزَكَاتُهُ بِحِسَابِهِ وَإِذَا كَانَ الْغَالِبُ عَلَى الْوَرِقِ فِضَّةً

سی وی (مثلاً کہ دو ۲ سوہ او شل سرو پی وی نو پی زکات ئی پنځہ او نیمہ سرو پی دی) کہ چیری د پیسو سکہ دار د روپو کی پیسی زیات

فَهُوَ فِي حُكْمِ الْفِضَّةِ وَإِذَا كَانَ الْغَالِبُ عَلَيْهِ الْغِشُّ

نو هغہ حکم د پیسو زر ولری (یعنی وزن تہ ئی اعتبار دی) او کہ د غالب پیسہ سرو پی کوت پس هغہ پہ حکم کی د

فَهُوَ فِي حُكْمِ الْعُرُوضِ وَيُعْتَبَرُ أَنْ تَبْلُغَ قِيمَتُهَا نِصَابًا

عروض دی او اعتبار هغہ وخت لری (یعنی زکات پرکیږی) چہ قیمت ئی نصاب تہ سیزی۔

یعنی مقدار تہ ئی اعتبار نستہ۔

مسئلہ: پہ نن زمانہ کی چہ نقدی سرو پی سراسر کوت دی نو د هغوم قیمت تہ اعتبار نستہ نو وزن تہ۔

پوښتنہ: چہ د رهم او دینار عددی شیان نہ دی بلکہ پہ شرعہ شریفہ کی د دوا ۲ وزن

یعنی د تول شیان دی پس فقیہ لرہ د دوا ۲ وزن پیژندل پکار دی۔ حاصل داچہ د اسی

نده چہ د هر وطن مروجہ سکہ د رهم دی یا دینار۔ مثلاً د افغانستان افغانی، د پاکستان کالدار

د ایران ریال، د عربستان ریال۔ وهکذا۔ یا د امریکا ډالر، د عراق دینار، د کویت دینار۔

وهکذا نو هر سکې د دینار مملکتو۔ نو اوس چہ پہ هدایہ ص۱۷۲ کی داسی عبارت دی۔

والمعتبر فی الدراهم وزن سبعة وهو ان تكون العشرة منها وزن سبعة مثاقيل بذالك جرى

التقدير فی ديوان عمر رض واستقر الامر عليه، ترجمہ: معتبر پہ د رهمو کی تول داو دی او هغہ

داچہ لس د رهمہ وزن د اوو مثقالو وی پہ دغہ سرہ جاری سوی دی اندازہ پہ دفتر کی د عمر رض

او قرار ونیوی امر د اسلام پر دغہ تقدیر۔ او پہ کوکب د ری ص۵۱ او پہ عینی شرح هدایہ ص۱۷۶ کی

وائی چہ د رهم څوہ لس قیراطہ وزن دی آه مثقال وهرچا تہ معلوم دی۔

د خلاصۃ الحساب پہ ص۲۹ کی وائی چہ دینار (۱) دانق دی۔ او دانق (۲) حبۃ دی۔

او حبۃ (۳) او سرښی دی۔ او او سرښہ (۴) خردلہ دی۔ او خردل (۱۲) فلسہ دی۔ او فلوس (۹) فتیلہ

دی۔ او فتیلہ (۲) نقیرہ دی۔ او نقیر (۲) قطمی دی۔ او قطمیر (۱۲) ذرہ دی۔

مسئلہ: د زکات او سرقہ پہ نصاب کی د دیانتو پہ نصاب کی هم د غہ مقدار دد و اهمو او دنانیرو معتبر دی۔

مسئلہ: کہ یو چا بنځی د سرو زرو زامیل یا کوتمی یا بنکړی د سرلوی د یا نورہ شیان

نو کہ هغہ شل مثقالہ تہ رسیدل یا بالا وی پر هغہ بنځہ ئی هر کال زکوۃ، سرسایہ او اختر ی ستہ

او د بل چا تہ زکوۃ ورتہ نارواوی۔ او کہ تر شل مثقالہ کم وی نو کہ څرهم پہ قیمت کی د یری سرو پی وی

پہ اعتبار د صنعت د زرو کر پر هغې زکات نستہ نہ سرسایہ وغیرہ۔ مطلب داچہ صنعت تہ اعتبار

نستہ پہ سرو زرو او سپینو زرو کی۔ بلکہ اعتبار وزن لرہ دی۔

مسئلہ: هر شی چہ بنځہ ئی د پلار د کور ہ یو سی کہ د دې پہ ولور اخستہ سوی وی

یا پلار د خپلہ مالہ ورکړی وی هغہ شیان د بنځې ملک دی میړہ کار نہ پورې لری او نہ زکات

د سرسایہ وغیرہ پہ بنځہ پورې اړہ لری۔ نو کہ د دغې بنځې میړہ مسکین وی د بل چا څخہ

زکات ورتہ لخستل روادی۔

مسئلہ: کہ مایخې تہ میړہ پسولہ وادہ د سرو زرو شیان ورکړی د دې بنا ئست دپارہ

او ورهبہ ئی نہ کړہ د هغو شیانو زکات وغیرہ پہ میړہ پورې اړہ نہ لری۔ نہ پہ مایخه پورې

او بنځہ پہ هغہ سرہ کنهکاره نہ ده۔ واوک: د رهم او دینار پہ بارہ کې تحقیق۔

اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِكَاتِبِهِ وَلِمُؤَلِّفِهِ وَلِوَالِدَيْهِمَا۔

بابُ زَكوٰةِ الذَّهَبِ

باب دی په بیان کی د زکوة د سرو زرو و

لَيْسَ فِيمَا دُونَ عِشْرِينَ مِثْقَالاً مِّنَ الذَّهَبِ صَدَقَةٌ

نسته په کم کی تر شل مثقاله د سرو زرو زکات (او دا د سرو زرو نصاب دی)

فَإِذَا كَانَتْ عِشْرِينَ مِثْقَالاً وَحَالَ عَلَيْهَا الْحَوْلُ فَفِيهَا

پس چه سل سره زر شل مثقاله او تیر سو پر هغو کال نو په هغوکی نیم مثقال زکوة دی

نِصْفُ مِثْقَالٍ ثُمَّ فِي كُلِّ أَرْبَعَةِ مَثَاقِيلَ قِيرَاطَانِ

پس په هر څلوره مثقالو کی دوه قیراطه زکات دی۔

وَلَيْسَ فِيمَا دُونَ أَرْبَعَةِ مَثَاقِيلَ صَدَقَةٌ

او نسته په کم کی تر څلوره مثقالو زکات (یعنی چه تر نصاب دوه یا دری مثقاله بالاسی په هغه بالابود کی زکات نسته)

وَقَالَا مَا زَادَ عَلَى الْعِشْرِينَ فَزَكَاتُهُ بِحِسَابِهِ

او یارانو وائی چه تر شل مثقاله بالاسی به حساب د شلو مثقالو به زکات وه کوی۔

وَفِي تِبْرِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَحُلِيِّهِمَا وَالْآنِيَةِ

او په بې سکه سرو زرو او سپینو زرو کی او په زیورا تو کی د دې دوو او په لوښو کی

مِنْهُمَا زَكوٰةٌ

د دې دوو زکوة ده۔

بَابُ زَكوٰةِ الْعُرُوضِ

باب دی په بیان کی د زکوة د عروضو یعنی ما سوا د سپینو زرو
او د سرو زرو د اتولو عروضو بولی

اَلزَّكوٰةُ وَاجِبَةٌ فِي عُرُوضِ التِّجَارَةِ كَائِنَةً مَا كَانَتْ

زکوة واجب دی یعنی فرض دی په عروضو کی د تجارت چه وی د اعروض هر شی چه وی۔

یعنی کغالی وی کمبلی کوتی چادر کی بوره او نور د غسی شیان حتی د کانو نه د تجارت سرایونه د تجارت اوبنان د تجارت پسونه د تجارت غوائی د تجارت مشینان د تجارت۔

مسئلہ: مصنف د تجارت قید حکمی وایه چه کومی چیری بعض د غه شیان د خپل استعمال د پاره وی په هغوکی زکات نسته کې څه هم هر څو قیمت چیروی یعنی تر نصاب بالا وی۔ حتی یو موټر چه قیمت ئی په لکو روپو وی که د سپیتیا د پاره نه وی زکوة پکښی نسته۔ او یو موټر چه د هغه قیمت کم وی لکن نصاب ته رسیږی خو د سپرتیا د پاره نه وی زکات باندی نسته او پر د غه قیاس کړه نور شیان لکه غالی بنکله وغیره۔

اِذَا بَلَغَتْ قِيمَتُهَا نِصَابًا مِنَ الْوَرِقِ أَوِ الذَّهَبِ يُقَوِّمُهَا

که چیری د رسیږی قیمت د هغو نصاب ته د سرو یا سپینو زرو بیا نو زکات پکښی ده۔ او قیمت دی

بِمَا هُوَ أَنْفَعُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ مِنْهُمَا

کړی د غه عروض په هغه مال چه پکښی دیره فائده وی د فقیرانو او د مسکینانو نو د غو سپینو یا سرو زرو

وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ يُقَوِّمُهَا بِمَا اشْتَرَاهُ بِهِ

او امام ابو یوسف وائی په هغه مال دی ئی قیمت کړی چه د غه سړی د غه عروض په هغه مال سره اخیستی وی
یعنی که ئی په سرو زرو سره اخیستی وی نو په سرو زرو دی ئی قیمت کړی او که ئی په سپینو زرو سره اخیستی وی نو په سپینو زرو دی ئی قیمت کړی۔

فَإِنِ اشْتَرَاهُ بِغَيْرِ الثَّمَنِ يُقَوَّمُ بِالنَّقْدِ الْغَالِبِ

او کې په ثمن نه وو ډاینولی (یعنی په سره نه وو یا سپینو نه وو) نه ډاینوی بلکه په عروضو کې ډاینولی وو ډاینوی

فِي الْمِصْرِ وَقَالَ مُحَمَّدٌ بِغَالِبِ النَّقْدِ فِي الْمِصْرِ

قیمت کړی به هغه روپو چې ډیرې چلیږي په ښار کې. او ویلی دی امام محمدؒ چې قیمت دی کړی د هغه عروضو په غالب

عَلَى كُلِّ حَالٍ وَإِذَا كَانَ النِّصَابُ كَامِلًا فِي

روایت دښار په هر حال (کې په نقدو ډاینولی وي کې په روایت) او که وو نصاب پوره به په سر او پای کې د کمال

طَرَفَيِ الْحَوْلِ فَنَقَصَانُهُ فِيمَا بَيْنَ ذَالِكَ لَا تَسْقُطُ الزَّكَوٰةُ

نو نقصان ئې تر نصاب په مابین کې د کمال زکوة نه ساقطوي (یعنی زکوة پرې فرض دی)

مسئلې: که نصاب په سر کې د کمال پوره وو او په پای کې د کمال کم سو زکات ئې نشته.

وَيُضَمُّ قِيمَةُ الْعُرُوضِ إِلَى الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ

او جوت کول کیږي قیمت د عروضو سره زر او سپینو زرو کې.

وَكَذَالِكَ يُضَمُّ الذَّهَبُ إِلَى الْفِضَّةِ

او همدا رنګه ضمیمه کیږي سره زر او سپینو زرو ته په قیمت سره

بِالْقِيمَةِ حَتّٰى يُتِمَّ النِّصَابُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ

حتی چې پوره سی نصاب او دا هم په نزد د امام صاحبؒ.

مثلاً! یو سړی سل درهمه درلوده او عروضو ئې هم درلوده چې د هغې قیمت سل درهمه کیدی نو دی دواړه سره ضم کړي. او دوه سوه درهمې زکات دی ورکړي. یا یو سړی پنځه مثقاله سره زر درلوده او قیمت د عروضو ئې درلوده یا سپین زر چې د هغې عروضو یا سپینو زرو قیمت پنځه مثقاله کیدی نو دواړه دی سره ضم کړي او د شلو مثقالو زکوة دی ورکړي.

وَقَالَا يُضَمُّ الذَّهَبُ إِلَى الْفِضَّةِ بِالْأَجْزَاءِ

او یاران ؒ وائي چې ضمیمه دی سره زر او سپینو زرو ته په اجزاء سره.

حتی که یو سړی سل درهمه درلوده او پنځه مثقاله سره زر چې قیمت ئې سل درهمه دوئو په نزد د امام اعظمؒ زکوة دوو سوو درهمو کې دی یاران ؒ وائي چې زکوة باندې نشته. ولې سپین زر که څلورهم نیم نصاب دی خو سره زر نیم نصاب نه دی ولې چې دسره زرو نیم نصاب لس مثقاله دی. نو اجزاء ئې برابر نه دی. او یا داسې صورت ووچې یو سړی لس دیناره درلوده چې قیمت ئې پنځوس درهمه کیدی او سل درهمه درلوده نو په نزد دیاران ؒ زکات پرې کیږي. ولې چې اجزاء ئې برابر دی. ولې چې د شلو مثقالو چې نصاب دسره زرو دی. نیم ئې چې لس مثقاله دی موجود دی. او دوو سوو درهمو چې نصاب د سپینو زرو دی. هم ئې نیمې سترې چې سل درهمه دی. او د امام اعظمؒ په نزد زکات نشته ولې چې مجموع سره او سپین زر یو نیم سل روپۍ کیږي نو نصاب یعنی دوه سوه درهمه نه سوه پوره. وعلى هذا قس غيرهما من الصور المحتملة.

بَابُ زَكٰوةِ الزُّرُوعِ وَالثِّمَارِ

باب دی په بیان کې د زکات د کښتو او د میوو.

فائده! مراد د مصنفؒ د زکات څخه دلته عشر دی. او فرق په مابین د زکات او عشر دادی چې په زکات کې نصاب شرط دی که تر نصاب کم وي زکات ئې نشته. او امام اعظمؒ نصاب شرط نه دی بلکه په لږ حاصلات کې او په ډیرو کې عشر لازم دی.

قَالَ أَبُو حَنِيفَةَ فِي قَلِيلِ مَا أَخْرَجَتْهُ الْأَرْضُ وَكَثِيرِهِ الْعُشْرُ وَاجِبٌ

ویلی دی امام اعظمؒ چې په لږ کې د هغه چې هلکې ئې ساوباسي او په ډیر کې د هغه لسمه حصه زکوة واجب (فرض) دی لقوله علیه الصلوة والسلام، مَا أَخْرَجَتْهُ الْأَرْضُ فَفِيهِ الْعُشْرُ» او د قلیل او کثیر فرق ئې نه دی کړی.

مسئلې: د قلیل اندازه څوک وائي یو وسق کامسه دی او څوک وائي نیمه کامسه دی نو تر هغه پورې هیڅ شی نشته. کوکب دري ص۵۳.

سَوَاءٌ سُقِيَ سَيْحًا اَوْ سَقَتْهُ السَّمَاءُ اِلَّا الْحَطَبَ وَالْقَصَبَ وَالْحَشِيْشَ

خواه هغه کښت په سیح یعنی جاری اوبو اوبینی اویانی اوبوی آسمان چې په اصطلاح کې ورته وایی کښت بولی. مکر په لرګو اوبه نلانی اوبه وښو کې زکات نشته.

مسئله: دلرګو څخه هغه لرګی مراد دی چې مقصود په کښت کولو سره نه وی حتی که وبه محکه کې چنار، ان یا نور عمارتی لرګی شنه کړی، او نه په هغوی عشر ستر. هدایه ص۱۸۲ ج۱

مسئله: دقصب څخه شکرې مراد نه دی بلکه هغه نلان مراد دی چې طبعًا په بعض محلونو کې پیدا کیږی او مقصود بالذات نه وی کرل چیرې دا سی نلان وی چې مقصود وی لکه هغه نلان چې خلک یې پرخونو اچوی په هغوی عشر ستر. هدایه ص۱۸۲ ج۱

او که دا سی وابنه وی چې قصدًا یې محکره مشغوله کړې وی لکه شپیشتی یا شوتل وغیره په هغوی زکات ستر. هدایه ص۱۸۲ ج۱.

مسئله: دتاک بیرې په تاکانو کې زکات نشته. او دغه رنګه په پراسره کې زکات نشته کرځه هم تن وهې دیر قیمت لرې. ولې چې مقصود په تاکانو کې میوه اوبه کښت کې دا نې دی. هدایه ص۱۸۲ ج۱ البته که سړی دنغدو روپو نصاب درسره لږ دی او تر زکات دمخه یې پرې وهې خرڅ کړی دا قیمت و هغه زاړه نصاب تکمیلوی او دا ټول څخه یو دنغدو زکات باسی.

وَقَالَ اَبُوْ يُوْسُفَ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُمَا اللّٰهُ لَا يَجِبُ الْعُشْرُ

او وایی دی امام ابو یوسف او امام محمد رحم دی وکړی پرې دوی خدای پاک نه دی واجب عشر

اِلَّا فِيْمَا لَهٗ ثَمَرَةٌ بَاقِيَةٌ اِذَا بَلَغَتْ خَمْسَةَ اَوْسُقٍ

مکر په هغه شی کې چې میوه دوام او بقاء لری چې رسیدلی هغه حاصل دمحکی پنځه وسقه نه

مسئله: په عنایه ص۱۸۳ جلد اول هدایه. اندازه دبقاء داده چې هغه حاصل بیله دې تکلیفه یو کال پاته کیږی لکه غنم اوربشی جوار ی ورجی. نو دیارانو همذهب کې په سیبو کې په انارو کې په کیلو کې په لندو انګورو کې په بادنجنو کې په روغیا نو کې په یخی کانو کې په شفتالو کې هالیتو کې په نارینج کې په الوبخارا کې په الوو کې په خټکو کې په هندوانو کې په امرتو کې په ګوکې په نورو الوو کې او نورو دغه قسمه شیانو کې عشر نشته.

وَالْوَسْقُ سِتُّوْنَ صَاعًا بِصَاعِ النَّبِيِّ عَلَيْهِ السَّلَامُ

اوبو وسق شپیته کاسې دی په کاسه سره د نبی علیه الصلوة و السلام -

او دامذهب دامام شافعی رحم دی. غرض دادی چې یاران وحاصلاتونه دمحکی رحم نضاشرط بولی او هغه پنځه وسقه دی

وَلَيْسَ فِي الْخُضْرَاوَاتِ عِنْدَهُمَا عُشْرٌ

او نسته په شنو شیانو کې په نزد دیارانو عشر -

مسئله: خضراوات هغه شیان بولی چې په شنیوالی خوړل کیږی لکه کندنه، بتو فه، تن فه، شنه مسالا، سوځی، بادرنګ، چمبرخیال، شنه پیاز، اونور دغه قسمه شیان -

نو په دې شیانو کې هم عشر نسته په نزد دیارانو

فائده: په دغو اختلافی مسئلو کې فتوی پر قول دامام اعظم دی. کذا فی ردالمحتار والبدائع -

وَمَا سُقِيَ بِغَرْبٍ اَوْ دَالِيَةٍ اَوْ سَانِيَةٍ فَفِيْهِ نِصْفُ الْعُشْرِ عَلَى الْقَوْلَيْنِ

اوهغه کښت چې اوبینی یې په غرب یعنی لویه سولاغه یا په دالیه یعنی هغه سولاغه چې په غویو ځکابنی یا په سانیه دا هغه اوبنه بولی چې اوبه پرې ځکابنی. نو په دغو حاصلاتو کې دعشر نیمی برخه دی یعنی شلمه حصه پرې واړه وقولو -

وَقَالَ اَبُوْ يُوْسُفَ فِيْمَا لَا يُوْسَقُ كَالزَّعْفَرَانِ وَالْقُطْنِ

او وائی امام ابو یوسف چې هغه شیان چې په وسق نه خرڅیږی و فروخت نه کیږی لکه زعفران او پنبه بلکه چې منوی یا سیر و یا په غونې مثلًا زعفران په سیر وای منو معامله کیږی او پنبه په غونې تولا کا نې.

يَجِبُ فِيْهِ الْعُشْرُ اِذَا بَلَغَتْ قِيْمَتُهٗ اَدْنٰى مَا يَدْخُلُ

نو په هغې کې عشر واجب دی چې قیمت د هغه وسیرو هغه کم شی ته چې داخلیږی لاندی

تَحْتَ الْوَسْقِ وَقَالَ مُحَمَّدٌ يَجِبُ الْعُشْرُ اِذَا بَلَغَ الْخَارِجُ

تر وسق او امام محمد وائی چې عشر په دغو شیانو کې هلته واجب دی چې وسیرې حاصل (لکه جوار یا ماش)

خَمْسَةَ اَمْثَالٍ مِنْ اَعْلَى مَا يُتَقَدَّرُ بِهٖ نَوْعُهٗ

او پنځه مثله تر د هغه اعلی چې اندازه کیږی په هغه سره نوعه د دغو شیانو

فَاعْتَبَرَ فِي الْقُطْنِ خَمْسَةَ أَحْمَالٍ وَفِي الزَّعْفَرَانِ

نو معتبر کړی دی امام محمدؒ په پنبه کې پنځه اندې یعنې کاتې یا غوټه او په زعفران کې پنځه منه ۱ یعنې هغه من

خَمْسَةَ أَمْنَاءٍ وَفِي الْعَسَلِ الْعُشْرُ إِذَا أُخِذَ مِنْ

چه دښې سوا او شپیته درهمه مقدار وي) او په عسلو کې عشر دی چه دا عسل واخستل سی د عشر ی

أَرْضِ الْعُشْرِ قَلَّ أَوْ كَثُرَ وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ يَجِبُ

محکی ځمنه نو دین وی هغه عسل اوکه لږ وی (دا مذهب دامام صاحب دی) او ویلی دی امام ابو یوسفؒ

فِيهِ الْعُشْرُ حِينَ يَبْلُغُ عَشَرَةَ أَنْرَاقٍ وَقَالَ مُحَمَّدٌ

چه زکوة په عسلو کې هغه وخت واجب دی چه لس نرقه ته ورسیږی او امام محمدؒ وائی چه

خَمْسَةَ أَفْرَاقٍ وَالْفَرَقُ سِتَّةٌ وَثَلَثُونَ رِطْلًا

پنځه فرق ته ورسیږی او یو فرق شپږ دیرش رطل کیږی

بِالْعِرَاقِ وَلَيْسَ فِي الْخَارِجِ مِنْ أَرْضِ الْخَرَاجِ عُشْرٌ

په عراقی سره او نشته په هغو عسلو کې چه پیدا سی په خارجی محکه کې عشر۔

بَابُ مَنْ يَجُوزُ دَفْعُ الصَّدَقَةِ إِلَيْهِ وَمَنْ لَا يَجُوزُ

باب دی په بیان کې دهغو کسانو چه دزکاتو ورکړه ورته روا ده او دهغو کسانو چه زکوة ورته نا روا دی۔

فائدہ! دډې باب دمسائلو زده کړه دیره مهمه ده۔ ولې چه دنیا دیره محبوبه ده۔ نو دیر کسان چه اغنیاء هم وی دا زکات اخلی خصوصًا بعض ملایان او سړه ددی چه دغه زکات وغیره ته حرام شرعی دی۔ او مالک زکات که په غناء دهغه خبروی دزکات غاړې نه خلاصیږی۔

مسئلہ! که دیوه سړي پر بل سړي دمسکین ظن وو نو هغه ته زکوة ورکړې

او هغه هم واخستې او په حقیقت کې هغه سړی غنی وو دزکات ورکوونکی غاړې خلاصې سوې۔ او اخستونکی ترحرام قطعی دی۔

مسئلہ! زکات په نیت دزړه پوهې اړه لرې دخولې وینا نه غواړې چه دا شی په زکوة کې واخله البته دخولې وینا دا فائده ده که هغه سړی غنی وو نو به ووائی چه زه فی نه غواړم ولی چه زه غنی یم۔

مسئلہ! واعظان په مساجدو او محافلو کې دزکات فضائل بیانوی او دمانع الزکات عذابونه دآیات قرآنیه او احادیثو نبویه ډلاسې په ډیر شوق او جوش سره بیانوی او هیڅ وخت دمصارفو دزکات تفصیلی اوهر اړخیز بیان نه کوی۔ ولی چه دا سې ډیرې کم زده دمصارفو تفصیل وکړم نو زه دمصارفو هغه وخم بیاځکه نه ښکاره کوی بدین عقل و دانش باید گریست۔ قال الحافظ الشیرازیؒ ؎

واعظان کین جلوه در محراب ومنبر میکنند چون بخلوت میروند آن کار دیگر میکنند

نو دغه ضروریات له کبله به زه دډې باب بنه تفصیل او تحقیق وکړم۔ تاچې زکات ورکوونکی هم سعی او کوښښ وکړی چه خپل زکوة پر مصرف برابر کړی او زکوة اخستونکی هم صبر وکړی چه دخلکو هغه حرام زکات وانه خلی۔ ولی خوږه به فی عیال او غاړې به ډډه په بندوی۔ نو پیوه سه چه دزکات دمصارفو بیان خدای پاک په ډې آیت کې کړی دی۔

إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ

ترجمه! نه دی زکاتونه مګر دغو کسانو لره دی فقیرانو لره مسکینانو لره او چه راټولونکی د

عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ

دزکاتو وی او هغه کسان چه ددوی دزړه الفت طلب کیږی او په خلاصیدو کې دغاړو دمکاتبو او پوهه وقتو

وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِنَ اللَّهِ

او په لاره کې دخدای او مسافرته او دافرمنی دجانبه څخه دخدای پاک دی او خدای

وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ فَهَذِهِ ثَمَانِيَةُ أَصْنَافٍ

پاک غالب دی او صاحب دحکمت او ښه دی۔ نو دا مصارف اته قسمونه دی۔

وَقَدْ سَقَطَ مِنْهَا الْمُؤَلَّفَةُ قُلُوبُهُمْ لِأَنَّ

په تحقیق ساقط سوه دهغو اتو د لوښو څخه مؤلفة القلوب ولی چه

اللّٰهُ تَعَالٰى أَعَزَّ الْإِسْلَامَ وَ أَغْنٰى عَنْهُمْ

خدای پاک غالب کړی اسلام اوبی پرواه وکړ هغوی لره دوی څخه.

مؤلفة القلوب هغه ضعیف الایمانه کسان وه چه د سړو پلو وسره کولو په سبب په اسلام کی پاتې وه او یا هغه کافران وه چه د پیسو په واسطه د دوی څخه وه او اسلام ته راجلبیدی په قرآن شریف کی د دوی ته حصه ورکړه سوې ده او د رسول کریم صلی الله علیه وسلم په زمانه کی هم دوی برابره خپله تنخواه او حصه وړه. څه وخت چه آنحضرت صلعم وفات سو او ابوبکر رض خلیفة اسلام سو نو دغه کسان پرېښل وخت سره اغلل او ابوبکر رض ته یې ویل چه زموږ مکتوب سره ابدل کړه. یعنی ستاسو خلافت ته څه راانقل کړه ابوبکر رض ورته وویل ته نوی مکتوب څه تنخواه ورکړې بیا دوی حضرت عمر رض ته ورغله چه په هغه هم امضاء وکړی حضرت عمر رض هغه مکتوب څیرې کړ او دوی ته وویل چه رسول الله صلعم چه تاسی ته تنخواه درکوله دده سبب چه ستاسی زړونه د اسلام سره الفت پیدا کړی او ځکه وړه خدای پاک اسلام ته غلبه ورکړه ستاسی والفت او کومک ته ضرورت نشته. نو زموږ او ستاسی ترمابین څه وړه یا اسلام دی یا توره ده. نو دوی بیرته ابوبکر رض ته ورغله او ورته وی ویل چه خلیفه د اسلام ته څه کړه عمر رض ابوبکر رض ورته وویل چه دی دی اِنْ شاءَ اللّٰهُ تعم. کذا فی البنایة فی الهدایه ج ۱ ص ۱۸۷ وعلی ذالك انعقد الاجماع آه - پرده غه مسئله تی لو اصحابو کرامو رض اتفاق وکړ چه د مؤلفة القلوب حصه به نه وی.

پوه سوې! چه حسن بصری او امام زهری او امام احمد او امام شافعی والی چه د مؤلفة القلوب حصه نه ده ساقطه اوس بی هم امام المسلمین ورکوی.

دوی والی چه د دغو کسانو برخه په قرآن او حدیث سره ثابته ده نو په قول د عمر رض څخه منسوخه کیږی. د دی دلیل په جواب کی زموږ حنیفیان خوک داوائی چه د قرآن شریف دغه حصه په اتفاق او اجماع سره منسوخ سوه او دوی والی چه نسخه د قرآن په اجماع سره ثابته ده ولی چه اجماع هم دلیل قطعی او یقینی دی. او د اجواب عینی ضعیف کړی دی. ولی چه

قطعیت او قوت د قرآن مبارک تر قوة د اجماع ډیر دی. بلکه صحیح جواب چه تولو فقهاوو یی پر متفق دی دادی. چه کاهی یو حکم قرآنی په سبب د انتهاء د هغه د سبب هم وپای ته ورسیږی. یعنی سبب د تنخواه د مؤلفة القلوب ضعف د اسلام و وچه اسلام قوی او مضبوط سو نو هغه سبب د ما بینه ولاړ سی. نو حکم قرآن هم وپای ته ورسیدی مثلا جهاد د کفار وسره فرض وی. په دیرو آیتو د قرآن کریم او د هغه سبب کفر د دوی دی. او اعلاء د کلمة الله د نو فرضا که د نړۍ ټولو کافرانو مسلمانان سی جهاد اسلامی هم پای ته رسیږی. والتفصیل فی مطولات کتب الفقه.

وَالْفَقِيرُ مَنْ لَهُ أَدْنٰى شَيْءٍ وَالْمِسْكِينُ مَنْ لَا شَيْءَ لَهُ

او فقیر هغه څوک دی چه لږ شی لری او مسکین هغه څوک دی چه هیڅ شی نه لری د لږ شی اندازه بعضی وائی دیوه شبانه ورځ خرڅه ده او بعضی وائی دیوې میاشتی.

فائده: هغه کسان چه وائی نه ده فقیر یم په تنلو کی لس فقیران نه دی.

وَالْعَامِلُ يُعْطٰى لَهُ الْإِمَامُ إِنْ عَمِلَ بِقَدْرِ عَمَلِهِ

او عامل یعنی زکوة جمع کوونکی ته دې ورکوی امام که څه کار کړی و وپه اندازه د د ده عمل چه په رایه پوهی د امام او په تبدل د مافی پوهی اړه لری.

وَفِي الرِّقَابِ أَنْ يُعَانَ الْمُكَاتَبُونَ فِي فَكِّ

او ورکړه په رقاب کی داده چه کومک وکړه سی د مکاتبو مړیانو سره چه دوی د خپلو مالکانو

رِقَابِهِمْ وَ الْغَارِمُ مَنْ لَزِمَهُ الدَّيْنُ

څخه خپل ځانونه خلاص کړی او غارم هغه سړی دی چه پور ده پوره باندی وی که څه هم بعض محدثو

وَفِي سَبِيلِ اللّٰهِ مُنْقَطِعُ الْغُزَاةِ وَ ابْنُ السَّبِيلِ

باغ لری او فی سبیل الله هغه سړی دی چه په غزا او جهاد کی بیخوښه سی که څه هم په وطن کی مالدار وی او ابن سبیل

مَنْ كَانَ لَهُ مَالٌ فِي وَطَنِهِ وَهُوَ فِي مَكَانٍ

هغه څوک دی چه په خپل وطن کی مال لری لکن دی په داسی ځای کی وی چه هلته شی

لَا شَيْءَ لَهُ فِيهِ فَهٰذِهِ جِهَاتُ الزَّكٰوةِ

نه لری. هم دغه دلی چه ذکر سوی جهات د زکات دی ـ
یعنی مصارف اوخایونه دوه کړی د زکات دی یعنی وغیرته د دغو دلو زکات ورکول نه دی روا

وَلِلْمَالِكِ اَنْ يَّدْفَعَ اِلٰى كُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمْ وَلَهُ اَنْ يَّقْتَصِرَ

اومالک ته د زکوة دا روا دی چې و تولو دغه دلو ته خپل زکوة ورکړي (یعنی هریې دلی ته څه څه ورکړي اود

عَلٰى صِنْفٍ وَاحِدٍ وَلَا يَجُوْزُ لَهُ اَنْ يَّدْفَعَ الزَّكٰوةَ اِلٰى ذِمِّيٍّ

هم روا ده چې یوې دلې زکوة ختم کړي. اونه دی روا چې ورکړي زکات و اهلِ ذمه ته ـ

پوه شه! چه اهل ذمه هغه څوک دی چې په اسلامی مملکت کی په ذمه واړی همیشه
اوسیږی په مذهب که هندو وی که یهود دلی وی اوکه نصاړی وی ـ

مسئله! د اهلِ ذمه ته ما سوا د زکات څخه نور ټول خیرات روا دی ـ کوکب درّی ص۲۱۲

وَلَا يَبْنِيْ بِهَا مَسْجِدًا وَلَا يُكَفِّنُ بِهَا مَيِّتٌ

اونه دی جوړوی د زکات په پیسو مسجد اولی چه قبض شرط دی اوکفن دی نه ورسی د زکات په پیسو مړی ته
البته که قریبان د مړی مسکینان وه هغوی ته زکات ورکړي او هغو کفن په سر اینوی ـ

وَلَا يَشْتَرِيْ بِهَا رَقَبَةً يُعْتِقُ وَلَا تُدْفَعُ اِلٰى غَنِيٍّ

اونه په سر اسی د زکوة په پیسو مړی چه آزاد کړی اونه دی ورکول کیږی زکات و غنی ته ـ

مسئله! غنی هغه سړی دی چې مالک دیوه نصاب وی د هر مال څخه چې وی اوبنان وی
غوا وی پسونه وی اوکه سره زر وی یا سپین زر وی ـ

مسئله! د اهل علم د پاره یوه یوه نسخه د کتابو د تفاسیر و او احادیثو او د فقهی
او د هغه کتاب یوه شرح چې حل د کتاب په کیږی د حاجت اصلی څخه دی غنا نه ثابتیږی
اونه الله تر هغه یا کتابو نه د نحو او د صرف و یاد معانی یا د لغت یا د منطق یا د حکمت یاد
سره یا ضمی یا نورو په قیمت سره حساب کیږی ـ که نصاب ته ورسیږی هغه غنی دی زکات
نه دی ورته روا ـ البته د حدیثو د لغت لکه مجمع البحار ـ یا د اعراب القرآن د کتاب

لکه تفسیر اتقان اجانه سته ـ

مسئله! یعنی کسان د اخیله کوی چه سړو پیسو اونصاب لری چه کال نزدې سی
هغه سړو پیسو و ماینه ته وبخښی او دی خان مسکین کړی د بل چا د زکوة اخستلو د پاره
اوپر ماینه خوئ هم زکوة نه کیږی ولی چه کال د دی په لاس کی نه دی پرې تیر سوی
نوچه د زکات وخت تیر سی بیرته ئی ماینه هغه پیسی وهیږه ته وبخښی اوهر کال
د غه معامله جاری وی ـ نو دا یوه لفظی حیله ده ـ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِالصَّوَابِ ـ

فائده! مسائل د زکات اخستلو د پاره کرانی او پیچیده دی ـ باید سړی په دې باب کی
مفصل فتاوا وو ته رجوع وکړی لکه عالمگیریه ـ د مختار ـ بدائع صنائع ـ بحر الرائق
فتح القدیر ـ او نور د فقهی شریفی کتابونه ـ

وَلَا يَدْفَعُ الزَّكٰوةَ اِلٰى اَبِيْهِ وَجَدِّهٖ وَاِنْ عَلَا

اونه دی ورکوی زکوة مالک وخپل پلار او نیکه ته که څه هم لوړ وی

وَلَا اِلٰى وَلَدِهٖ وَوَلَدِ وَلَدِهٖ وَاِنْ سَفَلَ

اونه دې ورکوی زکات وخپل عیال ته کښته وی اوکه بنخه په ویش جلا وی اوکه څه
هم مسکینان وی ـ اونه دی ورکوی زکات و عیال ته که څه هم کښته وی ـ

وَلَا اِلٰى اُمِّهٖ وَجَدَّاتِهٖ وَاِنْ عَلَتْ وَلَا اِلٰى اِمْرَاَتِهٖ

اونه دې ورکوی زکات سړی وخپلی مورته او انا ته که څه هم لوړه وی اونه دې ورکوی میړه ماینځ ته

وَلَا تَدْفَعُ الْمَرْاَةُ اِلٰى زَوْجِهَا عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ

اونه دی ماینه زکوة ورکوی خپل میړه ته ـ او دا په نزد د امام اعظم

وَقَالَا تَدْفَعُ اِلَيْهِ وَلَا يَدْفَعُ اِلٰى مُكَاتَبِهٖ وَلَا اِلٰى

اویا یان وائی چه ماینه دی خپل میړه ته زکوة ورکوی یعنی روا دی ـ اونه دی ورکوی زکات خپل مکاتب ته
مکاتب هغه مړی دی چه بادار ورته وائی نن روپۍ ما ته مثلاً په دوه یا دریو کالو کی راکړه نو ته آزاد ئی
زکات ولی نه دی ورته روا چه د غه مکاتب تر هغو مړی دی چه یوه روپۍ ئی پر ذمه باندی پاته وی ـ

وَلَدِ

مَمْلُوكِهِ وَمَمْلُوكِ غَنِيٍّ وَوَلَدِ غَنِيٍّ إِذَا كَانَ صَغِيرًا

اونه دی وړکوی نه زکوة وخیل مړی او دغنی مړی ته اونه دې وړکوی ونه وی یالوړته دغنی چه کوچنی وی۔ یعنی بالغ نه وی۔ دغنی نه وی یالوړته چه بالغ وی نه زکات سره وادی که څه هم د پلار سره ژوند کوی۔ (المختار)

وَلَا يَدْفَعُ الزَّكَوٰةَ إِلَىٰ بَنِي هَاشِمٍ وَهُمْ آلُ عَلِيٍّ وَآلُ

اونه دی وړکوی نه زکوة اولاد ته د هاشم۔ او اولاد د هاشم اولاد د علیؓ او اولاد د عباس ؓ

عَبَّاسٍ وَآلُ جَعْفَرٍ وَآلُ عَقِيلٍ وَآلُ حَارِثٍ وَمَوَالِيهِمْ

اولاد د جعفر ؓ او اولاد د عقیل ؓ اولاد د حارث ؓ چه هغه نه وی د عبدالمطلب دی او د دوی مریانو ته دې نه وړکوی

فائده ! بنی هاشم ترسیدانو عام دی نو سیدانو ته هم نه زکاة اخستل نه روا دی۔ لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ، يَا بَنِي هَاشِمٍ إِنَّ اللّٰهَ حَرَّمَ عَلَيْكُمْ غِسَالَةَ أَمْوَالِ النَّاسِ وَأَوْسَاخَهُمْ وَعَوَّضَكُمْ مِنْهَا خُمُسَ الْخُمُسِ، ترجمه ! ای بنی هاشمو په تحقیق سره خدای حرام کړی دی پر تاسی هغه پریولی د مالونو خلکو یعنی زکوة او خیری د دوی او عوض یی درکړی و تاسی ته پنځمه د پنځمی د بیت المال یعنی دغنائمود خمس څخه۔

مسئله ! د بنی هاشمو او سیدانو په زکات اخستلو کی د فقهاؤ اختلاف دی۔ بعضی فقهاؤ علت د حرمت لا شرافت د نسب د دوی بولی۔ نو هغه شرافت تر یوم القیامته پورې باقی دی۔ نو زکات وړته حرام دی۔ او ظاهر د احادیثو هم پر دغه دلالت کوی۔ او بعضی فقهاء وائی چه سبب د حرمت یی خمس الخمسی دی نکه په مذکور حدیث کی چه راغلی نو چونکه اسلامی مملکو د غه خمس الخمس دوی څخه بند کړی دی اونه یی وړکوی نو زکات اخستل د دوی تر سره وادی۔ وَاللّٰهُ أَعْلَمُ۔

وَقَالَ أَبُو حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٌ إِذَا دَفَعَ الزَّكَوٰةَ إِلَىٰ رَجُلٍ

او ویلی دی امام اعظم ؒ او امام محمد ؒ چه وړکړی زکات وسړی ته چه دده غالب گمان دا

يَظُنُّهُ فَقِيرًا ثُمَّ بَانَ أَنَّهُ غَنِيٌّ أَوْ هَاشِمِيٌّ أَوْ كَافِرٌ

دوچه دا سړی فقیر دی پس ظاهر سوه چه دا سړی خوغنی دو۔ یا یی وړکړی زکات وهاشمی یا کافر ته

یعنی ده ته نه وه معلومه چه دا هاشمی یا کافر دی او وړ وسته وه معلومه سوه چه هاشمی یا کافر دو هغه سړی چه مانه زکات وړکړی۔

أَوْ دَفَعَ فِي ظُلْمَةٍ إِلَىٰ فَقِيرٍ ثُمَّ بَانَ أَنَّهُ أَبُوهُ أَوِ ابْنُهُ

او یا یی وړکړی زکات په تاریکی کی و فقیر ته او بیا وړته معلوم سوه چه هغه پلار ده دو یا زوی دو

فائده ! په پلار او زوی کی تاریکه شی ځکه چه مړ نا وړځ کی پلار وزوی پیژندل کیږی۔ او غنی یا هاشمی یا کافر خو په مړ نا وړځ هم نه پیژندل کیږی۔

فَلَا إِعَادَةَ عَلَيْهِ وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَعَلَيْهِ الْإِعَادَةُ

نو په دې تولو صورتو کی سړی کول د زکوة پرده نسته (یعنی دوهم واړه زکات پرده نه دی فرض غاړې یی خلاصی سوې) او وائی امام ابو یوسف ؒ چه په مذکوره په تولو صورتو کی پر مالک د زکات سړی کول د زکات ستر (یعنی په هغه محکمتی زکات ئی غاړه ی نه خلاصیږی)

مسئله ! ملا صاحب که غنی وی او مقتدیانو ته داوائی چه نه و مسکین یم او د مقتدیانو هم د غه گمان وی چه ملا صاحب لکچه وائی مسکین دی نو زکاتونه وړکوی ملا صاحب تر خو هغه زکات حرام دی او د مقتدیانو نو غاړې خلاصی دی۔

په دغو وړځو کی دغسی واقعات ډیر دی۔ ملا صاحب د خلکو زکاتونه اخلی او په بل وطن کی محکمی یا باغونه یا سرایونه په سر انیسی۔ یائی بل نفر ته په مضاربت وړکوی۔ او ملا صاحب اضحیه هم په پټه کوی۔ تاچه مقتدیان په خبر نه سی چه نه هوبنه ملا صاحب چه اضحیه کوی نو معلومه داچه غنی دی او زکات وړته نه روا دی۔ او بعضی ملایان په خپل وطن کی لوی جائیداد او محکمی او باغونه لری۔ خو هغه ئی دوړو نویا د اکاډمنو پرډمه پریږی ایښی وی او کال په کال خپل د حاصلاتو برخه د ونه څنی نه او وړی چه د زکوة څخه دی مستغنی کوی۔ لکن بیا هم دی په بل گوبنه وطن کی ملائی کوی او زکاتونه اخلی۔ بلکه تر مسکینانو نو ملایانو دی زکات په احتیاطو کی حریص وی۔ وَقَدْ عُلِمَ ذَالِكَ بِالتَّجْرِبَةِ۔

وَلَوْ دَفَعَ إِلَىٰ شَخْصٍ ثُمَّ عَلِمَ أَنَّهُ عَبْدُهُ أَوْ

او که وړکړی زکات ویوه سړی ته په ناپوهی کی او بیا وړته معلومه سوه چه هغه خوستا مړی یا

مُكَاتَبُهُ لَمْ يَجُزْ فِي قَوْلِهِمْ جَمِيعًا وَلَا يَجُوزُ

مکاتب وو زکات فی نه دی سره ایعنی بیا به زکوة وه کړی په قول د دری وو سره امامانی اوند دی سره او هغه

دَفْعُ الزَّكٰوةِ إِلٰى مَنْ يَمْلِكُ نِصَابًا مِنْ أَيِّ مَالٍ كَانَ

د زکوة وهغه چا ته چه مالک وی د نصاب د هغه مال څخه چه وی

وَيَجُوزُ دَفْعُهَا إِلٰى مَنْ يَمْلِكُ أَقَلَّ مِنْ ذٰلِكَ

اوسره فاده وه هغه د زکات وهغه چا ته چه مالک وی د دوو فی مال چه هغه کم وی تر نصاب

وَإِنْ كَانَ صَحِيحًا مُكْتَسِبًا وَيُكْرَهُ نَقْلُ الزَّكٰوةِ

کرځه هم په صورت چه وی او پس کسب قادر وی او مکروه دی وړل د زکوة د یوه

مِنْ بَلَدٍ إِلٰى بَلَدٍ آخَرَ وَإِنَّمَا يُفَرَّقُ صَدَقَةُ كُلِّ

بنار څخه و بل بنار ته - بلکه تفریق او تقسیم دې کړی امام زکوة د هر قوم

قَوْمٍ فِيهِمْ إِلَّا أَنْ يَحْتَاجَ الْإِنْسَانُ أَنْ يَنْقُلَهَا

په هغه قوم کی (یعنی وفقیر اونه د هغه قوم دې وړکړی) مګر هغه وخت که محتاج سوسړی یعنی زکات

إِلٰى قَرَابَتِهِ أَوْ إِلٰى قَوْمٍ هُمْ أَحْوَجُ إِلَيْهِ مِنْ أَهْلِ بَلَدِهِ

وړکوی دې چا ته یوسی زکات وخپلو قریبانو ته چه هغه په بل بنار کی وی او یا یوسی زکات وبو

داسی خلکو ته چه هغه دیر محتاج وی مال ته تر خلکو د بنار د د ه - یعنی هغه د بل ځای مسکینان

یعنی بې چاره وی او د د ه تن بنار ه

بَابُ صَدَقَةِ الْفِطْرِ

باب دی په بیان کی د خیرات د روژې د ماتید و یعنی کوچنی اختر چه دی ته په اصطلاح سر سایه وائی

پوه سلهٔ! چه د سر سایې سبب سر دی او فطر فی شرط دی - کوکب دری ۵۵

صَدَقَةُ الْفِطْرِ وَاجِبَةٌ عَلَى الْحُرِّ الْمُسْلِمِ إِذَا كَانَ

سر سایه واجب د ه - پس آزاد سړی چه مسلمان وی - نو پر مریی کافر نه د ه واجبه

مَالِكًا لِمِقْدَارِ نِصَابٍ فَاضِلًا عَنْ مَسْكَنِهِ وَثِيَابِهِ

چه مالک وی د نصاب د هغه مال چه وی - چه بالاوی هغه نصاب تر سرای د او سیدو او تن کالو د ه

وَأَثَاثِهِ وَفَرَسِهِ وَسِلَاحِهِ وَعَبِيدِهِ لِلْخِدْمَةِ

او تر سامان د ه - او نه یات وی تر آس د سپی تیار د ه او جنګی سلاح لکه توپک کلاشنکوف او تر مریانو خدمت د ه

يُخْرِجُ ذٰلِكَ عَنْ نَفْسِهِ وَعَنْ أَوْلَادِهِ الصِّغَارِ

باسی به یعنی وړکوی به د هغه سر سایه د خپل ځان د خوا - او د کوچنی عیال د خوا که نر وی که ښځه

وَعَبِيدِهِ لِلْخِدْمَةِ وَلَا يُؤَدِّي عَنْ زَوْجَتِهِ

او د مر یانو د خدمت - او نه دی اداء کوی سر سایه د مایې د خوا

مسئلهٔ! که مایه غنی وا پرد ې خپله سر سایه واجبه د ه که څه هم میره مسکین وی -

وَلَا عَنْ أَوْلَادِهِ الْكِبَارِ وَإِنْ كَانُوا فِي عِيَالِهِ

او نه دی باسی سر سایه د لویانو یعنی بالغانو عیالو د خوا که نر وی او که ښځې که څه هم د هغه نزامن

اولو فی د سړی په عیال کی وی - یعنی په ویش وسره کور وی -

مسئلهٔ! که سرمایه د پلار وی او نزامن فی وړ چلوی او کتې وړکوی هغه نزامن

تر له مسکینانو او د پلار من د وزان دی نه زکات پرسته نه سر سایه -

مسئلهٔ! که پلار شی نه د سر لود ی او په کسبه نا ست و و نزامنو ساتی او نزامنو فی

پر خپل کسب او تجارت سره په برابر کړی وی نو پلار فی مسکین دی نه زکوة پرسته

او نه سر سایه - زکات او سر سایه فی پرنزامنو د ه -

وَلَا يَخْرُجُ عَنْ مَكَاتَبِهٖ وَلَا عَنْ مَمَالِيْكِهٖ لِلتِّجَارَةِ

اوس سایه دی نه وېکوی د مکاتب مړی۔ اونه د هغو مړیانو چه د تجارت د پاره وی۔
یعنی س سایه خوئ نسته مکر زکات ئ سته په قیمت کی د هغو۔

وَالْعَبْدُ بَيْنَ الشَّرِيْكَيْنِ لَا فِطْرَةَ عَلٰى وَاحِدٍ مِّنْهُمَا

او هغه مړی چه په مابین کی د دو و شریکانو نو شریک وی س سایه ئ پریوه هم نسته

وَيُؤَدِّي الْمُسْلِمُ الْفِطْرَةَ عَنْ عَبْدِهِ الْكَافِرِ

او وېکوی به مسلمان س سایه ئ خپل مړی چه هغه مړیٔ کافر وی۔

وَالْفِطْرَةُ نِصْفُ صَاعٍ مِّنْ بُرٍّ اَوْ صَاعًا مِّنْ تَمْرٍ اَوْ

اوس سایه نیمه کاسه ده یعنی دوه کیلو د غنمو څخه او یا یوه کاسه د جو ما یا و څکو
مسئله: هغه کسی خو ما وېکوله یا ئ وڅکی او کشمش وېکوله نو یوه کاسه یې وېکوی که څه هم په قیمت تر نیمه کاسه غنمو بالاوی

زَبِيْبٍ اَوْ شَعِيْرٍ وَالصَّاعُ عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ

او یا د اوړه بشو څخه او کاسه په نزد د امام صاحب او امام محمد صاحب

ثَمَانِيَةُ اَرْطَالٍ بِالْعِرَاقِيِّ وَقَالَ اَبُوْ يُوْسُفَ خَمْسَةُ

اته رطله ده په عراقی رطل سره۔ او وائی امام ابو یوسف چه کاسه پنځه رطله

اَرْطَالٍ وَثُلُثُ رَطْلٍ وَوُجُوْبُ الْفِطْرَةِ يَتَعَلَّقُ

اویوه درېیمه د رطل ده۔ او واجب والی د س سایی تعلق لری په

ع الْفَجْرِ الثَّانِيْ مِنْ يَوْمِ الْفِطْرِ فَمَنْ مَاتَ قَبْلَ

ـه دوهمی سپیدو یعنی فجر صادق دوړځ د فطر (یعنی کوچنی اختر) که څوک مړ شود څخه

ذٰلِكَ لَمْ تَجِبْ فِطْرَتُهٗ وَمَنْ اَسْلَمَ اَوْ وُلِدَ

تر سپیدو دوړځی د اختر د هغه س سایه نه ده واجبه او که څوک مسلمان سو او یا وزیږید ی

بَعْدَ طُلُوْعِ الْفَجْرِ تَجِبُ فِطْرَتُهٗ وَالْمُسْتَحَبُّ

پس له طلوع الفجر س سایه پر و اجبه ده۔ اوبنه کار دا دی چه ورکړی کی

اَنْ يُّخْرِجَ النَّاسُ الْفِطْرَةَ قَبْلَ الْخُرُوْجِ اِلَى الْمُصَلّٰى

اووړی باسی خلک س سایه د څخه تر وتلو عید کاه ته تر څو چه مسکینان په فارغه ټرخ عید کاه وکړی

فَاِنْ قَدَّمُوْهَا قَبْلَ يَوْمِ الْفِطْرِ جَازَ وَاِنْ اَخَّرُوْهَا

او که ئ د څخه وړاندی س سایه د اختر تر ورځی س وا ده۔ او که ئ وځنډول خلکو س سایه

عَنْ يَوْمِ الْفِطْرِ لَمْ تَسْقُطْ وَكَانَ عَلَيْهِمْ اِخْرَاجُهَا

د اختر تر ورځی دوړځی د ذ څخه نه ساقطیږی۔ او په دوړځ لانړم دی ایستل۔ یعنی وړکول ئ۔

فوائد شتی

بعضی ملایان د وزیرستان په میاشت کی او خصوصًا د اختر نه نزدې س سایه په باره کی
کلک مواعظ او بیانات کوی او احادیث شریف بیانوی۔ او وائی چه وزیرستان معلق دی تر هغو چه
س س سایه وړکوی۔ دا خو بنه کار دی چه خلک په دین خبر سی۔ لکن دا بیانونه بیانوی
چه س سایه پرېښودل واجبه ده۔ بلکه دا دوی د مطلق بیان څخه عوام دا فهموی چه س سایه لکه
وزیرستان په هر چا واجبه ده۔ حتی چه بعض خلک چه نه د استوګنی سرای لری او د وزیرستان په
مزدوری اختر وی هغه هم س سایه پرېښودل واجبه بولی۔ حتی بعض کسان د س سایی
د پاره روپۍ دیوه اوبله پورته وی۔ دا د دې سبب چه ملا صاحب ئ س نه وړ خلاصوی
چه س سایه یې هغه چا واجبه ده چه مالک د نصاب وی۔ تر مسکین، تر پورته اوتر سامان
د کوړ بالا وی۔ لکه چه په اول کی د باب تیر سوه۔ اوبل دا چه ملا صاحب د س سایی مصارف
هم نه بیانوی۔ یعنی چه س سایه به وچاته وړکوی چه هغه فقراء او مساکین دی هر څوک
چه وی۔ بلکه د ملا صاحب دا شاراتو څخه عوام دا فهموی چه س سایه یوازی اویوازی

د مسجد د ملا حق دی کړ څه هم غنی وی. نو داسی دیر لیدل کیږی چه یو غریب سړی چه د اختر پر نوو کالو هم قدرت نه لری ملا صاحب ته ورسی سر سایره ورپیش کړی ملا صاحب سره د علم پرحال دده هغه سر سایره وجیب ته واچوی. او د انورته وائی چه پرتا سر سایره نه کیږی.

مسئله! که بنځی ترډیره جوته بالاد اغوستو کالی د سړو ده او قیمت ئی د نصاب ته رسیدلی وی هغې بنځی سر سایره واجبه ده. په دې زمانه کی بنځی پښل دیرش جوته قیمتی کالی لری او سر سایره نه ورکوی. نو غاړی ئی بندی دی.

مسئله! پر هرچا چه د شریعت دلاری سر سایره واجبه وی وهغه چا ته دبل نه کوی اختیار حرام دی. یا اختر پر واجب وی هغه ته هم نه کوی اختیار حواله دی؛

کِتَابُ الصَّوْمِ

کتاب دی په بیان کی د احکامو د روژې

فائده! صدقة الفطر باید ترروژې وړاندې ذکر سوې وای. تاچه طبع او وضع سره برابر سوی وای لکن مصنف ئ د جهته د مناسبت د صدقة الفطر د زکات سره صدقة الفطر په زکات پسې متصل ذکر کړه وجه د مناسبت ئی دا ده چه دوئ دواړه مالی دی.

اَلصَّوْمُ ضَرْبَانِ وَاجِبٌ وَنَفْلٌ فَالْوَاجِبُ ضَرْبَانِ مِنْهُ مَا

روژه دوه قسمه ده واجب یعنی فرض. او نفل. او واجب بیا پر دوه قسمه دی یوقسم ئی

يَتَعَلَّقُ بِزَمَانٍ بِعَيْنِهِ كَصَوْمِ رَمَضَانَ وَالنَّذْرِ الْمُعَيَّنِ

هغه دی چه تعلق لری په زمانه معینه پورې لکه روژه د میاشتی د روژې او نذر معین (مثلاً یو سړی وائی چه پر فلانی سبا روژه نذر ده.

فَيَجُوزُ الصَّوْمُ بِنِيَّةٍ مِنَ اللَّيْلِ فَإِنْ

نو نه دی سره وادغه روژې مکمل په نیت کولو سره د شپې څخه (یعنی په شپه کی نیت وکړی چه سبا نهار فرض یا نذر دی روژه

لَمْ يَنْوِ حَتَّى أَصْبَحَ أَجْزَأَتْهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ

(ده) او که سړی د شپې نیت د روژې نه وکړی تر څو چه سحار سوه وای کافی دی ده لره نیت د روژې په مابین کی د

الزَّوَالِ وَالضَّرْبُ الثَّانِي مَا يَثْبُتُ فِي الذِّمَّةِ

سپیدو تر نه وال پورې. او دوهم قسم هغه دی چه ثابت وی دده په ذمه کی.

كَقَضَاءِ رَمَضَانَ وَالنَّذْرِ الْمُطْلَقِ وَالْكَفَّارَاتِ

لکه قضای روژه د روژې د میاشتی یا نذر مطلق لکه چه وائی پر مایو که یا د وړې روژې نذر دی یا روژه د کفارو تو لکه روژې د کفارې د قسم یا روژې د قتل خطا یا روژې د کفارې ظهار. دا روژې معین وخت نه لری بلکه هر وخت ئی دینو لو وخت دی

فَلَا يَجُوزُ صَوْمُهُ إِلَّا بِنِيَّةٍ مِنَ اللَّيْلِ

نو نه دی سره وادغه روژې مکمل په نیت سره د شپې څخه.

دلیل ئی دا دی چه روژه د تعیین غواړی یا د خدای پاک د خوا څخه لکه د روژې د میاشتی روژه یا د بنده د خوا لکه نذر معین او په دغو مذکوره روژو کی نه د خدای د خوا څخه وخت معین لری او نه د بنده د خوا څخه. نو حکمه نیت د شپې غواړی چه معین سی د بنده د خوا څخه.

وَكَذَلِكَ صَوْمُ الظِّهَارِ وَالنَّفْلُ كُلُّهُ يَجُوزُ

او دغسی نیت د شپې غواړی د روژه د ظهار. (د ظهار بیان به د نکاح په حصه کی راسی) او نفلی روژې تول سره وادی

بِنِيَّةٍ قَبْلَ الزَّوَالِ وَيَنْبَغِي لِلنَّاسِ أَنْ يَلْتَمِسُوا الْهِلَالَ فِي

په نیت سره د څه تر زوال. او بنائی خلکو لره چه طلب د میاشتی د روژې کوی په نهه ویشتمه ورځ

الْيَوْمِ التَّاسِعَ وَالْعِشْرِينَ مِنْ شَعْبَانَ فَإِنْ رَأَوْهُ صَامُوا

د سلواغه یعنی چه شپه دیرشمه راځی نو کی میاشت ولیده د روژې به نیسی.

مسئله ۵: که د روژې میاشت څوکنده ښکاره سوه چې تولو خلکو یا اکثرو خلکو ولیدل نو شاهدي
اود قاضي حکم ته ضرورت نشته اوکه یو څوکسانو ولیدل بیا شاهدي اود قاضي حکم ته ضرورت لاسته

وَإِنْ غُمَّ عَلَيْهِمْ أَكْمَلُوا عِدَّةَ شَعْبَانَ ثَلَاثِينَ

اوکه پته سوه میاشت د دوي څخه یعنې چا نه ولیدل نو دې پوهه کړي حساب دیرات دمیاشتې دیرشمه

يَوْمًا ثُمَّ صَامُوا وَمَنْ رَأَى هِلَالَ رَمَضَانَ وَحْدَهُ

اوهم اوبیادې سره ۵ وینې یعنې کله چې هم میاشت نه وینې، اوکه چا ولیدل میاشت د سره ۵ یوازې څه

صَامَ وَإِنْ لَمْ يُقْبَلِ الْإِمَامُ شَهَادَتَهُ وَإِذَا كَانَ

سړي به سره ۵ نیسي که څه هم باچا نه کړي قبوله شاهدي د ده - اوکه چیرې وي په اسمان

فِي السَّمَاءِ عِلَّةٌ قَبِلَ الْإِمَامُ شَهَادَةَ الْوَاحِدِ الْعَدْلِ

کې علت کومه یا وریځ - قبوله دې کړي امام یا قاضي شاهدي دیوه سړي چې عادل وي یعنې کناهونه

رَجُلًا كَانَ أَوِ امْرَأَةً حُرًّا كَانَ أَوْ عَبْدًا

کبیره نه کوي اکه داشاهد نږدې اوکه بنځه - آزاد وي او کمریې وي[1]

وَإِنْ لَمْ يَكُنْ بِالسَّمَاءِ عِلَّةٌ لَمْ تُقْبَلِ الشَّهَادَةُ

اوکه چیرې نه وي په آسمان کې علت نو نه قبلیږي شاهدي

حَتَّى يَرَاهُ جَمْعٌ كَثِيرٌ يَقَعُ الْعِلْمُ بِخَبَرِهِمْ

ترهغوچې وینې ډیره لویه جماعت چې په خبر سره د دوي علم او یقین پیدا سي۔

فائده ۶: دلوې جماعت په اندازه کې کوم عدد نه دي راغلي په ظاهر روایت کې۔ او د امام ابو یوسف څخه
دي چې لوې جماعت پنځوس کسه دي۔ او بعض فقهاء وائي چې اکثر اهل محله معتبر دي۔ کذا في الهدایه۔

[1] ولې چې په بخاري شریف کې راغلي دي چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم دیوه سړي شاهدي منلې ده ۱۲

او معتبر خبره داده چې دهغه لویې جماعت اندازه واړه امام اویا قاضي ته سپارله کیږي۔ کافي الجوهرة والدر المختار۔

بنهانه فائده ۱: هغه ځایونه او وطنونه چې د دسیاب په غاړه کې پراته وي لکه
سعودي عربستان، کویت، بغداد، بعضې بنادرونه د ایران او نورې دغه قسم څخه دهغو وطنو
هوا او آسمان بیله وي یعنې همیشه صاف او بې علت وي۔ او هغه بنادرونه او ځایونه او وطنونه
چې د دسیاب څخه لیرې واقع وي لکه بلوچستان، افغانستان، پشاور وغیره۔ د هغو هوا
او اسمان بیله وي یعنې هم کړنه آلوده وي۔ والله اعلم بالصواب۔

وَوَقْتُ الصَّوْمِ مِنْ طُلُوعِ الْفَجْرِ الثَّانِي إِلَى غُرُوبِ الشَّمْسِ

اوهغه د روژې نیولو د اختر څخه د دوهمې سپیدې یعنې صبح صادق بیا تر لوید و پورې دلمر۔

فائده ۲: د سیاسي په کتابونو کې وائي چې تولې د سرچې د فلک چې شبانروزې دوه کوې
(۳۶۰) دي او ساعتونه شبانروز (۲۴) دي نو (۳۶۰) چې پر (۲۴) تقسیم سي (۱۵-
۱۵) د سرچې سیږي یعنې حصه دیوه ساعت (۱۵) د سرچې دي د معدل النهار سره۔ او دا هم
دوې وائي چې کښته والې دلمر تل محکم پر اول کې د صبح کاذب (۱۸) د سرچې دي۔ پر دغو (۱۸)
کې (۱۵) یو ساعت کیږي۔ پاتې سوې دري د سرچې۔ بیا نو ساعت (۶۰) دقیقې دي (۶۰) چې
پر (۱۵) ووېشې (۴-۴) سره سیږي۔ نو حصه دیوې د سرچې (۴) دقیقې کیږي۔ نو هغه (۳)
د سرچې چې پاتې وي هغه (۱۲) دقیقې کیږي۔ نو حاصل دا چې د صبح کاذب څخه تر لمر ختو پورې
یو ساعت (۱۲) دقیقې دي۔ البته د هوا په صفائي پرشا کې او د خیرن والي په دوبۍ کې
سا اختل یعنې معلومیدل د سپیدو فرق کوي۔

وَالصَّوْمُ هُوَ الْإِمْسَاكُ عَنِ الْأَكْلِ وَالشُّرْبِ وَالْجِمَاعِ نَهَارًا مَعَ النِّيَّةِ

او د روژې ځان ساتنه د خوړلو او چښلو او د جماع څخه د دوهمې سره د نیتې۔ یعنې قصد دنه کړه۔

فائده ۳: نیت د دې سبب غواړي چې عبادت او عادت سره جلا سي۔

فَإِنْ أَكَلَ الصَّائِمُ أَوْ شَرِبَ أَوْ جَامَعَ نَاسِيًا لَمْ يُفْطِرْ

او که خوړلو وکړي د روژې اتي یا وي چښلو وکړي یا وي وطي وکړي په هیر کې چې د روژې ده یاد نه وي د روژې نه ماتیږي

فائده ۴: حضرت امام مالک وائي چې د روژې د ماتې ده بیابې قضا سره اوسي۔ نه هوبنه دلیل
دادې چې په مشکوة شریف کې راغلي دي چې یو سړي چې د روژې په هیر ډوډۍ خوړلې وه

د آنحضرت صلی اللہ علیہ وسلم تہ ښاغلی او د خپلی دغی روژې پوښتنې ځنی وکړه
رسول اللہ صلعم داسی وفرمایلہ، تِمَّ عَلٰی صَوْمِکَ فَاِنَّمَا اَطْعَمَکَ اللّٰہُ وَسَقَاکَ"
ترجمہ! تمامه کړه خپله روژه او تاته د ډوډۍ درکړه خدای پاک اوبه درکړې خدای پاک۔

فَاِنْ نَامَ فَاحْتَلَمَ اَوْ نَظَرَ اِلٰی اِمْرَاَۃٍ فَاَنْزَلَ اَوْ اِدَّھَنَ

اوکه روژاتی بیده سو او شیطان یانه ویښ کړه او یانې وکتل وینځه ته او انزال سو او یانې سی غوړ کړی یا نه

اَوِ احْتَجَمَ اَوِ اکْتَحَلَ اَوْ قَبَّلَ لَمْ یُفْطِرْ

او یانې وینه وکښه او یانې ستر کی توړی کړې او یانې چه واخسته په دې تولو صورتو کی روژه کنه ماتیږی

فَاِنْ اَنْزَلَ بِقُبْلَۃٍ اَوْ لَمْسٍ فَعَلَیْہِ الْقَضَاءُ وَلَا کَفَّارَۃَ عَلَیْہِ

اوکه انزال سو چې په اخستو سره یا په مسه کولو سره نو پرته قضا ستر او کفاره نشته پرې ده۔

دلیل دادی۔ قضا په دې سبب ستره چه معنی د جماع وچه انزال دی پیدا سوه او کفاره په دې
سبب نشته چه صورت د جماعت دی پیدا سوی۔

وَلَا بَاْسَ بِالْقُبْلَۃِ اِذَا اَمِنَ نَفْسَہٗ وَیُکْرَہُ

او پرته نشته په چه اخستو کې په خان باور ولري او چه جماع نه راښکته کیږی او انزال هم نه راښکته کیږی او مکروه

اِنْ لَّمْ یَاْمَنْ وَاِنْ ذَرَعَہُ الْقَیْءُ لَمْ یُفْطِرْ

ده چه اختلل کې باور نه ولري۔ اوکه روژاتی مجبوره کړی قې (یعنی بې اختیاره وغی) روژه ئې نه ماتیږی۔

بعضی امامان دقی والا ځکه پوښتنه کوی چه قې په ډکه خوله وی او که په تشه خوله؟ دا پوښتنه
غلطه ده ولې ډکه خوله او تشه خوله په روژه کی فرق نه لری البته په اوداسه کی فرق لری۔

وَاِنِ اسْتَقَاءَ عَامِدًا مِلْءَ فِیْہِ فَعَلَیْہِ الْقَضَاءُ

اوکې په قصدی وواهه په ډکه خوله نو پرې هغه سړی قضاء ستره۔
یعنی که په تشه خوله وی نو قضا نشته۔ امامان د مجبوری دقی او د قصدی فرق
نه کوی۔

وَمَنِ ابْتَلَعَ الْحَصَاۃَ اَوِ الْحَدِیْدَ اَوِ النَّوَاۃَ اَفْطَرَ وَقَضٰی

اوکه چا تیږه کړه شکریا او سپینه یا د خرما مندک روژه ئې ماته سوه قضا دی ساو سړی کفاره باندی نشته

فائده ګر! لکه د غه رنګه شیان چه ذکر سوه خاوره خاشه وغیره چه نه د واړی او نه غذا حکم ئې د غښی دی

مسئله! بعضی وخت روژاتی مریض سی او داکتر وینه وباسی او چه روژه ماته کړه او مریض
نه پوهیږی چه داکتر ته حجامت والی یا نه او حاذق دی او که نه او ماته د روژې خو هیڅ راوادی کړه۔
نو د غه ټول د واړی روژه په د غو شیانو لکه خاوره وغیره ماته کړې او بیا د ی د واړه خوړی۔

وَمَنْ جَامَعَ عَامِدًا فِیْ اَحَدِ السَّبِیْلَیْنِ اَوْ اَکَلَ

اوکه چا جماع وکړه په قصد۔ په یوه کی د دوولاره یعنی د هغه یا د شادخوا او یانې خوړ وکړی

اَوْ شَرِبَ مَا یَتَغَذّٰی بِہٖ اَوْ یَتَدَاوٰی بِہٖ فَعَلَیْہِ

اویانې څښنګ وکړی د هغه شی چه غذا بدن وی یا په هغه شی د واګیږی نو هغه پرې هغه سړی باندی

الْقَضَاءُ وَالْکَفَّارَۃُ وَالْکَفَّارَۃُ مِثْلُ کَفَّارَۃِ الظِّھَارِ

قضاء او کفاره د واړه ستره۔ او کفاره د روژې په مثل د کفاره ظهار ده۔

یعنی اول که مریض وو هغه به آزاد وی اوکه هغه نوکر وو نو به دوه میاشتې پرله پسې روژه ونیسی اوکه هغه هم
دوسره نه وی پوره نو به شپیته مسکینانو ته غرمه او مابنام میانه خوړ ک ورکوی۔

وَمَنْ جَامَعَ فِیْ مَادُوْنَ الْفَرْجِ فَاَنْزَلَ فَعَلَیْہِ الْقَضَاءُ

اوکه چا جماع وکړه په ماسوا کی د فرج (شاو خوا) یعنی په وړانډیا خیټه کی او انزال سو نو پرهغه قضا د هغې روژې ستره

وَلَا کَفَّارَۃَ عَلَیْہِ وَلَیْسَ فِیْ اِفْسَادِ الصَّوْمِ فِیْ

او کفاره نشته پرې ده او نشته په فاسدولو کی د یعنی خوړلو کی د روژې په غیر کی

غَیْرِ رَمَضَانَ کَفَّارَۃٌ وَمَنِ احْتَقَنَ اَوِ اسْتَعَطَ

د میاشتی د روژې کی کفاره (اکه نفلی وی که قضائی وی اوکه نذره وی) کې روژاتی دستوره یعنی اماله وکړی یا په پزه

أَوْ اِقْطَرْ فِي أُذُنِهِ أَوْ دَاوَى جَائِفَةً أَوْ آمَّةً

کی دوا واچوی او یا ئی دواخاشکی کړۍ په غوږ کی یا ئی دواچول په تپ کی چه وښی تر سی کی وی یا ئی په تپ کی دوا واچول چه اُم الدماغ یعنی دمغز و پرده تر سیدلی وی۔

بِدَوَاءٍ رَطْبٍ فَوَصَلَ إِلَى جَوْفِهِ أَوْ دِمَاغِهِ

په لنده دواسره نر وسیدل هغه دوا وښی تر دی او یا دماغ تر دی

أَفْطَرَ وَإِنْ أَقْطَرَ فِي إِحْلِيلِهِ لَمْ يُفْطِرْ عِنْدَ

سړۍ ئی ماتوسوه او کې وخښول دواپه ذکر کی سړۍ ئی نه ده ماتوپه نزد

أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ يُفْطِرُ

د امام اعظمؒ او د امام محمدؒ او ویلی دی امام ابو یوسفؒ سړۍ ئی ماتوده

فائده! د اختلاف علت دی چه دواو مثانې یعنی سپوخی تر وسیږی۔ اوکه په ذکر کی یا تاوی نو په اتفاق ئی سړۍ نه ده ماتوه۔ اوسبب د اختلاف دا دی چه امام اعظمؒ او امام محمدؒ وائی چه دمثانې اوښ تر مابین سوري نشته او امام ابو یوسفؒ وائی چه شته۔ کوکب دری ص۵۸

مسئله! په دې زمانه کی پیچکاری چه هم لنده دواده کې په سړۍ کی ولکوی سړۍ ئی په ماتیږی او که نه؟ تفصیل دادی! چه دسړی په نس کی درد وی یا په دماغ کی درد وی او پیچکاری په لاس کی یا په ورانده کی وی ولکوی هغه درد ئی بنه کړی۔ او یا ئی په سړک کی وی ولکوی هغه درد بنه کړی۔ نو پوښتنه داده چه آیا شخصًا دغه لنده دواهغه خای تر سیږی او که دلې پاتیږی تاثیر ئی وهغه درد هند خای تر سیږی۔

ماچه دواکثرا نو څه معلومات کړی دی هغه وائی چه دواهم دلته پاتیږی او تاثیر ئی هلته سیږی۔ او ظاهر هم دغسی معلومیږی ولی چه دلاس او کنائې او معدې او دماغ تر مابین دیر فواصل موجود دی نو دا یو خاحتکی دوا به هلته چیری وسیږی۔ نو سړۍ ئی نه ماتیږی۔ البته سیوم چه دیر لنده دواده هغه معدې تر سیږی نو سړۍ په ماتیږی او سړک ستوم چه لږ نرم واده غالب داده چه معدې او دماغ تر نه سیږی۔ وَاللهُ أَعْلَمُ بِالصَّوَابِ۔

پوښتنه! چه دستر کی، پنې او د حلق تر مابین سوري شته نو حکه پنې باد دستر کی په لنده دوا سړۍ ئی ماتیږی

وَمَنْ ذَاقَ شَيْئًا بِفَمِهِ لَمْ يُفْطِرْ وَيُكْرَهُ لَهُ ذَالِكَ وَيُكْرَهُ

او که چا وشکی پرخوله او په شړبه دیوشی خوند سړۍ ئی نه ماتیږی لکن مکروهه دی دهغه لړ کار او مکروه

لِلْمَرْأَةِ أَنْ تَمْضَغَ لِصَبِيِّهَا الطَّعَامَ إِذَا كَانَ لَهَا مِنْهُ بُدٌّ

دی بنځی لړ چه شړوئی او کوچنی تر خپل ډوډی وغیره کچیری وه دې لړ چاړه دده غه شړو لوخته

لکه چه ډوډی کلکړی او کوچنی ئی پخپله نه سی شړولای نو چاړه نسته سړۍ واده۔

او که چیری هغه طعام شړولو ته حاجت نه سړ لودی لکه شوله پیږینی یا بل کوچنی موجود وو چه هغه وسړۍ وولای سوای یا یوه بله حائضه بنځه په کوهک وه چه هغې وسړۍ وولو نو چاړه نسته سړۍ وشاتی دې نو سړۍ ئی

وَمَضْغُ الْعَلَكِ لَا يُفْطِرُ الصَّائِمَ وَيُكْرَهُ

او شړوول د شاو لو سړۍ نه ماتوی لکن شړوول ئی مکروه دی۔

مسئله! داحکم دهغه شاولودی چه سپینی او سړه تینګی وی او اجزاء ئی نه جلا کیږی او که تو هم شاولی وی او دهغه چا نو چې شړولی په هغه سړۍ ئی ماتیږی ولی چه هغه شاولی په اول واسړۍ شړوولو سړه جلا کیږی اوښ تر سیږی۔ کذا فی الجوهره والعینی والهدایه۔

مسئله! داحکم د پخوانی شاولو دی۔ او د اوس نه مانې په شاولو حتمًا سړۍ ئی ماتیږی ولی چه د هغو اجزاء په اول واسړحتمًا نس تر سیږی۔

وَمَنْ كَانَ مَرِيضًا فِي رَمَضَانَ فَخَافَ إِنْ صَامَ

او که څوک مریض وو د سړۍ ئی په میاشت کی او بیږی ویږی که نه سړۍ ئی او نیسم نو مرض

إِزْدَادَ مَرَضُهُ أَفْطَرَ وَقَضَى وَإِنْ كَانَ مُسَافِرًا

می زیاتیږی۔ سړۍ ئی ده وخوړی او بیا دی قضا سړۍ وړی او که چیری یو سړی مسافر وو

لَا يَسْتَضِرُّ بِالصَّوْمِ فَصَوْمُهُ أَفْضَلُ وَإِنْ أَفْطَرَ

او سړۍ ئی ضرر نه وړی مساوی نو سړۍ ئی نیول ئی افضل دی او که سړه ده هغه ده سړۍ وخوړی

وَقَضَى جَازَ وَإِنْ مَاتَ الْمَرِيضُ أَوِ الْمُسَافِرُ وَهُمَا

او بیائی قضاء سره نه وادی. اوکه چیری مریض سوهم یعنی یا مسافر اوبه وخت پریخپل حال وی یعنی په مرض او

عَلَى حَالِهِمَا لَمْ يَلْزَمْهُمَا الْقَضَاءُ وَإِنْ صَحَّ الْمَرِيضُ أَوْ أَقَامَ

سفر کې وی پرده وخت نه لاړمین ی قضاء (یعنی فدیه نسته یا ندی) اوکه چیرې چې سوه مریض او یا مقیم

الْمُسَافِرُ ثُمَّ مَاتَا لَزِمَهُمَا الْقَضَاءُ بِقَدْرِ الصِّحَّةِ وَالْإِقَامَةِ

سوه مسافر پس مړه سوه پرده وخت لاړمینده قضاء سره وشوه په اندازه دوه سره خو د صحت او اقامت.

سوال! دوې خو مړه سوه نو د قضا لاړمینده څه فائده؟ جواب! فائده ئې داده چه وصیت د فدیې په کوی.

وَقَضَاءُ رَمَضَانَ إِنْ شَاءَ فَرَّقَهُ وَإِنْ شَاءَ تَابَعَهُ

اوبه قضا کې سره شوه د سړي خوښه ده که جلا جلا ښیسی اوکه ئې پرله پسې ښیسی.

ولې چه آیة شریف مطلق راغلی دی هغه دا، فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ، لکن تتابع ئې مستحب ده. کوکب دری ص۱۱۵

وَإِنْ أَخَّرَهُ حَتَّى دَخَلَ رَمَضَانُ آخَرُ صَامَ

اوکې وخنډول قضاء د سره شوې تر څو چه داخل سوه بله د سره شوې میاشت نو سره شوه دی وینسی

رَمَضَانَ الثَّانِي وَقَضَى الْأَوَّلَ بَعْدَهُ وَلَا فِدْيَةَ

د دوهمې میاشتی او قضاء دی دا ولی میاشتی وروسته سره اوسره او فدیه نسته باندی

عَلَيْهِ وَالْحَامِلُ وَالْمُرْضِعُ إِذَا خَافَتَا عَلَى وَلَدَيْهِمَا

او امید ولرۍ ښځه یا شیدې ورکوونکې ښځه کې بیدلې پرکوچنیانو د دوې (یعنی که سره شوه وینسی حامله دښ

أَفْطَرَتَا وَقَضَتَا وَلَا فِدْيَةَ عَلَيْهِمَا

پرکوچنی او مرضعه دقې پرکوچنی بیدلې، نو دوې دی سره شوې وخوړې اوبیا دې قضا سره کړی او فدیه نسته پردوې

ولې چه داخوړک د سره شوې د عذر لکه دی.

وَالشَّيْخُ الْفَانِي الَّذِي لَا يَقْدِرُ عَلَى الصِّيَامِ

او شیخ فانی کړنوی کې ښځه وی هغه چه قدرت نه لری پوره سره شوه نیولو باندې (یعنی د چهنه د عمر دښ یا توالی)

يُفْطِرُ وَيُطْعِمُ لِكُلِّ مِسْكِينٍ لِيَوْمٍ وَاحِدٍ كَمَا يُطْعِمُ فِي الْكَفَّارَاتِ

نو هغه دی سره شوه وخوړی او فدیه د طعام دی ورکړی وهر مسکین ته دیوې وړۍ د پاڼه هغه قدره لکه په نورو

کفاراتو کې چه ئې ورکوی. یعنی نیمه کاسه چه دوه کیلو غنم یا یوه کاسه اوربشی یا جوار یا خرما.

فائده! د شیخ فانی د پاڼه بعضی فقهاء (۵۰) کاله مقرر وی او بعضی (۷۰) کاله. لکن ظاهر

روایت دادی چه تعین دکلونسته ولی چه بدن نه دخلکو مختلف دی. بعضی کسان پر (۶۰) کاله د

سره شوې نیولو طاقت نه لری او بعضی کسان د نشلو کالو وی لکن دیر تکړه اوپر سره شوه پوره قادر وی

واقعه! زما په مقتدیانو کې یو حاجی صاحب وو چه دیو نسل و نشلو کالو وو او زما من ئې سپین

ږیری وو او سرمایه دار ه هم وو نو د غه حاجی صاحب به سره شوه نیول (داسې) چه د سحا سره ملونځ بې په مسجد

کې ادا کړی نو به پرې وت وو لکه بیهوښه تر ماښین پورې. ماښین به طالبانو سره اویښ کړی.

ملونځ چه بې وکړی بیا به تر ماښام دیکن پورې پرې وو. مطلب دا چه په دغه ډول د سره شوې

نیولې. نو مابه وړته وویل چه صاحبو تاته شرعاً د سره شوې خوړک روا دی. حاجی به جواب راکړی

چه نه څنګه د سره شوه وخوړم لمر خاته او قبله سره پیژندم. مطلب دا چه هغه حاجی صاحب تر آخر

د عمر د سره شوه نه وخوړل.

نو د شیخ فانی مسئله په پښتنو کې یو منسوخ حکم ګڼل کیږی. او عمومی خلک که څوک د

شیخ فانی توب لرکه د سره شوه وخوړی بد پرې وائی. زما پخپله سن (۷۸) کاله دی او سره شوه نیولو په

تکلیف سره اکوی خو بیا هم د شیخ فانی په حکم عمل نه سم کولای. او دا تولې دې سببه چه په کتابو

کې د فقهی شریفې اکثر د غه لفظ راغلی دی «الَّذِي لَا يَقْدِرُ» نو هر سړی وائی چه نه قدرت

لرم که څه تکلیف وی هم. او د تفاسیرو په کتابو کې دا سی راغلی دی په بیان کې د شیخ فانی

«هو الذي يجحده الصوم» شیخ فانی هغه دی چه په سبب د دیر عمر زحمت وړاکوی سره شوه

نیول. دا تفسیر دیر نه زیبا دی. وَاللهُ أَعْلَمُ.

وَمَنْ مَاتَ وَعَلَيْهِ رَمَضَانُ فَأُوصِيَ بِهِ أُطْعِمَ عَنْهُ

اوکه څوک مړ سو او پرده باندې قضا لې سره شوې وی او وصیت ئې وکړی فدیه به ورکوی د هغه څخه

وَلِيِّهٖ لِكُلِّ يَوْمٍ مِسْكِيْنًا نِصْفُ صَاعٍ مِنْ

قریب دده - دهری وهځی د پاره ومسکین ته نیمه کاسه غنم

بُرٍّ اَوْ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ اَوْ صَاعًا مِنْ شَعِيْرٍ

یا یوه کاسه خرما اویا یوه کاسه اوربشی -

مسئله! که مړی وصیت نه وو کړی اوقریب ئی په سروشه وخښ وو - یا ئی وصیت وکړی لکن مړی هیڅ مال نه وی لودی - په دې دواړو صورتو کی قریب ئی تبرعًا دمړه د مال په اول صورت کی یا دخپل مال څخه په دوهم صورت کی فدیه ورکړی - امید ستنه چه خدای پاک دهغه مړی ذمه دهغو روژو څخه خلاصه کړی - ردمحتار وغیره -

وَمَنْ دَخَلَ فِيْ صَوْمِ التَّطَوُّعِ ثُمَّ اَفْسَدَهٗ قَضَاهُ

اوکه څوک داخل سوې په نفلی سروشه کی (یعنی دسرنګ ئی وکړی پس له نیت اویوکړی پس تیر سو) بیا ئی هغه سروشه فاسده سوه (یعنی ماته ئی کړه) قضا ئی لازمیږی - ولی چه نفلې په شروع سره پرسړی لازمیږی

مسئله! ماتولو دسروژې کو دسروشاتی په صنع اوفعل نه وه لکه بنځه چه نفلی سروشه ئی نیولی وی اویا حیض ورسی قضا خو یې سره اوږی مګر ګناه نشته - اوکه ماتولو ددې په صنع اوقصد وه لکه چه ناجوړه سی اویا بل عذر وی لکه ضیافت یعنی میلمستیا - په جوهره اوذخیره اوعنایه کی داسی سره اغلی دی چه میلمستیا دهغه تړنه وال عذر دی اوپس له زوال عذر نه دی - نو عذر په صورت کی قضا خو نشته اوګناه نشته - اوکې بې عذره ماته کړه هم قضا نشته هم ګناه لکن کفاره نشته -

وَاِذَا بَلَغَ الصَّبِيُّ اَوْ اَسْلَمَ الْكَافِرُ فِيْ يَوْمٍ

اوکه چیرې مړانی تروسبدې کوچنی اویا مسلمان سوکافر دسروشې په ورځ کی

رَمَضَانَ اَمْسَكَا بَقِيَّةَ يَوْمِهِمَا وَصَامَا بَعْدَهٗ وَلَمْ

پوره دې کړی هغه پاتې ورځې په سروشه کې سره اوورځې وروسته وروځی دې سروشه ولیسی اودې تیر وو وروځو قضا نشته

يَقْضِيَا مَا مَضٰى وَمَنْ اُغْمِيَ عَلَيْهِ فِيْ رَمَضَانَ

(ولی په هغو ورځو کی دوی اهل تکلیف نه وه) اوکه بیهوښتیا سره اغله پس سروشاتی دسروژې په میاشت کی -

(یعنی دوه ځی چه ئی سروشه نیولې وه)

لَمْ يَقْضِ الْيَوْمَ الَّذِيْ حَدَثَ فِيْهِ الْاِغْمَاءُ وَقَضٰى مَا بَعْدَهٗ

نو قضا دې نه سره اوږی دهغه ورځی چه ده تړ دایهوښتیا پیښه سوې ده اوږی دوه وسته ورځو قضا به سره اوږی

ولی چه داولی ورځی دسروژې نیت ده کړې وو او امساک ئی هم کړې وو - نو که چیرې دا اغماء څو ورځو تړوسیده دهغه نوروو ورځو قضا به سره اوږی ولی چه په هغو ورځو کی دې نیت دسروژې نه سی کولای

وَاِذَا اَفَاقَ الْمَجْنُوْنُ فِيْ بَعْضِ رَمَضَانَ قَضٰى مَا مَضٰى وَصَامَ

اوکه چیرې په سدکی ئی مانځ لیونی په بعضی ورځو کی دمضان دمیاشتی نوډی به قضا سره اوږی دتیرو ورځو او

مَا بَقِيَ وَاِذَا حَاضَتِ الْمَرْاَةُ اَوْ نَفِسَتْ اَفْطَرَتْ وَقَضَتْ اِذَا طَهُرَتْ

پاتې ورځی به سروشه نیسی - اوکه حائضه سوه بنځه یا النګه سوه (دسروشې په ورځو کی) هغه روژه دې ماته کړې اوبیا دې قضا سره اوږی چه پاک سی

مسئله! که بنځې له حیض ورسی یا النګه سی سروژې ئی په خوله وی که څه هم ماته دیکر وی سروشه ئی ماته سوه -

وَاِذَا قَدِمَ الْمُسَافِرُ اَوْ طَهُرَتِ الْحَائِضُ فِيْ بَعْضِ النَّهَارِ

اوکه کوم تړاوسیدې مسافر اویا پاکه سوه حائضه بنځه په بعضی د ورځی

اَمْسَكَا عَنِ الطَّعَامِ وَالشَّرَابِ بَقِيَّةَ يَوْمِهِمَا وَمَنْ تَسَحَّرَ

نو دوی دې امساک کوی دخوړه کا او وبوچښلو څخه هغه پاتې ورځې دوی - اوچا پیشلمی وکړې

وَهُوَ يَظُنُّ اَنَّ الْفَجْرَ لَمْ يَطْلُعْ اَوْ اَفْطَرَ وَهُوَ يَرٰى

اوده ګمان دا وو چه تراوسه سپیدې نه دی سره اچاودلی - یا ئی سروشه ماته کړه او ده سره ایه دا وه

اَنَّ الشَّمْسَ قَدْ غَرَبَتْ ثُمَّ تَبَيَّنَ اَنَّ الْفَجْرَ قَدْ كَانَ

چه لمر لویدلی دی - او وروسته ورته معلومه سوه چه سپیدې سره اختلی وې (نو هاد پیشلمی په وخت کی)

طَلَعَ اَوْ اَنَّ الشَّمْسَ لَمْ تَغْرُبْ قَضٰى ذٰلِكَ

یا داچه لمر نه وو لویدلی (نو هاد سروشه ماته په وخت کی) قضا دې سره اوږی دهغې ورځی سروژې

اَلْيَوْمَ وَلَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ وَمَنْ رَأَى هِلَالَ الْفِطْرِ

او کفاره نسته پرده او ولی داسی وشاه نه پرې قصد نه ده خوهلی بلکه خطا وتی او خطا عفوه ده) او که چا ولیده ده میاشت

وَحْدَهُ لَمْ يُفْطِرْ وَإِذَا كَانَتْ بِالسَّمَاءِ عِلَّةٌ لَمْ يُقْبَلْ

داختر یوازې دی به دابله ورځ روژه نه خوړي. او که چیرې په اسمان کې علت وو (کوږ یا وریځ) نو نه دی قبلوی

اِلَّا اَمَامُ فِي هِلَالِ الْفِطْرِ اِلَّا شَهَادَةَ رَجُلَيْنِ اَوْ رَجُلٍ وَّ

امام شاهدی په میاشت کې داختر مګر شاهدی دوه وزانو او یا دیوه ښځ او دوو ښځو

اِمْرَاَتَيْنِ وَاِنْ لَمْ يَكُنْ بِالسَّمَاءِ عِلَّةٌ لَمْ يُقْبَلْ اِلَّا شَهَادَةَ جَمَاعَةٍ

او که نو وو په اسمان کې علت نو نه دی قبلوی امام مګر شاهدی دیوی داسی ډلې چې یقین پیدا سی په اخبارو دهغو

مسئله: یو اسلامی حکومت دخواچه په هغه حکومت کې شی ګی قاضیان موجود وی تلیفون راغی چې قاضی ته شاهدان تیر سوه چې موږ د اختر میاشت ولیدله او قاضی هم شاهدی قبوله کړه. نو په دې صورت کې آګرچې تلیفون کوونکی یو سړی دی یا عادل یا فاسق باید څوک عمل ونه کړي. لکن چونکه دحکومتونو خواسخت بندیز دی د دا دی لوی خبری د اشاعت په در واغو. نو په دې سبب دا تلیفون حکم دلوی جماعت لری چې اخبار ئی وکړي په قضاء دهغه بل ملک د قاضی نو عمل دی په وسی: وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِالصَّوَابِ وَاِلَيْهِ الْمَرْجِعُ وَالْمَآبُ

بَابُ الْاِعْتِكَافِ

باب دئ په بیان کې د اعتکاف

اَلْاِعْتِكَافُ مُسْتَحَبٌّ وَهُوَ اللُّبْثُ فِي الْمَسْجِدِ

اعتکاف کول ښه کار دئ او اعتکاف درنګ کول دی په مسجد کې (هغه مسجد چې پنځه وخته د جماعت لونځ پکښې کیږي)

مسئله: جامع مسجد شرط نه دئ او د عیدګاه په مسجد کې اعتکاف نه دی روا.

فوائد: مالکیان وائی چې اعتکاف نفسي روا دئ. او په مبسوط کې وائی چې قربت مقصوده دئ یعنی د ثواب کار دئ مقصود. او شیخ د قدوری مستحب ګڼئ. او په هدایه کې وائی چې اعتکاف سنت مؤکده دئ. واختاره فی المحیط والبدائع. والتحفة وهو الصحیح. او علامه بدرالدین عینی رح وائی چې اعتکاف درې قسمه دئ. یو داچې سړی د خو ورځو اعتکاف پرځان نذر کړي دا اعتکاف واجب دئ. او بل اعتکاف دئ د لسو اخیرو شپو د رمضان دمیاشتې دا اعتکاف سنت مؤکد دئ. او بل دا اعتکاف دی چې په نورو ورځو کې لږ یا پیری ورځې څوک اعتکاف وکړي هغه مستحب دئ.

مسئله: اعتکاف سنت عینی دئ. یعنی هر سړی ته هر کال د رمضان په لس اخیرو شپو کې سنت دئ چې اعتکاف وکړي. یا سنت مؤکد کفائی دئ. یعنی پر اهل د هر ځای محلې یا قریه یا بنار سنت دئ. نو که یوه یا دوه کسانو د محلې یا بنار یا قریې اعتکاف ادا کړئ د ټولو غاړې خلاصې سوې. او که هیڅ چا اعتکاف ونه کړئ د ټولو غاړې بندې دی. اول مذهب دپیر حرج دئ چې ټوله مسلمانان ته تاجره ته دکاندار ته مزدورکاره وغیره به د روژې په اخرو شپو کې په اعتکاف کې وی. نو ځکه فتوی پر دې ده چې اعتکاف سنت کفائی مؤکد دئ. په ټولو اخرو شپو کې د روژې د میاشتې. او هم پر دې مذهب عمل جاری دئ په اسلامی نړئ کې لکن بیا هم اعتکاف دپیر ثواب کار دئ. او د آنحضرت صلی الله علیه وسلم چې مدینې منورې ته تشریف راوړی دی تر وخته د مرګ ئی اعتکاف نه دئ پرې اینبئ. نو هر سړی که عالم او که خاص کم از کم په خپل ټوله عمر کې دا سنت نبوی م باید پرې ځای کړي. او صورت د اعتکاف دا دئ چې سړی د شلم په ورځ د مازدیګر تر لمر لوید و د مخه دی په مسجد کې په نیت د اعتکاف تر اختر پورې کښینی. او تعین دورځو دی نه کوی، ولی چې اختر نه دئ معلوم. او بیا دی تر بنکاره کید و پورې د میاشتې د اختر په مسجد کې پاته وی.

مَعَ الصَّوْمِ وَنِيَّةِ الْاِعْتِكَافِ وَيَحْرُمُ عَلَى الْمُعْتَكِفِ

سره د روژې او نیت د اعتکاف۔ او حرام دی پر معتکف باندی

الْوَطْیُ وَاللَّمْسُ وَالْقُبْلَةُ وَاِنْ اَنْزَلَ بِقُبْلَةٍ اَوْ لَمْسٍ

وطی کول او مسه کول او مچه اختسل یعنی په شهوت سره او که انزال سو معتکف په مچه اختسلو سره یا پرمسه

فَسَدَ اِعْتِكَافُهُ وَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ وَلَا يَخْرُجُ الْمُعْتَكِفُ

کولو سره نو اعتکاف یې فاسد سو او پرده یې قضا راوړل لازم دی۔ اوبه رونې معتکف د مسجد څخه

مِنَ الْمَسْجِدِ اِلَّا لِحَاجَةِ الْاِنْسَانِ اَوْ لِلْجُمُعَةِ

مګر د پاره د حاجت انسانی (یعنی بولی غائط د اوداسه وغسل د پاره) او یا د جمعې د لمانځه د پاره۔

مسئله: معتکف دی په نږدې جامع مسجد کې لمونځ کوي لیرې جامع مسجد ته به نه ځي۔

مسئله: معتکف به داسې وخت د خپله مسجده سره راښیې چې په جامع مسجد کې د دوه رکعته تحیة المسجد او څلور رکعته سنت او بیا دوې خطبې واوري او د جمعې لمونځ وکړي۔ او شپږ رکعته وروسته سنت ادا کړي۔ او که نږدې دیني وخت نې جامع مسجد کې تیر کړي اعتکاف خو نې نه فاسدیږي ولې چې جامع مسجد هم د اعتکاف ځای دی۔ لکن سنه دا ده چې دیني د رنګ دی نه کوي۔ هدایه جلد اول صلا۔

وَالْاَكْلُ وَالشُّرْبُ وَالنَّوْمُ يَكُوْنُ فِيْ مُعْتَكَفِهٖ

اوخوړل او چینګ اوخوب بې د اعتکاف په ځای یعنی مسجد کې وي

وَلَا بَأْسَ اَنْ يَّبِيْعَ اَوْ يَبْتَاعَ فِي الْمَسْجِدِ مِنْ غَيْرِ

اوپرې وانه لري چې معتکف یوشی خرڅوي یا پې راښیې په مسجد کې بیله دې چې هغه شی د خرڅولو یا

اَنْ يَّحْضُرَ السِّلْعَةَ وَلَا يَتَكَلَّمُ اِلَّا بِخَيْرٍ وَيُكْرَهُ لَهُ الصَّمْتُ

راښیولو به مسجد ته راوړي (نفس بیع او شراء ته ضرورت نه وي) او خبرې به نه کوي معتکف مکروه په خیر سره الکه ذکر

تبیه: نصیحت دیوچا احوال پرسی او نورې د خیر خبرې) او مکروه دی معتکف لره پته خوله کیدل۔

چه د هیچا سره هیڅ نه وائی نو هیچا ته جواب ورنه کوي۔ داسې اعتکاف په نورو امتو کې وو مګر زمونږ په شریعت کې منسوخ دی۔ او که د غیبت بهتان مسخرې څخه پته خوله وي هغه لوی عبادت دی۔ کوکب دري منه۔

(اوس زمانې د طالبانو اعتکاف! پرمعتکف دوه ځی یا د شپې نورانیوالی سا اتول سی نو خندا وی او مسخرې د دې واعظ قصې غیبتونه سره کوي۔ ولی چه معتکف دیخ دی۔ دا تول نارواکارونه دی۔

فَلَوْ جَامَعَ الْمُعْتَكِفُ لَيْلًا اَوْ نَهَارًا نَاسِيًا اَوْ عَامِدًا بَطَلَ اِعْتِكَافُهُ

او که جماعی وکړي معتکف د شپې یا د ورځې په هیره یا په قصد۔ اعتکاف یې باطل سو۔

یعنی هیره یې عذر نه ده لکه په سرو ژړه کې۔ ولی چه د اعتکاف حال په یاد وونکی دی۔

وَلَوْ خَرَجَ مِنَ الْمَسْجِدِ سَاعَةً بِغَيْرِ عُذْرٍ فَسَدَ اِعْتِكَافُهُ

او که چیرې معتکف ووتی د مسجد څخه یوساعت بیله عذره اعتکاف یې فاسد سو په نزد

عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ وَقَالَا لَا يَفْسُدُ حَتّٰى يَكُوْنَ اَكْثَرَ مِنْ نِصْفِ يَوْمٍ

د امام اعظم رح او یارانو رح وائی چه اعتکاف یې نه فاسدیږي چه تر نیمه ورځ بالاتر مسجد باندې تیر نه کړي۔

یارانو رح وائی چه لږ وتل د مسجد عذر دی او ضرورت دی۔

فائده: د هدایه صـ۲۱۲ څخه داسې معلومیږي چه ترجیح قول ته دیارانو رح دی۔

وَمَنْ اَوْجَبَ عَلٰى نَفْسِهٖ اِعْتِكَافَ اَيَّامٍ

او که چا واجب کړي پرخپل ځان (د نذر په طریقه) اعتکاف د یوې ورځې (شپې نې نه کړي ذکر)

لَزِمَهُ اِعْتِكَافُهَا بِلَيَالِيْهَا وَكَانَتْ

لازمیږي پرهغه باندې اعتکاف د هغو ورځو چې دی معلومې کړې دی سره د شپو د هغو ورځو۔ او

مُتَتَابِعَةً وَاِنْ لَّمْ يَشْتَرِطِ التَّتَابُعَ

داوړاندې یو کړې پسې که څه هم د هغه سره تتابع نه وي شرط کړي۔

کِتَابُ الحَجِّ

کتاب ثابت دی په بیان د حج کی - یعنی د حج احکام او افعال وغیره

اَلمُعذَرُ تہ! درویش محمد عُبَیدُ اللہ الایوبی القندھاری السلیمانخیلی الحنفی النقشبندی وائی چه چونکه دلویو امالونځه د دین د اسلام دی - او دیری مسائلی لری چه قدوری قدوری مایکنی د هغونځه یاد نه وی - او حج په توله عمر کی غالباً یو واری وی چه تمیس کیږی - او د حج احکام د نځه هم حاجی صاحب ترنه وی معلوم خصوصاً اغلب حاجیان چه عوام دی نو له دی کبله باید د دی کتاب الحج دیر تفصیل نه وکړم - لکن ما چه فکر وکړی چه د کتاب خو حاجیان په غوټه کی نه سی وړلای - اویل د اچه مُلایانو صاحبانو په هره ژبه عربی، اردو، فارسی وغیره مناسک جوړ کړی او تصنیف کړی دی چه د هغو مناسکو حمل و نقل هم د حاجیانو نه اسانه وی - نو د دی دوه سببونو بنا، ما صرف د قدوری پر ترجمه باندی اکتفاء وکړه - او د نورو دیرو مسائلو نځه می صرف نظر وکړی - او پر مناسکو د علماؤ می تکیه وکړه -

اَلحَجُّ وَاجِبٌ عَلَی الاَحرَارِ المُسلِمِینَ البَالِغِینَ العُقَلَاءِ

چه واجب دی (د واجب نځه مراد دلته فرض حکم دی) - معنی اصطلاحی پر آزاد و کسانو - پر مرفاندی فرض - چه مسلمانان وی - کافر لره حج نسته - چه مرفانی وهلی وی پر کیچنی نه دی فرض چه د عقل چښتان - نو پر لیونی چه نه دی فرض - چه په

اَلاَصِحَّاءِ اِذَا قَدَرُوا عَلَی الزَّادِ وَ الرَّاحِلَةِ

بدن جوړ وی پر کومو د شل سره اندازه باندی چه نسته - چه قادر وی پر نفقه او خرڅه د لاړی او د سپر تیا پر شی -

مسئله! د هری زمانی د سپر تیا شی جلا دی - مثلاً د آنحضرت صلی اللہ علیه وسلم او د اصحابو کرامو نه یکښتونه مانی وه سته هم راحله اویا اس غاټره وغیره دی - په اوسنی زمانه کی د سپر تیا شیان موټر آب ګوټ او طیاره دی - نو په نښه زمانه کی قدرت دیوه د دغو شیانو غواړی - ولی چه سفرونه د اوښانو د آسانو وغیره نه زمانه قطع سوه -

مسئله! د واجب اعتکاف (یعنی چه په صریحو الفاظو نی پر ځان نذر کړی وی) حکم دا دی کمعتکف یو ساعت د مخه تر نذر ی وخت اعتکاف فاسد کړی بیرته به د سره هغه اعتکاف را کی هوی - او د اعتکاف نفلی یا سنت هره وړځ بلکه هر ساعت اعتکاف شرعی دی - نو که هغه په مابین کی فاسد کړی اعتکاف نی پاتی نه وړسیدی - د هیڅ شی قضاء نسته - ولی چه هغه د د مخه وړځو اعتکاف پوره سو او په وړو سته وړځو نی شروع نه ده کړی -

سوال! د هغه معتکف خو د لسو وړځو مثلاً نیت کړی وو او وس نی پنځه وړځی اعتکاف وکړی نو باید د سره نی را وکړځوی یا د پنځو وړځو نو اعتکاف وکړی؟

جواب! نفل په نفس نیت نه واجبیږی او نه نذر کیږی لکه یو سړی چه د څلورو وړځو نفلو نیت وکړی او پر دوه رکعته سلام وکړځوی هیڅ شی نسته باندی -

سوال! یوه بسړی د دوو رکعتو نفلو نیت وکړی او یا نی تر پوره کولو د نځه فاسد کړی پر هغه د دوو رکعتو قضاء لازمه ده باید په اعتکاف کی هم داغسی وای؟

جواب! تر دوه رکعته کم لونځ نه بلل کیږی شرعاً - او دې سړی د لسو نځه نیت کړی وو نو حکمه به د دوه رکعته پوره کولو کی نه کړه پوره قضاء بې را وړی او د اعتکاف هر ساعت اعتکاف دغه شرعاً - کذا قال عارف باللہ مولانا فقیر اللہ فی کتابه المعروف -

مسئله! د معتکف د اخیال دی چه د باندی تن مسجد به نه وچاته سلام اچوی او نه به چا د سلام جواب وړکوی - خو د اخیال غلط دی هم به سلام وچاته وای او هم به د بل چا د سلام جواب وړکوی -

مسئله! د معتکف د اګمان دی چه د باندی تن مسجد کی یوه خبره د چا سره وکړه یاد یوې خبرې جواب نی چاته وړکړی اعتکاف نی فاسد سو - او د اهو غلط ګمان دی مثلاً معتکف بولوته د مسجد نځه وتلی وو او په تک کی یوه سړی پوښتنه ځنی وکړه جواب دی وړکړی مګر وړسره د ښه نیتی دی نه - واللہ اعلم بالصواب -

---

کله نی ده کیده داد وه بیته دی په اعتکاف کی دیر وائی -

اِلٰهِی عَبدُکَ العَاصِی اَتَاکَا ... مُقِرًّا بِالذُّنُوبِ وَقَد دَعَاکَا

فَاِن تَرحَم فَاَنتَ لِذَاکَ اَهلٌ ... وَاِن تَطرُد فَمَن یَرحَمُ سِوَاکَا

فَاضِلًا مِّنَ الْمَسْكَنِ وَمَا لَا بُدَّ مِنْهُ وَعَنْ نَفَقَةٍ

چه بالابه وی هغه مصارف دی چه ترمسکن اسبابو داستوکنی، او ترهغه شیانو چه دسړی حاجت نه وی - لکه دکور کالی، سلاح، پوره، آس دسپرتیا، موټر وغیره) او بالابه وی تر نفقې

عِيَالِهِ إِلَى حِيْنِ عَوْدِهِ وَكَانَ الطَّرِيْقُ آمِنًا

دعیال دده تر وخت دراتلو دده دسفر څخه دی او دی بالابه امن (یعنی په لاس کې یې جنګونه عمومي قطاع الطریق نه وي)

مسئله: کریوه سړي چه دین ناجوړ وي وي چه ترڅو من دوه واستاوه پوکه دهغې ناجوړه څخه پسې مړسوه فرښتې چه غاړې ئې خلاصې سوې او که جوړ سو هغه چه ئې نفلي سوبل چه به کوي.

یوه سړي: چه معتبر په زاد او راحله کې میانه دی -

سوال: اوس سفر ونه دی چه په موټرو کې په آب کوټ کې په طیاره کې کیږي او که هم موټر چپه یا ټکر سي او آب کوټ غرق او طیاره سقوط وکړي - ایا دا کار ونه دامن سره منافي دی او که نه؟

جواب: اعتبار په امن کې غالب الحال کې دی او په تجربه دا ثابته ده چه دغه سولې په اغلب الاحوال کې دخطر څخه محفوظ دی - نادره ته اعتبار نسته - نو دغه سولې دا آفت دامن سره منافي نه دی - ان الله اعلم بالصواب -

وَيُعْتَبَرُ فِي حَقِّ الْمَرْءَةِ أَنْ يَكُوْنَ لَهَا مَحْرَمٌ يَحُجُّ بِهَا أَوْ زَوْجٌ

او معتبر دی په حق کې د ښځې چه دې لره یو محرم چه دحج سفر وکړي په دې سره - او یا بې میړه وه ښځه وي او کې دا دواړه نه وي دهغې ښځې څخه فرض دحج ساقط دی -

مسئله: کرښتنۍ دکوم اقلیم څخه چه مکې شریفې پورې تر دوو مرحلو سفر کم لاس وه - دهغې ښځې دپاره محرم اومیړه شرط نه دی -

مسئله: کریوې ښځې چه حج پرفرض وو بیله محرم او بیله میړه حج ته ولاړه او حج ئې وکړ دفرض څخه ئې خلاصی سوی لکن داسې کول مکروه دی - رد محتار -

وَلَا يَجُوْزُ لَهَا أَنْ تَحُجَّ بِغَيْرِهِمَا إِذَا كَانَ

او نه دی روا ښځې لره چه حج ته بې بیله محرم او بې میړه (لکه دا کار نن وخت دډاډه وخت او غیره) کې چې

بَيْنَهَا وَبَيْنَ مَكَّةَ مَسِيْرَةُ ثَلٰثَةِ أَيَّامٍ فَصَاعِدًا

دوې مابین دده چه او دمکې شریفې دده وه خو دسفر لاس یا بالا قدر وه خو

وَالْمَوَاقِيْتُ الَّتِيْ لَا يَجُوْزُ أَنْ يَتَجَاوَزَهَا الْإِنْسَانُ إِلَّا مُحْرِمًا

او هغه ځایونه چه نه ده روا هیڅ انسان ترهغوځایونو تیرین ی مګر په داسې حال کې چه محرم وي یعنې یا په حج یا په عمره - کرښتم د تجارت دپاره دمکې شریفې بنا ته ځی - هغه ځایونه دادی -

لِأَهْلِ الْمَدِيْنَةِ ذُو الْحُلَيْفَةِ

دمدینې منورې دخلکو دپاره ذوالحلیفه ده چه دمدینې منورې څخه تر هغه ځایه شپږ یا اوه میله مسافت دی

وَلِأَهْلِ الْعِرَاقِ ذَاتُ عِرْقٍ

او دعراق دخلکو دپاره ذات عرق دی چه هغه دیو کوچنۍ غرې نوم دی - او هم پر دغه ځای نجد او تهامه سره جلا کیږي

وَلِأَهْلِ الشَّامِ الْجُحْفَةُ وَلِأَهْلِ النَّجْدِ قَرْنٌ

او دشام دخلکو دپاره جحفه ده - او د اهل نجد دپاره قرن دی چه دیوه غرې نوم دی -

وَلِأَهْلِ الْيَمَنِ يَلَمْلَمُ فَإِنْ قَدَّمَ الْإِحْرَامَ عَلٰى هٰذِهِ الْمَوَاقِيْتِ جَازَ

او اهل یمن دپاره یلملم دی - او کې دهغه کړي احرام پردغو ځایونو باندې روا دی -

په اوس زمانه کې چه سفرونه دډیر په طیاره وکې دی نو له احرامونه تر میقاتو دهغه دی ولی چه په طیاره کې دمیقات دسړک نه معلومیږي

وَمَنْ كَانَ مَنْزِلُهُ بَعْدَ هٰذِهِ الْمَوَاقِيْتِ فَمِيْقَاتُهُ

او که دچا کور دمکې شخه وهاخوا تر وستو وو نو دهغه دپاره میقات دحج او دعمرې مخکه د

الْحِلُّ وَمَنْ كَانَ بِمَكَّةَ فَمِيْقَاتُهُ فِي الْحَجِّ الْحَرَمُ

حل ده یعنې مابین دمیقات تر حرم شریف پورې مخکه ده او هغه څوک چه کورنۍ په مکې وي دهغه داحرام تړلو ځای

حرم شریف دی دحج دپاره

وَفِي الْعُمْرَةِ الْحِلُّ وَإِذَا أَرَادَ الْإِحْرَامَ اغْتَسَلَ أَوْ

او د عمرې دپاره حل دی۔ او چې اراده وکړي د سړي د احرام غسل دی وکړي او یا دی او دس

تَوَضَّأَ وَالْغُسْلُ أَفْضَلُ وَلَبِسَ ثَوْبَيْنِ جَدِيدَيْنِ أَوْ

تازه کړي مګر غسل افضل دی تر او دس۔ او واډی غوندې دوې جامې یا نوې او یا

غَسِيلَيْنِ إِزَارًا وَرِدَاءً وَمَسَّ طِيبًا إِنْ كَانَ لَهُ

پریولې۔ هغه دوې پولنګ اوبل پتودی۔ او په ځان پورې دی موښ د خوشبوئ کړئ دپاره د

وَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ وَقَالَ اللّٰهُمَّ إِنِّي أُرِيدُ الْحَجَّ

او دوه رکعته لمونځ دی اداء کړي۔ او ووایی واې ای خدایه په تحقیق زما اراده ده د حج

فَيَسِّرْهُ لِي وَتَقَبَّلْهُ مِنِّي ثُمَّ يُلَبِّي عَقِيبَ صَلٰوتِهِ

نو ته یې ما ته آسانه کړې او ما څخه قبول ئې کړي۔ او بیا دی تلبیه ووایی وروسته تر لمانځه۔

فَإِنْ كَانَ مُفْرِدًا بِالْحَجِّ نَوٰى بِتَلْبِيَتِهِ الْحَجَّ

پس که چیرې د دوه سړي د یوانې چې په قصد کې نیت دی وکړي په تلبیه ویلو کې د حج فقط

وَالتَّلْبِيَةُ أَنْ يَقُولَ لَبَّيْكَ اللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ

او تلبیه داده چې ووایی واې۔ په با سره با سره په خدمت کې حاضریم یا الله په با سره با سره په خدمت کې حاضریم نسته

لَبَّيْكَ إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ

شریک تالره په خدمت کې حاضریم په تحقیق حمد وثنا تالره دی او نعمت هم تالره دی۔ او بادشاهي هم۔ نسته شریک تالره

وَلَا يَنْبَغِي أَنْ يَخِلَّ بِشَيْءٍ مِنْ هٰذِهِ الْكَلِمَاتِ

او نه بنائي چې کمي دی کړي یو شی د دغو کلماتو څخه۔

فَإِنْ زَادَ فِيهَا جَازَ فَإِذَا لَبَّى فَقَدْ أَحْرَمَ

او که زیاتوب وکړي نو د دغو کلمو په واده سپس چې کله ئې تلبیه وویل محرم سو۔

مسئله! سړي یوانې په تلبیه ویلو سره چې نیت ئې نه وکړي په احرام کې نه داخلیږي او په یوانې د نیت سره چې تلبیه نه ووایی محرم نه کیږي۔

مسئله! او وروسته تر تلبیه دی درود ووایی او بیا دی بنه جامع دعا وکړي چې زړه ئې غواړي

مسئله! په مناسکو کې عربي دعا کافي لیکل سوې دي اول خو موږ عوام هغه دعا کافي نه ده کولای نه سي۔ او که زړه کړي بیا ئې په معنی نه پوهیږي۔ نو ما سوې د تلبیې څخه د نورو تولو دعا کانو په موږ فرض ثابت اجازه سته۔

فَلْيَتَّقِ اللّٰهَ فِيمَا نَهَى اللّٰهُ عَنْهُ مِنَ الرَّفَثِ

نو ښه یې به محرم د خدای څخه په هغه کار وکې چې خدای نهی ځنې کړي دی د هغه څخه۔ لکه رفث۔

رفث جماع ته هم واې او فحش او بیکاره خبرو ته هم واې۔ او دښځې په محکمې د جماع خبرې ته هم واې۔

وَالْفُسُوقِ وَالْجِدَالِ

او لکه فسق کول۔ (فسوق تولوګناهونه واې۔ ګناه کول که څه هم بیله حجه وي هم ناروا ده لکن په حج کې حرمت ډیر دی) او جګړه دی نه کوي د اندیوالانو سره یاد بل چا سره۔

وَلَا يَقْتُلُ صَيْدًا وَلَا يُشِيرُ إِلَيْهِ وَلَا يَدُلُّ عَلَيْهِ وَلَا

او نه دی وژنې بنکار هر حیوان چې وي او نه دی اشاره کوي وبنکار ته چې هغه ده هوسي مثلاً او نه دی

يَلْبَسُ قَمِيصًا وَلَا سَرَاوِيلَ وَلَا عِمَامَةً وَلَا قَلَنْسُوَةً

بنودونه کوي د بنکار ځاى وچاته او نه به اغوندی قمیص او نه پرتوک۔ او نه دی ترې لنګوټه او نه دی پرسر کوي

وَلَا قَبَاءَ وَلَا خُفَّيْنِ

خولجه۔ او نه دی اغوندی چپنه۔ بالاپوښ۔ کوټ۔ کرتی۔ جلکه۔ او نه دی په پښو کوي موزې یا غټ بوټونه

إِلَّا أَنْ لَّا يَجِدَ نَعْلَيْنِ فَيَقْطَعُهُمَا مِنْ أَسْفَلِ الْكَعْبَيْنِ

مگر هغه وخت کې نه د نه لودې چوتې - چمپل - نو دې پرې کړي مونې لاندې تر بجلکو

وَلَا يُغَطِّي رَأْسَهُ وَلَا وَجْهَهُ وَلَا يَمَسُّ طِيبًا وَلَا

اوند دې پټوي سر او مخ - اوند دې مسه کوي خوشبوئ او نه به خر ئې

يَحْلِقُ رَأْسَهُ وَلَا شَعْرَ بَدَنِهِ

سر او نه بدن نوره ویښتان - (یعنی که څه هم د بغل او د ښرناف ویښتان وي)

وَلَا يَقُصُّ مِنْ لِحْيَتِهِ وَلَا مِنْ ظُفُرِهِ

اوند دې پرې کوي د ښې ویښتان (که څه هم تر قبضه ډیره اوږده وي) اوند دې نو کان پرې کوي

(یعنی که څه هم هر څومره اوږده سوي وي۔

وَلَا يَلْبَسُ ثَوْبًا مَصْبُوغًا بِوَرْسٍ

اوند دې اغوندي جامه چه سرنګ سوې وي په ورس - (دیوه خوشبویه وابنه نوم دی چه په یمن کې ښته)

قانونه والا وائي سرنګ ئې سوره دی - او صحاح والا وائي چه سرنګ ئې ژرد دی۔

وَلَا بِزَعْفَرَانٍ وَلَا بِعُصْفُرٍ إِلَّا أَنْ يَكُونَ غَسِيلًا لَا يَنْفُضُ

اوند هغه جامه چه په زعفران یا عصفر سرنګ سوې وي (عصفر وابنه دی چه کالی په سرنګوي) مګر

هغه وخت چه پریوله سوې وي - داسې چه سرنګ نه اچوي پر بدن باندې۔

وَلَا بَأْسَ بِأَنْ يَغْتَسِلَ وَيَدْخُلَ الْحَمَّامَ

او پرواسته چه غسل کوي محرم (یعنی که د معذورې ښځه وي او که د ګرمې د کبله وي) او

حمام ته هم داخلیدای سي۔

لکن دبدن خیري دې صابون په استعمال یا د نوکانو به ذریعه یا په کیسه وهلو سره نه لیري

کوي صرف تودې اوبه دې استعمال کړي۔

وَيَسْتَظِلُّ بِالْبَيْتِ وَالْمَحْمَلِ

او طلب د سایې دې په خونه یا په کجاوه کې کوي۔

یعنی په سایه کې د خونې یا د کجاوې وهکذا تر سایوان لاندې کښینستای سي۔

وَيَشُدُّ فِي وَسَطِهِ الْهِمْيَانَ وَلَا يَغْسِلُ رَأْسَهُ وَلِحْيَتَهُ

او تړي دې پر ملا هیانی یا کمربند د سر او پوډ د حفاظت د پاره - او نه دې مینځي سر او نه ښ یره په ګل

بِالْخَطْمِيِّ وَيُكْثِرُ مِنَ التَّلْبِيَةِ عَقِيبَ الصَّلَوَاتِ وَكُلَّمَا عَلَا

خطمي سره (ولې چه هغه خوشبویه ده) او دیره دې وائي تلبیه وکړي وسته تر لوړوالي او هغه وخت چه پورته کیږي

شَرَفًا أَوْ هَبَطَ وَادِيًا أَوْ لَقِيَ رُكْبَانًا وَبِالْأَسْحَارِ

لوړ ځای ته او یا کښته کیږي و شیبې ته او یا په مخه ورسي سپاره او د سپیدې په شاوخوا کې - د اخودلاندې احوال کې

فَإِذَا دَخَلَ مَكَّةَ ابْتَدَأَ بِالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ فَإِذَا عَايَنَ الْبَيْتَ كَبَّرَ وَهَلَّلَ

پس چه داخل سي وضو کړي بیا د مکې ته اول به ورځي مسجد حرام ته - پس چه وي لیدل مبارکه خونه د کعبې نو الله

اکبر او لا إله إلا الله دې ووائي - د پاره د تعظیم د کعبې مبارکې۔

مسئله: د امام محمد رحمه الله روایت دی چه د مشاهدو د حج په لیدو کې منقوله دعاوې

ضروري نه دي ولې هغه دا ژړا او رقت بیائي - بلکه هره دعا چه کوي په خپله موږ ته ژبه دې کوي

چه دا ژړا د حضور وړ سره وي - البته منقوله دعاګانې د تبرک د پاره دیره په ژړا پورې دي - کوکب ۱۲

ثُمَّ ابْتَدَأَ بِالْحَجَرِ الْأَسْوَدِ فَاسْتَقْبَلَهُ وَكَبَّرَ وَهَلَّلَ

بیا دې شروع وکړي د حجر اسود څخه او مخامخ دې سي د حجر اسود ته او تکبیر او لا إله إلا الله دې

وَرَفَعَ يَدَيْهِ مَعَ التَّكْبِيرِ

ووائي او لاسونه دې پورته کړي د تکبیر سره۔

مسئله: مخامخ دې کړي وړ غوندې د حجر اسود ته او لاسونه دې تر اوږو پورې پورته کړي۔

وَاسْتَلَمَهُ وَقَبَّلَهُ إِنِ اسْتَطَاعَ مِنْ غَيْرِ أَنْ يُؤْذِيَ مُسْلِمًا

او مسه دی کړي حجر اسود او چې دې کړي چې طاقت ئې وي۔ بیله دې چې آزار او ډکوي مسلمان ته

وي چې مسه کول او چومل د حجر اسود شریف سنت دي او آزار ول د مسلمان حرام دي۔

مسئله: ! ټن ورځ د حج په موسم کې مسه کول او چومل د حجر اسود شریف بیله آزار ولو د مسلمانانو ډیره امکان نه لري نه د شپې او نه د ورځې نو حکه حاجیان د دې مسه کولو څخه صرف نظر وکړي۔ وهذا معلوم بالتجربة۔

مسئله: ! په صورت کې د نه طاقت به حاجي صرف مخامخ د حجر اسود ته درینږي او تکبیر او کلمه شریفه دې وایي۔ او بیا دې دعا کوله د عادي هم وکړي۔

ثُمَّ أَخَذَ عَنْ يَمِينِهِ مِمَّا يَلِي الْبَابَ وَقَدِ اضْطَبَعَ رِدَاءَهُ قَبْلَ ذَلِكَ

او بیادي شروع وکړي د طواف د راسته اړخه څخه د حجر اسود چې د دروازې ته د مکې شریفې څرمه ده۔ او اضطباع دې کړي وي د څه تر طواف۔

کیفیت ئې دادي چې پوڼدي پر چپه اوږه واچوي، او تر راسته بغل دې لاندې کړي بیرته بې سې پر چپه اوږه واچوي۔

فَيَطُوفُ بِالْبَيْتِ سَبْعَةَ أَشْوَاطٍ وَيَجْعَلُ طَوَافَهُ وَرَاءَ الْحَطِيمِ

نو دې سره او کړي پر کعبه شریفه اووه واړه۔ او ګرځوي دې طواف تر حطیم د باندې۔

وَيَرْمُلُ فِي الْأَشْوَاطِ الثَّلَاثِ الْأُوَلِ

او اوږې دې بنوړي وي په اولو درې طوافونو کې۔

رمل دادي چې چابک چابک په ځي کامونه به نږدې نږدې ایږدي۔ او اوږې دې بنوړي وي۔ لکه د سړي په خیال چې تک کوي۔

وَيَمْشِي فِيمَا بَقِيَ عَلَى هَيْئَتِهِ وَيَسْتَلِمُ الْحَجَرَ كُلَّمَا مَرَّ بِهِ إِنِ اسْتَطَاعَ

او په نورو څلورو واړو کې دې پر خپل عادت تک کوي۔ او مسه کوي دې حجر اسود هر واړه چې تیریږي پر حجر اسود کې چیرې، دوسه پورې وي۔

وَيَخْتِمُ الطَّوَافَ بِالِاسْتِلَامِ ثُمَّ يَأْتِي الْمَقَامَ

او طواف دې ختم کوي په مسه کولو سره د حجر اسود۔ او بیادې ورځي مقام ابراهیم ته

فَيُصَلِّي عِنْدَهُ رَكْعَتَيْنِ أَوْ حَيْثُ مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْمَسْجِدِ

او هلته دې ادا کړي دوه رکعته یا په هر ځای کې چې آسانه وي له موخې کول پکښې د مسجد څخه

مسئله: ! دا دوه رکعته د طواف واجب دي په نزد د احنافو۔

فائده: ! مقام ابراهیم هغه ډبره ده چې په هغې کې اثر دوه پښو ده مبارک موجود دي۔ او دا ډبره د هغه وخته څخه ده چې ابراهیم علیه السلام او ده زوی اسمعیل علیه السلام د کعبې شریفې خونه جوړوله نو ابراهیم علیه السلام پر دغه ډبره درېدی او د کعبې شریفې دیوال ئې واهه او دا ډبره په قدرت د قادر متعال پورته په تله او کښته په ټوله هغه وخت چې دیوال لوړ سو۔ مطلب دا چې دغه ډبره د ابراهیم علیه السلام د پاره قدرتي کوازه وه لکه د بنایانو۔

فائده: ! دا ډبره په اول الامر کې د کعبې شریفې په دیوال پورې وه۔ د دروازې واړخ ته۔ لکن څه وخت چې ازدحام د ښو او طواف کونکي او له موخې کونکي د سره خائیدلو نو ئې مقام ابراهیم نقل کړ او هغه ځای ته چې اوس دی او د هیندارې په غړفه کې ئې کښیښود دی۔

فائده: ! په بیان فوق سره د دې سوهغه سوال چې پاک خدای والی، وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى، یعنی امام دی د مقام ابراهیم سره درېږي۔ کما في البیضاوي وغیره۔ اوس ددې چې اوس خو امام د کعبې شریفې د دیوال سره نږدې د دروازې واړخ ته د ډبرې درېږي او مقام ابراهیم ترشا پاتې ږي۔ فافهم۔

او بعضې مفسرین والی چې په آیت شریف کې مراد دوه رکعته واجب د طواف دي نو پردې تقدیر سوال نه دی وارد۔ کمالا یخفی۔

وَهَذَا الطَّوَافُ طَوَافُ الْقُدُومِ وَهُوَ سُنَّةٌ لَيْسَ بِوَاجِبٍ وَلَيْسَ

او دا طواف طواف قدوم دی۔ (یعنی دافاقي راتلک وکې مکې مکرمې ته دا ئې شکریه ده) او دا طواف سنت دی واجب نه دی۔ او نسته د مکې شریفې پر خلکو باندې

عَلٰى اَهْلِ الْمَكَّةِ طَوَافَ الْقُدُوْمِ ثُمَّ يَخْرُجُ اِلَى الصَّفَا فَيَصْعَدُ عَلَيْهِ

دا طواف قدوم - اوبیادی وړی دمسجد څخه د صفا وخواته یوخه اندازه دی لوړ خیژی (چې بیت الله شریف ورته پښتی)

مسئله! افضله داده چې پر باب الصفا دی ووځی چې هغه معلومه دروازه ده کې څه هم پر نورو دروازو وتل هم روادی۔

وَيَسْتَقْبِلُ الْبَيْتَ وَيُكَبِّرُ وَيُهَلِّلُ وَيُصَلِّيْ عَلَى النَّبِيِّ

اوځانځ دی ودریږی وکعبې شریفې ته اوالله اکبر اولا الٰه الا الله شریفه دی ووائی اودرود دی ووائی پر نبی علیه

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيَرْفَعُ يَدَيْهِ وَيَدْعُوا اللّٰهَ تَعَالٰى لِحَاجَتِهٖ

الصلاة والسلام - اوپورته دی کړی لاسونه اوودی غواړی د پاک خدای څخه هرحاجت چې وی۔

یعنی داځای د دعاء د قبلیدو دی نو په دعاؤ کې دی ډیره کوشش وکړی۔

ثُمَّ يَنْحَطُّ نَحْوَ الْمَرْوَةِ وَيَمْشِيْ عَلٰى هَيْئَتِهٖ فَاِذَا

بیادی د صفا څخه کښته سی وطرفته د مروا چې یوغر دی۔ اوتنګ دی کوی په سکینه او آرام سره

بَلَغَ بَطْنَ الْوَادِيْ سَعٰى بَيْنَ الْمِيْلَيْنِ الْاَخْضَرَيْنِ سَعْيًا

پس چې وسین ی ولی نو د شیلې نوپه څنګاسته به تنګ کوی په مابین کې دهغه دوو څلوچې نښانو دی

ولې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دلته سعی کړې ده - بخاری۔

فائده! په اوس وخت کې شیله نشته - ولې چې هغه شیله حکومت ډکه کړې ده

صرف دوه میلان پرې یوه خوا بله خواسته چې خلک وپوهیږی چې دلته شیله وه - جوهرة۔

حَتّٰى يَاْتِيَ مَرْوَةَ فَيَصْعَدُ عَلَيْهَا وَيَفْعَلُ كَمَا فَعَلَ عَلَى الصَّفَا

ترهغوچې مروه ته رسی اوبیادی پورته سی پر مروه او ودی کړی هغه کار وکه چې پر صفا ئی کړی

وَهٰذَا شَوْطٌ وَاحِدٌ فَيَطُوْفُ سَبْعَةَ اَشْوَاطٍ يَبْدَءُ بِالصَّفَا

وه (یعنی تکبیر - تهلیل - درود - دعا) اودا یو شوط بولی - پس طواف دی وکړی اووه شوطه شی وبه دی صفا څخه کړی

وَيَخْتِمُ بِالْمَرْوَةِ ثُمَّ يُقِيْمُ بِمَكَّةَ مُحْرِمًا فَيَطُوْفُ

اوختم دی پر مروه کوی وروسته دی اوسیږی په مکه شریفه کې محرم - اوطواف دی کوی پر

بِالْبَيْتِ كُلَّمَا بَدَا لَهٗ وَيُصَلِّيْ لِكُلِّ اُسْبُوْعٍ رَكْعَتَيْنِ

بیت الله شریف هروخت چې ډه ته بښکاره سی (هروخت چې ډه زړه وغواړی) اودوه رکعته لمونځ دی

وَاِذَا كَانَ قَبْلَ يَوْمِ التَّرْوِيَةِ بِيَوْمٍ خَطَبَ الْاِمَامُ خُطْبَةً

کوی پدې لړ اوشو طو - هغه وخت چې سی د ترویه تر ورځې دمخه یوه ورځ نو امام دی خطبه ووائی

یوه مسئله! ترویه دا تر ورځ بولی نو د مخه ورځ ئی دا وویم ورځ کیږی - نو دا وویم

په ورځ دمابښین تر لمانځه وروسته دی امام خطبه ووائی۔

يُعَلِّمُ النَّاسَ فِيْهَا الْخُرُوْجَ اِلٰى مِنٰى وَالصَّلٰوةَ بِعَرَفَاتٍ وَالْوُقُوْفَ

ورته دی بنیي وخلکو ته په دې خطبه کې وتل ومنی ته (یعنی چې کله اوځي نو منی ته ځي)

منی یوځای ئی د مکې شریفې څخه درې میله فاصله لری - اودا هم پخوانی اندازه ده - تن ورځ

ئی آبادی سره نزدې سوې ده (او ورځ دی بنیي لمونځ په عرفات کې (یعنی چې په عرفات کې

دمابښین اودمازدیګر لمونځ) دمابښین په وخت کې دواړه یوځای اداء کیږی - عرفات

دیوه پراخ میدان نوم دی چې د مکې شریفې څخه نږدې هغه ځایه پورې نهه میله مسافه ده) او

ورځ دی بنیي امام درسیدل پر عرفات (پس لمونځ د مابښین او د مازدیګر - دعاؤ

د پاره به څرنګه درښو او چیرې به درښو)۔

وَالْاِفَاضَةَ وَالْوُقُوْفَ بِالْمُزْدَلِفَةِ

اوورځ بنیي به وخت او کیفیت درا کښته کیږی د عرفات څخه او ورځ بنیي به درسیدل پر مزدلفه باندې۔

مزدلفه د مکې شریفې څخه شپږ میله مسافه لری۔

فَاِذَا صَلَّى الْفَجْرَ يَوْمَ التَّرْوِيَةِ بِمَكَّةَ خَرَجَ اِلٰى مِنٰى

چې اداء کړی امام د سحار لمونځ د ورځې د ترویه په مکه شریفه کې نو دی ووځی ومنی ته

وَأَقَامَ بِهَا حَتّٰى يُصَلِّيَ الْفَجْرَ يَوْمَ عَرَفَةَ ثُمَّ

(یعنی د تولو حاجیانو سره) او اوسیږی دی په منی کی تر هغو پورې چه اداء کوی د سحار لمونځ د عرفات و

يَتَوَجَّهُ إِلٰى عَرَفَاتٍ فَيُقِيمُ بِهَا فَإِذَا زَالَتِ

ورځې په منی کی او پس ترلمانځه دی راوځی سی وعرفات ته نو او سیږی دی په عرفات کی پس چه زوال

الشَّمْسُ مِنْ يَوْمِ عَرَفَةَ صَلَّى الْإِمَامُ بِالنَّاسِ الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ

وکړی لمر د ورځې د عرفات اداء دی کړی امام په خلکو سره دمابښین اوماښام دیکر لمونځ (په یوه وخت کی)

فَيَبْدَأُ بِالْخُطْبَةِ وَيَخْطُبُ خُطْبَتَيْنِ قَبْلَ الصَّلٰوةِ يُعَلِّمُ

نو اول دی شروع وکړی امام په خطبه سره اود ویخطبې دی وواځی تر لمانځه دمخه وبښیی کی

لِنَّاسَ فِيهِمَا الصَّلٰوةَ وَالْوُقُوفَ بِعَرَفَةَ وَالْمُزْدَلِفَةَ

خلکو ته په دغو دوو خطبو کی لمونځ (یعنی کیفیت د لمونځ د جمع کیدو) اود ریدل پر عرفات (یعنی د لمانځه

پس دعا د پاڼې) او د ریدل پر مزدلفه (یعنی دلسم د ورځې د سحار تر لمانځه وروسته)

وَرَمْيَ الْجِمَارِ وَالنَّحْرَ وَالْحَلْقَ وَطَوَافَ الزِّيَارَةِ

او ویشتل د څلو (د ورځې وړځې) اوذبح د اضحیه یاد شکریه د حیوان - اوسر خریل - او طواف د زیارت اړه د حج

وَيُصَلِّي بِهِمُ الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ فِي وَقْتِ الظُّهْرِ بِأَذَانٍ وَإِقَامَتَيْنِ

فرض لمونځ دی) اوادا، دی کړی امام په خلکو سره دمابښین اوماښام دیکر لمونځ په یوه وخت کی د مابښین په یوې اذان اودوه اقامته

مسئله: امام د عرفات هم هغه د مکې شریفې امام دی - اود دوی په مذهب کی پر عرفات د مکې شریفې سره مسافر دی نو خکه امام دغه د واړه لمونځونه دوه دوه رکعته نفل یا نه کوی

نو موږ به څه کوو! لهذا حنفیان تول دغه دوه لمونځونه د امام سره په جماعت نه کوی نو د دغه مشکل د حل د پاره نه فقیر وامام ته د مکې شریفې وه غلم اوماورته ووایل چه تاسی باید د تولو مذهبونه رعایت وکړی موږ حنفیان د دغو دوو لمونځو د جماعت څخه محرومه یو

ولی چه موږ په مذهب کی ته مسافر نه یو اولمونځ دوه رکعته کوو -

دغه راته وویل نعم موږ ستاسی د مذهب مراعات کوو - اوهغه داسی چه نه تر عرفات د هغه په شخصی موټر کی خم طائف شریف ته چه هغه مسافت د قصر لمانځه دی په تولو مذهبونو کی اود طائف څخه نه عرفات ته راځم - نو نه په عرفات کی مسافر یم - نو موږ حنفیان د دې ښه گمان له کبله باید د غه دوه لمونځونه په جماعت وکړو - اوکه چا ته په دې کی اشتباه وی هغه دی د اړه ښه تعقیب کړی - والله اعلم بالصواب -

وَمَنْ صَلَّى الظُّهْرَ فِي رَحْلِهِ صَلّٰى كُلَّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا فِي وَقْتِهَا عِنْدَ

اوکه چا وگذاړی دمابښین لمونځ په اطاق کی (یعنی په خپله خیمه کی) هغه سړی به اداء کوی هر لمونځ په خپل وخت کی په نزد د امام اعظم (یعنی جمع د لمونځو به نه کوی)

أَبِي حَنِيفَةَ وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ يَجْمَعُ بَيْنَهُمَا الْمُنْفَرِدُ

اوولی امام ابو یوسف او امام محمد چه جمع کول د دې دوو لمونځو د منفرد هم کوی -

مسئله: د امام ابو یوسف او امام محمد د قول څخه صراحةً معلومیږی چه بل جماعت څوک نه سی کولای

ثُمَّ يَتَوَجَّهُ إِلَى الْمَوْقِفِ فَيَقِفُ بِقُرْبِ الْجَبَلِ

وروسته دی متوجه سی وځای ته د دریدو ونوموړی دی دریږی نژدې وعرفه ته -

یعنی هغه غره چه د عرفات په مابین کی واقع دی - اووې عرفه ته جبل الرحمة وائی اوجبل الدعاء ئی هم بولی -

وَعَرَفَاتٌ كُلُّهَا مَوْقِفٌ إِلَّا بَطْنَ عُرَنَةَ وَيَنْبَغِي لِلْإِمَامِ أَنْ يَقِفَ

او عرفات تول ځای د دریدو دی مگر نه نس د شیاې د عرنه - اوښائی امام لږه چه دریږی دی

بِعَرَفَةَ عَلٰى رَاحِلَتِهِ وَيَدْعُو وَيُعَلِّمُ النَّاسَ الْمَنَاسِكَ

پر عرفات پر اوښ خپل باندې - او دعا دی کوی اوورښیی دی خلکو ته د حج مناسک اوافعال -

فوائد: په اوسنی زمانه کی په سبب د ډیرانه د حام د امام هیڅ درک نه معلومیږی چه څیږی ولاړ دی - اونه ئی د دعا درک معلومیږی - اونه ئی درک د تعلیم د مناسکو - لهذا نن ورځ په عرفات کی هر سړی امیر نفسه دی - خپلی دعا کانی دی کوی - البته که

یوشو کسه د یو بنه عالم متقی سړی سی او دهغه وتعلیم ته غوږ ونیسی۔ او دهغه په دعادی دعا وکړی دین به بنه وی۔

تنبیه ۱۵! بعضی قصې کونکی ملایان پرعرفات چه خلک ئی د قصود پاره جمع کړی وی۔ او د رواغ و رشتیا و رته وائی خلک و رته ژاړی۔ په احکامو د حج خو دی پخله نه وی خبر چه خلکو ته بیان کړی۔ او خلک د دعا ئی څخه هم وباسی۔ ولی چه د دغه دول قصو ته ئی غوږ نیولی وی۔ نه حاجیان نو ته وصیت کوم چه د دغسی بې لحایه د رواغ او رشتیا قصو او رید و څخه دی پرهیز وکړی۔ او دهغه عالم او نصیحت ته دی غوږ ونیسی چه د دوی ته احکام د حج و رښیی۔ او یا په عجز او ینا ر دعاوی کوی پرهغو دعاؤ دی آمین وائی۔ لکن عوام کالانعام د قرآن مبارک و صحیح ترجمې یاد بخارۍ شریف وغیره او ترجمې د و نه غوږ نه نیسی او نه ژړا و رځی۔ لکه جعلی او د د رواغو قصو ته چه غوږ نیسی۔

د عوامو عقیده

د عوامو په عقیده کی عالم هغه دی چه لوئی لوئی نارې وهی او د د رواغو دل خراشه قصې کوی۔ او که څوهم د قرآن ترجمه غلطه کوی۔ او د حدیثو معنی چیری۔ الفاظ ئی لاهم غلط وائی۔ نو الحذر الحذر من هولاء۔ حافظ ؎

واعظان کاین جلوه در محراب و منبر میکنند — چون بخلوت میروند آن کار دیگر میکنند

وَيُسْتَحَبُّ أَنْ يَغْتَسِلَ قَبْلَ الْوُقُوفِ بِعَرَفَةَ وَيَجْتَهِدُ فِي الدُّعَاءِ

او مستحب او بنه کار دی چه غسل وکړی حاجی د دغه تر د رید و پرعرفات (په هدایه کی وائی چه داغسل سنت دی) او کو ښښ دی کوی حاجی په دعا کی۔

پوهه شه! چه واهل عرفات تر خدائ پاک په بیخی لوئی رحمت متوجه وی۔ لکه چه دا په صحیح احادیثو کی ثابته ده۔ نو بیا د کان هم باید په طلب کی د هغه رحمت عمومی تقصیر و نه کړی۔ او د دنیا و آخرت نعمتونه د خدائ جل جلاله څخه وغواړی۔ او و خدائ پاک ته دی توبه وکاږی۔ او د صغائرو او کبائرو کنهو ښښه دی د ارحم الراحمین څخه وغواړی۔ او تو له امت ته د آنحضرت صلی الله علیه وسلم بالخصوص و خپلو قریبانو ښنا ختګانو ته دی دعا مغفرت وکړی۔ په صحیح حدیث کی راغلی دی چه ابلیس په هیڅ وخت کی دومره ذلیل او خوار نه دی لیدل سوی لکه د عرفات په ورځ حتی چه پرسر خاوړی بادوی دا په دې سبب چه عمومی بخښنه د خدائ عزوجل وینی۔ او حاجی صاحب دی کو ښښ کوی

چه ژړا وړهی۔ بیت ؎

تا نه گریدابر کی خند د چمن — تا نگرید طفل کی جوشد لبن
هر کجا آب روان سبزه شود — هر کجا اشک روان رحمت شود

مناجات

الٰهی یا الٰهی یا الٰهی — ندارم جز امیدت تکیه گاهی
ندارم طاعت مقبول درگاه — بجز اشک ندامت آه آهی
ندارم توشهٔ راه قیامت — بجز شرمندگی و روسیاهی
بحق حرمتِ فرقان اعظم — مرا از ذنب خود کن عذر خواهی
شفیع آورده ام روی محمد — کرم کن بر من گم کرده راهی

و رد فی الحدیث الصحیح، الدعاء مخ العبادة، یعنی دعاء مغز د عبادت دی۔ قال الله تعالیٰ، اُدْعُونِی أَسْتَجِبْ لَكُمْ، تاسی دعا کوئ نه به ستاسی د دعا قبلونه کوم۔

فَإِذَا غَرَبَتِ الشَّمْسُ أَفَاضَ الْإِمَامُ وَالنَّاسُ مَعَهُ

پس چه لمر غروب وکړی امام دی د عرفات څخه راتاسی او خلک دی و رسره وی پر

عَلَى هَيْئَتِهِمْ حَتَّى يَأْتِيَ الْمُزْدَلِفَةَ يَنْزِلُونَ بِهَا

خپل سکون او آرام سره۔ څو را دی سی مزدلفې ته او هلته دی وانړوی۔

وَالْمُسْتَحَبُّ أَنْ يَنْزِلُوا بِقُرْبِ الْجَبَلِ الَّذِي عَلَيْهِ الْمِيقَدَةُ يُقَالُ لَهُ قُزَحُ

او مستحب دا ده چه واد ی ړوی نژدې وهغه غړه ته چه پرهغه غړه میقده ده (یعنی د اور بلید وځای چه په جاهلیت کی پرې د اور بلیدی۔ بنایر) او هغه غړه ته قزح وائی (په دغه نامه ئی په دې سبب بولی چه د اغړه په دغه ځای کی لوړ غږ دی)

مسئله! که وغړه ته نژدې ځای نه وو نود لاړی او د څرګ پر یوه غاړه او یا غاړه دی وا ړوی او پر څرګ باندی اړول مکروه دی۔

فائده! دې غړه ته مشعر حرام هم وائی او امام هم پر دغه غړه د ریږی۔ قاله الزمخشری۔ او بعضی فقهاء وائی چه مشعر حرام د مزدلفې نوم دی۔ او من دلفه په دې مزدلفه بولی چه انسان دلاف نژدې کید و ته وائی په دغه ځای کی آدم علیه السلام

او حواء رض سره نښ دي سوله - جوړه -

لکه عرفات چه دغه نوم ورته وضع سو - له دي کبله چه د آدم ع او حواء رض هم هلته معرفت سره حاصل سو يعنی سره پيدا ئی کړه - ولی چه دوی د جنت څخه پرجلا جلا حصه دهلکی سره اکښته کړه سوی وه - حتی چه په تاريخ کی راغلی چه آدم عليه السلام په سراندیب کی چه دهغه يوه حصه دکا سره اکښته کړل سو او حواء رض په جده کی - او ابليس په لغمان کی - چه د افغانستان ديوې برخې نوم دی -

وَيُصَلِّي الْإِمَامُ بِالنَّاسِ الْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ فِي وَقْتِ الْعِشَاءِ بِأَذَانٍ وَإِقَامَةٍ

او ادا ئی کړي امام په خلکو سره د مابنام او د ماخستن لمونځ په يوه وخت کی د ماخستن په يوه اذان او يوه اقامت سره

فائده! له دې ورځې د امام د لمانځه تر سهار عموماً حاجيان نه وي - بلکه اکثر حاجيان نوته د امام د لمانځه څخه ای وخت هم نه وی معلوم لهذا د دې دوو لمونځو د جمع د پاره په نزد د امام صاحب جماعت شرط نه دی بلکه منفرد ئی هم جمع کولای سی او د عرفات د لمونځو جمع منفرد ئی سی کولای سی - کوکب دری -

نو چه منفرد ئی جمع کولای سی نو چيری يو خو نفره يو ملا پيدا کړي او د هغه سره په جماعت لمونځ وکړي هغه په طريق اولی جمع کولای سی -

وَمَنْ صَلَّى الْمَغْرِبَ فِي الطَّرِيقِ لَمْ يَجْزِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ

او که چا ادا ء کړی د مابنام لمونځ په لاره کی (خو ا له د ماخستن وخت داخل سوی وی او که نه يعنی مزدلفی ته چه نه وو رسيدلی) نو دی نه وی لمونځ په نزد د امام اعظم او محمد رح -

فَإِذَا طَلَعَ الْفَجْرُ صَلَّى الْإِمَامُ بِالنَّاسِ الْفَجْرَ بِغَلَسٍ

پس چه د سحار سپيدی راوچا وخلی ادا ء دی کړي امام په خلکو سره د سحار په تاريکی کی

ثُمَّ وَقَفَ الْإِمَامُ وَالنَّاسُ مَعَهُ فَدَعَا

(ترعادتی وخت دمخه وروسته تر لمانځه دی ودريږی امام او خلک به ورسره وی او دعا دی کړي هغه څيز ته چه د امام درک وعمومی خلکو ته نه معلوميږی - نو هرڅاجی که جماعت وه پيدا سو او که نه سو وه پيدا ئی دی تنها د سهار لمونځ په تاريکی کی وکړی - او بيا دی په

په دعاؤ کی دين دپاره کوښښ وکړي چه خدای د قبليدو دعاؤ دی -

فائده! د دې مسئلې څخه چه په حديث شريف کی د همدغسی راغلی دی يعنی چه دسحار لمونځ دی په غلس کی کوی معلومه سوه چه اصلی وخت د سحار د جماعت اسفار دی - يعنی په رڼا کی لمونځ کول - لکه چه مذهب د امام اعظم دی -

وَالْمُزْدَلِفَةُ كُلُّهَا مَوْقِفٌ إِلَّا بَطْنَ مُحَسِّرٍ

او مزدلفه ټوله خای د دريدو دی مګر نه د محسر د شيلې ښکته -

په صحيح حديث کی راغلی دی چه آنحضرت صلی الله عليه وسلم ابليس په دغه وخت کی په دغه شيله کی وليدی - او خاوری پرې سر باد کړې - نو حکه رسول الله صلی الله عليه وسلم په عين دغه موقع کی وخندل - او سبب د خندا ئی همدغه د ابليس پر سر خاوری باد ول بيان کړی -

ثُمَّ أَفَاضَ الْإِمَامُ وَالنَّاسُ مَعَهُ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ حَتَّى

او بيا دی راکښته سی امام خپلک ورسره د هغه ترلمر ختو ترڅو مينی ته رسيدلی

يَأْتُوا مِنًى فَيَبْدَأُ بِجَمْرَةِ الْعَقَبَةِ فَيَرْمِيهَا مِنْ

نو شروع دی وکړی په جمرة العقبه سره (يعنی هغه څلی چه مکې شريفې وخواته څرمه ده)

بَطْنِ الْوَادِي بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ مِثْلِ حَصَاةِ الْخَذْفِ۔

پس ودی ولی هغه څلی په اوو ډبرو - د شيلی دنس څخه په مثل د ډبرو د خذف -

مسئله! مستحب دا ده چه دغه ډبرې دی پرې مينځی - مستصفی -

مسئله! بنه دا ده چه دغه ډبرې دی په مزدلفه کی يا په لاره کی تولی کړی - جوهره -

مسئله! په هغو ډبرو چه يوواړه شيطان په ويشتل سوی وی دوهم واړه په هغه سره ويشتل مکروه دی کې داسی وکړه راوا دی مکروه کاره دی - کوکب دری -

مسئله! وخت د ويشتلو د دغه څلی د لمر خاته څخه د دغه ورځې شروع کيږی بيا تر مابنامه پورې په نزد د امام اعظم او په نزد د امام ابو يوسف تر زوال پورې وخت دی ولی -

مسئلہ: اکہ چیری حاجی دا ویشتل ترشپی پورہ ی وخندول بیا فی دشپی دی ولی نو کنا مکاړہ ی لکن دم نسته باندی۔ اوکی ترصبا پورہ ی وخنډه وی قضا دی ړا اوړہ ی۔ مګر پسه پر لازم دی۔ وکذا فی الجوهرة۔ وانکوکب الدری۔ ص۔

وَيُكَبِّرُ مَعَ كُلِّ حَصَاةٍ وَلَا يَقِفُ عِنْدَهَا وَيَقْطَعُ التَّلْبِيَةَ مَعَ أَوَّلِ حَصَاةٍ

او الله اکبر دی وائی سره دهرې ډیرې اونه دی دسرپنې دجمرة عقبه تر ویشتلو وړوسته او پرې دی بنده دی تلبیه داول ډبرې د ویشتلو سره (یعنی نوره دی نو تلبیه نه وائی)

پوهه شه: چه اصلی کیفیت درمی دخلورادی چه کښینه دی ډیره دړاسته لاس دبتې گوڼ پرنوک باندی اودوهمی گوتی په کومک دې وړه وغوړه خوی۔ اما په اوسنه زمانه کې پردې کیفیت ویشتل ډیر مشکل دی۔ نو نن وړه هر دول چه ممکنه وی هغسی دې ولی۔

مسئله: اکه ډبره پرځلی نه وهښتل بلکه لاندی غوځاړه کا سی بیا هم کافی دی۔ ولی چه عذر دانه دحام ډیر دی۔

مسئله: اکه څوک مریض یا ډیر سپین ږیری یا ضعیف وی چه ډیرین نی چه دخلکو تر پښو لاندی به هرپسم هغه ته د وکیل پښول ړوا دی۔

مسئله: ډبره کې دخلی څخه ډیره لیری وهښته چه نژدې هم نه وی۔ نوکه دویشتو نکی تر خای وخلی نه نژدې وی پرواند لری اوکه دسړی وخواته نژدې وی هغه ډبره نا حسابه دی۔

ثُمَّ يَذْبَحُ إِنْ أَحَبَّ ثُمَّ يَحْلِقُ أَوْ يُقَصِّرُ وَالْحَلْقُ أَفْضَلُ

اوبیا دی ذبح وکړی کې خوښه وی۔ (یعنی کې د شکریه دم پرکیدی) اوبیا دی سر وخرې یا دی د سر وښتان لنډ کړی اوخرېل د سر افضل کار دی۔

مسئله: د کوتې دیوه بنده په اندازه کا به د سر وښتان لنډ وی۔ اوښځو لره فقط قصر دی۔

وَقَدْ حَلَّ لَهُ كُلُّ شَيْءٍ إِلَّا النِّسَاءَ

او پرله مذکوره کارو څخه وروسته تر حلال سو هر شی۔ (یعنی خپل مال اغوستل خوشبوئی نکول۔ په صابون څان پاکول۔ زیر ناف خرېل) مګر نه ښځې (یعنی دمباښې سره وطی کول یا بوسه اخستل وغیره)

ثُمَّ يَأْتِي مَكَّةَ مِنْ ذَالِكَ الْيَوْمِ أَوْ مِنَ الْغَدِ أَوْ مِنْ بَعْدِ الْغَدِ

اوبیا دی ولاړ سی مکې ته په دغه ورځ (یعنی دا افضله ده) اویا دی صبا ولاړ سی (دیوولسم په ورځ) یا دی بل صبا ولاړ سی (دوولسم په ورځ۔ نو بیا تاخیر نه دی ړوا کا نی وکړی دم پرلازم ږیږی)

فَيَطُوفُ بِالْبَيْتِ طَوَافَ الزِّيَارَةِ

نو طواف دی وکړی پر کعبه شریفه طواف زیارت (چه دا طواف په حج کې فرض طواف دی)

فائده: اوه ې طواف ته طواف رکن هم وائی یعنی جزء دحج۔ اوطواف افاضه هم وائی یعنی بیرته راتګ څخه دعرفات اوطواف یوم النحر هم وائی چه اصلی وړه ې فی ذی حجه وړه ې دی۔

سَبْعَةَ أَشْوَاطٍ فَإِنْ كَانَ سَعَى بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ عَقِيبَ

اوه ه شوطه۔ نوکې سعی کړې وه په ما بین کې د صفا اومروې وړه وسته تن

طَوَافِ الْقُدُومِ لَمْ يَرْمُلْ فِي هٰذَا الطَّوَافِ وَلَا سَعْيَ عَلَيْهِ

طواف قدوم نوپه دې طواف زیارت کې دی اوبې نه بښوړی وی اوسعی هم نسته باندی۔

وَإِنْ لَمْ يَكُنْ قَدَّمَ السَّعْيَ رَمَلَ فِي هٰذَا الطَّوَافِ وَيَسْعَى

اوکې دغه سعی د صفا ومروې نه وه کړې نو په دې طواف کې به اوبې بښوړی وکړی۔ اوسعی به

بَعْدَهُ عَلَى مَا قَدَّمْنَاهُ وَقَدْ حَلَّ لَهُ النِّسَاءُ

به سعی هم کوی پر هغه دول چه دځه ذکر سوله۔ او اوس نوره وسوې وده ته ښځې هم۔

یعنی دمابنې سره یا د مینځې سره جماع کولای سی۔

وَهٰذَا الطَّوَافُ هُوَ الْمَفْرُوضُ فِي الْحَجِّ وَيُكْرَهُ تَأْخِيرُهُ عَنْ هٰذِهِ

او همدغه طواف فرض دی په حج کې۔ او مکروه دی خندول ترې غوړه خوا (یعنی لسم

الْأَيَّامِ فَإِنْ أَخَّرَهُ عَنْهَا لَزِمَهُ الدَّمُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ

یوولسم۔ دووولسم) نوکې وخندا وه طواف ترغوړه خوا نه دی پر هغه سړي دم پر نزد د امام اعظم

وَقَالَا لَا شَيْءَ عَلَيْهِ ثُمَّ يَعُوْدُ إِلَى مِنًى فَيُقِيْمُ بِهَا

او یا (ابو یوسف او محمد) وائی شی نشته پرده (یعنی صرف گنهکار دی او دم نشته باندی) نو پس د طواف زیارت
خو دی پیره ولاړ هسی منی ته او هلته دی اوسیږی۔

مسئله: اکه حاجی شپه تیره کړی په مکه شریفه کی گناه وکړه مکروه دم نشته باندی۔ کوکب ص۲۰۰

فَإِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ مِنَ الْيَوْمِ الثَّانِيْ مِنْ أَيَّامِ النَّحْرِ

پس چه نړوال وکړی لمر په دوهمه ورځ کی د اختر۔ نو په دغه ورځ دی وویلی

رَمَى الْجِمَارَ الثَّلٰثَ يَبْتَدِئُ بِالَّتِيْ تَلِي الْمَسْجِدَ

دری خلی شروع دی کوی په هغه خلی چه د مسجد خیف ته نژدی دی۔

مسئله: دا ویشتل دی دما پسنین تر لمانځه پورسته کوی۔

فَيَرْمِيْهَا بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ يُكَبِّرُ مَعَ كُلِّ حَصَاةٍ ثُمَّ يَقِفُ عِنْدَهَا فَيَدْعُوْ

او وایی دی دغه خلی په اوه ډبرو او تکبیر دی وائی دهری ډبری سره او بیا دی ودریږی هلته او دعا دی وکړی

مسئله: هغه ویشتلو ځای دی نه دریږی چه ازدحام دیریږی۔ بلکه څه کوښه دی سی

ثُمَّ يَرْمِي الَّذِيْ تَلِيْهَا مِثْلَ ذٰلِكَ وَيَقِفُ عِنْدَهَا

او بیا دی وویلی هغه خلی چه ورپورسته دی۔ لکه هغه دغه خلی چه ویشتلی وو۔
(یعنی په اوه ډبرو) او وروسته دریږی دهغه خلی سره (لکه دغه خلی ته چه دریدلی پاڼه دعا)

ثُمَّ يَرْمِي الْجَمْرَةَ الْعَقَبَةَ كَذٰلِكَ وَلَا يَقِفُ عِنْدَهَا

او بیا دی وویلی جمره عقبه پر هغه دوه اوه دی دریږی هلته۔

فائده: هغه ویشتل چه ورپورسته بل خلی ویشتل لری هغه ته دی
دریږی او چه ورپورسته بل خلی نه وی هغه ته دی نه دریږی۔

الٰہی یا الٰہی نه ندارم جز تو امیدے تکیه گاہی نه (رویش باگناه محمد عبید الله غفرله)

فَإِذَا كَانَ مِنَ الْغَدِ رَمَى الْجِمَارَ الثَّلٰثَ كَذٰلِكَ بَعْدَ زَوَالِ الشَّمْسِ

بیا نو چه سی صبا ورځ وی ولی دری سره خلی پر هغه دغه دول پس له زوال څخه د لمر۔

مسئله: او یشتل د خلو ماسوی د اولی ورځی څخه پس له زوال د لمر اداء کیږی
که د دما پسنین لمونځ کړی وی او که نه۔ لکن افضل داده چه د دما پسنین تر لمانځه ورپورسته
دی وویلی۔ لکه دغه چه تیر شوه۔

وَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَتَعَجَّلَ النَّفْرَ نَفَرَ إِلَى مَكَّةَ

او که د حاجی اراده وکړه د تلوار په وتلو کی د منی څخه نو ولاړ وی سی مکه ته۔

یعنی که تلوار وو د وتلو چه دیا ر هسی ورځی ته نه پاتی کیدی ولاړ وی سی۔ گنهکار
نه دی۔ خدای پاک وائی "فَمَنْ تَعَجَّلَ فِيْ يَوْمَيْنِ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ" که د چا تلوار وی
په دوو ورځو ویشتو کی (پس له اختر ورځی) نو گناه نشته پر ده۔

وَإِنْ أَرَادَ أَنْ يُقِيْمَ رَمَى الْجِمَارَ الثَّلٰثَ فِي الْيَوْمِ الرَّابِعِ

او که اراده وکړه چه پاته سی په منی کی بله ورځ هم نو دی وویلی دری سره خلی په خلورمه ورځ

بَعْدَ زَوَالِ الشَّمْسِ كَذٰلِكَ فَإِنْ قَدَّمَ الرَّمْيَ فِيْ هٰذَا الْيَوْمِ

د اختر پس له زوال د لمر پر هغه سابق دول۔ او که دغه کړه ویشتل د خلو په دغه خلورمه ورځ

قَبْلَ الزَّوَالِ بَعْدَ طُلُوْعِ الْفَجْرِ جَازَ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَقَالَا لَا يَجُوْزُ

دغه ترزوال لکن پس له سپیدو څخه روا دی په نزد د امام اعظم او یارانو وائی روا نه دی۔

مسئله: اکه پرحاجی باندی کدد ریمی ورځی له پاسه منی کی غروب وکړی بیا به
خامخا څلرمی ورځی ته پاتی دی۔

وَيُكْرَهُ أَنْ يُقَدِّمَ الْإِنْسَانُ ثَقَلَهُ إِلَى مَكَّةَ وَيُقِيْمُ بِهَا

او مکروه دی سړی لږه چه خپل بستر وغیره ثقل کړی د دغه ورځی په منی
کی د اغسی اوسیږی۔ خو د څلو ویشتل پوره کړی۔

حَتّٰی یَرْمِیَ فَاِذَا نَفَرَ اِلٰی مَکَّۃَ نَزَلَ بِالْمُحَصَّبِ

څوچه دځلو ویشتل پوره کړي۔ اوهغه وخت چه حاجي کوچ کوي مکې ته نو دی واړي په محصب کې

پرته له سره اچه محصب دیوځای نوم دی په مابین د دو وغرو چه هغه ته ابطح هم وائی او خیف ئی هم بولی او بطحاء ئی هم بولی۔ دمکې شریفې دینارو باندې چه هلته اوس یو بانډار جوړ دی چه په بانډار کې یو ښه ښایسته مسجد سته د دغه مسجد په خوا کې حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم اړولی وه۔ په دې کې شک نسته چه آنحضرت صلعم په محصب کې اړولی وه۔ کما فی البخاري وغیره۔ لکن اختلاف په دې کې دی چه د دی ځای اړولی سنت دی او که نه؟ د هدایې په اول جلد ۲۳۶ کې وائی چه نزول په محصب کې سنت دی نو موږ په مذهب کې۔ او همدغسې کوکب دري په ص۲۸ کې وائی او امام بخاري د ابن عباس رض څخه روایت کړی دی چه په محصب کې اړولی سنت نه دی۔ بلکه داځای د مدینې منورې پرلاړه برابر وو نو ځکه آنحضرت صلعم دلته واړولی۔

په هرصورت نن ورځ ټوله حاجیان د منیٰ څخه برابر د مکې شریفې بنارته داخلیږي که په موټرو کې وي که پیاده وي۔ د محصب نوم وښایان د خلکو څخه ورک دی۔ البته فقیر په یو موقع کې د چا پوښتنه پرې پوښتنه هغه ځای پیدا کړي چه پخوا محصب و واو اوس بانډار دی نو په هغه کې دوه رکعته تحیة المسجد اداء کړي او یو کړي می دعا وکړي بیا نو مکې شریفې ته راروان شي۔ «فَمَا لَا یُدْرَکُ کُلُّہٗ لَا یُتْرَکُ کُلُّہٗ» یوه صادقه مقوله ده۔

ثُمَّ طَافَ بِالْبَیْتِ سَبْعَۃَ اَشْوَاطٍ لَا یَرْمُلُ فِیْھَا وَھٰذَا

او بیا دی طواف وکړي پر بیت الله شریف اووه شوطه او نه ړي دی نه ښوروي یا په دغه طواف کې

طَوَافُ الصَّدْرِ وَھُوَ وَاجِبٌ اِلَّا عَلٰی اَھْلِ مَکَّۃَ

او دا طواف د طواف صدر دی (صدر معنی رجوع ده) د حاجي صاحب هم پس له دغه طواف څخه وطن ته د رجوع قصد وی۔ او طواف وداع ئی هم بولی۔ وداع رخصت کیدو ته وائی حاجي هم د مکې شریفې څخه رخصتیږي۔ او هم طواف اخیر ئی هم بولی۔ او دا طواف واجب دی پرټولو خلکو مګر پر اهل مکه والا نسته (ولی هغه مکي والا خو وطن ته رجوع نه کوي۔

غلطیانی

بعضی عوام د بعضی کم علمه ملایانو څخه ئی اوریدلی وی چه د صدر معنی خیکر دی یعنی د مکې شریفې څخه چه ورو ورو ستر د غه طواف وزی پرې شاید حج او هیڅکر به د کعبې شریفې وخواته کوی څوچه تر لوبر دې وانړه وزی۔ فقیر وائی اچه نه په حدیثونو کې اونه په فقه کې او نه په لغت کې په دا معنی راځی۔ بلکه دا یوادب غیر سُنی دی۔ د کعبې سره۔ د رویش۔

نه اینکار میکند نه انکار میکند والله اعلم بنیات عباده

ثُمَّ یَعُوْدُ اِلٰی اَھْلِہٖ

پس له دغه طواف دی حاجي ولاړ سی د خپل کور وخواته چه پوهه سو خدای دې قبول کړي

فَاِنْ لَّمْ یَدْخُلِ الْمُحْرِمُ مَکَّۃَ وَتَوَجَّہَ اِلٰی عَرَفَاتٍ وَوَقَفَ بِھَا

او که چیرې محرم دچه داخل نه سو مکې شریفې ته او متوجه سو عرفات ته او ودریدی

عَلٰی مَاقَدَّمْنَاہُ سَقَطَ عَنْہُ طَوَافُ الْقُدُوْمِ وَلَا شَیْءَ عَلَیْہِ لِتَرْکِہٖ

پر عرفات پر هغه طریقه ودریدی چه موږ دمخه بیان کړه نو ساقط سود هغه سړی څخه طواف قدوم (یعنی ورسته کول نه غواړي۔ ولی چه طواف خو د دخول د مکې دپاره نکه تحیه داسی دی او دی خو داخل نه سو) او هیڅ شی نسته پرده باندې د جهته د ترک د طواف قدوم۔

فائده! غالباً دا سی کار د کمې څخه د وخت کیږي۔ البته که وخت ډیرو او حاجي د غسې وکړي فقد اساء۔ ګناهکار دی۔

وَمَنْ اَدْرَکَ الْوُقُوْفَ بِعَرَفَۃَ مَابَیْنَ زَوَالِ الشَّمْسِ مِنْ یَّوْمِ عَرَفَۃَ

که څوک ورسیدی ودریدو ته پر عرفات په مابین کې د زوال د ورځې د عرفات بیا تر

اِلٰی طُلُوْعِ الْفَجْرِ مِنْ یَّوْمِ النَّحْرِ فَقَدْ اَدْرَکَ الْحَجَّ

راختو پورې د سپیدو دورځې د اختر (یعنی چه سپیده لانه وی چاودلی) نو هغه سړی وینوی حج (یعنی حج ئی صحیح سو۔ شی نسته پرده)

وَمَنِ اجْتَازَ بِعَرَفَةَ وَهُوَ نَائِمٌ أَوْ مُغْمًى عَلَيْهِ أَوْ لَمْ يَعْلَمْ

اوکه څوک محرم تیر سوپر عرفات اودی بیده وو اویا بیهوښی ړاغلی وه پرده اویا نه

أَنَّهَا عَرَفَاتٌ أَجْزَأَهُ ذَالِكَ عَنِ الْوُقُوفِ

پژندی چه دا عرفات دی کافی دی دغه تیریدل دوقوف څخه (کوپاده وقوف دعرفات وکړی چه فی صحیح دی)

وَالْمَرْأَةُ فِي جَمِيعِ ذَالِكَ كَالرَّجُلِ غَيْرَ أَنَّهَا لَا تَكْشِفُ رَأْسَهَا وَتَكْشِفُ

اوښځه په ټولو احکامو کې د نارینه سړي ده. غیر دده چه ښځه به نه لخوی سوچل او

وَجْهَهَا وَلَا تَرْفَعُ صَوْتَهَا بِالتَّلْبِيَةِ وَلَا تَرْمُلُ فِي الطَّوَافِ

لخوی به مخ چغل اونه به پورته کوی آواز خپل په تلبیه ویلو سره او اوښې دی نه ښوړوی په طواف کې

وَلَا تَسْعَى بَيْنَ الْمِيلَيْنِ الْأَخْضَرَيْنِ وَلَا تَحْلِقُ وَلَكِنْ تُقَصِّرُ

اوچابک تک به نه کوی په مابین کې د دوو میلا نوچه نرو غوټه دی اوسر به نه خرڅوی د احرام خلاصولو

په وخت کې بلکه ویښتان دی دسر څخه غوڅ کړی.

د دې ځای اوله فائده

خدای پاک په مقدسه سوځایو کې په مقدسه تلبیه سره ښځه د آواز پورته

کیدو څخه منع کړه. نو خلکو څه خیال دی چه په وَدو او نورو ځایو

کې به د ښځې د آواز پورته کول ړوند وی هرکله نه او د ښځې خپله

ذمه داری ده چه په غزلوسره به آواز نه پورته کوی.

د دهمه فائده

خدای پاک ښځه دسی لخوی لوڅه اوښه وسپوړه ولوڅه اودچابک

تګ څخه په مابین کې د صفا او مروه منع کړه. باوجود چه دا د حج

وظیفې وې. له دې سببه چه د ښځې کشف د بدن ړانه سی چه عورت دی

نو څرنګه به ړوا وی خبرې کول غزل ویل د ښځو په ړادیو کانو کې.

اوڅرنګه به ړوا وی سنګاړه کول د ښځو په لخوسره بلکه په لخو بدن

په ویسیاړو او تلویزنو کې. اوڅرنګه به ړوا وی د بالغو ښځو بلکه د

مراهقو ښځو تګ و مکتبو ته بیله حجاب شرعی.

اوڅرنګه به ړوا وی د ښځو پرحکومتی کابینستل بی حجابه چه نږدې

د دوی ته په انفرادی توګه اوپه اجتماعی توګه وړاندې. اړوپایان وافی په

اسلامی حکومتوکې د ښځو حقوق پایمالوی. اوبعضی خلک جاهلان

کد ښځو هغه حقوق شرعیه پایمالوی هغه غلط کاړ اوګناه نه دی.

اوکه اړوپائی حقوق او امریکائی حقوق او انګریزی حقوق پایمال

کوی هغه غلط کاړ بولی.

بلکه د اسلامی نړۍ د حکومتی فریضه ده چه د ښځو هغه حقوق

چه د شریعت څخه مخالف وی که څه هم داړوپا یا نورو ډانې اوفکرسره

برابر وی پایمالوی او تر پښو لاندې کړی.

نو ښځې به دګناه څخه خلاصی سی او حکومت ته به د خدای پاک جل جلاله

ثواب ورکړی.

وَمَا عَلَيْنَا إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ

وَاللهُ الْمُوَفِّقُ وَالْمُعِينُ

تبصره! دنړۍ ټوله غیر اسلامی حکومتونه د طالبانو پر حکومت فشار

ړاولی او وائی چه د طالبانو په حکومت کې ښځې دوستی نسته. ولی پرلس

درهمه یا معادل دهغه دغلې لاس پرې کوی. دوئ وائی چه لاس د بشر خو

ډیر قیمتی شی نو څرنګه ئی طالبان پرلس درهمه چه نیوکمې مبلغ دی ورپرې

کوی. عاصی وائی "آأنتم أعلم أم الله. ایا تاسی خبر یاست یعنی په اصلاح

د نظام د بشر اوکه خدای" قال الله تعم "السارق والسارقة فاقطعوا أيديهما"

خدای وائی چه د غلې اود غلي ښځې لاسونه ورپرې کړی. دوئ وائی چه یوسړی

چه په قصد یل سړی مړ کړی تاسی طالبان هغه قاتل پر قصاص ئی. نو دوئ وائی چه قاتل

ته دی اوبه د قید کښینوی. یوخومره سود د غه یل په وژلو کې څه فائده ده؟

عاصی وائی "أأنتم أعلم أم الله خدای خو وائی" ولكم في القصاص حيوة

يا أولي الألباب"

بَابُ الْقِرَانِ

باب دئ په بیان کی د قران

اَلْقِرَانُ اَفْضَلُ عِنْدَنَا مِنَ التَّمَتُّعِ وَالْاِفْرَادِ

قران افضل دئ زمونږ د حنفیانو په نزد تر تمتع او افراد څخه۔

پوه شه! چه اقسام دحج درې دی۔ (۱) افراد۔ هغه دا دی چه د میقات څخه یوازی دحج احرام وتړی۔ (۲) قران۔ هغه دا دی چه د میقات څخه دعمرې او حج دواړه احرام پر یوه ځای وتړی او چه مکې شریفې ته ورسیدئ افعال دعمرې وکړی او وروسته د دواړه طواف او د هغه واړه سعی او بیا نو احرام بیندی او سیږئ۔ خو افعال څخه دحج وروسته د دواړه وځنې یوځای څخه حلال کړی۔ (۳) تمتع۔ هغه دا ده چه د میقات څخه یوازی دعمرې احرام وتړی او بیا چه مکې شریفې ته ورسی افعال دعمرې وکړی او بیا څخه حلال کړی وروسته بیا د اووم په ورځ دحج احرام وتړی او حج وکړی۔ زمونږ په مذهب کی خو قران افضل دئ۔ او امام شافعی وائی چه افراد افضل دئ۔ وروسته تمتع افضل دی۔ وروسته قران۔ او دا مذهب د امام مالک هم دئ۔ او د امام احمد څخه روایت دئ چه اول تمتع دئ بیا افراد او بیا قران۔ زمونږ دلیل هغه حدیث د بخاری او مسلم دئ چه انسؓ وائی ما واوریده د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه چه ویل ئ «لبیک عمرةً وحجةً۔ لبیک عمرةً وحجةً»

وَصِفَةُ الْقِرَانِ اَنْ يُهِلَّ بِالْعُمْرَةِ وَالْحَجِّ مَعًا مِنْ

او بیان او ماهیت د قران دا دی چه احرام وتړی په عمره او حج سره یو ځای د

الْمِيقَاتِ وَيَقُوْلُ عَقِيْبَ الصَّلٰوةِ اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اُرِيْدُ الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ

میقات څخه او وائی دی پس له لمانځه څخه یعنی دوه رکعته د احرام یا الله زما اراده ده دحج او د عمرې۔ تر څو راته اسانه کړې دواړه

فَيَسِّرْهُمَا لِيْ وَتَقَبَّلْهُمَا مِنِّيْ فَاِذَا دَخَلَ مَكَّةَ اِبْتَدَءَ

او دا څخه قبول ئ کړې دواړه د ما څخه۔ پس چه داخل سی مکې شریفې ته شروع دی

بِالطَّوَافِ فَطَافَ بِالْبَيْتِ سَبْعَةَ اَشْوَاطٍ يَرْمُلُ فِي الثَّلٰثَةِ

وکړی په طواف سره۔ نو طواف دی وکړی پر بیت الله شریف او وه شوطه او ورځی دی بنوره وی

الْاُوَلِ مِنْهَا وَيَمْشِيْ فِيْ مَا بَقِيَ عَلٰى هَيْئَتِهٖ وَسَعٰى

په اولو درو واړو وکی دډې شوطونو تک دی وکړی په پاته واړو وکی په اطمنان سره او سعی دی وکړی پس

بَعْدَهَا بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ وَهٰذِهٖ اَفْعَالُ الْعُمْرَةِ

له طواف په ما بین کی د صفا او د مروه۔ او دا سوه افعال د عمرې۔

ثُمَّ يَطُوْفُ بَعْدَ السَّعْيِ طَوَافَ الْقُدُوْمِ وَيَسْعٰى

او وروسته دی طواف وکړی پس له سعی طواف قدوم۔ او سعی دی وکړی

بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ لِلْحَجِّ كَمَا بَيَّنَّاهُ فِيْ حَقِّ الْمُفْرِدِ

په ما بین د صفا او مروه دا دحج د پاره۔ لکه چه مونږ ئ بیان وکړی په حق کی د مفرد

فَاِذَا رَمَى الْجَمْرَةَ الْعَقَبَةَ يَوْمَ النَّحْرِ ذَبَحَ شَاةً اَوْ

پس چه وویشی جمرۀ عقبه په ورځ د اختر کی ذبح دی کړی پوسه او یا غوی

بَقَرَةً اَوْ بَدَنَةً اَوْ سُبُعَ بَقَرَةٍ اَوْ سُبُعَ بَدَنَةٍ فَهٰذَا دَمُ الْقِرَانِ

او یا اوښه (پریوه سی) او یا اووم حصه د غوائی یا د اوښی۔ هغه دم دشکریې د قران دئ۔

فَاِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّهٗ مَا يَذْبَحُ صَامَ ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ فِي الْحَجِّ

او که چیرې نه وو حاجی له هغه شی چه ذبح ئ (یعنی مسکین وو) نو روژې دی ونیسی دحج په

اخرهایوم عرفة فان فاته الصوم حتی دخل یوم

چه اخیری ئی دعرفات ورځ وی۔ اوکه څوک فوت سوی دغه دریمی ورځی (نی ویتولی) ترڅوچه

النحر لم یجزه الا الدم ثم یصوم سبعة

دا خترورځ راغله۔ نو بیا کفایت نه کوی مکردم (دهری خولچه ئی پیدا کوی) او بیادی ورځی

ایام اذا رجع الی اهله فان صامها بمکة بعد

ونیسی اوکه ورځی چه کورته ورسیږی اوکی ویتولی دغه اوکه ورځی په مکه شریفه کی پیل

فراغه من الحج جاز فان لم یدخل القارن مکة ولو جه

فارغیدو دافعال لوڅخه دجج ورځ وادی۔ اوکه چیری نه سود اخل قارن مکی شریفی ته اوعرفی وکړی

الی عرفات فقد صار رافضا لعمرته بالوقوف وسقط

وعرفات ته په تحقیق وکړځیدی قارن پریښو ونکی دخپلی عمری په دریدو دعرفات اوساقط سو

عنه دم القران دلی په دی اوس قارن ندی چی ... ورسره

د دې څخه هغه دم چه د قران دکبله پرده کیدی (ولی چه اوس دی قارن نه دی)

وعلیه دم رفض العمرة وعلیه قضائها

اوپرده واجب دی دم په سبب دپریښو ولو دعمری اوپرده لازمه ده قضاد هغی عمری۔

مسئله! د دې پسه دغوښو څخه خوړک ودې ته حرام دی۔ کوکب دری منځ

دلیل ئی دادی چه عمره د قارن څو نفل ده۔ قانون شرعی دادی چه هر نفلی عبادت په نیت ئی څوک وکړی اوبیائی پریږدی قضاء راوړل پر هغه لازمه ده۔ نو قارن کله چه هم دعمری نیت یوازی نه دی کړی لکن دحج دنیت سره ئی دعمری نیت هم یوځای کړ دی اوداسی ئی ویلی دی، اللهم انی ارید العمرة والحج، نوځکه ئی قضا لازمه ده

باب التمتع

باب دی په بیان د تمتع کی

التمتع افضل من الافراد عندنا والمتمتع علی وجهین

تمتع افضل ده تریوازی حج نهوښ پرنزد۔ او متمتع حاجی دوه قسمه دی۔

متمتع یسوق الهدی ومتمتع لا یسوق الهدی

یوهغه متمتع دی چه هدی ورسره بوځی (یعنی یا پسه یا اوښی) اوبل هغه متمتع دی چه هدی نه ورسره بوځی۔ هدی هغه پسه یا غوی یا اوښی دی چه د مکی شریفی دپاره ورسره وی۔

وصفة التمتع ان یبتدء من المیقات فیحرم بالعمرة

اوبیان دماهیت دتمتع دادی چه شروع وکړی حاجی دمیقات څخه احرام وترې په عمره سره

ویدخل مکة فیطوف لها ویسعی ویحلق او یقصر

اوداخل سی ومکی شریفته نوطواف وکړی دپاره دعمری اوسعی وکړی اوسر دی وخرئی یادی د

وقد حل من عمرته ویقطع التلبیة اذا ابتدأ

سر ویښتان لنډ کړی نوپه تحقیق سره خلاص سود عمری څخه اوپرې دی نه دی تلبیه چه شروع

بالطواف ثم یقیم بمکة حلالا فاذا کان یوم الترویة

ئی په طواف وکړه۔ اوبیادی اوسیږی په مکه کی حلال پس چه ورځ د اتمه راغله نو دی احرام

احرم بالحج من المسجد الحرام ولی پې دریوا فضل څای دی

دحج وترې دمسجد حرام شریف څخه۔

مسئله! افضل داده چه تر اتمه دی احرام وترې۔

او اتباع د محمد بن عبدالوهاب النجدی پر امام اعظمؒ باندی خولې د مخالفت او اعتراض او طعن وعیب خلاصی کړی دی۔ او دوی وائی چه ابو حنیفهؒ څرنګه منع کوی یا مکروه بولی هغه کار چه اشعار دی۔ اوسره دا دې چه نبی علیه الصلوة والسلام دا کار کړی دی او اصحابو کرامؓو هم تولو کړی دی۔ چه دا دې پاره په بخاری شریف کی مکرر او دیر حدیثونه ستر۔ او په صحیح مسلم بلکه په صحاح ستة کی داشعار حدیثونه خلنده معلومیږی

و مخالفینو ته جواب دا دی! چه فقیه ابو جعفر الطحاویؒ چه اعلم الناس په مذهب د امام اعظم رحمه الله کیږی۔ او امام ابو منصور الماتریدیؒ وائی چه ابو حنیفهؒ اصل اشعار مکروه نه بولی اوځرنګه بې مکروه وی۔ اوسره دا دې چه احادیث فی وحدته دشهرت رسیدلی دی۔ او بوله حدیثونه په اشعار کی صحیح هم دی۔ بلکه د امام اعظمؒ په وخت کی خلکو اشعار داسی کاوه چه چاره بې داوښ به بوک کی وه ښخه کړه او بیابې کشی کړه دیرځای بې وه څیری کړی هغه تپ به چنجیان وکړه او وه وست به سوبه سبب دکړه می د جانور د حکی او حیوان غریب به دخورک څخه ولویدی او هلاک ته به ښه دې سو۔ نو امام اعظمؒ دغسی اشعار مکروه بولی۔ او منع د اشعار فی له دې سببه وکړه چه پر عوامو باندی دهغه اشعار معتاد د وانه بنده سی۔ او که څوک طریقه شرعی د اشعار پیژنی او نه دا فی وی۔ او هغه داسی چه په چاره دی صرف پوست د بوک پرې کړی او چاره به غوښته نه ړسوی۔ د امام صاحبؒ په نزد دغسی اشعار اجازه ستله او ښه کار فی هم بولی۔ امام کرمانیؒ وائی چه همدغسی بیان د مذهب د امام اعظمؒ صحیح دی۔ او امام قوام الدینؒ هم به دې سره تصریح کړې ده۔ او امام کمال الدینؒ ابن الهمامؒ چه مصنف د فتح القدیر دی همدغسی وائی۔ او بدر الدین العینیؒ په شرح کی د بخاری شریف هم په دغه بیان تصریح کړې ده۔ او په ردالمحتار کی هم ډیر بیان ستله۔

فَإِذَا دَخَلَ مَكَّةَ طَافَ وَسَعَى وَلَمْ يَحِلَّ حَتَّى يَحُجَّ بِالْحَجِّ يَوْمَ التَّرْوِيَةِ

پس چه داخل سی هدیه والا متمتع مکې شریفی او وه کښت طواف دی وکړی او سعی دی د صفا او مروه وکړی او څان دی نه حلالوی بیا تر هغو پورې چه احرام د حج تړی په وړه د اتم۔

فَإِنْ قَدَّمَ الْإِحْرَامَ قَبْلَهُ جَازَ وَعَلَيْهِ دَمُ التَّمَتُّعِ

او که احرام مقدم کړی د اتم تر وړې روا ده (بلکه د هغه احرام افضل دی۔ کوکب) او پر ده دتمتع دم هم ستنه۔

وَيَفْعَلُ مَا يَفْعَلُ الْحَاجُّ الْمُفْرِدُ وَعَلَيْهِ دَمُ التَّمَتُّعِ

او دی کړی هغه کار چه نور نکه مفرد بحج والا چه فی کوی (یعنی طواف او سعی) او پر ده لازم دی دم دتمتع د

فَإِنْ لَمْ يَجِدْ مَا يَذْبَحُ صَامَ ثَلٰثَةَ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ وَسَبْعَةً

شکر بې او که نه ړسولای هغه شی چه ذبح فی کړی نو دری ورځې روژې دی د حج په وخت کی وینسی او اوه روژې

إِذَا رَجَعَ إِلٰى أَهْلِهِ وَإِنْ أَرَادَ الْمُتَمَتِّعُ أَنْ يَسُوقَ الْهَدْيَ أَحْرَمَ وَسَاقَ الْهَدْيَ

چه کور ته ولاړ سی۔ او که اراده وکړه د متمتع چه هدیه د مکې دخان سره بوزی نو احرام دی وکړی او هدیه دی کړی هدیه

مسئله! دا هغه دوه قسم د تمتع دی او دا قسم تر اول افضل دی۔ ردالمحتار۔

فَإِنْ كَانَتْ بَدَنَةً قَلَّدَهَا بِمُزَادَةٍ أَوْ نَعْلٍ

که وا هغه هدیه اوښ یا اوښه نو په غاړه دی وړ وخړوی هغه ښخه وغیره چه تو بنه پکښی وی او یا پوتی دا یو علامه ده

دې تقلید فائده داده چه دا اوښه بیا څوک دا وبو او د وښو څخه نه منع کوی۔

مسئله! اوښ چونکه د سړی څخه غالبیږی نو حکمًا دا علامه دی په وخړوی چه بیا بل څوک کار نه پرې کړی۔ او فی د وښو او فی دا وبو څخه منع کوی۔ او د غوایې هدیه هم تقلید غواړی لکن پسه چونکه د سړی سره وړ سره وی نو حکمًا تقلید نه غواړی۔ کوکب دری۔

وَأَشْعَرَ الْبَدَنَةَ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللّٰهُ

او اشعار دی وکړی دا وښی په نزد د ابو یوسفؒ او محمد رحمة دی وکړی خدای پر دواړو

وَهُوَ أَنْ يَشُقَّ سَنَامَهَا مِنَ الْجَانِبِ الْأَيْمَنِ وَلَا يُشْعِرُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ

او اشعار داسی دی چه وړ ښی دی کړی بوک د وښی او داسته طرف څخه او اشعار دی نه کوی به نزد د امام اعظم

فائده! په هغه وینو دی وړ رنګ کړی بوک د اوښی او د اهم صرف دغیر تیاد پاره تاکیدًا

پوه شه! چه مصنفؒ قول دیارلسو نوه دهغه کړی پر قول د امام اعظمؒ له دې سببه چه فتوی پر قول دیارلسو نوؒ

فائده! په هدایه کی وائی چه اشعار مکروه دی په نزد د امام اعظمؒ او ښه کار دی په نزد دیارلسو نوؒ

پوه شه! چه په مسئله کی داشعار مخالفینو لکه ابن القیم الاندلسی۔ ابن تیمیه الحنبلی

فَإِذَا حَلَقَ يَوْمَ النَّحْرِ فَقَدْ حَلَّ مِنَ الْإِحْرَامَيْنِ

پس چه سرئی وخرابه په ورځ د اختر کې په تحقیق خلاص سو د دواړو احرامونو څخه (احرام دحج او د عمرې)

وَلَيْسَ لِأَهْلِ مَكَّةَ تَمَتُّعٌ وَلَا قِرَانٌ وَإِنَّمَا لَهُمُ الْإِفْرَادُ خَاصَّةً

اونشته (نه دئ سره) اهل مکه لره تمتع او نه قران - بلکه دده دئ د پاره کې خاص دحج افراد دئ -

مسئله: اهل مکه کسان چه پر همین میقات فی کوهدی او یا د میقات څخه د مکې شریفې پر خوا فی کوهدی هغه لره هم تمتع او قران نه دی سره -

مسئله: که مکې والا قران یا تمتع وکړه گناهکار دئ اودم هم پرلازم دئ -

وَإِذَا عَادَ الْمُتَمَتِّعُ إِلَى بَلَدِهِ بَعُدَ فَرَاغِهِ مِنَ الْعُمْرَةِ وَلَمْ يَكُنْ

اوکه چیرې سړی متمتع وخپل ښار ته یعنی کوهدی ته پس له فراغه د عمرې څخه او هدیه نې

سَاقَ الْهَدْيَ بَطَلَ تَمَتُّعُهُ وَمَنْ أَحْرَمَ بِالْعُمْرَةِ قَبْلَ أَشْهُرِ

نه وه پولې نو تمتع نې باطله سوه - اوکه چا احرام وتاړه په عمرې سره د هغه ترمیاشتو دحج

الْحَجِّ فَطَافَ لَهَا أَقَلَّ مِنْ أَرْبَعَةِ أَشْوَاطٍ ثُمَّ دَخَلَتْ أَشْهُرُ

اوبیا نې طواف وکړئ د عمرې د پاره کم تر څلورو شوطه وساوسته داخلی سوی میاشتی

الْحَجِّ فَطَافَ لَهَا أَرْبَعَةَ أَشْوَاطٍ فَصَاعِدًا

دحج نو نده د عمرې پاته پرځنه پوره کړه او احرام دحج نې وتاړه نو دئ متمتع سو -

دلیل: دا شرعی خبره ده چه اکثریته دشی حکم دکل دئ نو دې سړي چه اکثر شرطونه د عمرې دحج په میاشتو کې وکړه گویا ټوله عمره نې دحج په میاشتو کې وکړه اوداسی چا ته متمتع وائی -

وَإِنْ طَافَ لِعُمْرَتِهِ قَبْلَ أَشْهُرِ الْحَجِّ أَرْبَعَةَ أَشْوَاطٍ فَصَاعِدًا

اوکه چیرته د هغه سړي طواف وکړي د عمرې د پاره څلورو شوطه یا پرلاتر څلورو دحج تر میاشتو څخه

ثُمَّ حَجَّ مِنْ عَامِهِ ذَالِكَ لَمْ يَكُنْ مُتَمَتِّعًا

اوبیا نې حج وکړي په دغه کال د عمرې کې نه دی متمتع (ولې چه اکثر لره حکم دکل دی گویا دا ټوله عمره تر میاشتو دحج دهغو وکړه)

وَأَشْهُرُ الْحَجِّ شَوَّالٌ وَذُو الْقَعْدَةِ وَعَشْرٌ مِنْ ذِي الْحِجَّةِ

اومیاشتی دحج دگوچنی اختر میاشت - دمیاني میاشت اولنی ورځ دلوی اختر دمیاشتی دی -

فائده: داچونکه اکثر دده میاشتودی نوحکم نې داشخص په صیغه د جمع بولی - فافهم -

فَإِنْ قَدَّمَ الْإِحْرَامَ بِالْحَجِّ عَلَيْهَا جَازَ إِحْرَامُهُ وَانْعَقَدَ حَجُّهُ

اوکې چیرې دهغه کرنې احرام په حج سره تر عمرې کولو سره دنې احرام دحج نې اوغوته سو حج (افعال دحج دی وکړي)

وَإِذَا حَاضَتِ الْمَرْأَةُ عِنْدَ الْإِحْرَامِ اغْتَسَلَتْ وَأَحْرَمَتْ وَ

اوکه چیرې حیض ورځنې بنځې ته په وخت کې د احرام نو غسل دی وکړي او احرام دی وترې اودی کړي

صَنَعَتْ كَمَا يَصْنَعُ الْحَاجُّ غَيْرَ أَنَّهَا لَا تَطُوفُ بِالْبَيْتِ حَتَّى تَطْهُرَ

هغه افعال چه هغه افعال حاجی کوی مګر طواف پرکعبه دی نه کوی تر هغوچه دحیض څخه پاکیږی -

حاصل دا دئ! چه احرام ترلې اوتلبیه ویل دجنابت سره منافی نه دئ اوغسل چه کوی داد احرام دپاره دی دپاکۍ دپاره نه دئ - اومنی ته دی ولاړه سی بیادی عرفات ته ولاړه سی اوخلی دی وولی مګر طواف چونکه په مسجد کې دئ اودخول د مسجد وحائضې ته منع دئ نو طواف دی نه کوی تر هغوچه پاکیږی اوسعی د صفا ومروه دی هم نه کوی - ولی چه سعی دهغه طواف عوارضی

وَإِذَا حَاضَتْ بَعْدَ الْوُقُوفِ بِعَرَفَةَ وَبَعْدَ طَوَافِ الزِّيَارَةِ انْصَرَفَتْ

اوکه بنځه حائضه سوه پس له دریدو څخه دعرفات اوپس له طواف زیارت څخه نو ولاړه دی سی

مِنْ مَكَّةَ وَلَا شَيْءَ عَلَيْهَا لِتَرْكِ طَوَافِ الصَّدْرِ

دمکې شریفې څخه اوهیڅ شی نشته پردې باندی په سبب د نه کولو د طواف صدر - یعنی دم نشته - ولی چه آنحضرت صلی الله علیه وسلم اجازه کړې ده نفاسې اوحائضې بنځې ته په پریښودلو د طواف صدر - بخاری - مسلم - ترمذی - نسائی

بَابُ الْجِنَايَاتِ

باب دئ په بیانت کی د جنایاتو

اِذَا تَطَيَّبَ الْمُحْرِمُ فَعَلَيْهِ الْكَفَّارَةُ فَإِنْ تَطَيَّبَ عُضْوًا كَامِلًا

کہ خوشبوئ وکړہ محرم نو پرده باندی کفاره ده ستہ ـ کې خوشبوئ ولګول پر کامل اندام

فَمَا زَادَ فَعَلَيْهِ دَمٌ

یا پر بالاتر هغه نو پرده باندی دم لازم دئ (پورہ اندام لکه سر، وېښ، پښې ـ ذکر، الاس وغیره)

وَإِنْ تَطَيَّبَ أَقَلَّ مِنْ عُضْوٍ فَعَلَيْهِ صَدَقَةٌ وَإِنْ لَبِسَ ثَوْبًا

او کې خوشبویه کړې کم تر اندام نو پرده صدقه ستہ او کې واغوستہ جامه ګنډلې (لکه قمیص پرتو

مُخِيطًا أَوْ غَطَّى رَأْسَهُ يَوْمًا كَامِلًا فَعَلَيْهِ دَمٌ وَإِنْ كَانَ

کوت وغیره) او یا ئې سر پټ کړې پوره ورځ نو پرهغه سرې دم لازم دئ او که پیسې ئې واغوستل

أَقَلَّ مِنْ ذَالِكَ فَعَلَيْهِ صَدَقَةٌ وَإِنْ حَلَقَ رُبُعَ رَأْسِهِ

د ګنډلې جامې یا پتول د سر کم تر یوې ورځې نو پرهغه سرې صدقه ستہ ـ او کې وخوایه د سر څلرم

فَصَاعِدًا فَعَلَيْهِ دَمٌ وَإِنْ حَلَقَ أَقَلَّ مِنَ الرُّبُعِ

برخه یا بالاتر هغه نو پرهغه سرې دم ستہ (که هر یو یا سر بې عذره وې او که په عذر) او کې وخوایه کم

فَعَلَيْهِ صَدَقَةٌ وَإِنْ حَلَقَ مَوْضِعَ الْمَحَاجِمِ مِنَ الرَّقَبَةِ

تر ربع د سر نو پرهغه سرې صدقه ده ـ او کې وخوایه هغه ځای د چیښې ایښوولو دغاړې ـ

یعنی دوینو کښلو د پاره ئې دغه ځای وخوایه ـ

فَعَلَيْهِ دَمٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ عَلَيْهِ صَدَقَةٌ

نو پرده غه سرې دم دی په نزد د امام اعظم او د ابی امام ابو یوسف او محمد پرهغه باندی صدقه ده

وَإِنْ قَصَّ أَظَافِيرَ يَدَيْهِ وَرِجْلَيْهِ فَعَلَيْهِ دَمٌ وَإِنْ قَصَّ

او کې پرې کړه نو کان د دواړه ولاسو او د دواړه پښو نو پرهغه سرې دم لازم دی او کې دیوه لاس

يَدًا أَوْ رِجْلًا فَعَلَيْهِ دَمٌ

یا دیوې پښې نو کان پرې کړه نو پرهغه دم ستہ (ولې چه څلرمصه دښې د کل پرځای دریږی ځکه په مسک

وَإِنْ قَصَّ أَقَلَّ مِنْ خَمْسَةِ أَظَافِيرَ فَعَلَيْهِ صَدَقَةٌ

او کې پرې کړه کم تر پنځو نو کانو نو پرهغه صدقه ستہ (یعنی د هر نوک په مقابل کې نیمه کاسه غنم ستہ) او کې

وَإِنْ قَصَّ أَقَلَّ مِنْ خَمْسَةِ أَظَافِيرَ مُتَفَرِّقَةٍ مِنْ يَدَيْهِ وَرِجْلَيْهِ فَعَلَيْهِ

پرې کړه کم تر پنځو نو کانو نو د جلا جلا د لاسو او پښو څخه نو پرهغه سرې باندی صدقه ستہ

صَدَقَةٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ وَقَالَ مُحَمَّدٌ عَلَيْهِ دَمٌ وَ

په نزد د امام اعظم او امام ابو یوسف او امام محمد وائی چه پرهغه دم لازم دئ ـ او که

إِنْ تَطَيَّبَ أَوْ حَلَقَ أَوْ لَبِسَ مُخِيطًا مِنْ عُذْرٍ فَهُوَ مُخَيَّرٌ

حاجی خوشبوئ ولګول او یا ئې سر وخرایه او یا ئې ګنډلې جامه واغوستل د اتولو دیو عذر د سببه وه

(لکه پر سر چرئ درد وی یا ئې یخه تبه وی) پس هغه سرې اختیار لری

إِنْ شَاءَ ذَبَحَ شَاةً وَإِنْ شَاءَ تَصَدَّقَ عَلَى سِتَّةِ مَسَاكِينَ

که خوښه وی حلال دی کړی پسه او کې خوښه وی خیرات دی وکړی پر شپږو مسکینانو

بِثَلَاثَةِ أَصْوُعٍ مِنَ الطَّعَامِ وَإِنْ شَاءَ صَامَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ

درې کاسې غنم ـ او کې اراده کړی نو درې روژې دی ونیسی

وَإِنْ قَبَّلَ أَوْ لَمَسَ بِشَهْوَةٍ فَعَلَيْهِ دَمٌ أَنْزَلَ أَوْ لَمْ يُنْزِلْ

اوکه حاجی مچه واخسته او یا فی بنځه مسه کړه په شهوت سره نو پر هغه دمی انزال سی اوکه نه سی۔

مسئله! د شهوت اندازه دا ده چه آلته فی مړوی پوهه سی او یا پوهه وی مګر دیر کمک ودریږی صرف خوند نه دی

وَمَنْ جَامَعَ فِي أَحَدِ السَّبِيلَيْنِ قَبْلَ الْوُقُوفِ بِعَرَفَةٍ فَسَدَ

اوکه حاجی وطی وکړی پر یوه کی دوو ولاړو دهغه تر دریدو پر عرفات باندی فاسد سو

حَجُّهُ وَعَلَيْهِ شَاةٌ وَيَمْضِي فِي الْحَجِّ كَمَا يَمْضِي مَنْ

اجّ دده اوپرده دم دجنایت سته۔ اوتګ دی وکړی په حج کی (یعنی افعال دحج دی پوره کړی) لکه چه تګ کوی هغه

لَمْ يُفْسِدْ حَجَّهُ وَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ وَلَيْسَ عَلَيْهِ أَنْ

سړی چه حج فی نه وی فاسد کړی اوپرده باندی قضا دحج سته (بل کال به قضاء ورکړی) اونه ده لازم پرده چه جلا

يُفَارِقَ امْرَأَتَهُ إِذَا حَجَّ بِهَا فِي الْقَضَاءِ عِنْدَنَا

کیږی بره دمایښ څخه کله چه حج کاوی په دې سره قضای حج نهوښه په مذهب کی (ولکه چه هغه پیاوړه بیا داسی ذکوی)

وَمَنْ جَامَعَ بَعْدَ الْوُقُوفِ بِعَرَفَةَ لَمْ يُفْسِدْ حَجَّهُ وَعَلَيْهِ بَدَنَةٌ

اوکه حاجی جماع وکړی پس له دریدو پر عرفات نو حج فی نه دی فاسد او پرده باندی لازم دی داوښی حلالیدل

وَمَنْ جَامَعَ بَعْدَ الْحَلْقِ قَبْلَ الطَّوَافِ فَعَلَيْهِ شَاةٌ

اوکه حاجی جماع وکړی پس له خریلو دسر او دهغه تر طواف د زیارت نو پر هغه پسه لازم دی۔

وَمَنْ جَامَعَ فِي الْعُمْرَةِ قَبْلَ أَنْ يَطُوفَ أَرْبَعَةَ أَشْوَاطٍ

اوکه چا جماع وکړی په عمره کی د دهغه تر دې چه څلور شوطه طواف وکړی ۔ نو عمره فی

أَفْسَدَهَا وَمَضَى فِيهَا وَقَضَاهَا وَعَلَيْهِ شَاةٌ

فاسده ده او هغه عمره دی پسی پوره کړی او قضا دې سره او پرده باندی پسه دی ددې جنایت۔

وَإِنْ وَطِئَ بَعْدَ مَا طَافَ أَرْبَعَةَ أَشْوَاطٍ فَعَلَيْهِ شَاةٌ وَلَا تَفْسُدُ

اوکه چا وطی وکړی پس له دې چه څلور شوطه فی پوره کړه نو پرده پسه لازم دی او عمره فی

عُمْرَتُهُ وَلَا يَلْزَمُهُ قَضَاؤُهَا وَمَنْ جَامَعَ نَاسِيًا كَانَ كَمَنْ جَامَعَ

نه ده ناسده او قضاء نسته باندی۔ اوکه چا جماع وکړی په هیره (چه فی هیروو) هغه داسی دی لکه

عَامِدًا فِي الْحُكْمِ وَمَنْ طَافَ طَوَافَ الْقُدُومِ مُحْدِثًا فَعَلَيْهِ صَدَقَةٌ

هغه سړی چه په قصد جماع وکړی په احکامو کی اوکه حاجی طواف قدوم وکړی په بې اودسیا نو پرده صدقه۔

مسئله! هرځای چه په بحث کی دحج صدقه مطلق ذکر سی مراد دهغه څخه نیمه کاسه غنم یا یوه کاسه اوربشی دی۔

مسئله! په وښو لوکی د ملخ یا کیکی پاشپی یا یولږ اندازه ویښتانو پری کولو کی دیو شی خیرات کول سته۔ هرڅه چه وی لږ یا دیر۔

وَإِنْ كَانَ جُنُبًا فَعَلَيْهِ شَاةٌ وَإِنْ طَافَ طَوَافَ الزِّيَارَةِ

اوکه طواف قدوم والا جنب وو نو پرده پسه لازم دی اوکه حاجی طواف زیارت وکړی په بې اودسیا

مُحْدِثًا فَعَلَيْهِ شَاةٌ وَإِنْ كَانَ جُنُبًا فَعَلَيْهِ بَدَنَةٌ وَالْأَفْضَلُ

نو پرده پسه لازم دی اوکه په جنابت وکړی نو پر هغه باندی اوښ دی۔ اوښه کار دا دی چه

أَنْ يُعِيدَ الطَّوَافَ مَا دَامَ بِمَكَّةَ وَلَا ذَبْحَ عَلَيْهِ

طواف دی بیرته راوکړی تر هغوچه په مکه شریفه کی وی اوبیا نو ذبح نسته پرده باندی۔

وَمَنْ طَافَ طَوَافَ الصَّدْرِ مُحْدِثًا فَعَلَيْهِ صَدَقَةٌ وَإِنْ كَانَ

اوکه چا طواف صدر وکړی په بې اودسیا نو پر هغه سړی صدقه سته۔ اوکه په جنابت وکړی

جُنُبًا فَعَلَيْهِ شَاةٌ

نو پر هغه پسه حلالول لازم دی (تاچه د حدث اصغر اوکبر فرق ذکر اسی)

وَإِنْ تَرَكَ طَوَافَ الزِّيَارَةِ ثَلٰثَةَ أَشْوَاطٍ فَمَا دُوْنَهَا فَعَلَيْهِ شَاةٌ

اوکه حاجی پریښود ی طواف د زیارت دری شوطه یا کم تر دری نو پر ده که پسه لازم دی

مسئله: که چیری حاجی بیرته تولـه طواف د زیارت نه اوکړ خو ی په وطن کی د اختر نو پر ده هیڅ شی نشته اوکه وطن ته ورسیدلی نه وی د اختر نه اوکړ خو نو پر ده باندی صدقه ستنه.

وَإِنْ تَرَكَ أَرْبَعَةَ أَشْوَاطٍ بَقِيَ مُحْرِمًا أَبَدًا حَتّٰى يَطُوْفَهَا

اوکه پریښود ل څلور شوطه نو دی باقی دی محرم تر هغو چه طواف د زیارت پوره کوی د سره

وَمَنْ تَرَكَ ثَلٰثَةَ أَشْوَاطٍ مِنْ طَوَافِ الصَّدْرِ فَعَلَيْهِ صَدَقَةٌ

اوکه چا پریښود ل دری شوطه د طواف صدر نو پر ده صدقه ستنه (یعنی دهر شوط د پاره جلا جلا صدقه)

وَإِنْ تَرَكَ طَوَافَ الصَّدْرِ أَوْ أَرْبَعَةَ أَشْوَاطٍ مِنْهَا فَعَلَيْهِ شَاةٌ

اوکه حاجی پریښود ی پوره د طواف صدر یا څلور شوطه د هغه نو پر هغه باندی پسه لازم دی.

پوهه شه! چه د هغه حاجی کـه د هغه طواف صدر دل وکړ خو ی خو چه په مکه شریفه کی وی نو پر ده شی نشته اولازم ده چه سر او دې کړ خو ی. چه دا طواف واجب دی او وخت ئی باقی دی.

وَمَنْ تَرَكَ السَّعْيَ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ فَعَلَيْهِ شَاةٌ وَجَمْعُهُ تَامٌّ

اوکه حاجی پریښود ی سعی د صفا و مروا په مابین کی نو پر ده پسه لازم دی او جمع ئی پوره دی (ولی چه سعی نه موبنه په نزد

وَمَنْ أَفَاضَ مِنْ عَرَفَاتٍ قَبْلَ الْإِمَامِ فَعَلَيْهِ دَمٌ

واجب ده او امام شافعی ئی فرض بولی) اوکه څوک د اکښته سی د عرفات څخه مخ تر امام د هغه نو پر ده که پسه لازم دی.

وَمَنْ تَرَكَ الْوُقُوْفَ بِمُزْدَلِفَةَ فَعَلَيْهِ دَمٌ وَمَنْ

اوکه چا پریښود ی د سهیدل پر مزدلفه باندی نو پر هغه پسه لازم دی. اوکه چا

تَرَكَ رَمْيَ الْجِمَارِ فِي الْأَيَّامِ كُلِّهَا فَعَلَيْهِ دَمٌ

پریښود ل د شلمو په ټولو ورځو کی نو پر هغه باندی دم لازم دی.

ولی که څه هم جنایات ډیر دی خو یا هم تداخل کوی نکه په کفاره کی د ډیرو قسمونو چه حانث سوی وی.

وَإِنْ تَرَكَ رَمْيَ إِحْدَى الْجِمَارِ الثَّلٰثِ فَعَلَيْهِ صَدَقَةٌ

اوکی پریښود ل ویشتل د یوه څلی د دری وشلو څخه نو هغه سړی باندی صدقه ده.

دا په دی سبب چه ویشتل د دری سره څلو پریوه ورځ کی یو عبادت دی

وَإِنْ تَرَكَ رَمْيَ جَمْرَةِ الْعَقَبَةِ فِي يَوْمِ النَّحْرِ فَعَلَيْهِ دَمٌ

اوکی پریښود ل ویشتل جمرهٔ عقبه په ورځ د اختر کی نو پر هغه سړی پسه لازم دی. وولی د دی ورځی وظیفه دا یو څلی ویشتل دی.

وَمَنْ أَخَّرَ الْحَلْقَ حَتّٰى مَضَتْ أَيَّامُ النَّحْرِ فَعَلَيْهِ دَمٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ

اوکه چا وښتو ول خپل د سر تر هغو چه تیری سوی ورځی د اختر نو پر هغه سړی پسه لازم دی په نزد د امام صاحب

وَكَذٰلِكَ إِنْ أَخَّرَ طَوَافَ الزِّيَارَةِ عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ

او د هغه سړی نکه پسه لازم دی کی وښتو اوکه طواف تر ورځو د اختر اوداهم په نزد د امام صاحب

اویا سره ان وائی چه پرد واړه وکی هیڅ شی نشته.

وَإِذَا قَتَلَ الْمُحْرِمُ صَيْدًا أَوْ دَلَّ عَلَيْهِ مَنْ قَتَلَهُ فَعَلَيْهِ

اوکه وواژه د محرم سړی د بنکار حیوان اویا ئی بنودنه وکړه د بنکار پر حیوان هغه چاته چه هغه مړ کړی نو پر هغه

الْجَزَاءُ سَوَاءٌ فِي ذٰلِكَ الْعَامِدُ وَالنَّاسِي وَالْمُبْتَدِئُ

بنودنکی یا قاتل باندی جزا واړه ده او برابر دی په دې جزا کی قصد والا او هیری والا او دا سړی نکه خطا وواله

وَالْعَائِدُ وَالْجَزَاءُ عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ وَأَبِي يُوْسُفَ

او اول بنکار کوونکی یا وروسته بنکار کوونکی. او جزاء د بنکار په نزد د شیخینو.

اَنْ يَقُوْمَ الصَّيْدُ فِي الْمَكَانِ الَّذِي قَتَلَهُ اَوْ فِي

دادہ چہ قیمت دی کړی سی ښکار په هغه ځای کی چہ سړی وژلی دی (یعنی دژوندی قیمت نه نصف دعوض نو

اَقْرَبِ الْمَوَاضِعِ مِنْهُ اِنْ كَانَ قَتَلَهُ فِي بَرِيَّةٍ

اویا دې قیمت کړی په هغه نزدی ځای کی وځای ته د قتل کې چیری وژلی وو ښکار په صحرا کی (چه هلته خلک

يُقَوِّمُهُ ذَوَا عَدْلٍ ثُمَّ هُوَ مُخَيَّرٌ فِي الْقِيْمَةِ اِنْ شَاءَ

نه وی چه قیمت ئی کړی) قیمت دې کړی هغه ښکار دوه کسه چه د عدل کسان وی بیا نو حاجی اختیار لری په قیمت کی

اِبْتَاعَ بِهَا هَدْيًا فَذَبَحَهُ اِنْ بَلَغَتْ قِيْمَتُهُ هَدْيًا

کوم خوښه وی وساده یئی په هغه سړو پو هدیه (یعنی پسه یا یونه کو غیی که) او هدیه دی حلال

کړی دا هلته که چیری سړسیدی قیمت د هغه ښکار و هدیه تر۔

مسئله! هدیه هغه حیوان بولی چه په اضحیه کی سړوای یعنی دیوه کال سیرلی یا تر شپږ و

میاشتو تیر پسه۔

مسئله! دا حیوان چه حلالوی حتماً به په حرم کی وی یل ځای نه حلالیدل سړوا نه دی۔ او

اطعام په غیر کی د حرم هم سړوادی او وژلو په غیر کی د مکی شریفی هم سړوا دی۔ کذا فی الجوهرة۔

وَاِنْ شَاءَ اِشْتَرَى بِهَا طَعَامًا فَتَصَدَّقَ بِهٖ عَلٰى كُلِّ مِسْكِيْنٍ

او که خوښه وی سړادی نیسی په هغه سړو پو طعام یعنی غنم یا اوړه بشی بیا دی خیرات کړی

نِصْفُ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ اَوْ صَاعًا مِنْ شَعِيْرٍ وَاِنْ شَاءَ صَامَ عَنْ كُلِّ

د هر مسکین ته نیمه کاسه د غنمو یا یوه کاسه د اوړه بشو۔ او که خوښه وی سړوشه دی و نیسی

نِصْفِ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ يَوْمًا وَعَنْ كُلِّ صَاعٍ مِنْ شَعِيْرٍ يَوْمًا

په مقابل کی د هری نیمی کاسې د غنمو یوه ورځ او د هری کاسې د اوړه بشو څه هم یوه ورځ۔

فَاِنْ فَضَلَ مِنَ الطَّعَامِ اَقَلُّ مِنْ نِصْفِ صَاعٍ فَهُوَ مُخَيَّرٌ اِنْ

او که بالاسوه د غنمو څخه کم تر نیمه کاسه نود حاجی اختیار دی کړی چه

شَاءَ تَصَدَّقَ بِهٖ وَاِنْ شَاءَ صَامَ عَنْهُ يَوْمًا كَامِلًا

هغه لږ غنم دی خیرات کړی او که خوښه وی د هغه په ځای کی به پوره ورځ روژه ونیسی

دلیل ئی دادی چه تر یوې ورځی کمه روژه په شرع کی نشته۔

وَقَالَ مُحَمَّدٌ يَجِبُ فِي الصَّيْدِ النَّظِيْرُ فَمَالَهُ نَظِيْرٌ

او وایی دی امام محمدؒ چه واجب دی په ښکار کی مثل د هغه کوم چیری مثل دی لودی۔ چه تفصیل ئی دادی

فَفِي الظَّبْيِ شَاةٌ وَفِي الضَّبُعِ شَاةٌ وَفِي الْاَرْنَبِ عَنَاقٌ

نو په هوسی کی پسه لازم دی (یعنی دهوسی مثل صورې پسه دی) او د کاڼه په ښکار کی پسه دی او د سوی پر ښکار

وَفِي النَّعَامَةِ بَدَنَةٌ وَفِي الْيَرْبُوْعِ جَفْرَةٌ

کی سیرلی دی۔ او د شترمرغ په ښکار کی اوښ لازم دی او په دښتی موږک (خافی) یا موږک کی کوچنی سیرلی

پوه شه! چه عناق د شپږو میاشتو بچی سیرلی ته وائی او جفره د څلورو میاشتو سیرلی ته وائی۔

وَمَنْ جَرَحَ صَيْدًا اَوْ نَتَفَ شَعْرَهُ اَوْ قَطَعَ عُضْوًا

او که چا تپی کړی ښکار او یا ئی ویښتان یا بڼ ځنی وکښې او یا ئی یو اندام ځنی پرې کړی

مِنْهُ ضَمِنَ مَا نَقَصَ مِنْ قِيْمَتِهٖ

د هغه څخه ضامن دی هغه سړی د هغه قدر چه نقصان ورسیدلی وی د هغه صید و قیمت ته۔

یعنی یو وار دی سړو غ او جوړ قیمت کړی او بیا دی تپی یا ویښتان کښلی یا اندام قطعه

سوی قیمت کړی هر څه چه فرق وی نو هغه قدر لازم دی۔

مسئله! دا حکم هلته دی چه هغه ښکار د هغه تپه څخه مړ نه سی او که مړ سو بیا پوره قیمت لازم دی۔

مسئله! دا تاوان هلته لازم دی چه د تپ تاثیر پاته وی او که هغه تپ جوړ سوا د تپ

تاثیر نه سو پاته بیا هیڅ شی نه لازمیږی۔

مسئله: اکه بنکار د بنوپه شکولو سره یا دانه دام په پری کولو سره ځان د چا څخه نه سوای سا تلای بیا د پوره بنکار قیمت لازم دی۔

مسئله: اویښتان که بیرته شنه سوه پرخپل حال ودریده بیا هیڅ شی لازم نسته۔

وَإِنْ نَتَفَ رِيشَ طَائِرٍ أَوْ قَطَعَ قَوَائِمَ صَيْدٍ فَخَرَجَ بِهِ

اوکې وکښې بنې د مرغه اویا ئې پرې کړې پښې د بنکار نو هغه مرغه یا بنکار و واتې په دغه

مِنْ حَيِّزِ الِامْتِنَاعِ فَعَلَيْهِ قِيمَتُهُ كَامِلَةً

کار سره د ځای د امتناع (یعنې په داسې حال کې سوچه د چا څخه ښه ځای نه سوای منځ کولای یا په الوتو یا په ځغاسته) نو پر هغه سړي لازم دی پوره قیمت د هغه بنکار (ولې چه دغه فعل چه ده وکړی د بنکار هلاک دی حکمًا)

وَمَنْ كَسَرَ بَيْضَ صَيْدٍ فَعَلَيْهِ قِيمَتُهُ

اوکه چا ماته کړه هګۍ د مرغه نو پر هغه قیمت د هګۍ لازم دی۔

مسئله: اکه چا د مرغه هګۍ پخه کړه هم قیمت د هګۍ لازم دی ولې د پخې هګۍ څخه چیچې نه پیدا کیږی ځکه

فَإِنْ خَرَجَ مِنَ الْبَيْضَةِ فَرُّخٌ مَيِّتٌ فَعَلَيْهِ قِيمَتُهُ حَيًّا

کې چیرې د هګۍ د ماتولو سره مړ چیچی پیدا سو نو پر هغه باندې قیمت د هغه ژوندی دی۔

ولې چه احتمال سته چه هغه چیچی دی ژوندی وی او د ده په ماتولو به مړ سوی وی۔ کوکب ص۷۵

وَلَيْسَ فِي قَتْلِ الْغُرَابِ وَالْحِدَأَةِ وَالذِّئْبِ وَالْحَيَّةِ

اونسته په وژلو کې د کاږکه۔ د چیچوس۔ د لیوه۔ د مار او د لړم۔

وَالْعَقْرَبِ وَالْفَأْرَةِ وَالْكَلْبِ الْعَقُورِ جَزَاءٌ

او د اغه ډنګه په وژلو کې د موښک او لیونۍ سپۍ یا د خلکو د اړولو نکې سپې هیڅ جزاء نسته۔

پوښتنه: چه مراد د غراب څخه هغه کاږکه دی چه مردارې خوړی او په قتل

کې د کاږکه کښت جزاء لازمه ده۔ کوکب۔ دری ص۷۵

مسئله: په حکمې د چیچوس ده باندې۔ او په حکمې د مار ده لندې۔ او په حکمې د لړم دی غنډک او په حکم د موښک دی منډک۔

وَلَيْسَ فِي قَتْلِ الْبُعُوضِ وَالْبَرَاغِيثِ وَالْقُرَادِ وَالنَّمْلِ شَيْءٌ

اونسته په وژلو کې د ګونډاشی او کیڼکی او منګوړ او مینږی هیڅ شی۔

ولې چه داشیان ښکار نه یلل کیږی او نه داشان د بدن نه پیدا کیږی۔ او بل داچه دغه شیان طبعًا موذیان دی نو حکم په قتل کې شی نسته

پوښتنه: چه مراد د مینږی څخه تو ان او ټر مینږیان دی چه موذیان وی۔ او کم مینږی موذی نه وی نو قتل ئې نه دی ښه اګر که جزاء په قتل کې نسته۔

مسئله: احبشیان مینږیان کوم چا په کور کې بنکار وو او د کور اشنانان ځنی په عذاب وه د هغو قتل په پوهږو وغیره روا دی۔ او کم سړی ځنی پیدا کیږی لکه بعضی عوام نو دا آیت دی نوشته کړی په اوبو دې پرینځی وهی دی هغه اوبه په غار کې وهل توی کړی۔ آیت دا دی "یَا أَيُّهَا النَّمْلُ ادْخُلُوا مَسَاكِنَكُمْ لَا يَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمَانُ وَجُنُودُهُ"

وَمَنْ قَتَلَ قَمْلَةً تَصَدَّقَ بِمَا شَاءَ

اوکه چا مړه کړه شپږه خیرات دی کړی هغه شی چه خوښه ئې سی۔

یعنی یوه لپه غنمو یا اوړه شی وغیره یا یوه کوله دوه ډوډۍ۔ لکن دا جزاء هلته ده چه هغه شپږه د کالو یا بدن څخه واخلی او هغه ئې کړی او که پرځمکه پرته وه مړه ئې کړه بیا هیڅ جزاء نه لری۔ کذا فی الجوهرة و الکوکب الدری۔

سوال: د کیڼکی او د شپږی څه فرق دی چه په شپږه کې جزا سته او په کیڼکه کې نسته۔

جواب: اول خو د کیڼکی ازار او ضرر دیر دی تر شپږی نکه تجربه چه په دی سره شاهدی اداء کوی۔ دوهم شپږه د بدن د انسان څخه پیدا کیږی نکه د طبو په کتابو کې وائی چه یوسړی چه د بدن او کالو صفائی نه کوی نو حکم کوچنی سر یو کې دیره زمانه بندګه پاته سی۔ او د هغه خیری څخه خدای پاک شپږه پیدا کوی او داوجه ده چه مترفه او صفائی والا نر او ښځه شپږه نه کوی۔ او کیڼکه د حشرا تو څخه ده چه د خاورو و څخه پیدا کیږی عمومًا۔

وَمَنْ قَتَلَ جَرَادَةً تَصَدَّقَ بِمَا شَاءَ وَتَمْرَةٌ خَيْرٌ مِنْ جَرَادَةٍ

اوکه محرم مړ کړي ملخ خیرات دی وکړي یو څه شی او یوه دانه خرما تر ملخ ښه ده داد حدیث شریف لفظ دی

سوال! دامام ابوحنیفه رح څخه روایت دی چه ملخ د صید البحر قسمه دی نو باید جزاء ونه لري لکه صید البحر ماهی وغیره چه جزاء نه لري۔

جواب! مشاهده شاهده ددې ده چه ملخ د صید البحر قسمه څخه دی اومراد په روایت کی دامام اعظم رح دادی چه د ملخ حکم د صید البحر دی چه خوړک ئی بیله ذبحه روا دی۔ کذا فی الکوکب الدری والجوهرة والکفایة۔

وَمَنْ قَتَلَ مَا لَا يُؤْكَلُ لَحْمُهُ مِنَ السِّبَاعِ وَنَحْوِهَا فَعَلَيْهِ

اوکه محرم قتل کړي هغه شی چه نه خوړل کیږي لکه غوښی د هغه درندګانو او پرده لاندې

الْجَزَاءُ وَلَا يَتَجَاوَزُ بِقِيمَتِهَا شَاةً

د جزاء (قیمت د هغه درندې) اوند دې بالاکوی قیمت د هغه تر یوه پسه۔

فائده! مراد د قدوری د درندګانو څخه د مخکی درندګانو دی لکه مخرۍ۔ پرانګ۔ اینۍ۔ وغیره۔ اومراد د نخوا څخه د هوادرندګانو دی لکه باز څرخک وغیرهما۔

وَلَوْ صَالَ السَّبُعُ عَلَى الْمُحْرِمِ فَقَتَلَهُ فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ

اوکه حمله وکړي یوه درنده پر محرم باندې نو ده مړ کړي هغه درنده هیڅ جزاء نسته پر محرم باندې

دلیل ئی دادی چه محرم د تعرض څخه ممنوع او دفع ئی داسان وي نو ده۔

وَإِنِ اضْطُرَّ الْمُحْرِمُ إِلَى أَكْلِ لَحْمِ الصَّيْدِ فَقَتَلَهُ فَعَلَيْهِ الْجَزَاءُ وَلَا بَأْسَ

اوکه مجبوره سو محرم وخوړلو ته د غوښو د ښکار نو ئی ښکار مړ کړي نو پرده ئی جزاء نسته

بِأَنْ يَذْبَحَ الْمُحْرِمُ الشَّاةَ وَالْبَقَرَةَ وَالْبَعِيرَ وَالدَّجَاجَ وَالْبَطَّ الْكَسْكَرِيَّ

او پروا نسته چه ذبح کړي محرم پسه یا غوی یا اوښ یا چرګ یا کسکری ایله۔

پوه شئ! چه کسکری هغه غټه ایله ده چه الوتای نه شی۔ لکه کورنی ایله۔

منسوب دی وکسکرۍ ته چه یوه ناحیه د بغداد ده۔ یوه هغه ایله ده چه الوتای چه اوند وه ته وائی هغه ښکار دی په وخت لوکې جزاء لازمه ده

وَإِنْ قَتَلَ حَمَامَ مَسْرُولَا أَوْ ظَبْيًا مُسْتَأْنِسًا فَعَلَيْهِ الْجَزَاءُ

اوکه قتل کړه محرم کوتره چه پر پښو ئی بنکی وی (یعنی خانکی کوتره) یا مړه کړه هوسه چه د کورنۍ الفت ونیولی وي نو پرده ئی جزاء دلیل دادی چه دا په اصلی خلقت کی وحشی دی نو ښکار دی کړه هم اوس په کورنۍ کذاره کوی۔

وَإِنْ ذَبَحَ الْمُحْرِمُ صَيْدًا فَذَبِيحَتُهُ مَيْتَةٌ لَا يَحِلُّ أَكْلُهَا

اوکه حلال کړي محرم ښکار نو دغه ذبیحه مردار ده هیڅ چا ته ئی خوړل نه دی روا

وَلَا بَأْسَ بِأَنْ يَأْكُلَ الْمُحْرِمُ لَحْمَ صَيْدٍ اصْطَادَهُ حَلَالٌ وَذَبَحَهُ

اوپروا نسته چه وخوړی محرم غوښې د ښکار چه ښکار کړي وی حلال سړي او هغه حلال

إِذَا لَمْ يَدُلَّهُ الْمُحْرِمُ عَلَيْهِ وَلَا يَأْمُرْهُ بِصَيْدِهِ

سړي ذبح کړي وی۔ چه بنود نه وی کړي محرم پر هغه ښکار او نه ئی امر کړي هغه حلال سړي ته په ښکار ولو دهغه

وَإِنْ قَطَعَ حَشِيشَ الْحَرَمِ أَوْ شَجَرَهُ الَّذِي لَيْسَ بِمَمْلُوكٍ

اوکه چا پرې کړه واښه د حرم او یا ئی وښیل درخته د حرم د هغې هغه درخته چه د چا په ملک کی نه وی

وَلَا هُوَ مِمَّا يَنْبُتُهُ النَّاسُ فَعَلَيْهِ قِيمَتُهُ

اونه داسې درخته وی چه خلک ئی شنه کوی نو پر هغه سړي لازم دی قیمت د هغه واښه یا درختی۔ العطف بکلمة او یفرد فیه الضمیر۔

مسئله! اګر واښه یا درخته وچ سوله بیا په قطع کی ضمان نسته۔

پوه شئ! چه د وښو څخه هغه واښه مراد دی چه خدائی ر شنه کیږی نو که چا شپیشتی یا شوتل وغیره کړل وی د هغه قطع پر وانه لري۔ مصنف وویل "لیس بمملوك" د دې د پاره کړه چه درخته د چا په مملوکه هغې کی شنه سوی هغه درخته د هغه سړي ملک دی۔ قطع ئی پر وانه لري۔ او هغه ر نګه مصنف وویل "ولا هو آه" د دې د پاره کړه چه هغه درخته خلکو

شنه کول په سیبلو یا په کښلو کې ضمان نسته ـ لکه د انګور و تاک یا د انار او نورو د الو
د سخته وغیره کې د هغې په قطع کې ضمان نسته ـ

وَكُلُّ شَيْءٍ فَعَلَهُ الْقَارِنُ مِمَّا ذَكَرْنَا أَنَّ فِيهِ عَلَى الْمُفْرِدِ دَمًا فَعَلَيْهِ

او هر هغه جنایت چې فعل یې وکړي قارن (یعنی چې دجج او د عمرې د دواړو احرام یې د میقات څخه
تر لاسه وي) هغه جنایت چې موږ وویل چې په هغه کې پر مفرد جج والا یو دم دی نو په هغه جنایت

دَمَانِ دَمٌ لِحَجَّتِهِ وَدَمٌ لِعُمْرَتِهِ إِلَّا أَنْ يَتَجَاوَزَ الْمِيقَاتَ مِنْ غَيْرِ

کې پر قارن دوه دمه کیږي یو دم د جج د پاره او بل د عمرې د پاره که مکر که سړی تیر سی
تر میقات څخه (یعنی د احرام تر لاسه تر څخه) بیله احرامه ـ بیا احرام وتړي

إِحْرَامٍ ثُمَّ يُحْرِمُ بِالْعُمْرَةِ وَالْحَجِّ فَيَلْزَمُهُ دَمٌ وَاحِدٌ

په عمره او جج سره نو پس هغه سړي لازم دی یو دم ـ

دلیل یې دا دی چې تر میقات تیریدل بې احرامه خو جنایت دی مګر په هغه وخت کې
خو دی قارن نه وو بلکه دی وه وسته قارن سو نو جنایت یو دی ـ

وَإِذَا اشْتَرَكَ مُحْرِمَانِ فِي قَتْلِ صَيْدِ الْحَرَمِ فَعَلَى كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا الْجَزَاءُ كَامِلًا

او که سره شریکان سو که دوه محرمان په وحشي لوکي د ښکار د حرم نو پر هریو یو یو ه ضمان دی کامل دیوړ

وَإِذَا اشْتَرَكَ حَلَالَانِ فِي قَتْلِ صَيْدِ الْحَرَمِ فَعَلَيْهِمَا جَزَاءٌ وَاحِدٌ

او که سره شریکان سو که دوه حلال کسان په قتل کې د ښکار د حرم نو پر دواړو یو ه جزاء ده ـ

فرق یې دا دی چې محرمان د فعله د ښکار منعه دی او دوی خو دوه فعله وکړه نو دوه جزاوی
پر کیږي او پر حلال سړي جزاء د فعل پرسته چې ښکار دی او هغه یو دی ـ

وَإِذَا بَاعَ الْمُحْرِمُ صَيْدًا أَوِ ابْتَاعَهُ فَالْبَيْعُ بَاطِلٌ

او که چیرې خوښ کړي محرم ښکار او یا یې راپیرلی نو بیعه باطله ده او پر بائع او مشتري کامله جزاء سته کې محرمان که دوه

مسئله: ! کې ښکار وکړي دی محرم وو او خوښ یې کړي او دی حلال وو نو بیع سر واده ـ کذا في الجوهرة

بَابُ الْإِحْصَارِ

باب دی په بیان کې د احکامو د احصار

پوه کړه سړیه! چې احصار په لغت کې منع تر وائي او په فقه شریفه کې احصار منع کول د
محرم دی یا په جج او یا په عمره لکن په جج کې د وقوف د عرفات او د طواف د زیارت څخه
په شرعي عذر لکه د دښمن یا مرض او که پریوه د وقوف یا طواف قادر نه وو او پس بل باندې
نه وو قادر هغه حاجي محصر نه دی ـ کذا في العيني شرح الكنز ـ

إِذَا أُحْصِرَ الْمُحْرِمُ بِعَدُوٍّ أَوْ أَصَابَهُ مَرَضٌ يَمْنَعُهُ مِنَ

او که منع کړه سو محرم په سبب د دښمن او یا د ورسیدې څه ناجوړې چې منع پې کړي د اداء کولو څخه

الْمُضِيِّ جَازَ لَهُ التَّحَلُّلُ وَقِيلَ لَهُ ابْعَثْ شَاةً تُذْبَحُ

د افعالو د جج سر واد ی دی ده تر څو ان حلالول ـ او وې ویل سې ده تر چې واستوي پسه چې ذبح کړي

فِي الْحَرَمِ وَوَاعِدْ مَنْ يَحْمِلُهَا يَوْمًا بِعَيْنِهِ يَذْبَحُهَا فِيهِ ثُمَّ يَتَحَلَّلُ

په حرم کې او وعده دی وکړي د هغې چا سره چې پسه بیا ئي او ورځ معینه چې په هغه ورځ به هغه
سړي دا پسه حلالوي ـ بیا دې وه وسته دې څو ان حلال کړي ـ

مسئله: سر واده چې قیمت د پسه د یو چا په لاس وکړي چې هغه هو سړي پسه
پر سر انیسي او په حرم کې ئې حلال کړي ـ لکن د مخه تر ذبح د پسه محرم تر حلالول
څو ان سر وانه دی ـ

مسئله: ! معتبر په دې باب کې غالب ګمان د محصر دی یعنی چې اوس به
نو هغه سړي پسه ذبحه کړې وي ـ

مسئله: ! معینول دوه ځی پر مذهب د امام اعظم دی ولی چې امام اعظم
د دم الاحصار د پاره د اختر ورځ لازمه نه بولي او یاران ئې وائي چې ضرور به ئې په
ورځ د لوی اختر حلالوي نو معینول لوته ضرورت نسته ـ

فَإِنْ كَانَ قَارِنًا بَعَثَ دَمَيْنِ

کړهغه سړی دی چې اوعمرې دواړه واحرام ترلی وو نو دوی پسونه به استوی۔ تاچی د دواړو احرامونه خلاص سی۔

مسئلهٔ: معینه کولو ته ضرورت نشته چې دا پسه دی اوداد عمرې دی۔

مسئلهٔ: که قارن یوه دانه پسه واستاوه دی د احرام د خلاصیدو دپاره اوده ویل چې د عمرې احرام دی پاته وی په دغه پسه دیوه احرام څخه نه سی خلاصیدای۔ ولی چې د قارن خلاصیدل د دواړو احرامونو څخه شرعًا په یوه ځای دی نو دی تغیر وحکم ته د شرعی نه سی وړکولای۔ کذا فی الکوکب الدری والجوهرة۔

وَلَا يَجُوزُ ذَبْحُ دَمِ الْإِحْصَارِ إِلَّا فِي الْحَرَمِ وَيَجُوزُ

اوه دی ړوا حلال لوی د پسه د احصار مکی پر حرم کی۔ اوه وادی ذبح کول

ذَبْحُهُ قَبْلَ يَوْمِ النَّحْرِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ

د دم د احصار د څه تر وړځی د اختر په نزد د امام اعظم۔

مسئلهٔ: اوه وسته تر وړځی د اختر هم ړوادی په نزد د امام اعظم رحمة الله علیه

وَقَالَا لَا يَجُوزُ لِلْمُحْصَرِ بِالْحَجِّ الذَّبْحُ إِلَّا فِي يَوْمِ

اویاران ړوانی چې نه دی ړوا د محصر لره د ذبح د پسه مکرپه وړځ دلوی

النَّحْرِ وَيَجُوزُ لِلْمُحْصَرِ بِالْعُمْرَةِ أَنْ يَذْبَحَ مَتَى شَاءَ

اختر کی۔ اوه وادی د محصر ته د عمرې چې ذبح کړی پسه هروخت چې ئی خوښه سی (د

وَالْمُحْصَرُ بِالْحَجِّ إِذَا تَحَلَّلَ فَعَلَيْهِ حَجَّةٌ وَعُمْرَةٌ

په اتفاق دی) او محصر د حج (یعنی یوازی د حج) چې څه ئی حلال کړی وی نو پر دی لازم دی یو حج او یوه عمره۔

دغسی ړوایت دی د عبدالله بن عباس رض او عبدالله بن عمر رض څخه۔

چې په دی سبب چې په حج خوئی شروع وکړه په احرام ترلو سره نو حج ئی قضا ئی دی او عمره په دی سبب لازمه دی چې په معنی کی د فائت الحج دی او فائت الحج خو په افعالو د عمرې څخه څان خلاصوی۔ لکه پر دی وړاندی باب کی یې ړاسی۔

وَعَلَى الْمُحْصَرِ بِالْعُمْرَةِ الْقَضَاءُ وَعَلَى الْقَارِنِ حَجَّةٌ وَعُمْرَتَانِ

اوپر محصر د عمرې څخه یوازی قضا د عمرې ده اوپر قارن چې محصر سی یو حج او دوه عمرې کیږی

یو حج اویوه عمره خو د احرام د دواړو ترلے دی۔ او بله عمره چې په وړاندی باب کی یې ړاسی۔

وَإِذَا بَعَثَ الْمُحْصَرُ هَدْيًا وَاعَدَهُمْ أَنْ يَذْبَحُوهُ

اوکه واستول محصر هدیه او وعده ئی وکړه د هغو سره چې تاسی به د اهدیه

فِي يَوْمٍ بِعَيْنِهِ ثُمَّ زَالَ الْإِحْصَارُ فَإِنْ قَدَرَ عَلَى

ذبح کړئ په فلانی معینه وړځ کی او وړاندی زائل سو احصار نو که قادر وو پر

إِدْرَاكِ الْهَدْيِ وَالْحَجِّ لَمْ يَجُزْ لَهُ التَّحَلُّلُ وَلَزِمَهُ الْمُضِيُّ

نیولو د هدیې (یعنی د څه تر ذبح) او پر حج هم قادر وو نو نه دی ړوا ده تر څان حلالول بلکه لازمه ده چې د حج په افعالو کی دی تک وکړی (یعنی حج دی پوره کړی)

وَإِنْ قَدَرَ عَلَى إِدْرَاكِ الْهَدْيِ دُونَ الْحَجِّ تَحَلَّلَ

اوکه قادر وو پر ادراک د هدیې نه د حج نو څان دی حلال کړی۔

یعنی په ذبح کولو د هدیې۔ ولی چې د اصل څخه عاجز دی۔ چې هغه حج دی۔

وَإِنْ قَدَرَ عَلَى إِدْرَاكِ الْحَجِّ دُونَ الْهَدْيِ جَازَ لَهُ التَّحَلُّلُ اسْتِحْسَانًا

اوکه قادر وو پر ادراک د حج (یعنی پر کولو د حج) نه پر هدیه ړوا دی ده ته څان حلالول د استحسان دلاړی۔

ولی چه هدیه ذبح کیدل خلاصونکی د احرام دی۔ او قیاس وائی ده نه احرام خلاصول نه دی روا۔ ولی چه پر اصل چه ذبح دی قادر سو نو ذبح دی پوره کړي۔

وَمَنْ اُحْصِرَ بِمَكَّةَ وَهُوَ مَمْنُوعٌ عَنِ الْوُقُوفِ

او که څوک حاجی بند کړه سود مکې په بیناره کې او دی منع کړه سود وقوف څخه د

وَالطَّوَافِ الزِّيَارَةِ كَانَ مُحْصِرًا وَإِنْ قَدَرَ

عرفات او د طواف د زیارت څخه نو دی محصر دی (نو د محصر احکام دی پرځای کړي) او که قادر وي

عَلَى إِدْرَاكِ أَحَدِهِمَا فَلَيْسَ بِمُحْصِرٍ

پر ادراک یعنی پرکولو دیوه د دغو دووچه وقوف او طواف دی نو محصر نه دی۔

دلیل۔ که پر وقوف د عرفات قادر وی پر طواف د زیارت نه وی قادر نو څو چې ذبح پوره سو۔ لقوله علیه الصلاة والسلام "اَلْحَجُّ عَرَفَةٌ" طواف د زیارت اګر که رکن د حج دی لکن هر وخت چه اداء کړل سی صحیح دی یعنی معین وخت نه لري۔

او که پر طواف قادر وی او پر عرفات نه وی قادر۔ نو د ده څخه ذبح فوت سو د فائت الحج حکم دا دی چه په طواف سره د احرام څخه خلاصیږي۔ او هدیه بدل د طواف ده نو هدي ترضروره نسته۔ هدایه۔ کوکب دري۔

مسئله! محصر دهغه سړي سره چه دم الاحصار ئی وهغه نه وه کړي وو او وخت ئی وه نه معین کړي وی۔ د محصر د اظن وو چه هغه به نو اوس نه ما دم ذبح کړي وی نو محصر د محظورات نو څخه د احرام یو کار وکړي مثلاً سر ئی وخرایه یا ئی جامې واغوستی او بیا وه نه بښکاره سوه چه هغه نه ما پسه نو په هغه وخت کی هغه نه وو حلال کړي نو پر دی محصر لازمه ده چه واجب د جنایت به اداء کوی۔ فتح القدیر۔

مسئله! اګرچه په قدوري کی لفظ د شاة راغلی دی لکن د تحلیل د پاره بقره اوبدنه هم کافی ده۔ د شاة ذکر د دې د پاره دی چه شاة ادنی او کم هغه حیوان دی چه تحلل په کیږي۔ هدایه ص ۲۷۳

بَابُ الْفَوَاتِ

باب دی په بیان کی د فوت والی د حج

سوال! د لمانځه په بحث کی باب الفوائت په صیغه د جمعی دی اود لته په حج کې فوات مفرد لفظ راوړی۔

جواب! لمونځونه خو ډیر دی او حج په کړه د عمر کی یوواړه واجب دی۔

وَمَنْ أَحْرَمَ بِالْحَجِّ فَفَاتَهُ الْوُقُوفُ بِالْعَرَفَةِ

که چا احرام د تاړه په حج سره او د ده څخه پاتې سو د ریدل پر عرفات

حَتَّى طَلَعَ الْفَجْرُ مِنْ يَوْمِ النَّحْرِ فَقَدْ فَاتَهُ الْحَجُّ

ترڅو چه راوختلی سپیدې دوهمی د اختر نو د ده څخه فوت سو حج۔

پوښتنه! چه د عرفات نه د ریدل په سبب د عذر شرعی لکه مرض۔ بندی کیدل د دښمن نه وو بلکه یا بیده وو یا د عرفات لاړ خبر وه کړه سوه۔ یا نه راویښ سیدی۔ په دې سره د احصار او فوات فرق وسو۔ کما لا یخفی علی المتأمل فافهم۔

وَعَلَيْهِ أَنْ يَطُوفَ وَيَسْعَى

نو پر دغه سړي لازمه ده چه طواف دی پر کعبه شریفه وکړي او سعی دی

وَتَحَلَّلَ وَيَقْضِي الْحَجَّ مِنْ قَابِلٍ وَلَا دَمَ عَلَيْهِ

په مابین کی د صفا او مروه وکړي او خان دی د احرام څخه خلاص کړي (چه دا نو عمره سوه او په عمره د حج د احرام څخه خلاص سو) او قضا د حج دی راوړی په راتلونکی کال کی۔ او دم نسته پر ده۔ (ولی چه جنایت ئی نه دی کړی)

پوکه سلام! چه افعال دعمرې په حق کې د فائت الحج لکه دم په حق کې
دمحصر کماص - نو د دواړه نه سره جمع کیږي۔

وَالْعُمْرَةُ لَا تَفُوْتُ وَهِيَ جَائِزَةٌ فِيْ جَمِيْعِ السَّنَةِ

او عمره نه فوتیږي۔ او عمره سره واده په ټوله کال کې (او د اهم په اجماع د

اِلَّا خَمْسَةَ اَيَّامٍ يُكْرَهُ فِعْلُهَا فِيْهَا يَوْمَ

امت مرحومه) مګر پنځه ورځې چه مکروه دی فعل د عمرې په هغو کې

عَرَفَةَ وَيَوْمَ النَّحْرِ وَاَيَّامَ التَّشْرِيْقِ

د عرفات ورځ د لویې اختر ورځ او درې ورځې د ایام تشریق د لویې اختر

وَالْعُمْرَةُ سُنَّةٌ وَهِيَ الْاِحْرَامُ وَالطَّوَافُ وَالسَّعْيُ

او عمره کول سنت دی او عمره عبارت دی د احرام تړلو او طواف
د بیت شریف او سعی په مابین کې د صفا او مروه۔

فائده! عمره نه موږ په مذهب کې سنت مؤکده او څوک وائي چه واجبه ده او څوک وائي چه فرض کفایي ده۔ او امام حضرت شافعي رح فرض عین بولي لکه حج۔ دلائل په لویو کتابونو کې راغلي دي۔

مسئله! عمره اګرچه په ټوله کال کې روا ده لکن افضل د اوقاتو ذي
دروژې میاشت ده۔ فتح القدیر۔
مسئله! په مذکوره پنځو ورځو کې د عمرې روا نه ده۔ ولي چه ابن
عباس رض خپله روایت دی چه آنحضرت صلی الله علیه وسلم وویل
چه عمره مکروه ده په دغو پنځو ورځو کې۔ او هدایه والا احدیث
عایشه رض ته منسوب کړی دی۔

اللهم اغفر لکاتبه ولمؤلفه ولوالدیهما ولجمیع المؤمنین آمین

بَابُ الْهَدْيِ

د اباب دئ په بیان کې د احکامو د هدیې

پوکه سلام! چه هدیه نوم د هغه حیوان دئ چه مکې شریفې ته واستول سي د پاره د تقرب۔ یعنې ثواب۔

وَالْهَدْيُ اَدْنَاهُ شَاةٌ وَهِيَ مِنْ ثَلٰثَةِ اَنْوَاعٍ مِنَ

او هدیه چه ډه کمره درجه ئې پسه یا اونۍ کرۍ دئ او هدیه د دوه قسمو حیوانانو څخه

الْاِبِلِ وَالْبَقَرِ وَالْغَنَمِ وَيَجْزِءُ فِيْ ذٰلِكَ كُلِّهِ الثَّنِيُّ فَصَاعِدًا

روا ده۔ او ښ نر یا ښځه غوئې نر یا ښځه پسه یا اونۍ کرۍ نر یا ښځه۔ او کافي دئ په دې ټولو
انواعو کې ثنی یا بالا تر ثنی۔

پوکه سلام! چه ثنی د اوښانو هغه دئ چه پنځه کالنۍ پوره کړي وي او په
شپږم کې داخل وي۔ او د غویو ثنی هغه دئ چه دوه کالنۍ پوره کړي وي او
په دریم کې داخل وي۔ او ثنی د غنمو هغه دئ چه یوکال ئې پوره کړي وي او په
دوهم کې داخل وي۔ کذا في الکشف۔ وکوکب دري ص۔

اِلَّا مِنَ الضَّاْنِ فَاِنَّ الْجَذَعَ مِنْهُ يُجْزِءُ فِيْهِ

مګر دمیږي په ذات کې۔ ولي چه د شپږو میاشتو وړی هم کافي اوروا دي په هدیه کې۔

وَلَا يَجُوْزُ فِي الْهَدْيِ مَقْطُوْعُ الْاُذُنِ وَلَا اَكْثَرُهَا

او روا نه دئ په هدیه کې هغه حیوان چه غوږ ئې پوره کړي وي او یا ئې د غوږ اکثر

وَلَا مَقْطُوْعُ الذَّنَبِ وَلَا مَقْطُوْعُ الْيَدِ

حصه پرې وي او نه هغه حیوان چه لکۍ ئې پرې وي او نه هغه حیوان چه لاس

وَلَا الرِّجْلَ وَلَا ذَاهِبَةُ الْعَيْنِ وَلَا الْعَجْفَاءُ وَلَا

یا پښه نه پری وی اونه هغه حیوان چه ستر که نی ړوند وی (یعنی که څه هم یوه سترګه نی ړوند وی) اونه ډډه ماته

الْعَرْجَاءُ الَّتِي لَا تَمْشِي إِلَى الْمَنْسَكِ. وَالشَّاةُ

ډنګره (یعنی چه یښې ډنګرې وی) اونه کوډه ماته هغه کوډه چه د حلالیدو تر ځایه پښه نه سی تلای. او پسه

جَائِزَةٌ إِلَّا فِي مَوْضِعَيْنِ مَنْ طَافَ طَوَافَ الزِّيَارَةِ جُنُبًا

ماته دی مګر په دوه ځایه کی یو هغه چا نه چه طواف تر یا پرت وکړی په جنابت سره.

وَمَنْ جَامَعَ بَعْدَ الْوُقُوفِ بِعَرَفَةَ فَإِنَّهُ لَا يَجُوزُ فِيهِمَا إِلَّا بَدَنَةٌ

اول هغه چا نه چه ولی وکړی پس له وقوف پر عرفات باندی. ولی چه نه دی ماته پر دغه دوه ځایه کی مګر اوښ.

یوه ساله! چه دوه ستره قیدی وی وایه ولی نې د هغه تر وقوف ولی وکړی چه نی فاسد سی.

وَالْبَدَنَةُ وَالْبَقَرَةُ تَجْزِءُ كُلُّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا عَنْ سَبْعَةٍ

او اوښ او لغوی کمایت کوی داو وکسانو څخه که تر وی اوکه بنځی.

أَنْفُسٍ إِذَا كَانَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنَ الشُّرَكَاءِ يُرِيدُ الْقُرْبَةَ

که چیرې وو هریو د شریکانو څخه چه اراده نی وکړه د ثواب

فَإِذَا أَرَادَ أَحَدُهُمْ بِنَصِيبِهِ اللَّحْمَ لَمْ يَجُزْ لِلْبَاقِينَ عَنِ

اوکه اراده وکړه دیوه د شریکانو په خپله برخه سره غوښې ته ثواب نو نه ماته واګیرې دا هدیه مشترکه د باقی شریکانو

الْقُرْبَةِ وَيَجُوزُ الْأَكْلُ مِنْ هَدْيِ التَّطَوُّعِ وَ

ثواب ولاړه سی. او ماته دی مالک ته خوړک د هدیې نفلی. او د هدیې د تمتع

الْمُتْعَةِ وَالْقِرَانِ وَلَا يَجُوزُ مِنْ بَقِيَّةِ الْهَدَايَا

او د قران. او نه دی ماته واخوړک د مالک د نورو هدیو.

لکه د جنایت هدیه. د احصار هدیه. منذورکه هدیه. کوکب وری ص۸

وَلَا يَجُوزُ ذَبْحُ هَدْيِ التَّطَوُّعِ وَالْمُتْعَةِ وَالْقِرَانِ

او نه دی ماته ذبح کول د نفلی هدیې او د تمتع او د قران د هدیې

إِلَّا فِي يَوْمِ النَّحْرِ وَيَجُوزُ ذَبْحُ بَقِيَّةِ الْهَدَايَا فِي

مګر په ورځ د لوی اختر او ماته دی ذبح کول د نورو هدیو په هر وخت

أَيِّ وَقْتٍ شَاءَ وَلَا يَجُوزُ ذَبْحُ دَمِ الْهَدْيِ إِلَّا

کی چه نی زړه کی غواړی. او نه دی ماته واحلا لول د پسه د هدیې مګر په حرم

فِي الْحَرَمِ وَيَجُوزُ أَنْ يَتَصَدَّقَ بِهَا عَلَى مَسَاكِينِ

کی او ماته دی چه خیرات وکړی په هدیه سره پر مسکینانو باندی

الْحَرَمِ وَغَيْرِهِمْ وَلَا يَجِبُ التَّعْرِيفُ بِالْهَدَايَا

د حرم او پر ما سوا له دوی څخه او واجب نه دی عرفات ته بیول په هدیو سره.

وَالْأَفْضَلُ فِي الْإِبِلِ النَّحْرُ

او افضل په اوښانو کی نحر دی (نحر په کړو ډی کی حلالیدو ته وائی. مستحب کیفیت نی دا دی چه داوښی چپه لاس دی وه وقړی نو په ولاړی دې کښته تر حلق چه لبه وه ته وائی حلال کړی).

وَفِي الْبَقَرِ وَالْغَنَمِ الذَّبْحُ

او په غوا ئی او پسه کی ذبح افضل دی. ذبح د حلق وحلالیدو ته وائی.

مسئله! پسه او غوئی دی پرې باسی. بعضی خلک اوښی دوه ځایه حلالوی یعنی په کړوک او په حلق کی دا دسنت څخه خلاف دی.

وَالْاَوْلٰی اَنْ یَّتَوَلَّی الْاِنْسَانُ ذَبْحَهَا بِنَفْسِهٖ اِذَا کَانَ یُحْسِنُ ذٰلِکَ

اوښه داده چه تصرف دی کوی هر انسان د ذبح د هدیې پخپله که چیرې ئې ذبحه نږدې کا.
ولی چه دا ذبح عبادت دی اوعبادت پخپله کول ښه دی ترو کیل د رولو.
مسئله: که هدیې والا ذبح نه سوائ کولائ نو دی بل سړی وکیل کړي اودی دی هم دالته وتړه ودیږي

وَیَتَصَدَّقُ بِجِلَالِهَا وَخِطَامِهَا وَلَا یُعْطِی اُجْرَةَ الْجَزَّارِ مِنْهَا

اوخیرات دی کړي ځلان دا وښو اومهار ونه دا وښو اونه دی ورکوی مزدوری د قصاب د هدیو دغوښو وغیره څخه.
تنبیه: اکثر احکام دهدیې چه ذکر سوه دا ضحیې هم دغه احکام دی نو فکر پکښې وکړه.

وَمَنْ سَاقَ الْهَدْیَ فَاضْطُرَّ اِلٰی رُکُوْبِهَا رَکِبَهَا وَاِنْ

اوکه چا شړله هدیه دمکې شریفې (یعنی اوښې یا اوښه) نو دی مجبورۀ سوف سپرید وته دهغې سپوره

اِسْتَغْنٰی عَنْ ذٰلِکَ لَمْ یَرْکَبْهَا وَاِنْ کَانَ لَهَا لَبَنٌ لَمْ

دی سې پر ښه نه اوکه ئې حاجت نه وو سپرید وته نه دی پرسپرین ی - اوکه اوښه یا عوالنکه وه اوشیدې

یَحْلُبْهَا وَلٰکِنْ یَتَضَرَّعُ ضَرْعُهَا بِالْمَاءِ الْبَارِدِ حَتّٰی یَنْقَطِعَ اللَّبَنُ

ئې درلودې نه دې لوښې - لکن ودې پاشې پرغولا ئې دهغې یعنی اوبه تر هغوچه شیدې ئې وچې سې

وَمَنْ سَاقَ هَدْیًا فَعَطِبَ فَاِنْ کَانَ تَطَوُّعًا فَلَیْسَ عَلَیْهِ غَیْرُهٗ

اوکه چا روانه کړې وه هدیه دمکې شریفې د پاره او هغه پر لاره ئې هلاک سوه - نو که نفلی وه نو پرده

وَاِنْ کَانَ وَاجِبًا فَعَلَیْهِ اَنْ یُّقِیْمَ غَیْرَهٗ مَقَامَهٗ وَاِنْ

شته بله هدیه (یعنی عوض دهغه هلاکې سوې هدیې) اوکه چیرې واجبه وه نو پرده لازمه ده چه بله هدیه دې

اَصَابَهٗ عَیْبٌ کَثِیْرٌ اَقَامَ غَیْرَهٗ مَقَامَهٗ وَصَنَعَ بِالْمَعِیْبِ مَا شَاءَ

پرځای ئې ودروی - اوکه ورسیدې وهدیه واجبه ته ډیر عیب بله هدیه دی ودروی په ځای ئې کې دهغې اوردې
کړې په عیب جنه سره هغه کار چه دده خوښ وی - یعنی ئې خرڅوی او ئې خیرات وی -

وَاِذَا عَطِبَتِ الْبَدَنَةُ فِی الطَّرِیْقِ فَاِنْ کَانَ تَطَوُّعًا نَحَرَهَا وَصَبَغَ

اوکه هلاک سوه اوښه (دهدیې) په لاره کې نو که نفلی وه ذبح دې کړي اوړنګ دی کړي هغه

نَعْلَهَا بِدَمِهَا وَضَرَبَ بِهَا صَفْحَتَهَا وَلَمْ یَاْکُلْ هُوَ مِنْهَا وَلَا

چوتې چه دې دې په غاړه دی په وینو دې اوورې وهې په هغو چوتو دې بغل اوخورک دی نه

غَیْرُهٗ مِنَ الْاَغْنِیَاءِ وَاِنْ کَانَتْ وَاجِبَةً اَقَامَ غَیْرَهَا مَقَامَهَا

کوی دهغې دغوښو څخه نه دی اونه نور اغنیاء - اوکه داهلاک هدیه واجبه وه بله هدیه دې په

وَصَنَعَ بِهَا مَا شَاءَ

ځای کې ودروی - اوورې کړي په هلاکې سوې هدیې هغه کار چه دده خوښ وی کې خوښې کې خرڅوی

وَیُقَلِّدُ هَدْیَ التَّطَوُّعِ وَالْمُتْعَةِ وَالْقِرَانِ وَلَا یُقَلِّدُ

اوغاړې کې یا چوتې دی په غاړه وړ وخروی د نفلی هدیې او د تمتع او د قران هدیې اونه دی

دَمُ الْاِحْصَارِ وَلَا دَمُ الْجِنَایَاتِ

وړ په غاړه کوی شی دهدیې د احصار یا د هدیې د جنایاتو

پوره سو! یعنی دکتاب الصلوة په نامه پښتو شرح د قدوری تمام ته
ورسیده - د یکشنبې په ورځ سحار د روژې د مبارکې میاشتې په اوله ورځ
۱۴۱۱ هـ ق په پښتون آباد کوټه کې د پاکستان په اسلامی مملکت کې هغه وخت
چه زه د قندهار افغانستان څخه مهاجر وم - او اراده لرم ان شاء الله تعالی
چه دوهمه حصه د دې شرحې د کتاب النکاح څخه شروع کړم خدای پاک دی
توفیق راکړي - او د چلو ورو نوا وخوند و د اخدمت چه ما عاصی وکړي
خدای پاک دی ئې د دوی په نفع تمام کړي او ما ته دې خدای ثوابونه راکړي - او
کاتب او ناشر ته دی هم خدای ثوابونه په نصیب کړي -

د علامهٔ عصر شیخ التفسیر والحدیث جامع المنقول و المعقول محسود الاقران فخر افغان حضرت مولانا محمد عُبید الله الایوبی القندهاری النقشبندی السلیمانخیلی مدّ فیوضه العالیه ترجمه او لنډه تاریخچه او سوانح عمری او د مخلصانو دپاره پیژندګلوی

دده نوم محمد عبید الله دی۔ او ابوالفضل ئې کنیت دی او ایوبی ئې تخلص دی په عقائدو کې سُنی ماتریدی دی او په فروعو کې حنیفی مذهبه دی او په طریقت کې نقشبندی مجاز دی او په قوم سلیمانخیل دی او وطن ئې قندهار دی او دی د عالمِ تقی الحاج محمد ایوب زوی دی او دده د پینځشنبی په ورځ د ماپښین تر لمانځه وروسته پر (۱۵) د ذی القعدة الحرام ۱۳۴۳ لسه هجری قمری د فاشمول په قریه کې پر نابوده دنیا ستر کې رونې کړې دی او پلار ئې یو تقوی دار عالم وو او په طریقهٔ نقشبندیه کې مجاز وو۔

او د شاړو څولې چه زما پلار زما پر تعلیم زده کړې ډیر حریص وو حتی سره د ډیره صغر سنه ئې زه پر سبق مجبور کړی وم۔ شاړو وائی چه بعضی کتابونه د فقې شریفی او بعضی کتابونه د علم صرف او نحو ما پر مرحوم پلار وویله او بیا زما په زړه کې په برکت د دعا د والد مرحوم دا راسځه سو چه زړه د وطنه او کورنه ولاړ سو او په بې غمه زړه خپل تعلّم او زده کړې تر دوام ورکړم الی ماشاء الله تعم۔

هغه وو چه زړه د قندهار وطنِ مالوف او د کورنه څخه د بلوچستان علاقې تر اغلم چه هغه زمین په هغه وخت کې د انګریزانو تر تسلط او حکومت لاندې وه نو په بلوچستان پښین کې می پر جید متقی عالم مولوی تیمور شاه مرحوم باندې بعضی کتابونه د حکمت او عقائدو ووویله۔ الغرض د وه کاله می دالته تیر کړه۔

د شاړو د بیان سره سم۔ بیا زه باعث کرم صدق همت پر دې باندې چه ولاړ سم هند ته او په هند کې اجمیر ته چه هلته علامة الزمان الاستاذ الکلیة علماء الهند و الافغان المولوی عبد الله القندهاری المرحوم د مدرسه حنیفیه صوفیه بانی او سرپرست او مدرسِ اعلی وو او دی مرحوم په دغه وخت کې مُعَمر او کلان سال عالم وو او ده ته د اطراف څخه لکه افغانستان۔ بلوچستان۔ پشاور۔ آزاد قبائل او د هند د ډیرو لیرې سیمو څخه جید جید طالبان راتله او د دې باب څخه د علم د ده مبارک داستعداد سره برابر ئې استفاده کوله۔ او ده مبارک د طالبانو سره عموماً او د پښتنو طالبانو سره خصوصاً د ډیر شفقت کاوه۔

د شاړو دخولې چه زه اجمیر شریف ته ورغلم او د جناب مذکور په مدرسه کې داخل سوم پس له څو ورځو مانې تعلم څخه د ده په جناب کې ما ته یوه لویه منزله حاصله سوه، وَذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَّشَاءُ،

او شاړو وائی چه ما په خدمت کې د حضرت المرحوم د ډیرې کاله تیر کړه او ښه سلیسه او روښانه یې می هم زده کړه۔ او هلته ما کتب د تفاسیر و او د ریاضی او علم ادب او د متقدمینو د منطق بعضی کتابونه لکه شرح المطالع او د حکماؤ متقدمینو بعضی کتابونه لکه شرح الاشاراة وغیره ووویله۔

پس له دې کاله انګلیسانو بر اعظم هند پر دوو حصو تقسیم کړې یعنی پاکستان او هندوستان چه په دې سبب په مابین کې د مسلمانانو او هندوانو لویه فتنه او قتل وقتال مابین ته راغلی او اجمیر شریف په حصه کې د هندوانو سو۔ نو هندوانو پر اقلیت د مسلمانانو د اجمیر شریف تر ډیره د ظلم د یتکې وکښه او په زړو مسلمانانو ئې په شهادت ورسول۔ آخر حضرت الاستاذ المرحوم سره د څو پاته پښتنو طالبانو د پاکستان د هجرت ته مجبور سو۔ هغه وو چه استاذ محترم بلوچستان د کوټې بنار ته راغلی چه هلته د ده مرحوم دیوه شاګرد حضرت المولوی عبد الغفور صاحب مدرسه په نامه د مظهر العلوم په شالدره کې وه چه تر اوسه هم سته او په هغه مدرسه کې ئې وخیل درس ته ادامه ورکړه۔

شاړو وائی چه مالې زمانه په دغه مدرسه کې تیره کړه او بیا می د

حضرت الاستاذ څخه اجازه واخستل اولاهور ته ولاړم چې په لاهور کې
یو معمر عالم شیخ الحدیث والقرآن وسائر العلوم النقلیة والعقلیة مولانا
مهر الله المرحوم په یوه مدرسه کې چې پراچهره کې چې دلاهور په نیاړ ته
نژدې ځای دی واقع وه شیخ الحدیث و واوزه هم په هغه مدرسه کې
داخل سوم او د المرحوم د فیضه مستفیض سوم - او د احادیثو کتابونه او
بعضی د فقهی شریف کتابونه او نور باقی مانده کتابونه می پر د غه لوی
استاذ المرحوم باندی و ویلې او د دوو کلو ور وسته د تولو درسی
کتابو څخه فارغ سوم او د تحصیل شهادت نامه د استاذ المرحوم څخه
ډاکره سوه او زه ما عمر په دغه وخت کې تخمینا (۲۵) کاله وو - او بیا
حضرت الاستاذ المرحوم ما ته وظیفه د مدرس ثانی په څپله مدرسه
کې و سپارله - یو کال چې می درس وکړ ځب الوطن و الاقرباء می
دامن کیږ سو او په اجازه د استاذ محترم د لاهور څخه قندهار ته راغلم
اول درس می یو کال د موسی خان په جامع مسجد کې چې په هرات دروازه
کې ده وکړ او بیا زنګی آباد ته ولاړم یو کال می هلته درس وکړ او
او بیا سخې ته راغلم چې دیوې جامع قریه نوم دی بنارته نژدې
(۱۲) کاله می دلته درس ته ادامه ورکړه او د سخې د استوګنې په وخت
کې زه د شیخ کامل مکمل جامع الکمالات السید الجید الجواد مولای
عبد الغنی المرحوم المشهور په بابک صاحب کدنی مرید سوم او پس له یوه
کاله جد وجهد ما ته د خلافت د طریقه نقشبندیه څخه ډډه بابک المرحوم
د خوله اکړه سوه - او ما د سخې څخه په سبب د بعضی اقتصادی مشکلاتو
خوش آب ته هجرت وکړ چې هغه هم د قندهار بنارته نژدې یوه جامع
قریه ده - او هلته می پنځه کاله درس وکړ او بیا د خوشاب څخه قندهار ته
ولاړم - او د ملا علم اخند په کلی کې می په یوه جامع مسجد کې درس شروع
او (۱۳) کاله می هوډ سره درس وکړ - پس له هغه انقلاب د حزب الخلق په
کومک د روس پر پاکستان خاوره د افغانستان مسلط سو او د مسلمانو بندی
کول او وژل ئې شروع کړه - او عمومی مسلمانان نور و مملکتونه ولاړل خصوصًا هغه وخت

چې روسان مستقیما په لویه پیمانه داخل سوه او د مسلمانانو د خواد حزب الخلق
او معاونان د هغو یعنی روسانو سره جهاد اعلان سو نو په هغه وخت
کې زه څپله عیاله سره نژدې اسلامی ملک پاکستان ته راغلم او په کوټه کې
می اقامت مختاره کړ ځکه امنو می من دوره کولې او ماحپل درس ته په ډګر
پیمانه جریان ورکړ ځتی چې په سو و طالبان به د وره ځې سبقانو ته راتله او په
یوه کتاب به پخوس شپیته تر سلو پورې شریکان وه -

او شارح وائی چې ما به په فارغ وخت کې پر بعضی درسی کتابو حاشیې هم
کولې چې هغه کتابونه او رسالې تر څلو یښتو اوس نزیاتې دی او اکثریې پر منظر
عام موجود او مقبول دی « الا عند الحاسدین الذین هم عن الحق ناکبون »

ناشر الکتاب وائی چې شارح محترم همیشه د سیاسی دلو څخه برکنار وو
او دی - او بعضی حاسدان او جاهلان د تعصب قومی دلاړی یا د تعصب علمی
دلاړی پر شارح محترم قسما قسم بهتانونه و ویلې او وائی - لکن بیا هم شارح
محترم په هغوی فکر نه واهه او د آیة شریفې مدنظر وو « وَتُعِزُّ مَنْ
تَشَاءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَاءُ بِيَدِكَ الْخَيْرُ » د شارح محترم د هجرت څخه اوس (۱۹)
کاله کیږی - د حاسدانو حسد پرده هیڅ تاثیر نه دی کړی او نه ئې عزت ورکم
کړی دی او نه ئې رزق ورکم کړی دی حتی د کوټې په بنارکې علاوه د استوګنې
تر سرای څپل جامع مسجد ئې هم جوړ کړی دی - د او ه د حضرت شارح
محترم مختصر حالات - والسلام - محمد فضل الحق حقانی تلمیذه -

د علامه زمان محسود الاقران شیخ التفسیر و الحدیث
جامع المنقول والمعقول مولانا محمد عبید الله الایوبی القندهاری
السلیمانخیلی النقشبندی د مصنفاتو او حواشیو تعداد تر موجوده وخت
پورې یعنی ۱۴۱۱ هـ ق

---

(۱) د قدوری موجوده شرحه او ترجمه (۲) د نورالظلام پښتو ترجمه (۳) د تفسیر

بیضاوی تر مقام درسه مکمله حاشیه (۳) پر شرح عقائد باندی حاشیه
(۵) رساله په ردکی دو هابیانو یعنی البیانات الصادقة (۶) رسالة په اثبات کی د
عصمت دانبیاء ۴۴ یعنی کشف الخطاء (۷) پرخو ورقود هدایه صلوة حاشیه
(۸) پر هدایه النافع حاشیه (۹) د بیان د شهادت حسین رض تاریخ (۱۰) پر اصول
الشاشی باندی حاشیه (۱۱) پر مسلم الثبوت حاشیه (۱۲) پر شمه حاشیه
(۱۳) پر هدایة النحو باندی حاشیه (۱۴) پر کافیه باندی حاشیه (۱۵) پر عبد الغفور
حاشیه (۱۶) پر مطول حاشیه (۱۷) پر کافیه باندی مکمله شرح د شیخ د هثالبواو
د هغه د عصبا تو په ردکی (۱۸) پر مراح باندی حاشیه (۱۹) پر شافیه باندی حاشیه (۲۰)
پر سراجی باندی حاشیه (۲۱) پر خلاصة الحساب باندی حاشیه (۲۲) پر تصریح
باندی حاشیه (۲۳) پر قوشجیه باندی حاشیه (۲۴) پر بست باب باندی حاشیه
(۲۵) پر تحریر اقلدس باندی حاشیه (۲۶) پر تلخیص المفتاح باندی حاشیه
(۲۷) پر مختصر الشافی باندی حاشیه (۲۸) پر هدایه الحکمة باندی حاشیه (۲۹) پر
صدرا باندی حاشیه (۳۰) پر مرقاة امور عامه باندی حاشیه (۳۱) پر قاضی
سلم باندی حاشیه (۳۲) پر حمد الله باندی حاشیه (۳۳) پر جلال باندی حاشیه
(۳۴) پر کندیا باندی حاشیه (۳۵) پر قطبی باندی حاشیه (۳۶) پر بدیع المیزان
باندی حاشیه (۳۷) پر میر ایساغوجی باندی حاشیه (۳۸) پر ایساغوجی باندی
حاشیه (۳۹) پر تصریح مستقله شرح (۴۰) جامع البرکات پر طریقه د دلائل الخیرات.
(۴۱) ابو المنتهی (۴۲) شرح جامی (۴۳) مرقاة قطبیه (۴۴)
حاشیة علی المیبذی (۴۵) مواعظ ایوبی جلد اول وجلد ثانی۔

مناجات

الهی یا الهی یا الهی ندارم جز امیدت تکیه گاهی
ز کن موجود کردی جمله عالم مرا از ذنب خود کن عذر خواهی

اللهم اغفر لمولفه ولکاتبه ولناشره ولوالدیهم ولجمیع المؤمنین آمین۔

خبر تیا

تولود کتابو تاجرانو او کتابفروشانو ته

خبر وړ کوم! چه دقدوړی د شرحی په نوشته کولو کی جناب خوشنویس
بیمثال عالم باعمل و کمال المولوی فضل الحق زید مجده او دده مخلص ملګری
مولوی عبد الباړی غفرله الباړی چونګه ډیره عرق ریزی کړی ده او ډیری
شپی او ورځی د خپل عمر عزیز څخه پکښی صرف کړی دی او مالی مصارف څخه
هم پکښی کړی دی حتی لکه تاسی چه وینی د اشرح او ترجمی په مثال د
"عروس نوبهار" وخپلو پښتنو وړ و نو او خوندو ته ښکاره کړه۔

نو لهذا دهر تاجر او کتاب فروش اخلاقی او وجدانی او قانونی
وظیفه داده چه داغه شرحه دی د خپلی کتې د پاره وچاپ ته ورسپاړی
خلک وائی بنده راسره د خدای خپل سه لکه پرخان داسی پر بل سړی
او کړ خوک په دې خبر تیا عمل ونه کړی او داشرح په موجوده نوشته
وچاپ ته وسپاړی او چاپ ئی کړی نو هغه سړه علاوه پر قانونی
چارچلند پښتنی کارګذاری به هم وړسره وکړه سی۔ او پخپله ما
محمد عبید الله چه مصنف د دې شرحی یم تولو حقوق د طبع کولو
او چاپولو و مولوی فضل الحق او مولوی عبد الباړی ته اهداء کړی
دی او باید تاجران د دې کتاب قیاس پر نورو چاپی کتابو و نه کړی
چه هغه خو تاجران طبع کوی۔ ولی په هغوی کی څه هم مصارف د بعضی
مطابعو له خوا سوی دی لکن هغه کسان اوس دلته په پاکستان کی نشته
او د دې شرحی مصنف او کاتب او ناشر اوس هم په پاکستان کی موجود
دی او د خپل حق غوښتو نکی دی۔

وَمَا عَلَيْنَا اِلَّا الْبَلَاغ۔

د پښتو قاموري د مضمونو فهرست

مضمون	صفحه
د ناشر لیکنه	۱
خطبه	۲
د طالبانو غوښتنه	۲
د مصنف جواب	۴
د کتاب شروع	۵
د بسم الله معلومات	۵
د حمن ویل وغیره د خدائ	۶
د کبیره ګناهو بخښنه په توبه	۶
بسم الله جزء دسورت ده که نه؟	۷
جنب او حائضې ته د ذکر ویل روا دی	۷
ظالم حاکم ته د وړانګ په وخت	
کې د بسم الله خاصیت	۸
د اوداسه په شروع کې بسم الله ویل	
د قدوري شروع	۹
د عالم په باره کې تحقیق	۹
د سوال او جواب	//
مسئله	۱۰
فائده	//
د بسم الله ویل په ابتدا د هر بنه کار کې	۱۱
په بخاري شریف کې حدیث او نور هم جواب	//
د بسم الله د وجوب حاییو نه	//
د بسم الله د حرام والی حاییو نه	//

مضمون	صفحه
د الحمد لله د سورت نومان	۱۲
په الحمد لله سره د مکمل اواجرت احستل روا دی۔	۱۴
فائده۔ د اجرت احستو پر تعویذ و غیب کوئ پتې معلومول ناروا دی	۱۵
د بسم الله او جاد و نورو خالاتو۔	۱۶
د غلا د انو ملایانو عجیبه نقشه	۱۷
د الحمد لله خواص او فائدې۔	۱۸
د الحمد لله د ویلو شرطونه۔	۱۸
اجازه غوښتل	۱۹
د تقوی بیان	۲۰
د وضو په باره کې معلومات	۲۴
د انبیاء علیهم السلام شمیر خودی	۲۳
د وضو په باره کې سپینځلی معلومات	۲۴
فقهی معلومات د وضو په باب کې	۲۵
د مصنف نوم او لنډ معلومات	۲۷
کتاب الطهارت	۲۸
د فرض او واجب فرق	۲۹
د بسم الله ویل فرض۔ شیعه کافران دی	۳۰
د اوداسه فرضونه	۳۱
د اوداسه سنتونه	۳۲
بسم الله ویل د اوداسه په شروع کې سنت یا مستحب	۳۴

مضمون	صفحه
د مسواک بیان	۳۵
د غوټو په مسح کې تحقیق	۳۶
د اوداسه مستحبات	۳۷
د بنځو غلطیانې په مسح کې	۳۸
پاته سنت او مستحب	۳۹
د کوتمې په باره کې غفلت	۴۰
د بنځو غوټو والی۔	//
فصل فی نواقض الوضوء	۴۱
د څه په باب تفصیل	۴۲
فصل فی الغسل	۴۵
د بنځو د سر پرېولو په غسل کې	
بنځه په خوب کې شیطان خطاب سې کړنه	۴۸
د بنځې سنتې	//
صریح ویل د پښتو الفاظو	۴۹
سنت د غسل کوم دی؟	۵۰
فصل و الطهارت	۵۱
حوض کوم دی	۵۵
مستعملی اوبه کومې دی	۵۶
د مردارپوست د پاکې وسائل	۵۸
د وینې انتقال و مریض ته د جراحی په	
وخت کې روا دی۔	۵۹
فصل فی البیر	۶۱
د مردار څاه پاکوالئ عقلی نه دی	//
د څاه څخه د تولو اوبو کښلو طریقه	۶۲
د عوامو غلطیانه مردار اوبو څخه سوی غوښتی	۶۳

مضمون	صفحه
باب التیمم	۶۸
مریض ته د تیمم روا والی	۶۹
د جنابت او کوچنۍ او د سر تیمم یوشی دی	۷۰
په کومو شیانو تیمم روا دی۔	۷۰
نیت په تیمم کې فرض او په لاس کې مستحب دی	۷۱
د بعضې علماؤ څخه شکایت	۷۲
د جنازې د لمانځه د پاره تیمم روا دی	۷۴
د اختر د لمانځه د پاره تیمم	//
باب المسح علی الخفین	۷۷
مدت د مسح د مونځ او کیفیت د هغه	۷۸
جنب ته مسح د مونځ ونه ده روا	۸۰
مسح پر لنګوټه یا خولې نه ده روا	۸۲
باب الحیض	۸۳
کمه مده د حیض او زیاته مده	۸۴
او اختلاف په بلوغ کې د بنځې	//
د بنځې که روژه وی که حیض ورځلی	
روژه ئې ماته ده	۸۴
د جنب ته قرائت د قرآن ناروا دی نوره اذکار	//
بې اوضو انسان ته د قرآن شریف	
په قمیص پنول مکروه دی۔	۸۵
د شرعی کتابو مسه کول په بې اوضو سیا مکروه دی	۸۶
د حائضې سره وطی کول گناه کبیره ده	۸۸
د حیض او استحاض مسائل	
معذور د څه لمانځه په وخت کې اوضو کوی	۸۸
عجیبه مسئله	۹۱

مضمون	صفحہ
باب الانجاس	٩٢
پوہ سہ	//
واوہ	//
انہ الہ دبخاست پرہ ھر مائع شی کیبزی	//
شروہ دکتنہ	٩٣
دبخاست سرہ لوغ کیبزی	٩٥
پوہ سہ	//
فائدہ	٩٩
داستنجاء مسئلي	١٠٠
کتاب الصلوٰۃ	١٠١
فوائد	//
سوال وجواب	//
دلمونځو وختونہ	١٠٢
باب الاذان	
داذان شروع	١١٠
باب شروط الصلوٰۃ التی تتقدمہا	١١٢
عورۃ دښځو او دښځی	١١٣
دقبلې اشتباہ	١١٤
باب صفۃ الصلوٰۃ	//
فائدہ	١١٧
کیفیت	١١٧
مسخرہ	١١٨
دلمانځہ دشروع مسئلي	//
غلطی پہ سجدہ کی	
پہ اول ناستہ کی دفرضو او نفلو فرق	

مضمون	صفحہ
پہ اخیرہ ناستہ کی کومی دعاوی پرہ وادی	
باب الجماعۃ	١٣١
امام پہ څوک وی	//
دښځو جماعت	١٣٢
دښځو تہ مسجد تلو لمانځہ دپارہ مکروہ دی	١٣٣
نیری - عذر	١٣٤
پہ معذور پسی اقتداء نارواده	١٣٥
باب قضاء الفوائت	١٤٤
باب الاوقات المکروہۃ	١٤٦
باب النوافل	١٤٨
باب سجود السہو	١٥٢
مہمہ مسئلہ	//
باب صلوۃ المریض	١٥٨
تنبیہ	//
باب سجود التلاوۃ	١٦٢
د سجدۂ تلاوت کیفیت	//
باب صلوۃ المسافر	١٦٧
د تعجب وپرفتوی	١٧٠
باب صلوۃ الجمعۃ	١٧٥
باب صلوۃ العیدین	١٨٦
د بعضی اماما نو غلطیا	//
باب صلوۃ الکسوف	١٨٨
باب صلوۃ الاستسقاء	١٨٩
باب قیام شہر رمضان	١٩٠
د تراویح مسائل	١٩١

مضمون	صفحہ
باب صلوۃ الخوف	١٩٣
باب الجنائز	١٩٦
پوہ سہ - تردې عجبہ دخندا وړ	١٩٨
دجنازې مسائل	٢٠٣
افسوس صد افسوس	٢٠٧
باب الشہید	٢٠٩
باب الصلوۃ فی الکعبۃ	٢١١
کتاب الزکوۃ	٢١٣
د زکوۃ پہ بارہ کی څو مہمی مسئلي	
پر پورې وړې زکوۃ نشتہ	//
یوځو مہمی مسئلي	
ملاتړ ئی حیلہ	
دکتابو د لولو پہ باب تحقیق	٢٢٦
د سپینو تیاد مو تر حال۔	//
دکرهو پوستینا تر حال۔	//
طالب العلم تر زکوۃ تر څو پورې	٢١٧
باب زکوۃ الابل	٢١٨
باب صدقۃ الغنم	٢٢٣
باب زکوۃ الخیل	٢٢٤
باب زکوۃ الفضۃ	٢٢٧
دیرې مسئلې د زکوۃ د سپینو زرو	٢٢٨
باب زکوۃ الذهب	٢٣١
باب زکوۃ العروض	١٣٢
باب زکوۃ الثمار	٢٣٤
د حاصلاتو فرق	//

مضمون	صفحہ
باب من یجوز الصدقۃ الیہ	٢٣٧
دواعظانو څخہ کیلہ	
فقیرا و مسکین څوک دی	
دغنی پہ باب کی تحقیق	
باب صدقۃ الفطر	٢٤٥
فوائد شتی	٢٤٨
کتاب الصوم	٢٤٩
سبحانہ فائدہ	
د روژې وخت	
د شیخ فانی تحقیق	
باب الاعتکاف	٢٦١
کتاب الحج	٢٦٦
المعذرت	
فوائد	
تنبیہ قصہ خوانان پرعرفات	
باب القران	٢٩١
باب التمتع	٢٩٤
د اشعار تحقیق	
باب الجنایات	٢٩٩
باب الاحصار	٣١٢
باب الفوات	٣١٦
باب الہدی	٣١٨
د شارح سوانح عمری	
د شارح تصنیفات	
خبرتیا	

څه دَ قدُوری پَه اړه

محترمو لوستونکو! دا بنکلی قدوری چی ستاسو په لاس کی ده زمون
اداره، مکتبة القراءت والتجوید، ئ په نوی کتابت سره نشر ته سپارلی
دد ې کتاب نوی کتابت د غلطیا و و څخه محفوظه دئ.
او هر باب ئ د عوامو او خواصو د پاره د صفحې په اول، شروع، کی راوړ
سوی دی:
اود پخوانی، اولنی باب، څخه چی کوم خالی ځای پاته سوی وی په
هغه کی ورسره زائد ې مسئلی د هغه باب سره متعلق لیکل سوی دی.
په پخوانیو نسخو کی چی کومی غلطیانی موجودی وی د نظر ثانی له
کبله د هغو تولو رفع سوی ده.
هیله ده چی، داد ر یکتا، به د تولو مسلمانانو د پاره سبب د نفع
اخستلو، اوزمونږ د پاره سبب د آخرت وګرځئ، اله العالمین
دی زمونږ دا کوشښونه د دنیوی او اخروی کامیابئ ذریعه وګرځوئ
آمین.
ان شاءَ الله زمونږ اداره د دیني خدمانو توجه به لری خاص بیا د قرآن مجید
د تجوید و نو په اړه زمونږ نشریات ځانګړی دی: والسلام

مکتبة القراءت والتجوید

کانسی روډ، کوئټه، بلوچستان